Afghan Salar Library

اقتصادي ترهګري

امریکا څنګه او ولې په نړۍ واکمني کوي؟

- د یوه امریکايي اقتصادي جنایتکار د جرمونو اعتراف
- په درېیمه نړۍ کې د سترو پروژو او پانګونو پټ او وېرونکی مخ

جان پرکنز

ژباړه: میر احمد یاد

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ځانګړني:

د کتاب نوم: اقتصادي ترهګري

ژباړه: میر احمد یاد

خپرندوی: مومند خپرندویه ټولنه - جلال اباد

برېښنالیک: Momand.books@gmail.com

ډیزاین چارې: ایملیار ساجد

چاپ کال: ۱۳۹۵ لمریز - ۲۰۱۶ میلادي

چاپ وار: لومړی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپځای: د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

د چاپ ټول حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

پتې

ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی - مخابراتو څلورلارې

اړیکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

کابل: اصلاح افکار کتابپلورنځی / خیبر کتابپلورنځی / دارالسلام کتابپلورنځی / مستقبل کتابپلورنځی / پکتوس کتابپلورنځی./ پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی/ کندهار: امیر کروړ

خوست: غرغښت کتابپلورنځی / رحیمي کتابپلورنځی

/ لمر کتابپلورنځی / سباوون کتابپلورنځی./ هلمند: سیدجمالالدین کتابپلورنځی / عرفان کتابپلورنځی / تاج منور کتابپلورنځی./ پکتیا: علمي کتابپلورنځی./ غزني: قیومي کتابپلورنځی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

تړون

د دوو ښاغلو دوکتور لطیف بهاند او
ډاکټر احسان الله درمل په نامو.

ډالۍ

افغانستان کې د رواني لویې لوبې هر دردیدلي قرباني ته!

یاد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لیکلړ

سرلیک / مخ

د ژباړن سریزه / ۱
اقتصادي جنایتکار / ۲
یادونه / ۷
حوالې / ۱۹
د پیل خبرې / ۲۰
حوالې / ۲۹
د اقتصادي جنایتکار پیدایښت / ۳۲
د ټول عمر سفر / ۴۲
حوالې / ۵۵
اندونیزیا: اقتصادي جنایتکارو ته تریخ سبق / ۵۶
حوالې / ۶۰
له کمونیزم د یوه هېواد خوندیتوب / ۶۱
ځان پلورل / ۶۷
زما خپرنیزه ونډه /۷۶
ازمېښت / ۸۱
۸۸

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ژوند جوړولو فرصت / ۹٤
د پانامې اتل ولسمشر / ۱۰۳
حوالې / ۱۱۰
پانامه د قزاقانو پر وړاندې / ۱۱۲
سرتېرې او نخاگرې / ۱۱۷
جنرال سره خبرې اترې / ۱۲۳
حوالې / ۱۳۱
د اقتصادي تاریخ لانجمنه دوره / ۱۳۲
حوالې / ۱۳۸
د سعودي عربستان د پیسو مینځلو قضیه / ۱۳۹
حوالې / ۱۵٤
د لالي او د اسامه بن لادن مالي ملاتړ / ۱۵۵
حوالې / ۱٦۲
د پانامې کانال خبرې اترې او گراهم گرین / ۱٦٤
حوالې / ۱۷۵
د ایران شهنشاه / ۱۷٦
د یوه مظلوم کس اعترف / ۱۸۲
د یوه شاه ځوړ (زوال) /۱۸۸
حوالې / ۱۹۲
کولمبیا: د لاتیني امریکا د ملا تیر / ۱۹۳
حوالې / ۱۹۹
د امریکایي جمهوریت او نړیواله امپراتوري / ۲۰۰
له کیفیاتو ډک ژوند / ۲۰۹
د اکوادور ولسمشر او ستر نفتي شرکتونه / ۲۲۱
حوالې / ۲۲۷

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د اکوادور د ولسمشر مړینه / ۲۳۶

حوالې / ۲۴۳

پانامه د یوه بل ولسمشر په دور کې / ۲۴۴

حوالې / ۲۴۸

زما شرکت، انران او جورج ډبلیو بوش / ۲۴۹

حوالې / ۲۵۷

زه بیا خرڅ شوم / ۲۵۸

پانامه د امریکایي برید په وړاندې / ۲۶۶

حوالې / ۲۷۸

عراق کې د اقتصاد جنایتکارو ماته / ۲۷۹

حوالې / ۲۸۸

یوولسم سپتمبر او اغېزې یې / ۲۸۹

حوالې / ۳۰۰

وینز ویلا، صدام وژغورله / ۳۰۱

یو ځل بیا اکوادور / ۳۱۰

خبرې رسوا شوې / ۳۲۱

حوالې / ۳۳۳

څه باید وشي؟ / ۳۳۴

پوښتنې او ځوابونه / ۳۳۷

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ژباړن سریزه

دغه کتاب مې ۲۰۱۴ کال کې لوستی و او خدای شته هماغه وخت مې زړه و چې ویې ژباړم، د ځنډ لامل یې دا شو ۲۰۱۵ کال مې په یوه کوچنۍ دنده کې تیر کړ او بیا مې (سیاسي ټولنپوهنه) کتاب وژباړه، خو زړه په دې ښه کوم چې هر وخت سر وخت وي.

د کتاب د ارزښت په اړه خپله کتاب کې ډېر څه شته او پیژندنه یې ملګري همیم جلالزي په خپله لیکنه کې کړې ده، له همیم صیب ځانګړې مننه کوم چې د کتاب نوم او د Economic hitman په دقیقه ژباړه کې یې راسره مرسته وکړه، ما دا ترکیبي نوم په اقتصاد ځپوونکي ژباړلی و، خو دده ښاغلي په مشوره مې اقتصادي جنایتکار وټاکه.

د کتاب اصلي نوم (د یوه اقتصادي جنایتکار اعتراف) دی، ما د لنډیز لپاره اقتصادي ترهګري وټاکه او دلیل یې دا و چې د کتاب له محتواء سره یې اړخ لګاوه.

مرحوم نصیر مومند ته دعا په ترڅ کې د مومند خپروندویه ټولنې له دوو مسئولینو او قدرمنو ملګرو (نجیب مومند او فضل مولا مومند) هم ډېره مننه کوم چې هر وخت یې زما د کتابونو چاپ ته زړه ښه کړی او زما خبره یې ځمکې ته نه ده غورځولې.

ایملیار ساجد هم د ځانګړې مننې حقدار دی چې د کتاب پښتی یې په خپلو هنرمندو ګوتو ډیزاین او څو څو ځله بېرته اصلاح کړه، کور یې ودان.

له خپلو ټولو هغو مشرانو، ملګرو، خویندو، ورونو او لوستونکو هم مننه کوم چې زما کتابونه یې لوستي او په اړه یې راسره خپل نظرونه شریک کړي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

له تا ښاغلي/ اغلې هم مننه کوم چې کتاب مو ترلاسه کړې او د لوستلو وخت مو ورکړی دی، ددې او نورو کتابونو په اړه ستاسو سپارښتنې، نظريات او لارښوونې راسره مرسته کولای شي.

ښې چارې

ميراحمد ياد

meerahmedamanat@gmail.com

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اقتصادي جنايتکار

ستاسې په لاسونو کې کتاب د پياوړي امريکايي اقتصادپوه، ټولنيز فعال او ليکوال John Perkins اثر دی. ښاغلی پرکينز د خپل همدغه کتاب د ليکلو پر مهال نړيوال نوم وموند. کتاب له هغو رازونو ډک دی چې کله کله پرې د مبالغې شک هم کېدای شي.

په ۲۰۰۴ کال کې چاپ شوي دغه نانديز کتاب تر يوې لسيزې زيات وخت د اقتصادي نظامونو په اړه بحثونه تاوده ساتلي دي. دا چې کتاب د لومړي ځل لپاره د داسې مسايلو په اړه خبرې کوي چې يا نړۍ ورسره عادي نه ده او يا هم فوق العاده حساس دي، نو ځکه تر ټولو لومړۍ پوښتنه د کتاب د اعتبار په هکله راپورته کېږي.

دغه مهم اثر په درېيمه نړۍ کې د امريکا د متحده اېالاتو او نړيوالو اقتصادي او مالي ادارو پر هغو مالي او اقتصادي پاليسيو باندې رڼا اچوي چې د دولتونو برخليکونه ټاکي. تر څنګ يې دا هم روښانه کوي چې د ملګرو ملتونو په اډانه کې زورو هېوادونه څنګه د بېوزله هېوادونو رايې په پيسو اخلي او په دولتي کچه دا څومره اسانه ده چې يو هېواد دې پر بل باندې د خپلو اقتصادي ګټو د تامين لپاره بريد وکړي؟

کتاب په ټوله کې د ښاغلي پرکينز د څو لسيزو تجربو نچوړ دی چې د ليکوال په وينا د "اقتصادي جنايتکار" په توګه يې پخپل کاري ژوند کې ترلاسه کړې دي.

د دغه کتاب په اړه له لومړي سره دوه نظرونه موجود و او لا هم له همدغو دوو زاويو څخه ورته کتل کېږي. يوه ډله چې پکې د امريکا او په ټوله کې د پانګوالی د نظام ملاتړي دي استدلال کوي چې په کتاب کې راغلي مطالب د اعتبار له پلوه کمزوري دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د دوی اصلي پوښتنه د لیکوال د انګېزې په اړه ده او وايي هغه څوک چې خو لسیزې یې د امریکا په مهمو دولتي او نادولتي ادارو کې کار کړی وي او دغه هېواد ته یې په اقتصادي برخه کې پرمختګونه ور په برخه کړي وي څنګه په ناڅاپي توګه خپل مسیر بدلوي او مسایلو ته له بله اړخه ګوري.

دوی وايي هغه څه چې ښاغلي پرکنيز په کتاب کې د اقتصادي جنایتونو او یا اقتصادي ترهګرۍ په توګه ورڅخه یادونه شوې ده له واقعیت څخه لرې دي.

په کتاب کې د یو شمېر نړیوالو پېښو نسبت هم امریکا ته شوی دی. د بېلګې په ډول، ښاغلی پرکنيز د پاناما د پخواني ولسمشر عمر توریجو او د اکوادور د پخواني ولسمشر جیمي رولډس وژل کېدل تصادفي نه بولي او وايي دا دواړه پخواني ولسمشران د خپل هغه مقاومت له کبله ووژل شوی چې د نړیوالو مالي او اقتصادي شرکتونو او حکومتونو د لاسوهنې پر وړاندې یې کړی و.

دا هماغسې یوه ناندیزه تیوري ښکاري لکه د امریکا په دښمنو هېوادونو کې چې د هغه هېواد د پالیسیو په اړه تبلیغ کېږي او د هرې لوېې او وړې پېښې نسبت امریکا ته کېږي.

خو بله ډله چې د امریکا او پانګوالی نظام پر ضد دي ددغه کتاب تود هرکلی یې وکړ او په کتاب کې راغلي ټول مطالب سم او باوري بولي. د دولتونو په کچه په دې ډله کې د سوېلي امریکا او اسیا ځینې هېوادونه شامل دي.

که څه هم ددغه مهم اثر یوازې یوه کوچنۍ برخه د افغانستان له مسایلو ... دې کبله چې افغانستان په ... تېره یوه نیمه لسیزه کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

امریکا او نړیوالې ټولنې پراخ حضور تجربه کړي نو افغانانو ته د کتاب لوستل او پکې د راغلو مسایلو په اړه معلومات اړین دي.

د افغانستان برخه یې د شوروي له یرغل وروسته کلونو او بیا له ۲۰۰۱ کال وروسته د نړیوالې ټولنې راتګ ته ځانګړې شوې ده او پر دې بحث شوی دی چې د امریکا د یوه مالي او اقتصادي ملګري په توګه په افغان جهاد او یا په ټوله کې ددغه هېواد په کورنیو جګړه کې د سعودي عربستان ونډه څه وه؟

ښاغلي پرکنیز په دې برخه کې یوازې د سعودي او امریکا پر مالي اړیکو تم شوی دی او کاږي چې په ۱۹۸۰ یمو کلونو کې سعودي د افغان جهاد لپاره د بسپنې په راټولو بوخت و او راټولې کړې پیسې یې تر دوه درځنو زیاتو هېوادونو کې د نیمه پوځي مرکزونو پر جوړولو ولګولې، وسلې یې پرې واخیستلې او خلک یې راجذبول. دا هغه مرکزونه و چې وروسته بیا د ترهګرۍ په ځالو بدل شول او القاعده یې راوټوکوله.

په دغه کتاب کې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې په تېره بیا امریکا راتګ ته هم د یوه تیري په سترګه کتل شوي دي او وایي افغانستان ته د امریکا راتګ د غچ اخیستلو د یوې هڅې پایله وه.

۷۱ کلن پرکنیز د امریکا د ملي امنیت له ادارې او نورو پیاوړو اقتصادي ادارو سره د کار اوږده مخنیه لري او اوس اوس په نړیوالو فکري او څېړنیزو مرکزونو کې وخت ناوخته ویناوې کوي.

د کتاب لیکلو سبک یې دېر هنري دی آن دی خپله وایي چې په لومړي ځل یې یوه ناشر ته د چاپ لپاره ورکړ هغه ورته وربانديې د داستان ګمان وکړ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زما د معلوماتو له مخې پښتو ۳۳ ژبه ده چې د جان پرکنيز دا مهم اثر ورته را وژباړل شوی او د ژباړې زيار يې ملګري ميراحمد ياد ګاللی دی چې زه دا هڅه ستايم او د نورو بريااليتونو په تمه يې يم.

دغه مهم کتاب له چاپه وروسته اويا (۷۰) اونۍ د نيويارک ټايمز ورځپاڼې د ډېرو پلورل شويو کتابونو د لړليک په سر سر کې و او زما هيله دا ده چې پښتو ژباړه به يې هم ښه بازار ولري.

د خدای ښه

حفيظ هميم جلالزی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يادونه

اقتصادي جنايتکاران (EHM: Economic hit Men) په لوړو پوستونو ګومارل شوي مسلکي خلک دي. دوی لوړ معاشونه اخلي او کوم هيواد يې چې ګوتو ته ورشي ميلياردونه ډالر زيان ور اړوي. د دوی کارونه نړيوال دي. دا هغه خلک دي چې نړيوال بانک، USAID او داسې نورو مرستندويه ادارو نه د ډېرو پېسو مخه سوداګريزو شرکتونو او څو شتمنو کورنيو خواته ګرځوي. دا شرکتونه او کورنۍ له مځکې د هيوادونو په زېرمو او سرچينو واکمن وي.

دوی کومه وسله کاروي؟ د دروغو مالي راپورونه، ټاکنې، رشوت، چور، جنس او وژنې. ددوی لوبه د پخوانيو امپراتوري هومره زړه ده خو په دې توپير چې ددوی لوبې د معاصر نړيوالتوب په دور کې د خپل حجم پر بنسټ يوه وېرونکې بڼه خپله کړې ده.

په دې لوبه به له ما څوک ښه پوه شي؟ ځکه چې زه خپل يو اقتصادي جنايتکار (EHM : Economic Hit man) پاتې شوی يم.

دا د ۱۹۸۲ کال ليکنه ده چې زما د کتاب (د اقتصادي جنايتکار ضمير (Conscience of an Economic Hit Man) پيلامه وه. ددې کتاب ترون د دوو هيوادونو د مشرانو په نوم شوی و، چې زما پېرودونکي وو. ما به ددوی دومره قدر کاوه لکه سړی يې چې د خپلوانو کوي. دا دواړه قدرمن شخصيتونه يو جيمي رولډوس د اکوادور ولسمشر او بل عمر طوريجو د پانامې ولسمشر و چې دواړه په اورنيو پېښو کې مړه شول. حقيقت دا دی چې ددوی مرګ پېښه نه وه. دا دواړه ووژل شول، ځکه د شرکتونو، حکومتونو او بانکونو له مشرانو سره يې جوړجاړی نه کاوه. ددې جوړجاړي يوازينۍ موخه د نړيوالي امپراتورۍ منځته راتګ و. موږ اقتصادي جنايتکارو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې دا دواړه ولسمشران لاری ته سم نه کړل؛ نو بیا یو بل ډول جنایتکاران ... د CIA نازولي (ګیدړان Jackals) رامیدان ته شول، دوی به تل زموږ ملتیا کوله.

ماته وویل شول چې ددې کتاب له لیکلو تېر شم، له هغې وروسته په شل کالو کې ما څلور خله ددې کتاب لیکلو هڅه وکړه. خو هر ځل دا هڅه نړیوالو حالاتو اغېزمنه کړه. ۱۹۸۹ کال کې په پانامې برید، لومړۍ خلیجي جګړې، د سومالیې قضیې او د بن لادن راڅرګندېدو زه له دې کتابه لیرې کړم.

د یوه ستر نړیوال شرکت په ملکیت کې د یوې خپرندویه ادارې مشر په ۲۰۰۳ کال کې دا مسوده ولوسته چې اوس د اقتصادي جنایتکار اعتراف (Confessions of an Economic Hit Man)، په نوم یادیږي. هغه ویل چې دا کیسه به ډېره ولوستل شي. دا حقایق باید خلکو ته ښکاره شي. بیا یې ترخه موسکا وکړه، سر یې وخوځاوه او ویې ویل چې د اجرایوي رئیس په دفتر کې به پرې نیوکه وشي، ځکه هغه ددې د خپرېدا خطر نشي منلای. هغه راته نصیحت وکړ چې دا په کیسه ایز ډول ولیکم. په دې صورت.کې هغه ما د جان لي کار او ګراهم ګرین په څېر یو ناول لیکونکی معرفي کولای شي.

خو زما ستونزه دا وه چې دا کتاب ناول نه و. دا زما د ژوند ریښتینې کیسه وه. بیا یو زړور خپروونکی چې د کوم نړیوال شرکت برخه نه وه دې ته راضي شو چې خلکو ته ددې کیسې په رسولو کې راسره مرسته وکړي.

ما هوډ کړی و چې دا کیسه به اورول کیږي. موږ د وېروونکو بحرانونو او سترو فرصتونو له دوره تېرېږو. د یوه جنایتکار کیسه به درته ووایي چې نن موږ په کوم ځای کې او ولې ولاړ یو؟ دلته څنګه را ورسیدو ؟ له کومو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بحرانونو سره مخ او په ورانډې بې بيوسه ولاړ يو. دا کيسه له دې امله هم لړينه وه چې موږ د خپل ټېر وخت په تېروتنو پوه شو او له راتلونکو فرصتونو ګټه واخلو. موږ ټول پوهېږو چې د ۹/۱۱ پېښه وشوه او عراق کې دويمه جګړه هم ونښته. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۱ نېټه د ترهګرو په لاس درې زره کسان ووژل شول، په دې هغه ۲۴۰۰۰ نور هم ورزيات کړئ چې د لوږې او نور لاملونو له امله هره ورځ مري. په دې حقيقت هم پوه شئ، هره ورځ ۲۴۰۰۰ کسان يوازې له دې امله مري چې د ژوند لپاره لومړني خواړه نه لري.(۱) پر دې سربېره تر ټولو مهمه خبره دا ده، نن يو ولس هغه وړتيا، وسايل او سرچينې لري چې په مرسته يې دا هر څه بدلولای شي. دا هغه ولس دی چې زه پکې زيږېدلی او اقتصادي جنايتکار شوی يم، يعنې د امريکا متحده ايالات.

ما ولې په ټولو ګواښونو او امتيازاتو سترګې پټې کړې؟

لنډ خواب يې دا دی چې زما يوازينۍ لور جيسيکا کالج ختم کړی او يوازې يې د عملي ژوند په ډګر کې قدم ايښی. څه وخت مخکې مې ورته ووېل چې زه دا کتاب خپروم او ورسره تړلې انديښنې مې هم ورته ووېلې، هغې راته کړل چې : (پلاره! ته غم مه کوه، که هغوی تاته کوم زيان در ورساوه نو ستا پاتې کار به زه سر ته ورسوم. موږ بايد دا کار وکړو، د هغه نسل لپاره چې په رامنځته کولو کې به يې يوه ورځ زه هم ونډه ولرم.) دا ددې پوښتنې لنډ ځواب دی.

تفصيلي ځواب يې هغه احساس سره اړيکه لري چې له مخې يې ما ځان خپل هيواد ته وقف کړی دی. زه چې چېرته زيږېدلی او لوی شوی يم. زموږ د مشرانو له لوړ فکر سره مينه، د امريکا له جمهوريت سره زما تړون، چې نن راته د خپلواکۍ او خوښۍ زمنه راکوي، دا شيان هر څوک هر چېرته

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پر دې ... دا هغه عناصر دي چې ددې تفصیلي خواب برخه ده. پر دې غواړې، دا هغه ... چې اوزګار به نه کېنم، که څه سربېره له ۹/۱۱ نه وروسته ما قوي هوډ وکړ چې ... هم اقتصادي جنایتکار هڅه کوي چې جمهوري امریکا په نړیواله امپراتورۍ واړوي. دا د تفصیلي ځواب اصلي خاکه ده. تاسو به وګورئ چې په راتلونکو برخو کې زه څنګه په دې خاکه یا چوکاټ غوښه ورپورې کوې او د زړه وینې ورکوم.

دا یوه رښتینې کیسه ده، زه پکې اوسېدلی یم. خلک، منظرونه، خبرې اترې او هغه احساسات چې ما انځور کړي ټول د همدې ژوند برخه ده. دا زما شخصي کیسه ده خو د نړیوالو پېښو په پراخه پرده راغلې ده، دې زموږ د تاریخ خدوخال جوړ کړي دي، دې موږ هغه ځای ته رسولي یو چې نن په کې ولاړ یو او زموږ اولادونو ته یې د راتلونکي ژوند نقشه ورکړې ده. ما تر خپله وسه هڅه کړې چې دا تجربې، خلک او اړوند خبرې اترې سمې بیان کړم.

زه چې هر وخت تاریخ لیکم یا له نورو خلکو سره خپلې خبرې رانقلوم نو له څو عواملو مرسته اخلم چې په هغه کې خپاره شوي اسناد، شخصي یادښتونه او په ذهن کې شته پېښې چې د هر یو خپل او پردي یادونه هم پکې دي او خپله ددې پېښو یوه برخه ده. له دې مخکې پیل شوې پنځه مسودې، د نورو لیکوالو تاریخي لیکنې او هغه معلومات چې تر دې دمه پټ یا ورک وو. زیاتره حوالې په وروستیو برخو کې شته چې د لا ډېرو څېړنو شوقي لوستونکي ترې ګټه واخلي، ځینې ځایونو کې مې له یوه کس سره څو ځل خبرې د تسلسل مراعتولو لپاره را یو ځای کړي دي. زما خپروندوی وپوښتلم چې تاسو ځانونه اقتصادي جنایتکار بلل؟ ما ورته وویل چې همداسې کېدل خو کله کله یې لنډیز EHM کارېده. حقیقت دا دی چې کله

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په ۱۹۷۱ ما له خپلې ښوونکې کلاډین سره کار پیل کړ؛ نو راته یې وویل: (زما کار دا دی چې تا د اقتصادي جنایتکار په قالب کې واچوم، له دې کاره دې هېڅوک خبر نه شي، تر دې چې ستا مېرمنه هم نه.) بیا یې راته په جدي لهجه وویل: (دې کار ته چې یو ځل ځوک راننوځي بیا پکې تول عمر وي.)

زه چې کومې دندې ته راننوتی وم د کلاډین ونډه پکې یوه ښه بېلګه وه چې څنګه کار یې کاوه. له ښایست او ځیرکتیا سره یې خپل کارونه هم په ښه ډول ترسره کول. هغه زما له کمزوریو (ضعفونو) خبره وه او ښه ګټه یې ترې واخیسته. هغې به چې خپل مسئولیتونه ترسره کول دا معلومات ترې کېده چې ددې نظام تر شا ولاړ خلک څومره کامل او باریک بین دي.

زه به څه کوم؟ ددې په ویلو یې هېڅکله امرانه چلند راسره ونه کړ. راته یې کړل: (ته د بېلابېلو ولسونو رهبران دې شبکې سره یوځای کېدو ته وهڅوه . دا شبکه د امریکا د ګټو خوندیتوب ته کار کوي. هغوی چې ددې شبکې برخه وګرځي؛ نو پوروونو کې به داسې ډوب شي چې وفاداري به یې هم باوري شي. بیا موږ د خپلو سیاسي، اقتصادي او پوځي موخو پوره کولو لپاره په دوی هر ډول باور کولای شو. ددې په بدل کې دا خلک په صنعتي مرکزونو، برېښناکوټونو او هوایي ډګرونو خپل ولس خوشالولای شي او حکومت پرې کولای شي، دې سره به زموږ ساختماني او انجینري شرکتونه په شتمنۍ ماړه شي.

نن موږ ددې سیستم پایله ګورو او هغه دا ده چې د شخصي ګټو لپاره خلک وژنې کوي او د لیونو په شان وریسې منډې وهي. زموږ د ډېرو قدرمنو شرکتونو مشران خلک د غلامۍ هومره معاش په بدل کې ګوماري او بیا یې د غیرانساني حالاتو له مخې د سختو کارونو صنعتي بټیو ته ورغورځوي. د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ټېلو شرکتونه فاضله مواد سيندونو او نهرونو کې خوشي کوي او په شعوري ډول حيواني او نباتي ژوندونه اخلي. پخواني تمدن له خاورو سره خاورې کيږي. د ټولې نړۍ درمل جوړوونکي دې خبرې ته پام کوي چې په افريقا کې ايډز وهلو ناروغانو ته د خونديتوب درمل ونه رسيږي. زموږ په خپله امريکا کې يو سل او شل زره کورنۍ داسې دي چې نه پوهيږي راتلونکې دوډۍ به ور ورسيږي او که نه؟ (۲)

که د ډېرو شتمنو هيوادونو د نفوس د پنځمې برخه عايد تناسب د ډېرو بېوزلو هغو له پنځمې برخې سره وليدل شي نو معلوميږي چې په ۱۹۴۰ کې (دېرش او يو) وو او په ۱۹۹۵ کې (څلور اويا او يو شو). (۳) عراق کې د امريکايي پوځونو کلنی لګښت ۸۷ بيليونه ډالر دی، د ملګرو ملتونو د يوه تخمين له مخې ددې پېسو په نيمايي ټوله نړۍ کې هر يو کس ته د څښاک اوبه، خواړه، روغتيا، صفايي او د زده کړو اسانتياوې برابرېدی شي. (۴)

موږ په دې حقايقو سترګې پټوو او بيا لا پوښتنې هم کوو چې ترهګر مو ولې په نښنه کوي؟

ځينې خلک زموږ اوسنۍ انديښنې يوه منظمه دسيسه ګڼي، کاشکې خبره دومره ساده وی. دسيسه بازان رسواء کېدای او محکمې ته راکش کېدای شي. ددې نظام د چلولو لپاره چې څه شی وسايل برابروي له دسيسې ډېر خطري دي. دا موټر يوازې يو کس نه دی راون کړی ددې تر شا يو فکر دی چې له بده مرغه د اسماني صحيفې درجه يې خپله کړې ده. تاسو په دې نظر غور وکړئ: هر ډول اقتصادي پرمختګ د ټول انسانيت په ګټه دی او هر څومره پرمختګ چې کيږي هومره ورسره ګټې هم پراخيږي. دا نظر په همدې ځای نه ختميږي. وروسته له دې منطقي پايله هم اخيستل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کيږي. هغه خلک چې د اقتصادي پرمختګ سرعت په زياتولو کې تر نورو مخکې وي په لوړو دندو بايد وګومارل شي او امتيازات ورکړل شي. پاتې هغه خلک شول چې ددې خوشالۍ په ليرې کونجونو کې پراته دي، هغوی خو بايد استثمار شي.

په دې کې هيڅ شک نشته چې دا فکر له سره غلط دی. موږ پوهېږو چې زياتره هيوادونو کې د اقتصادي پرمختګ ګټه يوازې لږ اقليت ته رسيږي، دې سره يو ستر اکثريت نهيلي کيږي او د تخت يا تختې فکر ورسره پيدا کيږي. دا فکر له دې امله لا ډېر قوي کيږي چې د صنعت او کسب سره تړلي خلک ټول نظام چلوي او بيا ورته لوړ پوستونه او مقامات ځانګړي کيږي. دا فکر او باور زموږ د ډېرو فسادونو جرړه ده او له امله د دسيسو بې شمېره فکرونه راپيدا کيږي. خلک چې يوازې د انعام حسد وکړي، همدا حسد يې بدنيتي او خيانت رامنځته کوي. د دنيا وسايلو لوټونکي ته چې د ملنګۍ درجه ورکړل شي، کله چې موږ خپلو بجوته د غير متوازن ژوند تېرونکو کې منډه ورزده کوو او کله چې موږ د خپل نفوس شريف اکثريت د سپک اقليت لاس لاندې کوو دا په دې معنا ده چې ستونزو ته بلنه ورکوو او ورسره مخ کيږو هم.

ددې نړيوالې امپراتورۍ د لا پراختيا لپاره شرکتونه، بانکونه او حکومتونه خپله شتمني او سياسي قوت کاروي، دوی دا خبره پخوي چې ښوونيزې او سوداګريزې ادارې د رسنيو په ملتيا نه يوازې ددې ناسم فکر؛ بلکې ددې د پايلو ملاتړ هم وکړي. دې اتحاد موږ داسې ځای ته راوستي يو چې زموږ نړيوال تمدن د يوه ښامار شکل خپل کړی دی، ددې ښامار لوږه شببه په شببه ډېرېږي او د لا ډېر خوراک لپاره خوله خلاصوي. ددې زياتېدونکي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حجم او لوړې ته چې ګورو؛ نو داسې فکر کيږي چې څه يې مخې ته راځي هغه به تېروي او بلاخره به ځان هم وخوري.

د قزاقانو دا ټولی (کارپوریټوکراسي) دسیسه نه وه، ددې غرو په عام ډول مسلم ارزښتونه او موخې منلې. یو لوی مسئولیت یې دا دی چې خپله دوام وکړي، سیستم قوي کړي او د پراختیا فرصتونه یې برابر کړي. ددې نظام د رامنځته کوونکو ژوند، کورونه، اسانتیاوې او شخصي الوتکې موږ ته د بېلګې په ډول ښودل کيږي او همدا درس راکول کيږي چې خوره ځښه او حساب مه منه. موږ ته دا باور راکول کيږي چې لګښت زموږ ښاري مسئولیت دی. د ځمکو د لوټ بازار که تود شي زموږ د اقتصادي لپاره ښه دی ځکه موږ خپلولوړو موخو ته رسيږو. ددې نظام پر مخ وړلو لپاره د حیرانتیا تر حده لوړ معاشونه ورکول کېدل. که موږ به لږ سست شو؛ نو ډېر بې ضمیره جنایتکاري (ګیدړان) به رامیدان ته شول او که به دوی هم ناکام شول نو بیا به د پوځ نوبت و.

زه د اقتصاد جنایتکارۍ پر وخت یوې نسبتاً وړې ډلې سره وم. اوس ددې خلکو شمېر زیات شوی دی، ډېر درانه او قدرمن القاب ورته غوره شوي دي. دا خلک د مونسانټو، جنرل الکټریک، نایک، جنرل موټرز، وال مارټ او داسې نورو شرکتونو غلامي کوي. دا کتاب په حقیقت کې زما او د هغو خلکو کیسه ده.

له یوه اړخه دا ستاسو کیسه هم ده ځکه چې زما او ستا د نړۍ کیسه یوه ده. تر څنګ یې د دنیا لومړنی نړیوالې امپراتورۍ سرګذشت هم دی. تاریخ دا درس راکوي چې که دې کیسې کې مو مناسب بدلونونه رانه وړل پابله به ... اتورۍ دوام نه کوي، ټولې ناکامې شوي دي، څومره چې د واکمنۍ لپاره منډې وهي هومره تمدن له منځه وړي او بلاخره یوه

Downloaded By: Afghan Salar Library

داسې ځای ته ورسیږي چې خپله ماتې شي. د نړۍ د یوه هیواد یا هیوادونو جوجاړی تر ډېره د استثمار په مرسته دوام نه شي کولای.

زه غواړم ددې کتاب په مرسته دا پیغام ورسوم چې، موږ خبر شو او ددې کیسې سکرپټ په یوه بل قالب کې واچوو. که موږ پوه شو چې دا نظام مو ځنګه استثماروي، لوړه ځنګه ورځ تر بلې زیاتېږي او په نړۍ د غلامۍ راوستلو نظام پلی کیږي؛ نو نه یې شو زغملای. موږ ګورو چې یو شمېر خلک لکه ښاماران په خزانو ناست دي او ډېر شمېر نور د غربت شپې ورځې تېروي، دې سره به موږ په خپلو کارونو بیا ځلي فکر وکړو. موږ باید د هغه لارې پیدا کولو ته ځان وقف کړو چې ټولو ته پکې مینه، جمهوریت او ټولنیز عدالت وي.

د ستونزې په نښه کول یې حل خواته لومړی ګام دی، په ګناه اعتراف د کفارې پیل دی، نو بیا دې دا کتاب د خلاصون خواته د سفر پیل وګڼل شي. زه باور لرم چې دا کتاب به د هیلو نوی ځرک او متوازنې او قدرمنې ټولنې خواته د تګ په برخه کې نوې جذبه او ولوله راوپاروي.

زه له ډېرو خلکو سره مخ شوی یم او دې کتاب کې یې یادونه شوې ده، ددوی له مرستې پرته دا کتاب نه پوره کېده، دوی زه په خپلو تجربو او مشاهدو کې شریک کړم، زه له ټولو ډېره مننه کوم. له هغو هم مننه کوم چې ددې کیسو په خطرناکه دره کې یې د قدم کېښودو جرات راکړ. سټېنفین ریشټشیفن، بل، لین ټویسټ، این کیمپ، او ارټ ډریم هغه قدرمن ملګري دي چې د ډریم چینج په سفرونو او ورکشاپونو کې راسره وو. په دې ډله کې زه د څو کسانو ځانګړې یادونه کوم چې په هغو کې زما همکار ایوبروس، لن رابرټس هېرک، میری ټینډل، ستر شخصیت ونفرید چې له پنځه ویشتو کالو زما د ژوند ملګرې ده او زموږ لور جیسیکا.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded by: Afghan Salar Library

له هغو بې شمېره اغلو او ښاغلو هم مننه کوم چې د بانکونو، نړیوالو ادارو او د هیوادونو د بدمعاشانو په اړه یې خپلې تجربې او مشاهدې راسره شریکې کړې. په دې برخه کې له مایکل بنی ایلی، صابر نیا بالوګني، جوتان ګیبریل کارسکو، جیمي ګرانټ، پال شا او نور هغو کسانو مننه کوم چې د معلوماتو خزانه یې بللای شم.

دا مسوده چې پوره شوه د ستیون پایرسانتي موسس بیرټ کوهلر راته دار راکړ او د یوه ښه ایډیټر په توګه یې راسره ساعتونه کار وکړ، د هغه د مشورو په رڼا کې ددې کتاب خاکه بیا بیا ترتیب شوه. زه له ستیون او ریچارډ پیرل نه د زړه له تله مننه کوم چې ده سره یې معرفي کړم. له ګانوا براون، رینډي فیټ، این جونز، کرس لي، جینیفر لس لاري پیلوشیډ او جیني ویلیمز نه هم مننه کوم چې مسوده یې ولوسته او کره کتنیز جاج یې ددې واخیست. له ډیوډ کورټین نه هم مننه کوم، چې مسوده یې ولوسته، نقد یې پرې وکړ او زه یې لوړ معیار ته ورسولم. له خپل استازي پاول فډورکو، ډیزاینر والیري بریوستر او مرستیال یې ټاډ متناز نه هم مننه کوم، نوموړی د الفاظو باریک بین او له وړتیا ډک فیلسوف دی.

پر یادو کسانو سربېره لاندې خلک د ځانګړې مننې حقدار دي:

د بېرټ کوهلر ایډیټر جیون سواسبرمنیم، کیون لیوپاف، رک ولسن، ماری جیسس (اګیلو)، پیټ اندرسن، مارین کک، مایک کرولی، رابن ډونووان کرستین فرانز، ټفالي لي، کیترین لینګرون او ډیانا پلانتېر. دا ټول د بېرټ کوهلر کارکوونک دي، دوی دا احساس لري چې د خلکو حقیقي شعور باید راویښ شي، ددې نړۍ د ښه کولو لپاره دې خلکو کار کړی دی.

... اه سنګوین چې ددې کتاب بې له پښتۍ خپرولو هوډ وکړ، نو کاردووښو یې په نوي انداز کې د تخلیق ډېره هڅه وکړه او ځینې اضافي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مواد یې هم برابر کړل. زه له خپلې ایډیټرې ایمي هینز منندوی یم چې له پیله یې په دې پروسه کې دلچسپي لرله. ددې ځینې ځانګړنې یادوم؛ مثلاً صبر، مسلکي وړتیا او د مفاهیمو مهارت. ددې تر څنګ د ځینو خلکو د وړتیا یادونه کوم ؛ لکه مسول مدیره ټرنیا کیټینګ، پبلسټي ډایرکټر برانټ جین، پروډکشن ایډیټره نورینا فرابوټ، ابیګیل پاورز. سب رایټس ډایرکټر الاین اکیلس، د نوې سرپاڼې جوړونکی جایا مصیلي او د بازارموندنې کواردیناتور ګریچن سوارټلی. په دې ټوله پروسه کې پلم او بیریټ کوهلر همغږي پیدا کړه او ځان یې ددې ګډې موخې ترلاسه کولو ته وقف کړ، چې دا پیغام ډېرو خلکو ته ورسیږي ، چې د ښوونځي او پوهنتونو متعلیمنو او محصلینو ته یکې ځانګړی پام شوی.

له ټولو هغو کسانو هم منندوی یم چې ماسره یې MAIN کې کار کاوه خو په دې نه پوهېدل چې د نړیوالې امپراتورۍ په رامنځته کولو کې څه رول لوبوي. هغه خلک هم د منندوی وړ دي چې ماته یې کار وکړ، لیرې ځایونو ته یې راسره سفرونه وکړل او د ژوند ښایسته شېبې مې ورسره تېرې شوې. دلته د inner traditions international د ایهود سپرنګ او د هغوی د پرسونل یادونه هم اړینه ده، چې دځایي تمدن او شیلمنیزم (د شمالي کوریا مذاهب چې د جادو پر بنسټ ولاړ دی) پر موضوعاتو لیکل شوي کتابونه یې ما خپاره کړل. دا ټول زما ښه ملګري دي او هم دوی د لیک او خپراوی لارې ته سم کړم.

زه له هغو خلکو هم منندوی یم چې خپلو کورونو ته یې بوتلم، بې له دې چې وګوري کورونه یې ځنګلونو، د غرونو غاړو، د سیند په غاړو له ونو جوړ دي او که په تنګو او تیاره کوځو کې دي. زه د هغو خلکو له مبلمه پالنې منندوی یم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوم چې په ژوند کې يې شريک پاتې شوی يم، په ما کې د يوې نوې ساه پوکولو کې دې خلکو لوی لاس درلود.

جان پرکنز - اګست ۲۰۱۴

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې :

۱ The united food programme , http:// www. Wfp.org/index,asp? Section=۱

۲ Http:// www. Frac . org

۳ د ملګرو ملتونو راپور .Human Development Report

٤ د ملګرو ملتونو او UNDP د سروې له مخې په په نړۍ کې هر شخص ته د پاکو اوبو او صفایی د اسانتیا رسولو لګښت باید نهه بیلیونه ډالر ورزیات شي. که دولس بیلیونه نور ولګول وشي د نړۍ هرې مېرمن ته د امیدوارۍ او لنګون اسانتیاوې برابریدای شي. د نړۍ هر وږي د خوړو رسولو او بنسټیزو صحي خدمتونو لپاره باید دیارلس بیلیونه ډالر ولګوو. که شپږ بیلیونه نور ورسره ولګوو د نړۍ هر شخص د لومړنیو زده کړو په ګانه سینګاریدی شي، چې دا ټول لګښت څلویښت بیلیونه ډالره کیږي. Diet for a New America the Food Revloution. نه اخیسته.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د پیل خبرې

د اکوادور پلازمېنه (کیټو) ښار د اینډیز غرونو په لمنې زره متره ارتفاع او اور غورځوونکي سیمه کې پروت دی. دا ښار امریکا ته د کولمبس تر رسېدو مخکې اباد شوی و. که څه هم د استواء کرښه ددې سیمې سویل ته یوازې څو میله واټن کې تېره شوې ؛ خو بیا هم ددې سیمې خلکو د غرونو له سپینو واورو سره بلد دي.

د شیل (Shell) ښار پوښي ځنګله دی، ددې ځای د جوړولو لپاره یې د امازون ځنګلونه وهلي وو. دغه ښار د شیل نفتي شرکت د اړتیاوو پوره کولو لپاره جوړ شوی دی او له کیټو نږدې ۲۷۰۰ متره ښکته پروت دی. دا ښار ډېر ګڼ دی، زیاتره اوسېدونکي یې پوځیان، د نفتي شرکتونو کارکوونکي او د کچوا او شوار قبیلو ځایي اوسېدونکي دي. ددې قبیلو نران مزدوري کوي او ښځې یې خپل بدنونه پلوري.

له یوه ښاره باید بل ته پر یوه پیچلي سرک لاړ شئ، ځایي خلک وایي چې که په دې سرک څئ نو په یوه ورځ کې به د کابل د څلور واړو فصلونو خوند پکې وڅکئ.

زه پر دې سرک ډېر تللې راغلی یم؛ خو ددې له ښکلا مې زړه نه دی مړ شوی. ددې سرک یوې غاړې ته دنګ واورین غرونه، ښکلې منظرې او خروبي (ابشارونه) دي او بلې خواته یې بیا ژور ګړنګ دی چې د پستاذا سیند پکې د مار په شان تاو راتاو زوان دی. د پستاذا د سیند سرچینه د کوتوپیکسي رود (ګلیشر) دی. په دغه ځای کې د نړۍ تر ټولو ستر اورغورځوونکی (اتش فشان) دی او د انکاس په وخت کې ورته د بوې الاهې (دیوي) مقام ورکړل شوی و، دا سیند نږدې درې زره میله مزل کوي او د کوتوپیکسي اوبه د اتلانتیک بحر ته غورځوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په ۲۰۰۳ ز کال کې مې بوستون پرېښود او کيټو خواته روان شوم. زه په يوه بې ساري عمليات مامور شوم چې تر دې مخکې ورسره نه وم مخ شوی. ما وې هغه جګړه به پای ته ورسوم چې په پيل کولو کې يې ما هم لاس درلود، مور اقتصادي جنايتکار زياتره وخت د ځينو پېښو او کارونو مسئوليت په خپله غاړه اخلو، مور په دې ښه پوهېږو چې کومه جګړه کوو؟ په دې جګړې يوازې هغه هيوادونه پوهېږي د کومو لپاره چې جګړه روانه وي. زه کچوا، شوار او ددوی ګاونډيو اچورا، زپاروس او شويار قبايلو سره د ليدلو لپاره تلم . دا قبيلې په دې خاطر سره يو ځای شوې وې چې خپلې سيمې به په هر قيمت د زمور د تېلو د شرکتونو له منګلو او ښکاره خلاصوي. دوی دا جګړه د خپل نسل د بقا لپاره کوله او مور يوازې د قوت او شتمنۍ لپاره ميدان ته شوي وو. دا په نړۍ د خپلې واکمنۍ او د نړيوالې امپراتورۍ د دعوه دارو د خوب يوه ځنډه وه.

مور اقتصادي جنايتکار همدا کار کوو، يعنې نړيوالې امپراتورۍ ته کار زمور د مسئوليت يو مهم جز دی. مور د ښځو او سړيو يوه ډله يو. مور نړيوالې مالي ادارې ددې لپاره کاروو چې د نورو هيوادونو اصلي سرچينې ونيسو او همدا سرچينې په اصل کې زمور د لويو شرکتونو، حکومتونو او بانکونو د چلولو وسايل دي. په مافيا کې چې زمور ملګري خلک څه ډول روزي، په همدې ډول اقتصادي جنايتکار (Economic Hitmen) هم روزي. ذدې پلان له مخې وروسته پاتې هيوادونو ته د زيربنايي پروژو جوړلو (برښنا بندونه، سرکونه، بندرونه، هوايي ډګرونه...) لپاره پور ورکول کيږي. دې پورسره دا شرط هم کېښودل کيږي چې دا ټولې پروژې به زمور خپل شرکتونه پلي کوي. يعنې په اصل کې د پور يوه لويه برخه له امريکا د باندې ببخې نه وځي. پروسه يې ساده ده، همدا د پور پيسې په واشنګټن

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کې له شته بانکونو څخه په نیویارک، هیوسټن او سان فرانسسکو کې د لویو شرکتونو دفترونو ته لېږدول کیږي.

که څه هم دا پیسې بېرته هغو ادارو ته زر ورکول کیږي چې د پور ورکوونکې دلې غړي وي؛ خو په څنګ کې یې په پوروړي هیواد دا شرط هم کېښودل کیږي چې پور به له سود سره خلاصوي. هغه اقتصادي جنایتکار بریالی ګڼل کیږي چې د سترو پورونو معاملې وکړي او څو کاله وروسته پوروړی ونه شي کولای چې اخیستی پور پرې کړي او چې داسې حالت راشي؛ نو بیا موږ هم د مافیا په څېر د انسان له پوستکي پیسې جوړوو. په داسې حالاتو کې زیاتره وخت لاندې یو کار ترسره کیږي:

- په ملګرو ملتونو کې ددې هیواد پر رایې واکمني.
- پوځي هډې اخیستل
- او د پوروړي هیواد تر ټولو غني سرچینې ته لاسرسی پیدا کول، لکه تېل یا د پانامې کانال.

هو که دا کار وشي؛ نو پوروړی بیا هم له پوره نه خلاصیږي، په دې توګه بیا زموږ په نړیوالې امپراتورۍ کې یو ولایت بل هم را زیات شي.

د ۲۰۰۳ ز کال په یوه لمرینه ورځ زه له کیټو نه شیل خواته روان وم. فکر مې ۳۵ کاله شاته لاړ، هغه وخت چې زه د لومړي ځل لپاره دې سیمې ته راتلم. ما ددې سیمې په اړه اورېدلي وو چې د ینواډا هومره ده؛ خو تر دېرش زرو زیات اورغورځوونکي غرونه لري، د نړۍ ۱۵ سلنه بېلابېل مرغان لري او داسې زرګونه ډوله بوټي پکې شته چې تر اوسه پرې هېڅ څېړنه نه ده شوې ... په دې هم پوهېدم چې دې سیمې ډېر تمدنونه کتلي او خومره خلک چې په هسپانیایي ژبه خبرې کوي، نږدې همدومره یې به نور ژبو هم غږیږي. ما دا هیواد ډېر ښکلی او په زړه پورې ولید، خواوس

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ورته يوازې همدا توري کارولای شم (سوچه، معصوم او پاک.) اوس پنځه دېرش کاله وروسته ډېر څه بدل شوي دي.

زه چې په ۱۹٦۸ ز کال کې دلته راغلم نو ټيکساکو په امازون سيمه کې نوي نوي تېل کشف کړي وو؛ خو نن ددې هيواد د ملي صادارتو پنځوس سلنه تېل (نفت) جوړوي. زما له راتلو سره دلته يو Trans- endean پايپ لاين جوړ شوی چې تراوسه يې نږدې پنځه سوه زره بيرله تېل د باراني ځنګلونو نرمو رګونو ته ورننويستي دي. دا د هغه مقدار دوه چنده کيږي چې Exxon Valdezخپاره کړي وو. ۲ اوس د اقتصادي جنايتکارې ډلې تر نظر لاندې کنسرسيوم يو بل پايپ لاين جوړوي چې درې سوه ميله اوږدوالي به لري او ۱،۳ بليونه ډالره لګښت پرې راځي. په ډېر فخر ويل کيږي چې اکوادور به ډېر زر د هغو لسو هيوادونو په قطار کې راشي چې امريکا متحده ايالاتو ته تر ټولو ډېر نفت ورکوي.۳ اوس پراخه ځنګلونه نشته، سره او شنه طوطيان تللي دي، درې ځايي تمدنونه د مرګ سره مخ دي او ښکلې سيند له ناولو اوبو او پاتې شونو کثافاتو ډک دی.

په دې وخت کې ځايي تمدنونو مقاومت پيل کړ. په ۲۰۰۳ ز کال کې د امريکا د وکيلانو يوې ډلې له شلو زرو د ډېرو ځايي خلکو استازيتوب وکړ او د شيوران ټيکسا کارپوريشن پر ضد يې د يو بيليون ډالرو دوسيه ثبت کړه. دليل يې دا و چې له ۱۹۷۱ نه تر ۱۹۹۲ ز کلونو پورې دې شرکت هره ورځ څلور ميليونه ګيلنه فاضله او زهرجن مواد په روانو اوبو کې خوشې کړي وو. تر څنګ يې نږدې ۱۳۵۰ داسې کندې ويستلې چې انسانان او حيوانات پکې وژل شوي دی. ۴

... ... چې د پستاذا سيند او ځنګلونو نه ټينګې وريځې راپورته کېدې، کالي مې په خولو لامده شول او معده مې ګډه وډه

Downloaded By: Afghan Salar Library

شوه، لامل به يې يا ګرمي او يا تاوراتاو سرک و. زه دې فکر خوړلم چې ددې ښايستوکي هيواد په بربادولو کې ما څومره لاس لرلی دی؟ همدې فکر مې ذهن ارام ته نه پرېښود.

موږ چې په لومړي ځل اکوادور ته د اقتصاد، بانکدارۍ، صنعتي پرمختګ او انجينرۍ کومې معجزې ور وښودې، دا هيواد اوس له هغه حالته څو ځله بدتر شوی دی. دا بهير له ۱۹۷۰ ز کاله راپيل شوی دی چې دا دور يې د ټبلو د خوشالۍ دور باله، تر هغه وروسته د فقر کچه له پنځوسو او يا سلنې ته ختلې، بې کاري له پنځلسو اوياو ته ختلې او په دې هيواد پور چې هغه وخت ۲۴۰ مليونه ډالره وو اوس ۱٦ بيليونو ته رسيدلی دی. په همدې دور کې هغه قوي وسايل او سرچينې چې د ټولنې تر ټولو بېوزله طبقې ته ځانګړې شوې وې له شل سلنو څخه يې شپږ سلنه پاتې دي.

له بده مرغه يوازې اکوادور په دې حال نه دی، هر هغه هيواد چې زموږ اقتصادي جنايتکارو او نړيوالې امپراتورۍ تر سيوري لاندې راشي، له همدې حالت سره مخ کيږي. ٦

يوه لنډه پرتليزه کتنه به تاسو هم حيران کړي، د درېيمې نړۍ پورونه تر ۲،۵ ترليونه ډالرو اوښتي دي. اداري لګښت يې تر ۳۷۵ بيليونه ډالرو لوړ دی، د درېيمې نړۍ د ښوونيزو ادارو لګښت تر دې څو برابره ډېر دی او مخ پر وده هيوادونه چې هر کال څومره مرسته ترلاسه کوي تر دې شل سلنه ډېره ده. د ځمکې پر مخ د اوسېدونکي نفوس تر نيمايي زيات يې د ورځې دوه ډالره عايد لري، په همدې ژوند کوي او د يوې سروې له مخې همدومره ورته په ړل شول.

د بانوز ښکلي ښار ته چې ورسېدو د موټر سرعت کم شو، دا ښار د تودو چينو له امله مشهور دی، چينې په ځمکه کې له اورغورځوونکو راتېرېږي او لرې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

يې تر تنګوراګوا رسيږي. ماشومانو په لاسونو کې ژاولې او بسکيټ نيولي وو او مور خواته يې منډې راوهلې، مور له بانوزه هم تېر شو، د ښکلي طبيعي منظرو لړۍ ختمه شوه، اوس موږ له جنته وتي وو او هغه دوزخ ته ننوتي چې انځورګري يې دانتې په خپل کتاب Divine Comedy کې کړې ده.

د سيند په منځ کې ستر سيمنټي ديوال ښکاره شو، زه يې په ليدو ځکه حيران نه شوم چې ما څو ځله دمخه هم ليدلی و، دا د اقتصادي جنايتکارو يو ستر سمبول ګڼل کېده. دا ديوال په اصل کې د برښنا د يوه بند دی چې د پستاذا سيند مخې ته جوړ شوی دی. د سيند اوبه يې تونلونو ته ننويستي او له دې فشاره يې برښنا جوړوي. دا په اصل کې د ۱۵۲ ميګاواټه برښنا ستره پروژه ګڼل کېده. دې بند هغو صنعتونو ته برښنا ورکوله چې د اکوادور څو کورنۍ يې شتمنولې او د سيند غاړو ته پراته بېوزله خلک يې لا پسې خوارول.

دا بند يوه له هغو پروژو ده چې ما او زما په شان د نورو اقتصادي جنايتکارو لاس ته راوړنه ګڼل کيږي، د همدې ډول پروژو له امله اکوادور هم د نړيوالې امپراتورۍ يوه برخه ګرځېدلې ده. بل حقيقت دا هم دی چې د همدې بند له امله کچوا، شوار او نورې قبليې زموږ د نفتو له شرکتونو سره شخړو او جګړو ته راولاړې شوې دي. د همدې بېړنيو اقتصادي جنايتکارو د پروژو له امله نن اکوادور تر ستوني په پورونو کې ډوب دی. اوس اکوادور اړ دی چې د خپلې ملي بوديجې ډېره برخه د خپلو بېوزلو خلکو د ژوند ښه کولو پر ځای خپلو پورونو کې ورکړي. ددې پورونو د پرې کولو يوازينۍ لار دا ده چې اکوادور خپل ځنګلونو د تېلو شرکتونو ته ورکړي. دا چې ولې سترګې غلې کړې يو لامل يې دا دی چې په اکوادور کې د نفتي موادو شته زېرمې د منځنۍ اسيا له هغو کمې نه دي. ۸

Downloaded by: Afghan Salar Library

اوس نړیواله امپراتوري یو پاو انساني غوښې ته اړتیا لري او قیمت یې د تېلو د امتیاز په شکل پوره کېدای شي.

۲. ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له یوولسمې را وروسته دا غوښتنه نوره هم زیاته شوې ده، ځکه دا ویره شته چې په منځنی اسیا کې د نفتو پایپ لاینونه وتړل شي. تر ټنګ یې بل مهم ټکی دا دی چې وینزویلا امریکا ته نفت صادرونکو درې سترو هیوادونو کې یو دی. دوی اوس د (هوګو شیواز) په نوم یو کس ولسمشر ټاکلی او دا سړی د امریکا له دې جابرانه پالیسۍ سره سخت وران دی. اخطار یې ورکړی چې په امریکا به د تېلو پلور بند کړي. اقتصادي جنایتکار وینزویلا او عراق کې ناکام شول؛ خو په اکوادور کې لا ښه روان دي او له دې معلومیږي چې ددې هیواد د خلکو د وینې وروستی څاڅکی هم زموږ دی.

د اکوادور له ځنګونو چې کوم تېل راتېرېږي، په هرو سلو ډالرو کې یې پنځه اویا ډالر د نفتو شرکتونه اخلي. د پاتې پنځه ویشتو ډالرو درې پر څلورمه برخه یې پورونو کې ځي ، له دې چې پاتې شي ډېره برخه یې بیا په پوځي خدماتو مصرفیږي او نږدې په سلو کې دوه نیم ډالر یې زده کړو، روغتیا او د بېوزولو ودې او پرمختګ ته پاتې کیږي. ۹ په دې توګه له امازون ځنګلونو د تېریدونکو تېلو په سلو کې درې ډالر هغه خلکو ته ورکول کیږي چې اړ دي، بېوزله دي او ژوند یې همدې صنعتونو له بربادۍ سره مخ کړی دی، دا هغه خلک دي چې له پاکو اوبو هم بې برخې دي.

په اکوادور کې زرګونه او نړۍ کې میلیونونه داسې خلک بالقوه ترهګر دي، لامل یې دا نه دی چې دوی ګني د کمونیزم ملاتړي دي یا شخړې او ... ب :ا خلک دومره محروم دي چې هر څه کولو ته چمتو کیږي. زه چې کله د برښنا دې بند او د نړۍ نورو هیوادونو ته ګورم نو حیران

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شم چې آیا دا خلک به هم کله داسې ګام پورته کړي لکه امریکایانو چې په ۱۷۷۱ کال کې د انګریزانو او ۱۱۸۰ ز کال کې د هسپانیویانو پر ضد پورته کړی و.

د عصري دور د نړیوالې امپراتورۍ دا فکر دومره زور او پېچلی دی چې د اتلسمې پېړۍ د یرغلونو او ښکیلاکونو فکرونه یې کونج کې کینولي. موږ اقتصادي جنایتکار په مکارۍ کې بې ساري یو، څکه له تاریخه مو زده کړې ده، موږ خپل نظام نن هغه ځای ته رسولی چې نه تورې ته اړتیا لرو او نه زغرې ته او نه داسې لباس ته اړتیا لرو چې له نورو خلکو مو جلا کړي.

په اکوادور، نایجیریا او اندونیزیا هیوادونو کې موږ د ځایي ښوونکو او عادي اوسېدونکو په څېر لباس اغوندوو. په نیویارک او واشنګټن کې بیا د سترو کاروباریانو او سوداګرو په څېر ګرځو. موږ په ظاهره ډېر ساده خلک ښکارو، هغو ځایونو ته ځو چې زموږ پروژې پکې روانې وي او په هغو کوڅو هم ګرځو چې بېوزلي او فقر پکې چیغې وهي. موږ د انسانیت او قربانۍ درس ورکوو، له ځایي رسنیو سره د هغو پروژو په اړه خبرې کوو چې موږ یې انسانیت د خدمت لار ګڼو، دولتي شرکتونو ته له پوره برم او سترو ارقامو سره ورځو. د هاروارډ په سوداګریز ښوونځي کې د اقتصاد په معجزو ګرمې خبرې اترې کوو. کوم شیان چې باید په وینا کې راوړل شي، هغه په شفاف ډول راوړو چې خلک یې راسره ومني. دا هغه چل دی چې په مرسته یې زموږ نظام روان دی. زموږ د نظام ډېر ټینګار پر دې وي چې د خبرې د وړاند، په [illegible] څنګه پاک له صحنې ووځو؟ همدا لامل دی چې موږ په هېڅ ډول غیر قانوني کار کې ښکیل نه ښکارو او زموږ ټول نظام له هره اړخه پاک دی. دا درته جدي وایم که موږ اقتصادي جنایتکار په کوم ځای [illegible] موږ یې ګیدړان ور ځای یو ډول خلک نیسي چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Jackalبولو او دوی په لرغوني تمدن پورې اړه لري. دا ګیدړان په تیاره ځایونو کې ناست وي او چې کله رابښکاره شي؛ نو بیا د هیوادونو په مشرانو تختې اوړي او په ښخړو او جګړو کې ښکیل کیږي. ۱۰ که چیرې دا رله هم ناکامه شي لکه په افغانستان او عراق کې؛ نو بیا پخوانۍ وسلې کارول کیږي او د امریکا ځوان نسل د وژنو لپاره میدان ته لیږدول کیږي.

زه چې د سیند په منځ کې له دې لوی دیواله تیریدم نو داسې مې ګڼله چې کالي مې په خولو لامده دي... . په هر صورت زه ځنګلونو خواته د هغو خلکو لیدو ته روان وم چې زموږ پر ضد یې قیام کړی و، دوی ویل چې په هر صورت به د هغه نړیوالې امپراتورۍ د خپرېدو مخه نیسي چې په رامنځته کولو کې یې زه هم لاس لرم. ما د ګناه او ملامتیا احساس کاوه... په دې وخت کې راسره دا پوښتنه پیدا شوه چې دا هر څه څنګه وشول؟ د نیو همپشایر د سیمې یو ساده هلک دې دومره لویې لوبې ته څنګه رانوت؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې :

- "Tarianiat - firmes en Nuestro territorio FIPSE vs. Arco" .Gina Chavez
- ."Ecuador: lost Promises" Sandy Tolan
- "Seeking Balance: Growth VS. culture in Amazon" Jaun .forero
- "Suit says Chevron Texaco Dumped poisons in Ecuador" .Aby Ellian
- ."Perlious prosperity": Chris Jochnick

دا لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ :

- " The Globalization of contentious Politics: The .Amzonian indigenous Right Movements" Pamela Martin
- ." Amazon Crude" Kimerling
- " Up Havel in the Back yard: Illegitimate Debts and Human Rights- the case of Ecuador - Norway" Leslie .Wirspa
- ."Inside corporate America" : Gregory palest

٦پر ملي او نړيوال اقتصاد د تېلو اغېزو لپاره :

- "Resources Wars: The New Landscape of Global .Conflict" Michael T. Klari
- "The Prize: The Epic Quest for Oil Money anad Power" -

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

• The Commanding Heights: The Battle for the World .Economy" – Daniel Yergin and joseph Stamis Law

۷. "Where the money went": James. S. Henry. Across the .Board, March/April ۲۰۰٤ pp ٤۲-٤٥

For more information:

"The blood Bankers" Tales from the Global Underground Economy"

۸. " Tarianiat" Firmes en Neustro Terrtorio: FIPSE vc. ARCO": .Gina Chvez

.۹- "Ecuador" Lost Promises" Sandy Tolan

.۱۰- National republic radio, morning Edition: ۹th july ۲۰۰۳

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

لومړۍ برخه

له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۱ ز پورې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لومړی فصل

د اقتصادي جنایتکارو پیدایښت

دا هر څه ډېر ساده وشول:

زه په ۱۹۴۵ ز کال کې په یوې منځنۍ کورنۍ کې زېږېدلی هلک یم، مور او پلار مې له هغه امریکایي نسله وو چې درې سوه کاله مخکې نیو انګلېنډ ته راغلي او ډېره شوي دي. ددوی تنګ نظر او قوي اصولو د دوی د خو نسله تنګ نظرۍ او لرغون پرستۍ شاهدي ورکوله. پلار مې په کورنۍ کې لومړی سړی و چې پوهنتون یې لوستی او د ژوند تېرولو یوازینۍ وسیله یې دنده وه. مور مې په یوې لیسې کې د لاتیني ژبې ښوونکې وه. پلار مې په دویمه نړیواله جګړه کې په بحري ځواکونو کې و. زه چې په نیو همپشایر کې وزېږېدم نو پلار مې د تیکساس په یوه روغتون کې د خپل مات هډوکي د درملنې لپاره پروت و.

وروسته یې بیا دلته په نیوهمپشایر کې د هلکانو په یوه ځایي ښوونځي (تیلټان) کې د بېلابېلو ژبو د تدریس دنده واخیسته.

د ښوونځي ودانۍ د یوه لوړ غر په څوکه داسې ولاړه وه لکه په خپل ځان چې مغروره وي، ددې کلي نوم هم (تیلټان) و. ددې شخصي ښوونځي یو اصل دا و چې په هره دوره کې یې یوازې پنځوس زده کوونکي پرېښودل. ددې ښوونځي زیاتره زده کوونکي د بیونس ایرز، کاراکاس، بوسټون او نیویارک ایالاتونو د شتمنو کورنیو نازولي وو.

و کمی و خو موږ په ببوزلو کې نه راتلو، د ښوونځي

د ښوونکو معاش که څه هم کم و خو زموږ اړتیاوې یې پوره کولې.

وروسته په دې پوه شوم چې ژوند د پیښو ټولګه ده، اصلي خبره دا ده چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پېښو سره باید زموږ غبرګون څه وي؟ او څه ته چې موږ د نظر ازادي وایو څه ډول یې باید وکاروو؟ د بخت په دایرو کې چې موږ بند یو بېلابېلې پېښې راسره کیږي او له دې په ټاکنه کې دا ثابتوو چې موږ څوک یو. زما په ژوند کې دوه مهمې پېښې وشوې چې زما ژوند ته یې نوی اړخ ورکړ. لومړۍ پېښه د یوه ایراني جنرال د زوی بلدتیا وه چې پلار یې د ایران د شاه مشاور و او دویمه پېښه یوه ښایسته او نازکه نجلۍ وه چې ما د خپل زلیتوب د تخیېل محبوبه ګڼله.

لومړی کس چې زه یې فرهاد بولم موږ سره یې په خونه کې و او ماهرانه د فوټبال لوبه یې کوله. دده بدن تندرسته، ویښته اوږده او تور، وریځې نرمې، سترګې ښکلې او شخصیت زړه راښکونکی وو، دومره چې ښځې به یې پر وړاندې بې وسه وې. په ډېرو خبرو کې زما برعکس و، د هغه د ملګرتیا لپاره ما ډېرې هلې ځلې وکړې. ډېرې داسې خبرې یې رازده کړې چې وروسته په ژوند کې یې راسره بیا ډېره مرسته کوله.

ما (این) هم ولیده، که څه هم د یوه پوهنتون له محصل سره یې ډېره جدي مینه کوله؛ خو ماته یې هم په خپله لمنه کې ځای راکړ او دا زما د پاکې مینې لومړی پیل او لومړی تجربه وه.

فرهاد ماته د شراب څښلو، مجلسونو ته د تګ او د مور او پلار نه سرغړونې جرات راکړ. ما فکر وکړ که پلار سره روغه جوړه کوم په تعلیمي لحاظ به ډېر کمزوری پاتې شم. زما نمرې ټیټېدې، وظیفه مې ختمه کړه او په دویم کال مې، دا پرېکړه وکړه چې، نورې به زده کړې نه کوم، مور او پلار مې [illegible] چې حیښوي به راسره پرې کړي. فرهاد مې په دې کم عقلې پرېکړې کې جرات زیات کړ، زه په یوه طوفاني کیفیت کې د ډین دفتر ته ننوتم او د [illegible] ودو خبره مې وکړه، دا مې د ژوند تر ټولو نازک پړاو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

و.

ما او فرهاد شپه په یوې ځایي میکدې کې تېره کړه. د نشې په حالت کې راباندې یوه غټ خیتي بزګر تور پورې کړ چې زه یې مېرمنې سره د مینې تار غځوم. زه یې پورته کړم او یوه دیوال ته یې ودرولم، فرهاد مو منځ ته راغی او د چاقو پر ګوزار یې د بزګر مخ وشکاوه. بیا یې زه پورته کړم او له کړکۍ یې لاندې وغورځولم، لاندې په ژوره کې سیند بهیده، زه په یوه لوړ کمر ولویدم، له هغه ځای نه مو لاندې ټوپ کړ او د سیند په غاړه غاړه مو ځان په منډه خونې ته ورساوه. سبا چې په کیمپ کې پولیسو پوښتنه کوله نو ما ځان له پېښې بېخي بې خبره وښود خو فرهاد یې له کالجه وویست. موږ دواړه بوستون ته لاړو او هلته په یوه اپارتمان کې ګډ اوسېدو، ما هرسټ په نوم د یوه اخبار په دفتر کې د ایډیټر د شخصي مرستیال په توګه کار پیل کړ.

په ۱۹٦۵ زکال کې زما ځیني ملګري پوځي زده کړو لپاره وغوښتل شول، ما ددې لانجې نه د خلاصون لپاره د بوستون په پوهنتون کې د ادارې او سوداګرۍ زده کړې پیل کړې. تر دې وخته این له خپل ملګري سره اړیکې ختمې کړې او میډل بري ته به اکثر زما لیدلو لپاره راتلله، ما به یې ددې اتګ له زړه له تله هر کلی کاوه. هغه په ۱۹٦۷ ز کال کې فارغه شوې وه و زما لا یو کال پاتې و، ما ورته د یو ځای اوسېدو وړاندیز وکړ خو هغې له ...اده مخکې ددې کار امکان په کلکه رد کړ، ما به یې په توکو کې دې خبرو ته اخطار ویلو، فکر مې کاوه چې دا سخت او حیادار فکر زما د کورنۍ د اخلاق... اصول... ی و، موږ له ملګرۍ ډېر خوند اخیسته خو دا چې ما ډېر ... ...وبس بو د هغې لپاره مو واده وکړ.

د این پلار ډېر تکړه انجینر و، هغه یو ډېر قوي توغندی جوړ کړی و چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

..... کار په امتیاز یې په ځواکونو کې ګومارلی و. یو مشهور ملګری یې چې این به ورته ځرینک کاکا (دا یې خپل نوم نه و) ویل په استخباراتي اداره کې په لوی پوست کار کاوه. دا اداره چې NSA نومیږي، ډېر لږ خلک یې پېژني خو له ځینو اړخونو د هیواد ډېره ستره استخباراتي اداره ده.

زموږ له واده لږ وخت وروسته د پوځ لخوا طب لپاره وغوښتل شوم، زه په طب کې پاتې شوم خو له فراغت وروسته ویتنام ته د تللو وېره موجوده وه. ما که څه هم د جنګ سره شوق درلود خو په ختیځه اسیا کې د جګړو فکر ز هم له اروایي پلوه مات کړم، زه د خپلو نیکونو د استعماري کیسو تر سیوري لاندې لوی شوی یم. په دوی کې توماس پین او ایتان ایلین هم شامل وو، ما د انګلستان او نیویارک هغه ټول میدانونه لیدلي چې فرانسوي، هندي او انقلابي جنګونه پکې شوي دي. ما هغه ټول تاریخي ناولونه ولوستل چې لاس رسی مې ورته درلود.

حقیقت دا دی کله چې ځانګړی پوځي ګروپ ختیځي اسیا ته ورسید نو زما ډېر ارمان و چې زه هم ورسره وای؛ خو څنګه چې رسنیو هلته ددوی له ظلمونو او د امریکا له پالیسۍ پرده پورته کړه نو زما فکر هم په بدلیدو شو.

په دې حالت کې فرنک کاکا زما ژغورونکی شو، ماته یې وویل په NSA کې د دندې یوه ګټه داده چې د پوځ د خدمت دوره ورته وروسته کیږي. په خپل دفتر کې یې د جلسو یوه لړۍ پیل کړه چې ما ته پکې ټوله ورځ د لیکلو سترې کار راپه غاړه شوی و. ماته یې وویل دا ازموینه به وښیي چې ته په نسا اداره کې د کار وړتیا لرې او که نه. د همدې ازموینې له مخې به زما مثبت او منفي اړخونه رامخې ته شي او پر بنسټ به یې زما د راتلونکي ژوند پرېکړه وشي. د ویتنام د جګړې په اړه زما له غبرګونه په دې پوهېدم چې په ازموینه ک... وخت مې ویل چې د یوه وفاداره امریکایي په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

توګه د جګړې مخالف یم، خو حیران هله شوم چې مرکه کې ددې موضوع دسره یادونه هم ونه شوه. ډېر پام یې زما روزنې او کورنۍ ته و، دې ته یې هم پام و چې زه په یوه شتمن چاپېریال کې رالوی شوی غریب هلک وم، زما هغه محرومیت یې هم ښه وڅېړه چې د پیسو، مینې او ښځو نشتون راکې پیدا کړې و. ددې تر څنګ یې زما د خیالي نړۍ هغه بې شمېره ارمانونه هم معلوم کړل چې زما له ذهنه چاپېر وو. فرهاد سره زما د ملګرۍ په اړه ددوی علاقې حیران کړم او په کیمپ کې د ځان ساتلو لپاره د دروغو خبرې سره علاقې لرلو خو پسې لا ډېر حیران کړم.

دا ټول کارونه ماته منفي ښکاریدل او په نسا کې مې ځان ناکام انګیره خو د مرکو لړۍ روانه وه او دې سره د تصویر له بل مخه پرده پورته کېده، په دې راز څو کاله وروسته پوه شوم چې نسا ته دا ټولې منفي نقطې مثبتې دي. د هغوی د تحقیق اصلي محور هیواد سره زما د مینې په پرتله زما پر محرومۍ ډېر و.

مور پلار سره مخالفت، د ښځو وېره او د ښه ژوند ارمان دا ټول هغه څه وو چې ددوی علاقه ورسره ډېره وه، هغوی پوهېدلي وو چې دا سړی لارې ته راوستی شو.

په ښوونځي کې له نورو هلکانو لوبې ګټل او بریا، د مور او پلار مخالفت، بهرنیانو سره لیدل او پولیسو ته دروغ ویل... دا هغه ټکي وو چې دوی یې په لټه کې وو. زه وروسته خبر شوم چې د فرهاد پلار په ایران کې امریکایي استخباراتو ته کار کاوه؛ نو ځکه فرهاد سره زما ملګري یو مثبت ټکی ګڼل کېده.

...وسته ماته وراندیز وشو، چې څو میاشتې وروسته مې د پوهنتون سند واخلم او د جاسوسۍ زده کړې پیل کړم. له دې مخکې چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وړاندېز وشم په بوستون پوهنتون کې مې د پیس کور په نوم یوه سیمینار کې ګډون وکړ، د نسا په څېر پیس کور هم دا اسانتیا لرله چې کارکوونکو ته یې بړوښې خدمات ځنډېدل.

په دې سیمینار کې د ګډون پېښه اوس عادي ښکاریده خو په وروسته ژوند کې بیا ډېره مهمه او موثره تمامه شوه. د پیس کور غړي په خبرو کې د ټولو هېوادونو هغه مرکزونه یاد کړل چې رضاکارانو ته پکې اړتیا وه، په دې ځایونو کې یوه د امازون ځنګلونو باراني سیمه وه، ددوی په وینا خلک پکې اوس هم داسې اوسیدل لکه امریکا ته د اروپایانو په راتګ چې ځایي خلک ځنګه وو.

ما تل د ابناکیانو په څېر فکر کړی دی، دوی د نیوهپشایر اصلي وګړي وو، زه پوهېدم چې زما په رګونو کې د ابنا وینه ده او د ځنګلونو په اړه د فلکلوریکو کیسو اوریدو ته لیواله وم. ما د پیس کور اداري سره خبرې وکړې او معلومه مې کړه چې امازون کې د ګومارنې امکان خومره دی. هغو راته وویل چې هلته د رضاکارانو اړتیا ډېره ده او ما لپاره ښه فرصت ده، ما زر فرینک کاکا ته زنګ وواهه.

فرینک کاکا مې هم ملاتړ وکړ، هغه داډ راکړ او ویې ویل چې د هینویي له ماتې وروسته به امازون د فعالیتونو مرکز وي، د فرینک کاکا په څېر خلکو هغه وخت د هینویي ماته باوري ګڼله.

(امازون کې د تېلو پریمانه زېرمې دي) فرینک کاکا راته وویل، بیا یې راته کړل چې (موږ هلته داسې نماینده ته ډېره اړتیا لرو چې ځایي خلک وپېژني) په ما یې ټینګار وکړ چې امازون د روزنې لپاره ښه ځای دی او دا یې هم بې باید زده کړم. بیا یې راته په خوښۍ

وویل، کېدای شي د دولتي دندې پر ځای ستا راتلونکی له کوم شخصي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شرکت سره وتړل شي.

هغه وخت زه نه پوهېدم چې هغه څه وايي، زه د یوه جاسوس له پوسته د اقتصادي جنايتکار پوست ته لېږدول کېدم. ما دا اصطلاح له دې مخکې نه اوريدلې او نه به مې راتلونکو څو کالو پورې اوريدلې وای. زه نه پوهېدم چې په نړۍ کې سلګونه ښځې او نر د مشورتي ادارو لپاره کار کوي، دوی له حکومته یوه پیسه هم نه اخلي خو بيا هم د امپراتورۍ د ګټو لپاره کار کوي. ما فکر نه کاوه چې یو نوی ډول پوځ به راښکاره کیږي، د پیړۍ تر پایه به يې شمېر زرګونو ته رسيږي او زه به ددې پوځ په زیاتېدو کې مهمه ونډه لرم.

يوه ورځ د Einer Greve په نوم يو کس زموږ په هوايي ډګر کې کوز شو، هغه د Chas. T. Main شرکت معاون و. دا يو نړيوال مشورتي شرکت دی چې ډېر په ارام کار کوي. ددوی په کارونو کې مطالعاتي تجزيه (شننه) هم شامله وه، چې ايا نړيوال بانک اکوادور او ددوی ګاونډي هيواد کوپن ته د برښنا د بند او نورو زيربنايي پروژو لپاره پور ورکړي که نه؟. همدغه کس د امريکا په ځواکونو کې کرنيل هم و.

هغه ماته د MAIN په څېر شرکتونو کې دکار ګټې بيان کړې. ما ورته ووېل چې دلته له راتګ مخکې راته د NSA په اداره کې د کار وړانديز شوی و او زړه مې دی چې ورشم، نو هغه راته ووېل چې يو وخت په نسا اداره کې د اړيکو مسول پاتې شوی دی. هغه چې راته په کوم ډول خبرې کولې نو تونو معلومول يې هم ګټې يوه دنده ده. اوس مې باور شوی و چې هغه زما د شخصيت په اړه معلومات کول او په دې يې هم ځان پوهاوه چې زه په دې چاپېريال کې عادت شوی يم او که نه يم؟ امريکايانو ځان لپاره مخالف ګاڼه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په اکوادور کې مو څو ورځې يو ځای تېرې کړې، بيا مو په پوسټ اړيکه کوله، ماته يې وويل چې د اکوادور په اقتصادی حالت يو راپور چمتو کړم. ما ليک سره شوق درلود، يو وړوکی ټاپينګ مشين هم راسره و، بس همدې شوق ته په احترام مې په کار پيل وکړ، په يو کال کې ما انيار ته نږدې پنځلس اوږده ليکونه وليږل او پکې مې د اکوادور په سياسي او اقتصادي حالاتو او راتلونکي خپل نظر څرګند کړ. په دې خلکو کې مې د نړيوالو سوداګريزو ادارو او د تېلو له شرکتونو سره ستونزې هم وليدلې، څکه همدې کمپنيو دوی په کش کولو عصري دور ته راوستل.

د پيس کور دوره چې ختمه شوه نو انيار راته په بوسټن کې د MAIN په مرکزي دفتر کې د يوې دندې لپاره د مرکې وړانديز وکړ. ماسره په شخصي خبرو کې يې ويلي وو چې د دوی د ادارې اصل کار انجينري دی، خو د نړيوال بانک په وينا بايد يو اقتصادپوه هم وګوماري چې د هيوادونو د اقتصادي حالت په اړه وړاندوينه وکړي او پکې د انجينرۍ د پروژو د عملي کېدو او وسعت په اړه دوی ته راپور ورکړي. د باور لپاره يې راته وويل چې له ما مخکې يې له دريو سترو اقتصادي کارپوهانو هم کار اخيستی دی، دوو پکې ماسټري لرله او يوه بل يې دوکتورا کړې وه؛ خو درې واړه پاتې راغلي.

انيار وويل: په هغوی کې يو همداسې نه و چې د هغو هيوادونو د اقتصادي حالت وړاندوينه وکړي چې دقيق ارقام يې په اړه نه وي، دا يې هم پسې زياته کړه ... د شرايطو په پوره کولو کې ستونزو سره مخ سوي وو. ددې ترون له مخې يې بايد اندونيزيا، مصر، ايران اکوادور او نورو هيوادونو ته اوږده سفرونه کړي وای، هلته به يې ځايي مشرانو سره ليدل ... ي پرمختګ په اړه يې بايد خپلې شخصي شننې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ورانديې کړې وی. يو خو يې د پانامې په يوه کلي کې په عصبي ناروغۍ اخته شوی و چې بيا پوليسو هوايي ډګر ته راوست او امريکا ته يې راوليږه. ماته يې وويل : تا چې راته کوم ليکونه راليږلي له دې ښکاره که دقيق ارقام نه وي بيا به هم ته په خپل کار لګيا يې، اکوادور کې چې ته په کوم حالت کې اوسيدې زه په دې باور لرم چې په هر ډول شرايطو کې به ځانته د ژوند کولو لاره پيدا کړې، دا يې هم راته وويل چې يو اقتصاد پوه يې منفک کړی دی او که زه وګومارل شم نو دوو نورو ته به هم څه بهانه پيدا کړي.

دا هغه حالت و چې د جنوری په اولسمه نېټه پکې ماته په MAIN کې د يوه اقتصاد پوه په توګه دنده راکړل شوه، اوس مې عمر ٢٦ کاله و او په همدې عمر کې زه د عسکرۍ د مکلفيت له دورې خلاص شوې وم. کورنۍ سره مې مشوره وکړه او هغوی راته ددې دندې د کولو مشوره راکړه، غالباً چې د فرينک کاکا خوښه هم پکې شامله وه. ماته يې ويلي وو چې ممکن شخصي شرکت سره کار وکړم، په خوله يې هېڅ هم نه ويل خو نن چې MAIN شرکت کې کار کوم نو دا د فرينک کاکا د درېيو کالو پخوانۍ خوارۍ پايله ده. په دې کار کې دويم لامل په اکوادور کې زما کاري تجربه او د هغه ځای په سياسي او اقتصادی وضيعت زما ليکنې وې.

خودي مې د اسمان په شنو کې وه، ما په بوسټون پوهنتون کې لسانس کړی و خو دلته مې په شرکت کې دومره لويه دنده ترلاسه کړې وه، زما زده کړې په دومره لوی شرکت کې د اقتصادي مشاور دندې ته مناسبې نه وې. زه پوهېدم هغه ټولګيوال مې چې بوسټون پوهنتون ته د عسکرۍ له وېرې راغلي وو او اوس ماسټري کوي که زما له دندې خبر شول وبه سوځي. ماته کارمند ښکاره شو، چې نويو هيوادونو ته ځي، د هوټل د حوض په غاړو ګرځي، نيمې لوڅې ښکلې نجونې ګوري او د (مارټينيا)

Downloaded By: Afghan Salar Library

شرابو جام یې په لاس کې دی.

که څه هم په هغه وخت کې دا یو زرین خوب و، خو وروسته یې بیا ډېره برخه په واقیعت بدله شوه. انیار زه د اقتصادي مشاور په توګه وټاکلم؛ خو ډېر زر مې احساس کړه چې زما دنده تر دې ډېره زیاته ده،که ووایم چې زما دنده جیمز باند ته ډېره ورته وه نو غلطه به نه وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دویمه برخه

د ټول عمر سفر

د قانوني اصطلاحاتو په قاموس کې MAIN یوه سوداګریزه اداره ګڼل کېږي. په عامه وینا ددې په دوه زرو کارکوونکو کې یوازې پنځوس سلنه یې د شرکت خاوندان وو، دوی ته پارټنرز ایسوسیټ ویل کېدل او موقف یې ډېر لوړ و. دوی نه یوازې په نورو امرین وو؛ بلکې د شتمنۍ ډېرې یې هم لرل. دوی د هیواد له لوړو پوړو چارواکو او مشرانو سره کار درلود او له خپلو وکیلانو یې غوښتل چې وکیلانو او ارواپوهانو په توګه ددوی راز ساتل خپله ایماني دنده وګڼي. رسنیو سره خبرې منع او نه زغمل کېدونکې وې، لامل یې دا و چې د MAIN په اړه بهر هېڅوک نه پوهېږي خو موږ د خپلو سیالانو په اړه په ډېر څه پوهېدو. لکه ارتهر دی لیټل، ستون اینډ ویبسټر، براون اینډ روټ حالي برټن او بیشټل.

د سیال ټکی ما زړه نا زړه ووېل، ځکه MAIN په خپله یو محدود شرکت و. زموږ د مسلکي کار ډېره برخه انجینري وه؛ خو موږ هېڅ وسایل نه درلودل او یو اخور مو هم نه و جوړ کړی. MAIN کې ډېر تقاعد شوي پوځیان هم وو، خو موږ د دفاع له وزارت سره هېڅ اړیکه نه لرله او زموږ د شخصي وسایلو لېږد د نورو شخصي شرکتونو سره توپیر درلود. تاسو به باور ونه کړئ چې تر څو میاشتو په خپله دنده نه پوهېدم، یوازې دومره پوهېدم چې دنده به مې په اندونیزیا کې پیل کېږي، زه به د یوه یوولس کسیز پلاوي غړی یم او د اندونیزیا په جاوا [illegible] د انرژۍ د تولید یوه پروژه پلان کوو.

[illegible] به چې راسره د پروژې په اړه بحث کاوه؛ نو هڅه یې کوله ما دې ته قانع کړې چې د جاوا اقتصاد به ددې پروژې په مرسته ډېر پرمختګ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وکړي. په یوه بله خبره یې هم ټینګار کاوه چې که زه غواړم ښه وړاندویونکی شم نو ددوی خبرې باید ډېرې ښې وړاندې کړم.

د انیار عادت و چې ګوتې به یې په هوا کې نخولې بیا به یې له سره پورته کړې او ویل به یې: اقتصاد به یې د یوه مرغه په څېر اسمان ته پرواز وکړي.

انیار به زیاتره د دوه یا درېیو ورځو په لنډو دورو واته، خو په اړه یې هېڅ نه ویل او نه څوک پوهېدل چې هغه چېرته تللی و. کله به چې دفتر کې و نو د څو شېبو لپاره به یې یوې پیالې قهوې ته دعوت کولم او د این پوښتنه به یې کوله. د نوي اپارتمان پوښتنې یې کولې او د هغه پیشو احوال به یې اخیسته چې مور خان سره له اکوادوره راوړې وه. څومره به مې چې پېژنده جرات مې زیاتېده او هڅه مې کوله چې په اړه یې لا ډېر معلومات ترلاسه کړم. ما غوښتل په دې هم وپوهېږم چې زما دنده له ما څه غواړي. خو ما یوې پوښتنې ته هم د ډاډ وړ ځواب ونه موند، هغه په خبرو تاوولو کې تکړه و، په همداسې یوه وخت کې یې ماته راوکتل :

(ته اندېښنه مه کوه، مور درنه ډېره تمه لرو، زه په واشنګټن کې وم)

بیا یې غږ ټیټ شو او معنا لرونکې موسکا یې په شونډو خپره شوه

(ته خو پوهېږې چې کویټ کې زموږ یوه لویه پروژه ده، ته به ډېر زر اندونیزیا ته روان شې، خو زه فکر کوم چې ته باید د کویټ په اړه هم لږه مطالعه وکړې. د بوسټن په عامه کتابتون کې ډېر کتابونه پراته دي، ددې تر څنګ به درته د ایم ای ټي او هارورډ کتابتونو اجازه لیکونه هم چمتو کړو.)

بیا به زه ساعتونه په مطالعه اخته وم، بوسټن کتابتون ته به څکه تلم چې زما د کور او دفتر خواته نږدې و. دلته مې د کویټ په اړه ډېر معلومات پیدا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کړل او د اقتصادي محاسبې ځینې مهم کتابونه مې هم وموندل، چې ملګرو ملتونو، نړیوال بانک او ایم ای ایف ادارو خپاره کړي وو. زه باوري یم چې په ما د اندونیزیا او جاوا د اقتصادي محاسبې په اړه یوه نمونه جوړیده، فکر مې وکړ چې د کویټ په اړه به یې هم رانه غواړي نو دا کار مې له مخکې پیل کړ.

ستونزه دا وه چې د پوهنتون زده کړو په محاسبه او د هغه په شننه نه وم پوهولای، نو ددې پوهې ترلاسه کولو ته مې هم ډېر وخت ورکړ، څو کورسونو کې مې داخله وکړه، په دې یې پوه کړم چې ارقام خو جادوګري ده، ددې په مرسته د خوښیو دلایلو او ارقامو ډېري ودریږي، خو ایا د پاېلو ښودل د شننونکي خپله دنده ده؟

په بنسټیز ډول MAIN یوه نارینه اداره وه. په ۷۱ کلونو کې پکې یوازې څلور ښځو کار کاوه چې مسلکي دندې یې لرلې، پردوی سربېره دوه ښځې نورې هم وې، یو شمېر پکې د رئیسانو او لوړپوړو مدیرانو سکرترانې وې او نورې هغه وې چې زموږ په شان کارکوونکو ته به یې کارونه کول، په اداره کې له سرېیو سره زه عادت شوی وم خو یوه ورځ چې د بوسټن کتابتون د حوالو په شعبه کې څه وشول نو زه یې هم حیران کړم.

یوه ځوانه، سپینه او ښایسته ښځه راغله او ماته مخامخ په څوکۍ کېناسته، په شین رنګ کالو کې ډېره ښکلې ښکاریده. زما په نظر یې عمر له ما څو کاله زیات و، ما هڅه کوله چې ځان بې خبره او بې نیازه ونیسم. څو شېبې پرانستی کتاب رامخته کړ. په یوه برخه کې یې د کویټ په اړه ټول هغه معلومات لیکلي وو چې زما پکار وو. ورسره یې خپل کارت هم راکړ چې پرې لیکلي وو: کلاډین مارټین، دMAIN ځانګړې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما یې شنو سترګو ته وکتل او خپل لاس مې ورمخکې کړ، راته یې وویل چې زه ستا په روزنه کې د مرستې لپاره ګومارل شوې یمه. زما هېڅ باور نه کېده چې داسې به کېږي.

سبا ورځ په بیکن کوڅه کې د کلاډین په اپارټمن کې راټول وو، دا د MAIN له مرکزي دفتره څو بلاکه لیرې و. په لومړیو خبرو کې یې راته وویل چې زما کار لږ پر اسراره دی او اصلي ټکی پکې راز ساتل دي. دا یې هم راته وویل چې ستا د دندې په اړه درته هېڅوک معلومات نه درکوي څکه واک یې نه لري. دا یې هم وویل چې واک یوازې دې سره دی بیا اصلي ټکي ته راغله او ویې ویل چې ددې (کلاډین) مسئولیت دا دی چې ما د اقتصادي جنایتکار Economic Hit Man په چوکاټ کې واچوي.

په ذهن کې د غلا، چور، وژنو او جرمونو د کیسو تازه کېدو لپاره دا یو نوم بس و، له وېرې مې په کړس کړس وخندل، دی سره نو هم ووېرېدم. هغې په موسکو شونډو حوصله راکړه او راته یې وویل دا دنده د همدې ټوکي طبیعت له امله د خلکو خوښېږي.

ما د اقتصادي جنایتکار د رول په اړه د خپل علم کمی ومانه. هغې په خندا وویل:

(دا ناپوهي یوازې ستا نه ده، په دې ګونګ کاروبار کې اخته ډېر خلک نه پوهېږي، خو ستا د کار په اړه باید هېڅوک پوه نه شي حتی ستا مېرمن هم)

بیا یې په جدي لهجه وویل :

(زه تا سره سپینې خبرې کومه او په راتلونکي څو اونیو کې مې چې څه در زده کولای شول در زده کوم یې، له هغه وروسته ستا خوښه ده، ستا پرېکړه مهمه ده، خو په یاد یې ساته، دې ځای ته یو ځل رانوتل پکې د تل اوسېدو په معنا دي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

له دې وروسته یې راته هېڅکله پوره نوم وانخیست، اوس مو یوازې اقتصادي جنایتکار وو؛ نور هېڅ نه.

زه هغه وخت پوه نه شوم خو اوس مې دا خبره درک کړې ده، هغه وخت کلاډین زما د شخصیت له هغو ټولو کمزوریو ښه ډېره ګټه پورته کړه چې د NSA په اسنادو کې ثبت شوې وې. زه نه پوهېږم چې دا معلومات یې څنګه ترلاسه کړي وو. انیار ورکړي وو، NSA ورکړي وو او که د MAIN د بشري منابعو دفتر ورسره پکې مرسته کړې وه؟ البته دا یوه خبره ده چې کلاډین هر څه په ډېر ماهرانه ډول ترسره کړي وو. د هغې ښایست، زړه راښکون، خوږې خبرې، خواږه کاته او نور یوازې زما لپاره وو. خو که دا حقیقت په پراخه لید وکتل شي نو په هر کاروبار کې د پرمختګ لپاره همداسې کیږي، خصوصاً هغه وخت چې ډېر څه په داو لګېدلي وي او ګټورې سودا لپاره فشار ډېر زیات وي. هغه په دې ښه پوهېده چې زه نه غواړم د خپلې اداري له پټو رازونو پرده پورته کړم، ځکه دې سره مې ګډ ژوند ته خطر پېښېده. هغې زه له پټو او مجرمانو کارونو ښه خبر کړم چې د کولو تمه یې رانه لرله او په دې برخه کې یې راسره خبرې ډېرې سپیني او رښې وې.

زه نه پوهېدم چې کلاډین ته معاش چا ورکاوه خو په دې کې مې هم هېڅ شک نه کاوه چې د MAIN له لورې به تمویلیږي. دا معلومات یې له کارته هم کېده، هغه وخت زه دومره ساده او وېرېدلی وم چې دا پوښتنه مې ذهن ته رانغله خو اوس فکر کوم چې دا پوښتنه خو مې باید په ډېره اسانه او تر ټولو دمخه په ذهن کې راګرځیدلی وی.

- - ـــ ـپ ر : کار دوه موخې دي: یوه هغه هیوادونو ته د درنو پورونو جواز پیدا کول چې (ماین) او دې ته ورته نور (بیشیل، حالي برټن، ستون اینډ ویبستر او براون اینډ وایټ...) په جعلې سروې هیوادونو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ورکول کیږي. دوی دا پورونه ورکوي خو بېرته یې همدا شرکتونه د لویو لویو زیربنایي پروژو په عملي کولو خپله تر تړوي. دویمه موخه دا وه، ما باید هغه هېوادونه د پور د خلاصولو په وخت کې دیوالیه (کنګال، مفلس) کړي وی چې پورونه یې اخیستي وو، البته ددې دیوالیه کولو اصلي فرصت هله وه چې (ماین) او نورو شرکتونو ترې خپلې پیسې اول اخیستې وي. موخه دا وه چې پوروړي هېوادونه تل په پور کې ډوب وي او کله چې ترې دوی امتیاز وغواړي هغوی یې په ښه زړه ورسره ومني، دغه امتیازات، په ملګرو ملتونو کې رایه، د تېلو چینې او نورو طبیعي وسایلو ته لاس رسی و.

زما په دندو کې یوه دا هم وه چې د ځینو هېوادونو په اړه اقتصادي وړاندوینې وکړم، په دې وړاندوینو کې باید ما ویلي وای چې فلانی هېواد که دومره درونډ پور واخلي دا یې پر هېواد او اقتصاد څه اغېز لرلای شي. په ځانګړي ډول داسې شننې وړاندې کول چې ددې هېواد اقتصادي پرمختګ په اړه په راتلونکو شلو یا پنځه ویشتو کلونو کې شوې وي او دا هم چې پروژې به ددوی پر اقتصاد څومره اغېز وکړي. دا خبره په دې مثال کې رڼېږي. یوه هېواد ته ددې لپاره میلیونونه ډالر پور ورکول کیږي چې له روسیه سره یې د دوستۍ مخه ونیسي. زه باید دا وړاندوینه وکړم چې دا مرستې په کومو زیربنایي پروژو کې ډېرې ګټورې ثابتیدای شي، د برښنا په بند کې؟ د ریل ګاډي د پټلۍ په نصبولو کې؟ او که د مخابراتي سیستم په نصب کې؟ فرض کړئ یو هېواد د برښنا اسانتیا ته لومړیتوب ورکوي. اوس زما کار دا دی چې د پروژې ګټه سنجش کړم او دومره یې باید وښیم چې د پور اخیستو ته جواز براب کړي.. به هره محاسبه کې حساس عنصر (تولیز ... دی. اوس په دې وخت کې هغه پلان کامیابېږي چې ددې عاید کچه پکې لوړه ثابته شي، په بله وینا دا چې، که پر یوه پلان کار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کېږي نو زه باید دا وښییم چې ددې تشکیل به د GNP په لوړولو کې ډېره زیاته مرسته وکړي.

ددې ټولو پلانونو تر شا اصلي کیسه دا ده چې لوی شرکتونه باید د پروژو په عملي کولو کې ډېره زیاته ګټه وکړي او د پوروړي هیواد څو ټاکلې کورنۍ باید د خاورو په ځبر پېسې ترلاسه کړي. له بلې خوا پوروړي هیوادونه د اوږدې مودې لپاره له اقتصادي کمزورۍ سره مخ شي، حتی تر دې چې مخامخ د پورراوړیو (پور ورکوونکو) هیوادونو سیاسي غلامان شي. د پور پیسې چې څومره ډېرې وي موږ ته ښه دي. موږ ته دا ارزښت نه لري چې پوروړو هیوادونو بېوزله وګړي د یوې اوږدې مودې لپاره له ډېرو بنسټیزو اسانتیاو (روغتیا، زده کړو، کورونو)... بې برخې کیږي.

ما او کلاډین د GNP په لوبه څرګند بحث کاوه، مثلاً دا چې GNP باید لوړه وښودل شي، که څه هم ګټه یوازې د شرکت خاوند ته وي او نور ملت تر ستوني په پورونو کې ډوب شي. له دې حالته یوازې همدا پایله اخیستل کیږي چې شتمن لا شتمن شي او بېوزله لاپسې بېوزله شي؛ خو په ارقامو کې باید پرمختګ وښودل شي.

د عادي امریکانو په ځبر د (ماین) ډېرو کارکوونکو هم داسې فکر کاوه چې موږ هیوادونو ته بندونه، لارې، پلونه او نور شیان جوړوو او احسان پرې کوو. زموږ په رسنیو او ښوونځیو کې همدا یو سبق راکول کیږي چې زموږ په یو اقدام کې هم ځان غوښتنه هدف نه وي. ما دا خبره ډېره اوریدلې چې ویل به یې (که هغوی زموږ بیرغ سیځي، زموږ د سفارت مخې ته مظاهرې

کې... ې نه راوځو او نه یې پرېږدو چې پراته وي او د

خپلې بیوزلۍ په خوند پوه شي؟)

داسې خبرې زیاتره هغه خلک کوي چې باسواده وي او ډېر سندونه یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ترلاسه کړي وي. دوی په دې نه پوهېږي چې موږ په نړۍ کې سفارتونه یوازې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره جوړ کړي دي او د همدې سفارتونو برکت دی چې امریکا له نیمې پېړۍ راهیسې په یوې نړیوالې امپراتورۍ اوښتې ده. دوی له دومره سندونو سره بیا هم په ناپوهۍ کې د اتلسمې پېړۍ هغو جاهلانو ته ورته دي چې ویل یې؛ دا ځایي امریکایان چې د خپل هیواد خپلواکۍ لپاره جګړه کوي په اصل کې د شیطان لمسي دي.

څو میاشتو کې زه د اندونیزیا جاوا وچې ته راوښېدم، ماته وویل شو چې دا د ځمکې پر مخ تر ټولو پرنفوسه سیمه ده، پردې سربېره دا مسلمان هیواد له تېلو ډک دی او کمونیستي فعالیتونه پکې ښه درز روان دي.

کلاډین راته په خپل ځانګړي انداز وویل :

(له ویتنام وروسته به دا زموږه دویمه فامیلي (کالوني) وي. موږ باید اندونیزیا لاس ته راوړو، ګني که له کمونیستي بلاک سره یو ځای شوه نو...)

جمله یې نیمه پرېښوده، په خبلې ګوتې راکش کړې، زړه وړونکې موسکا یې وکړه او زیاته یې کړه :

(اوس ستا کار دا دی چې د اقتصاد په اړه باید یو هیله من، بلکې مبالغه امېز راپور ولیکې، په هغه کې باید وویل شي چې د انرژۍ د نوي ستیشن او ویش سره به په هغه ځمکه د خوښیو چینې وبهیږي. ددې راپور له مخکې به USAID او نړیوال بانک ته د پور ورکولو جواز په ګوتو ورشي. ددې کار لپاره تاته لویه جایزه په نظر کې نیول شوې ده، تر دې وروسته به ته د نورو پلانونو جوړولو لپاره ډېرو ښکلو ځایونو ته تللای شې. د ټولې نړۍ لارې به ستا پر مخ پرانستې وي.)

وویل :

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(ستا کار به ډېر ستونزمن وي، ځکه د بانک کارپوهان به درپسې درځي، هغوی په همدې معاش اخلي چې راپور کې باید ستونزې پیدا کړي، څومره چې ستا راپور کې ستونزې ډېرې وي همدومره به د هغوی په ګټه وي.)

یوه ورځ مې کلاډین ته وویل :جاوا ته چې کوم ټیم ځي لس کسان په کې نور هم دي، زه خبر شوی یم چې ټول یې زما په څېر روزل شوي دي، خو هغې ډاډ راکړ، راته یې یې وویل چې هغوی ټول انجینران دي، د هغوی کار برښناکوټ، سرکونو، وېش سیستم او نورو شیانو طرح کول دي، چې هر څه پوره ښکاره شي؛ خو د راتلونکي په اړه وړاندوینه کول یوازې ستا کار دی. انجینران چې کوم پلان جوړوي د هغه پراختیا ستا په راپور پورې اړه لري او د پور کچه به هم ستا د شننو له مخې ټاکل کیږي، اوس به ته پوه شوی یې چې د ټولې لوبې اصلي لوبغاړی ته خپله یې.

زه به چې هر وخت د کلاډین له اپارتمانه راووتم په لاره به مې دا فکر کاوه چې دا زما کار به سم وي که نه؟ په زړه کې به مې دا وېره حتمن راسره وه چې زه ښه کار نه کوم. زما د ماشومتوب محرومیتونو زه نه پرېښودم، ما فکر کاوه چې MAIN به زما د ژوند ټولې هیلې او ارمانونه پوره کړي، بیا به مې ویل چې مېرمن که مې خبره شي څه به راته وایي؟ ځان به مې په دې ډاډه کړ چې یو ځل ژوند جوړ کړم بیا چې هر څه کیږي هغه ساعت او هغه مصلحت.

یوه ورځ مې کلاډین سره خپله اندېښنه شریکه کړه، هغې راته وویل ساده کیږه مه! دلته چې یو ځل رانوتې بیا ترې نشې وتلای، دې ګرداب ته له ... ښه فکر وکړه. زه یې د خبرې تل ته کوز شوم او خبرې یې راباندې وېره خپره کړه. په همدې فکر کې د کامن ویلت واټ ته ورسیدم، د ډارټ مت کوځې ته ورتاو شوم او ځان ته مې ډاډ ورکاوه چې زما

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

...اله یوه استثناء ده.

یو مازیګر چې ما او کلاډین له کړکۍ د واورې وریدو ننداره کوله راته کړل یې چې موږ د یوه مستقل کلب په څېر یو، موږ ته ډېره حق الزحمه راکول کیږي او ددې لپاره راکول کیږي چې د نړۍ هیوادونه د نوي استعمار پر مټ له میلیونونو ډالرو بې برخې کړو. ستا یو مسئولیت دا هم دی چې د نړۍ ستر مشران (رهبران) دې شبکې سره د ملګرۍ لپاره چمتو کړې او دا شبکه یوازې د امریکا د ګټو لپاره کار کوي. دوی که، یو ځل زموږ په جال کې ولویدل بیا بې زموږ له وفاداری بله لار نه لري. موږ د خپلو سیاسي، اقتصادي او پوځي ګټو د خوندیتوب لپاره پر دوی حساب کولای شو. ددې کار په بدل کې به دا سیاسي رهبران د خپل سیاسي شخصیت لوړولو لپاره خپلو خلکو ته لوی صنعتي پارکونه، بندونه او هیوایي ډګرونه ورکوي، چې له امله به یې امریکایي ساختماني او صنعتي شرکتونه بنایسته ډېرې ګټې ترلاسه کوي.

په همدې مازیګر زه د خپلې نوې دندې او ادارې په تاریخي شالید پوه شوم. کلاډین راته وویل چې پخوا به نور هیوادونه په پوځي قوتونو او وېرې استعمار کیدل، خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د شوروي اتحاد په رامنځته کېدو او د اتومي وسلې اختراع اوس پوځي بریدونه او استعمار له خطر سره مخ کړي دي.

دا خطر له ۱۹۵۱ ز کال نه راپیدا شو، هغه وخت ایران د تېلو له یوه انګلیسي شرکت نه بغاوت وکړ، ویې ویل چې دوی د ایران تېل او خلک استثماروي. هغه شرکت د اوسني (بریټیش پټرولیم) پخوانی بنه وه، پایله دا شوه ...
...مشر محمد مصدق د تېلو (نفتو) ټول
...یان ملي کړل، ټېي شوي انګلستان په دویمې نړیوالې جګړې کې د

Downloaded By: Afghan Salar Library

امریکا ملتیا وکړه، خو دواړه هیوادونه له دې ویرېدل چې که پوځې برید کوي؛ نو شوروي اتحاد ته به بهانه په لاس ورشي او د ایران په ملتیا به ددوی په مقابل کې ودرېږي.

امریکایي حکومت د بحري ځواک پر ځای د CIA مامور کرمټ روز ویلټ ور ولیږه دا د ولسمشر روز ویلټ لمسی و. ویلټ هوښیاري وکړه، د ښخرو په ځای یې مهم خلک راخپل کړل، بیا یې ځینې خلک منظم کړل او کوڅو ته یې راوویستل، په دې کار سره مصدق په خلکو کې خپل محبوبیت وبایله او ناوړه وګڼل شو، بلاخره د مصدق زوال راغی او پاتې عمر یې په زندان کې تېر کړ، چې ورپسې د امریکا په مرسته محمد رضا شاه واک ته ورسید. په دې توګه کرمټ روز ویلټ یو نوی ماموریت پیل کړ، چې ما هم پکې اوس برخه اخیسته. (۱)

د کرمټ روزویلټ مکر او فریب د منځني ختیځ تاریخ ته نوی اړخ ورکړ، تر دې چې د امپراتورۍ پخوانۍ حربې پرېښودل شوې. تصادفاً دا هغه وخت و چې د اتومي وسلو لومړني ازمېښتونه پیل شوي وو او کوریا او ویتنام له امریکا نه ښې منډې ویستي وې. ۱۹۶۵ز کال کې مې NSA سره مرکه وکړه، دې وخت کې په دې پوه شوم چې که امریکا هغسې نړیواله امپراتوري غواړي لکه نکسن او جانسن یې چې خوبونه لیدل؛ نو په همغې تګلارې باید مخ ته ولاړه شي چې کرمټ روز ویلټ منځني ختیځ کې عملي کړې وه. دا یوازینۍ لاره وه چې بې د اتومي وسلې له خطره پرې روسیه ته ماتې ورکول کېدای شوه.

... ...رلود، کرمټ روز ویلټ د CIA غړی و، که نیول شوی وای؛ نو پایله به یې ډېره بده وه. ده امریکا ته د لومړي ځل لپاره هغه ماموریت ترسره ک چې د یوه بهرني حکومت تخته یې چپه کړه. پلان دا و

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې په راتلونکي کې داسې نور مأموريتونه هم پلي شوي وي، نو څرنګه به يې ښه تېنګار کېده او سپارښتنه کېده چې په دې مأموريتونو کې بايد په هيڅ صورت د امريکايي حکومت مستقيما لاسوهنه ثابته نه شي.

ددې پلانونو او پروژو خوشبختي دا وه چې په اوږدمهاله موده کې يو انقلاب راغی، په دې انقلاب کې نړيوال شرکتونه، ادارې، نړيوال بانک او IMF اداره رامنځته شول. په نړيوال بانک او IMF اداره کې د امريکا تر څنګ زموږ اروپايي امپراتورۍ جوړوونکو ملګرو هم پانګونه کړې وه. د مشترکو ګټو پر بنسټ ددې نړيوالو ادارو، شرکتونو او حکومتونو تر منځ ښې اړيکې رامنځته شوې وې.

کله چې د بوسټون د سوداګرۍ په ښوونځي کې زده کړې کولې په هغه وخت کې دې ستونزو ته د حل لارې لټول کېدې، چې د روز ويلټ او CIA د امريکايي استخباراتي سازمان اړيکو پيدا کولای شوې. حل يې ډېر اسان او منطقي و. د امريکا استخباراتي شبکې او NSA بايد د راتلونکي وخت اقتصادي جنايتکار وپېژني او په نړيوالو ادارو کې يې وګوماري. امتيازات او معاشونه به يې د دولت پر ځای خصوصي سکټور ورکوي. که په کوم ځای کې يې شوم پلان رسواء هم شي نو تور به يې د حکومتي پاليسي پر ځای پر شخصي سوداګريزو فعاليتونو پورې کيږي. کوم شرکتونه چې دا ځلک ګوماري امتيازات يې ورته د دولتي دوايرو او نړيوالو بانکونو لخوا ورکول کيږي. دا معلومه ده چې ددې ټولو شيانو زور له عادي ماليه ورکوونکو وځي او د خوند خبره دا ده چې دې سره بيا هم هر څه د کانګرس په لاس کې دي. ... نړيوالې سوداګرۍ او ازادۍ د معلوماتو ... ن په لاس ورکاوه. (۲)

کلادين د خبرو په پای کې وويل تا وليدل چې موږ يوازې د تېرو نسلونو پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

افتخاره لری یو، دا کار له موږ مخکې نسلونو په هغه وخت کې لا پیل کړی وچې ته په لومړي ټولګي کې وې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

۱.ددې ماموريت په لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ :

"All the Shah's Men: Am American Coup and the Roots of Middle East Terror" Stephen kinzer.

۲: "Contract Support: What Did the Vice - Presedent Do for Halliburton?

نيويارک ټايمز، ۲۳ فيبروري، ۲۰۰۴.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دریم فصل

اندونیزیا : اقتصادي جنایتکارو ته تریخ سبق

ما د ځینو مسلکي معلوماتو ترلاسه کولو تر څنګ د اندونیزیا په اړه هم کتابونه لوستل. کلاډین مشوره راکړې وه چې یو هیواد ته له تلو دمخه یې چې درسره معلومات هر څومره ډېر وي، همدومره به دې کار اسانه وي او ما یې په همدې مشورې له زړه عمل کاوه.

کولمبس چې په ۱۴۹۲ ز کال کې سمندري سفر پیل کړ، هغه غوښتل چې همدې اندونیزیا ته لاړ شي چې هغه وخت د (مسالو جزیرې) په نوم یادیده. په ټول استعماري دور کې دا ساحه د امریکا له وچو ډېره مهمه او ګټوره ګڼل کېده. دا سیمه له یوې خوا د ښکلو لباسونو، خوندورو مسالو او د شاهي څمکې (جاوا) له امله د شاهي تاج الماس ګڼل کېده او له بلې خوا یا د هسپانویانو، المانیانو، پرتګالیانو او انګلسیانو تر منځ د شخړو او ټکر ټکی هم و. بالاخره هالنډ په ۱۷۵۰ ز کال کې ټولو ته ماتې ورکړه. که څه هم دوی په اندونیزیا واکمني ترلاسه کړه خو د شاوخوا سیمو او وچو نیولو نږدې یوه نیمه پېړۍ وخت ونیوه. په دویمه نړیواله جګړه کې چې جاپان پر اندونیزیا برید کاوه ددوی پوځیانو مقاومت ونه کړ او له امله یې اندونیزیایانو ته ډېر زیان واوښت. جاپان چې وسله وغورځوله؛ نو د سیو کارنو په نوم یو رهبر راپورته شو او خپلواکي یې اعلان کړه. بالاخره څلور کلنه جګړه د ۱۹۴۹ ز کال د دسمبر په ۲۷مه نېټه پای ته ورسیده، هالینډ خپل بیرغ ...

یې هغو خلکو ته وسپارل چې په میراث کې ورته ... درې سوه کلنه غلامي پاتې شوې وه او نور په هیڅ نه پوهېدل. سیوکارنو د نوي جمهوریت لومړی ولسمشر و، خو پر اندونیزیا حکومت کول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram: https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د هالنډیانو تر ماتولو لویه مسئله وه. دا نږدې د ۱۷۵ وچو ټولګه وه، چې له بېلابېلو عناصرو تشکیل شوې وه. په دې ځمکه بېلابېل قبایل، تمدنونه، لسګونه ژبې، ځایي لهجې او بېلابېل قوتونه وو چې په خپلو منځونو کې به یې ټکر راته. د پېړیو دښمنۍ هم پکې وې، وژنې پکې هره ورځې کېدلې. سیوکارنو عجیب مهم کار وکړ، په ۶۰ کال کې یې پارلمان لغوه کړ او په ۶۳ ز کال کې یې ځان تلپاتې ولسمشر اعلان کړ.

د وسلې او پوځي روزنې په بدل کې یې د نړۍ له کمونیستي قوتونو سره اړیکې پراخې کړې، د کمونیستي رهبرانو د خواخوږۍ ترلاسه کولو لپاره یې په روسي وسلې سمبال پوځ خپل ګاونډي هیواد مالیزیا ته ولېږه، چې په ټوله جنوب ختیځه آسیا کې کمونیستي انقلاب رامنځته شي.

مخالفتونو زور واخیست او په ۱۹۶۵ ز کال کې حکومت وپرځید. د سیوکارنو د مېرمن د هوښیارتوب په برکت سیوکارنو له مرګه وژغورل شو، لوړپوړي چارواکي او ملګري یې دومره بختور نه وو. دې پېښو د هغو پېښو یاد تازه کړ چې په ایران کې شوې وې، وروسته بیا هغه کمونیستې ډلې پړې وګڼل شوې چې له چین سره یې نږدې اړیکې لرلې. د پوځي قوت پر بنسټ عام وژنو کې له درې سوو تر پنځه سوو زرو کسان وژل شوي وو او د پوځ مشر جنرال سوهارتو په ۱۹۶۵ ز کال کې واک ترلاسه کړ. ۱

تر ۱۹۷۱ ز پورې امریکایي حکومت خپلې هڅې ګړندۍ کړې چې اندونیزیا له کمونیزم نه راوباسي. اصلي لامل یې دا و چې د ویتنام د جګړې پایلې نورې د بارو وړ نه وې، په ۱۹۶۹ کال کې امریکایي ولسمشر نیکس خپل ځواکونه بېرته راوغوښتل او په نړیواله تګلاره کې یې ځان ته د ځای جوړولو موخه ددې تاثر ختمول وو چې هیوادونه یوي

پر بل پسې د کمونیزم غېږ ته لوېږي. څو مرکزونه ډېر د پام وړ وو چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By:.Afghan Salar Library

اندونيزيا پکې ډېر ارزښت درلود. د MAIN د برښنا پروژه د همدې تګلارې يوه برخه وه چې په ختيځه آسيا کې يې د امريکا پنجه قوي کوله.

د امريکا د بهرنۍ پاليسۍ اصلي ټکی دا و چې سوهار هم بايد د ايران د شاه په څېر د امريکا په لاس کې وي. امريکا دا فرصت هم درلود چې دا هيواد د سيمې نورو هيوادونو ته يوه نمونه وګرځوي. امريکا دا هم ويل چې له اندونيزيا نه ترلاسه شوې ګټه به په ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول منځنۍ اسيا مثبته اغېزه وکړي. که دا يې مهم محرک ونه شمېرو نو مهمه خبره دا وه چې په اندونيزيا کې نفت (تېل) هم وو. هېڅوک ددې تېلو په اندازه نه پوهېدل خو د تېلو د شرکتونو کارپوهان په دې پوهېدل چې مقدار يې ډېر زيات دی.

ما د بوسټون په کتابتون کې ډېره احساساتي مطالعه کوله، د راتلونکو پلانونو فکر مې کاوه. فکر مې کاوه چې MAIN سره له کار پيلولو وروسته به مې د بزګرۍ ساده ژوند په ښکلي، ارامه او عصري ژوند بدل شي. ما چې له کلاډين سره کوم وخت تېر کړی و هغه راته د خپلو زرينو خوبونو تعبير ښکاريده، دا وخت راته ډېر په زړه پورې و، ما فکر کاوه چې د ښوونځي د وخت کومه سزا چې ما ګاللې په راتلونکي ژوند کې به ترې خلاص شم.

زما په ژوند کې يوه بله مهمه خبره راغله او هغه مې مور او پلار سره زما د اړيکو بې خونده کېدل وو. ما فکر کاوه هغوی به حتمن وايي چې زه دوه مخی ژوند کوم، ما ددې ژوند اصلي لامل همدا خفګان ګاڼه چې مور او پلار مې زه په زوره واده ته اړيستی وم. ما فکر کاوه چې خپلې کورنۍ سره زما اړيکې د کا، له امله ... کن کمزورې شوې وي، خو چې فکر مې وکړ نو ... سوم چې له کلاډين سره اړيکې په دې حالت کې لوی لاس درلود. ما ورته دا خبره نه کوله خو هغه خپله هوښياره وه. په هر صورت ما پرېکړه وکړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې موږ به جلا جلا اپارتمانونو کې اوسیږو.

په ۱۹۷۰ ز کال کې اندونیزیا ته زما له روانېدو یوه میاشت مخکې زه کلاډین کره لاړم، ومې لیدل چې د خوړو په واړه مېز بېلابېل ډول پنیرونه او کلچې اېښې وې، تر څنګ یې Bordeaux شرابو بوتل هم اېښی و، ماته یې یو د سلامتۍ جام را وړاندې کړ او وې ویل: مبارک شه، ته بریالی شوې، ته اوس له موږه یو یې.

دا خبره یې په موسکا وکړه خو زه پوه شوم چې په موسکا کې یې خلوص نه و. نږدې نیم ساعت ناست وو، شراب چې په ختمیدو شو؛ نو په عجیب نظر یې راوکتل او وې ویل: زموږ ددې ناستې په اړه چاته په غلطۍ کې هم ونه وایې، لهجه یې ډېره جدي وه. زیاته یې کړه: که چاته دې وویل نو هېڅکله به دې ونه بښم او زه به منکره شم، وبه وایم چې ښځې مې لیدلی نه یې. بیا یې رډ راوکتل، دا لومړی ځل و چې د خطر زنګ مې احساس کړ، یوازې په سرې موسکا مې بسنه وکړه : زموږ دواړو په اړیکه خبرې به ستا ژوند نه ستونزمنوي. زه حیران شوم او خپله هم وویرېدم. بیا یوازې د پروډیشنل سنټر خواته روان شوم او په ټول پلان مې اعتراف وکړ. ریښتیا دا ده چې موږ ټول وخت په همدې اپارتمان کې تېر کړی و، زموږ د لیدنو هېڅ ډول اسناد او شواهد نه وو او MAIN اداره هم پکې له هېڅ اړخه ښکیل نه وه. ما یې تر یوه حده په دیانت داری باور هم کاوه، هغې ماته داسې دهوکه نه وه راکړې لکه مور او پلار مې چې د ټیلټان او مډل برې په اړه راکړې وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې :

١ -د اندونیزیا او تاریخ په اړه یې د لا ډېرو معلوماتو لپاره :

"Indonesia: Peoples and Histories": Jean Gelman Taylor .

- "Indonesian Destinies" Theodore Frien

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

څلورم فصل

له کمونیزم د یوه هیواد خونديتوب

اندونیزیا هغه هیواد و چې ما پکې باید ډېرې راتلونکې میاشتې تېرې کړې وی. ددی هیواد په اړه زما انګېرنه ډېره تخیلي وه. ما چې څو کتابونه لوستي وو پکې هغه کې دا شیان انځور شوي وي: د ښځو پر غاړه سیرانګ (ځانګړی مالایي لباس)؛ ښایسته او زړه وړونکې بالایي نڅاګرې؛ اور سره لوبیدونکې جاودګران؛ اور غورځوونکي غرونه او په شنو اوبو کې روانې کښتۍ. تر ټولو په زړه پورې راته د هغه لرغونې هسپانوي ډوله تور بادبانه کښتیو تصور و چې بګي چیریکي جنګیالي به پکې ګرځېدل. دا هغه جنګیالي وو چې اروپایي کښتۍ چلوونکي یې وېرولي وو، هغوی به چې له کوره راوتل نو خپلو شوخو ماشومانو ته به یې ویل شم شئ ګني بګي جنګیالي مو تښتوي. دې ټولو خبرو زما په زړه کې شور جوړ کړی و.

ددې هیواد په کیسو او افسانو کې ځینې له اصل نه هم لږ لوړ ښودل شوي وو؛ مثلاً غوسه ناک دیوتا (الهه)، قبایلي مشران او نور. پردې سربېره ځینې نورې کیسې هم وې چې له میلاده مخکې له دې غرونو راپیل شوې وې، د آسیا له غرونو راوښتي، د ایران دښتې وهلي او زموږ په ذهنونو کې مېشتې شوې وې. ددې هیواد د جزیرو کیسه ایز نومونه لکه جاوا، سماترا، سلادیسي او نور هغه نومونه وو چې د انساني ذهن د خپرولو لپاره یې بسنه کوله. دا هیواد د تصوف، اسطورو او اغېزناک ښایست هیواد دی، دا له سترګو فنا هغه خزانه وه چې کولمبس لټوله خو پیدا یې نه کړه. دا یوه داسې شهزادګۍ وه چې هسپانیې، هالنډ، پرتګال او جاپان ټولو ورته لاس رسی ... سن برې راوګرځېدل، دا ځمکه د ډېرو خلکو خوب او خیال و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

زما هیلې ډېرې وې، فکر کوم تلوسه همداسې وي. خو د کولمبس په څېر باید ما هم په خپلو افکارو کې نرمي راوړې وی. ما باید دا احساس درلودی چې د بخت ستوری حتمن هسې نه ځلیږي لکه موږ یې چې فکر کوو. په اندونیزیا کې خزانې وې خو هغه لعل پکې نه و چې زه یې په تمه ورغلی وم. زه د ۱۹۷۱ ز کال د ګرمۍ په موسم کې اندونیزیا پراخېدونکې پلازمېنې جاکارتا ته لاړم او حقیقت دا دی چې دا څو لومړۍ میاشتې راباندې هلته ډېرې سختې تېرې شوې.

په دې ځای کې ښایستونه وو، په رنګین سارنګ پوښلې ښځې، ګلونه، شنه بڼونه، زړه راښکونکې نڅاګرې، د سایکل رکشې او پرې د رنګونو رنګه نقاشي؛ ددې تر څنګ پکې د استعمار د دوخت ځینې ودانۍ او د لوړو منارو لرونکې جوماتونه هم وو. ددې ښایست تر څنګ ښار ځینې بدرنګه داغونه هم لرل. بې لاسونو خلک؛ د استعمار د دور ښایسته نهرونه چې اوس پکې یوازې چټلې بهېدله؛ نوې پیغلوټې چې د څو پیسو په بدل کې به خان پلورلو ته چمتو کېدې؛ له وښو جوړې جونګړې (کوډلې) چې د چټلو سیندونو په غاړه به د ډېرانونو په منځ کې جوړې شوې او بسته کورنۍ به پکې اوسېدلې؛ د موټرو غږونه او بدبویه ګازات... دا هغه جاکارتا وه چې به یوه وخت کې یې څو ښایسته او بدرنګه مخونه لرل. په همدې جاکارتا کې به له یوې خوا د مسالو او بڼونو ښایسته خوشبویي او له بلې خوا د چټلو ویالو بد بویونه سره په جنګ وو.

غربت او بېوزلي مې پخوا هم لیدلې وه، په نیوهمشپایر کې زما ځینې ټولګیوال ډېر بې وزله وو، په کوډلو کې به اوسېدل او په ژمي کې به چې د ... ر ښکته شوه نو دوی به په زړو کورتیو (جمپرونو) او شکېدلې بوټانو کې ښوونځي ته راتلل. ډېره موده وروسته به یې لامبل او له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بدنه به يې بد بوی خوت. ما په اکوادور کې له بيوزلو بزګرو سره د هغوی په جونګړو کې شپې کړې دي، د هغوی خوراک به يوازې جوش کړې غله او الوګان وو، ما بيوزلي له ډېر نږدې ليدلې ده؛ خو په جاکارتا کې مې چې کوم حالت وليد فکرمې يې هم نه کاوه.

زموږ ډله د هيواد په ښکلي هوټل انټرکانټيننټل کې ميشته شوه. دا د يوه امريکايي شرکت هوټل و. په دې دور کې دې شرکت په ټولې نړۍ کې داسې او په همدې نوم هوټلونه درلودل. په دې هوټلونو کې به بهرنيان او خصوصاً د تېلو سوداګر او د هغوی کورنۍ اوسيدلې. دلته چې راورسيدو زموږ ډلشر چارلي الينګ په لومړۍ شپه د هوټل پورتني پوړ ته د ډوډۍ خوړلو لپاره دعوت کړو.

چارلي به خپل ډېر وخت د جنګي ناولونو او لويو جنرالانو د ژوند ليکونو په لوستو تېراوه. د ويتنام د جګړې ډېر کلک پلوي و او د پوځي مينې له امله به يې تل پوځي لباس په غاړه کاوه، په دې شپه يې هم خړه پوځي دريشي اغوستې وه چې ډېر نښانونه پرې ځړېدل.

زموږ له ښه راغلاست سره سم يې يو سيګار ولګاوه او د شمپاين ګلاس يې پورته کړ: (زموږ د ټولو د خوښۍ په نوم)، دې سره موږ هم ګيلاسونه وشرنګول او په ګډ غږ مو وويل (زموږ د ټولو د خوښۍ په نوم).

د سګرټ دود يې پوو کړ، خونې ته يې په نقادانه نظر وکتل، بيا يې وويل (دلته به ښه وخت ولرو) بيا يې کړل(اندونيزيايان به راباندې ډېر پام وکړي او تر څنګ يې د امريکا سفارت هم راسره مرسته کوي، خو دا بايد هېره نه کړو چې موږ بايد دلته يو ماموريت ترسره کړو). ځينو اسنادو ته ځير شو ويې ويل: (جاکارتا په نړۍ کې تر ټولو د ډېر نفوس لرونکې ځمکه ده، موږ دلته د برښنا د يوې سترې پروژې، د ماسټرپلان جوړولو لپاره راغلي يو؛ خو دا د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner
Telegram: https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اصلي څېرې يوه وړه برخه ده.)

لږ چوپ شو، زياته يې کړه: (دا په ياد ولرئ چې موږ بايد دا هيواد د کمونيزم له پنجو وساتو، اندونيزيا لرغونی او له غمېزو ډک تاريخ لري، په شلمه پېړۍ کې دا هيواد له يوه بل امتحان سره مخ دی او زموږ مسئوليت دا دی چې دا هيواد بايد پرې نه ږدو؛ چې د ويتنام، لاووس او کمبوډيا له برخليک سره مخ شي. ددې موخې لپاره زموږ د برښنا پروژه مرکزي ارزښت لري. له نفتو(تېلو) پرته برښنا بل هغه يوازينی عنصر دی چې په مرسته يې موږ د پانګوال او جمهوري نظام قوت او پايښت ثابتولای شو.)

يو دود سګرټ يې کش کړ، له څينو اسنادو تېر شو : (او تر کومه ځايه چې د تېلو خبره ده؛ نو تاسو خپله پوهېږئ چې زموږ خپل هيواد تېلو ته څومره اړ دی، په دې برخه کې مو اندونيزيا هيواد ښه مرستيال ثابتيدای شي. دا ماستر پلان چې عملي کيږي دې ته مو هم پکې پام وي، چې د تېلو د صنعت او د هغوی د مرستيالانو ټولې اړتياوې (لکه بندرونه، پايپ لاينونه، ودانيز شرکتونه او نور...) بايد ورته د برښنا په همدې ۲۵ کلنې پروژې کې برابر شي.

له اسنادو يې سترګې راپورته کړې او مخامخ يې ماته راوکتل : (دښمن قوي ګڼل هوښياري ده، خو د کمزوري ګڼلو ساده ګي يې ونه کړې، زه پوهېږم ته به نه غواړې چې يا زموږ او يا هم د وړو اندونيزيايي ماشومانو خون درتر غاړې شي، او دا به دې هم رضا نه وي چې اندونيزيا دې د ګمونيزم تر سور بيرغ لاندې ژوند وکړي.)

په دې شپه چې زه په خپل کټ کې پريوتم؛ نو کلاډين مې راياده شوه. د څېرې يې ذهن ته راغلې. ما د خپل ځان د ارامولو لپاره په ښوونځي کې د ستر اقتصاد (Macro economics) درس راتازه کړ. اخر

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې سترې شوم نو ځان ته مې دا ډاډ ورکړ چې زه غواړم دا هیواد د منځنیو پېړیو له اقتصادي حالته نوي صنعتي حالت ته بدل کړم او همدې کار لپاره راغلی یم خو ورسره په دې هم پوهېدم چې دا به ماته عادي خبرې وي. د هوټل له ښکلې ودانۍ، شنو چمنونو او حوضونو هاخوا به خلک تر لیرې لیرې ځایونو په همدې کوډلو کې اوسیږي، ماشومان به پاکې اوبه او خواړه نه لري او همداسې به مري او یو حقیقت دا و چې نوې زیږیدلي ماشومان هم په وژونکو ناروغیو اخته وو.

په کټ کې له څو ځله اوښتو وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې چارلي او ډله یې دلته یوازې د خپلوشومو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره راغلي دي. موږ دلته په اصل کې د امریکا د ګټو لپاره راغلي وو. موږ یوازي د خپلې طمعې او ځانغوښتنې لپاره کار کاوه، د اندونیزیایانو د ژوند ښه کول مو هدف نه و. د کارپوریټوکراسي Corporatocrarcy کلیمه مې ذهن ته راغله، نه پوهېږم چې دا کلیمه مې مخکې هم چېرته اوریدلې وه او که خپله مې جوړه کړه؟ دا کلیمه د اشرافو د هغې طبقې لپاره ښځي مناسبه ده چې غواړي په ټوله نړۍ خپل حکومت جوړ کړي او همدې لپاره کار کوي.

دا هغه خلک دي چې د خپلو ګټو لپاره کار کوي، یوه خبره پکې دا ده چې د دولت له لوړو پوړیو نیولې تر لویو شرکتونو او سوداګریزو پولو ټولو کې ګرځیږي. د نړیوال بانک اوسنی مشر رابرټ میکنا مارا یې ښه بېلګه ده. دا سړی د فورډ شرکت مشر و. تر هغه وروسته د ولسمشر کینډي او جانسن په دورو کې د دفاع وزیر و او اوس د نړۍ تر ټولو قوي مالي اداره رهبري کوي.

زه په دې باور هم شوم چې زما ښوونکو راته د ستر اقتصاد اصطلاح سمه نه ده تشریح کړې، هغه ... ... ېې نه پوهېدل چې اقتصادي پرمختګ د لوړو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خلکو لوړول او د ټيټو خلکو ټيټول دي. د پانګوال نظام د لا ښه او قوي کولو يوه پاېله دا هم ده چې ټولنه د منځنيو پېړيو جاګيردارانه نظام ته ورته يوه نظام ته ورستنېږي. زما ښوونکي کېداى شي په دې پوهېدل خو هېڅکله يې ددې اعتراف ونه کړ. لامل به ښايي همدا و چې لويو لويو شرکتونو مو کالج سره مالي مرستې کولې، که دې استادانو له حقيقته پرده پورته کړې واى له دندو به خلاص شوي وو، ښځي همداسې لکه په ويلو يې چې زما دنده هم ختميداى شي.

ما په هوټل کې ټولې شپې په همدې اندېښنې تېرې کړې، خو ددې طوفان دفاع زما طبيعت هم منله. د ښوونځي او پوهنتون نه په فارغيدو کې مې ډېرې سختې وګاللې، له ډېرو ستونزو وروسته مې په يوه ارام او هوسا ژوند کې قدم ايښى و.ما د قلارۍ ساه په دې خاطر هم واخيسته چې د خپل تمدن په نظر کې مې يو ستر کار کاوه، زه د يوه بريالي او قدرمن اقتصاد پوه په لاره روان وم، ما هماغه کول چې د سوداګرۍ په ښوونځي کې ورته زورل شوى وم، ما د پرمختګ يو داسې ماډل عملي کاوه چې د نړۍ سترو پوهانو منلى و.

زياتره شپې به مې ځان په دې اراماوه چې يوه ورځ به له دې ټولې لوبې پرده پورته کړم، بيا به همداسې د يوه جنګي ناول په لوستلو ويده شوم.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځمه فصل

ځان پلورل

مور یوولس کسیزې ډلې په جاکارتا کې شپږ شپې وکړې، په دې وخت کې مو د امریکا په سفارت کې حاظرې ورکوله، له چارواکو سره مو کتل، ځان مو منظماوه او د حوض په غاړو به مو ارام کاوه. ما فکر نه کاوه چې هوټل کې به دومره ډېر امریکایان اوسیږي. د نفتو او ودانیزو (ساختماني) شرکتونو د رئیسانو ښایسته مېرمنې به مې چې لیدلې ډېر خوند به یې راکاوه. دې مېرمنو به ورځ په حوض او شپه په هوټل کې دننه او بهر رستورانتونو کې تېروله.

بیا چارلي زموږ ډله د بنډونګ په نوم غره ایز ښار ته بوتله. ددې ځای هوا معتدله او غربت یو څه کم و. دلته د ویسما (Wisma) په نوم یو میلمستون کې میشت شو. ددوی خدمات معیاري وو، یو منیجر (مدیر)، اشپز، ښوال او ډېر شمېر خدمتګاران مو لرل. دا ودانۍ د استعمار په وخت کې جوړه شوې وه او ډېر ارام او خوندي ځای و. دالان یې د چایو کروندو ته مخامخ و. د چایو کرونده د غرونو په لمنو او ځنډو کې د جاوا تر اور غورځوونکي غره رسیدلې وه. دلته موږ ته یوولس ټویټا موټرې راکړل شوې او هر یوه مو ځانګړی موټروان او ژباړن هم درلود. تر څنګ یې د لوبو د ځینو کلبونو غړيتوب هم راکړل شو. د دولتي برښنا شرکت (پروشان اومم لسټریک نګارا یا DIN/ [illegible]

[illegible] کړې وې.

په بنډونګ کې مې لومړۍ ورځې له چارلس او هوورډ پارکر سره په کتنو تېرې کړې. هوورډ نږدې اویا کلن و او دلته له راتګ دمخه یې په نیو [illegible]

د مشر وړاندویونکي (Chief forecaster) په

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

توګه کار کاوه. دلته یې کار دا و چې د جاوا په جزیره کې د راتلونکو پنځه ویشتو کلونو د برښنا د اړتیا او قوت په اړه وړاندوینه وکړي. تر څنګ یې باید د جزیرې عمومي مقدار د ښارونو او سیمو په تناسب ویشلای وی خو دا چې د برق تقاضا له اقتصادي ودې سره ژوره اړیکه لري؛ نو ددې وړاندوینې ډېره تکیه زما په اقتصادي تخمینونو وه او د نورې ډلې مسئولیت دا و چې زموږ د وړاندیونو پر بنسټ ماسټر پلان طرح کړي. په بله وینا د پاور پلانټ یا برښناکوټ ځای او ډیزاین، لېږد او ویش، تارونه او پایې او ددې سیستم ګټه او پرمختګ ټول زموږ د وړاندوینو پر بنسټ ټاکل کېدل. په ناستو کې به چارلي زما د کار پر ارزښت پرلپسې ټینګار کاوه، یوې خبرې به یې زه ډېر ځورولم او هغه دا چې ویل یې د ټولې پروژې هیله بښوونکې اړخ باید خلکو ته وړاندې کړم. کلاډین رښتیا ویلي وو چې د ټول ماسټرپلان مرکزي ټکی زه یم.

هغې راته ویلي وو چې دلته به مو لومړۍ څو ورځې د حقایقو په راټولولو تېرې شي.

هارورډ، چارلي او زه په دفتر کې د ولې له لرګي جوړو څوکیو کې ناست وو. کړکیو ته پردې راځړېدلې وې، چې د لرغونو جګړه ایزو کیسو انځورګري پرې شوې وه، چارلي له سګرټه یو غټ کش وکړ:

(انجینران به اوس د برښنا د شته سیستم، د بندونو د وړتیا، سرکونو، پټلیو او نورو اسانتیاو حالت او معلومات راټول کړي.)

بیا یې په سګرټ ما خواته اشاره وکړه:

(ته باید ...

ل کړې، د لومړۍ میاشت تر پایه باید هارورډ په
ـې پوه شي چې د نوې ګرډ لاین راتګ څه اقتصادي معجزه کولای شي.
په دویمه میاشت کې باید ټول معلومات ولري، یعنې د هرې سیمې په اړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

معلومات باید راټول شوي وي. وروستی میاشت به ډېره مهمه وي، په دې میاشت کې به تش ځایونه ډکوو، په دې پړاو کې به موږ ټول یو ځای سره کینو او په دې به ځان ډاډه کوو، چې د اړتیا وړ ټول مواد او معلومات راټول شوي دي، موږ به د منني له احساس سره کورونه ولوټو، همدا زما شعار دی او د بیا راتګ هېڅ اړتیا باید پیښه نه شي.)

هوورډ د یوه مهربانه مشر ځانګړنې لرلې، خو ډېر غوسه ناک و، فکر یې کاوه چې ژوند ورسره درغلي کړې، دی په دې ډېر خفه وه چې په نیوانګلینډ برېښنایي سیستم کې یې ولې لوړپوړی مقام ترلاسه نه کړه. ماته یې څو ځله ویلي وو چې: (ماته څکه پام نه کېده چې ځان مې د شرکت له پالیسیو سره نه جوړاوه)، بیا په جبري ډول تقاعد شو، مېرمن سره یې چې جوړه رانغله په کور ناستی ورته سخت شو او په دې توګه یې په MAIN کې د مشاور دنده واخیسته. دا یې دویم مسئولیت و، انیار او چارلي دواړو راته ویلي وو چې ده سره پام کوه (ځان ترې ساته)، ویل یې چې ډېره غوسه ناک، تریخ او حرامي انسان دی.

ورو ورو دا ښکاره شوه چې هاوورډ زما ډېر ځیرک استاد و. له بده مرغه دا اعتراف مې هغه وخت نه وکړ، دې ته کلاډین هغه درس نه و ورکړی چې ماته یې راکړی و. دا یې لکه چې ډېر ضدي او کمزوری ګاڼه. یا به یې فکر کړی و چې دا دلته د لنډې مودې لپاره راځي. په هرصورت، ددې خلکو په نظر دا رښتیا هم یوه مسئله ثابته شوه، هاوورډ ټول حالت له نږدې وکاته اوپوه شو چې څنګه کار باید ترې واخلي. پوخ هوډ یې کړی و چې ددوی د لاس آله به نه ګرځي. آین او چارلي چې پرې کوم نومونه ایښي وو، ټول سم وو. په ضد کې یې یو ټکی دا و چې ځان یې د هغوی فکر او ارادې ته نه تسلیماوه. ده لکه چې د اقتصادي جنایتکار نوم اوریدلی و او پوهېده چې

Downloaded By: Afghan Salar Library

د کومې ناوړه موخې لپاره ترې کار اخیستل کیږي؛ خو ده ورسره نه منله.
چارلي سره له یوې ناستې وروسته یې زه یوې څنډې ته کړم، د اوریدو آله (د کنیو لپاره) یې په غوږ کړې وه او تر کمیس لاندې یې د غږ د لوړو او ټیټولو تڼۍ کیکاږلې.
هاوورډ ورته په شوخۍ وویل: (دا زما او ستا تر منځ خبره ده). موږ په خپل عمومي دفتر کې د کړکۍ خواته ولاړ وو، له کړکۍ مو بهر نهر ته کتل چې چټلې اوبه پکې روانې وې، یوې پیغلې پکې لامبل او د خپل عورت د پټولو لپاره یې د سارنګ ټوټه په خپل بدن بیا بیا راجوړوله. چارلي وویل: (دا خلک غواړي تا په دې باوري کړي چې ددې هیواد اقتصاد اسمان ته پورته کېدونکی دی. چارلي ظالم دی، ته هوښیار اوسه چې په خپل جال کې دې بند نه کړي.)
ما داسې فکر کاوه چې دا خبرې مې کومې کندې ته غورځوي، خو غوښتل مې دا هم ومنم چې چارلي په حقه دی او زما ژوند خو هسې هم په همدې تېریده چې په MAIN کې خپل باداران خوښ وساتم:
(دا خبره خو ریښتیاده چې دا اقتصاد به ډېر لوړ شي)، زما سترګې په هماغه ښځې خښې وې چې په نهر کې یې لامبل. په همدې وخت کې مې وویل : (ته وګوره چې څه روان دي)، (ښه دا خبره ده)، وبنګیده، ما چې څه ته لیدل هغه ورته نه ښکاریدل : (ته له مخکې دوی سره ملګری یې، همداسې ده کنه؟)
په نهر کې د یو څه حرکت شو، له ښځې مې سترګې واوښتې، ګورم چې د پوخ عمر یو سړی بیغمه راغی، پطلون یې پرانیست او د نهر په غاړه حاجت رفع کولو ته کېناست، پیغله جلۍ یې هم په کیسه کې نه شوه، هماغسې کړکۍ مخ را واړوه، هاوورډ ته مې وکتل او مې ویل:

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(زه به ځوان یم خو دنیا مې لیدلې ده، دا درې کاله وشول چې په جنوبي امریکا کې اوسیږم، ما په خپلو سترګو لیدلي چې تېل راووځي نو څه کیږي، هر څه ډېر زر بدلیږي.)

هغه راباندې ملنډې وهلې وویې ویل: (ما هم دنیا لیدلې او له ډېره وخته مې لیدلې ده، ځوانه زه درته زه درته یوه خبره کوم، زه ستا له تېلو او شته خرافاتو سره هېڅ کار نه لرم. ما ټول عمر د برښنا د قوت وړاندوینه کړې ده. زه پوهېږم چې د (روټ ۱۲۸) مشهورې میسا چوسیټ معجزې بوسټن ته څه کړي دي او زه درته دا په ډاډ ویلای شم چې تر اوسه د برښنا قوت په کال کې له اتو تر نهو سلنو نه دی زیات شوی، چې دا یې تر ټولو لوړه سحطه ده او معقوله یې شپږ سلنه ده.)

ما په ځیر ور وکتل، تر یوه ځایه پوه شوم چې خبره یې سمه ده، ځکه نو زه دفاعي حالت ته لاړم، زه پوهېدم چې د هغه قانع کول به ډېر سخت وي ځکه چې زما خپل ضمیر چیغې وهلې.

(هاروړه! دا بوسټن نه دی، دا داسې هیواد دی چې تر اوسه یې خلکو برښنا نه ده لیدلې، دلته هر څه بدل دي.)

مخ یې رانه واړوه، لاس یې د څه مړه په اشاره وخوځاوه، په غوسه یې وویل: (ورځه او هر څه وپلوره، زما پکې کار نشته چې ته هر څه کوې)، د خپل مېز له شا یې څوکۍ راکش کړه او پرې کیناست : (زه د برښنا په اړه د هغو حقایقو پر بنسټ راپور جوړوم چې سم راته ښکاري، دا له هېڅ ډول دروغ اقتد... ه لري)، بیا یې پسنل راواخیست او په کاغذ یې لیک پیل کړ.

دا یوه داسې ننګونه وه چې. سترګې مې پرې نه شوې پټولای، زه یې مېز ته

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(که زه یو داسې راپور چمتو کړم، چې ټول یې هیله لري، یعنې تر کالیفورنیا هم ستره اقتصادي خوشالي وي او ته د برښنا د ۶۰ سلنه زیاتوالي خبره وکړې چې له بوستن سره مساوي کیږي؛ نو باور وکړه چې بدل به شي.)

هغه خپل پنسل په مېز وویشت او برګ یې راوکتل : (بې ایماني، ټګي ... او ستاسو همدا کار دی.) دې سره یې زما د دفتر نورو همکارانو ته لاس ونیوه بیا یې زیاته کړه: (تاسو خپلې ارواوې په شیطانانو پلورلي دي، ستاسو یوازینۍ موخه دا ده چې خلک تېرباسئ او پیسې وګټئ.) بیا یې د دروغو خندا وکړه، لاس یې تر کمیس لاندې تېر کړ او ویې ویل : (زه مې د غوړ دا ماشین بندوم، چې کار وکړم.)

دې خبرو یې زه سخت ولړزولم، بهر ووانم او د چارلي په دفتر ورغلم، په نیمايي لاره کې ودریدم ، ښځي نه پوهېدم چې څه کوم، بېرته راتاو شوم، په زینو ښکته شوم، له دروازې ووتم، اسمان شین و، سترګې مې وګرځولې، پیغلې نجلۍ لمبا ختمه کړې وه او له نهر بیرون راوته، سیرنګ یې سم له ځانه تاو کړی و، پوخ عمر سړی نه و، څو ماشومانو په نهر کې لوبې کولې، یوبل ته یې چیغې وهلې او اوبه یې سره شیندلې. یوه مشره ښځه تر زنګنونو په اوبو کې ولاړ وه او غاښونه یې پاکول، هاخوا بلې ښځې کالي مینځل.

ما وې که ستونی کې مې څه نښتي دي، د سیمټو په یوې ټوټې کیناستم، هڅه مې کوله چې د نهر بد بوی ته پام ونه کړم، ډېره هڅه مې وکړه چې اوښکې وزغمم، زه په دې نه پوهېدم چې ولې خفه یم.

د هاوورډ دا خبره مې ... په غو...ږنو لګیده چې (ستاسو موخه یوازې پیسې ګټل دي) ... په اصل کې زه له خوږې (ټپي) ګوتې نیولای وم.

وړو ماشومانو پر یو بل اوبه اچولې او خوږې چیغې یې څلورو خواوته خپرې ... ما ... کاوه چې څه کولای شم، څنګه به ددې ماشومانو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

غونډې بېغمه شم؟ هو ددوی معصوميت او خوښي چې مې په غور وليده دې پوښتنې ارام نه پرېښودم، دوی خواران نه پوهېدل چې په دې چټلو اوبو کې لمبا دوی له څومره لوی خطر سره مخ کړي دي. يو په ملا کړوپ سپين ږيری سړی امسا په لاس بيټ بيټ د نهر په غاړه روان و، يوې شپږ ته ودريد، شوخو ماشومانو ته يې وکتل، بيا يې په کړشپه خوله خندا خپره شوه.

ما فکر کاوه چې په هاوورډ باور کولای شم او که دواړه سره يو شو دا ستونزه حل کولای شو، همدې سره مې په قراره ساه واخيسته، يو کاڼی مې راواخيست او نهر ته مې وغورځاوه، د هغې د څپو په ختميدو سره په ما کې د خوښۍ يوه څپه پيدا شوه، زه پوهېدم چې زه د هاوورډ په خبر ګام نشم پورته کولای، هاوورډ مشر و، ډېر تريخ و، د خپل شخصيت د جوړلو لپاره يې له ټولو شته فرصتونو ګټه پورته کړې وه؛ نو ښکاره وه چې اوس يې په دې ګام څه زيان نه ليده. خو زه ځوان وم، اوس مې ايله ژوند پيل کړی و او دا مې نه غوښتل چې پابله مې د هاوورډ په څېر شي.

زه چې دې چټلو اوبو ته ځير شوی وم، نو د نيو همشپاير د غرونو په سر د خپل ښووڼځي منظره مې سترګو ته شوه، هلته مې خپلې رخصتۍ يوازې تېرولې، نورو ملګرو به مې له نڅا او موسيقۍ خوند اخيست او چکرونه به يې وهل، ورو ورو راباندې نهيلي زور شوه او زه يوازې شوم. په دې شپه خپل کټ کې پرېوتم، هغه خلک راياد شول چې زما ژوند ته راغلي وو، هاوورډ، چارلي، کلاډين، اين، انيار او فرينک کاکا. ما فکر کاوه چې که دې خلکو سره نه وی مخ شوی اوس به مې ژوند څنګه و؟ چېرته به وم؟ يا مې د خپل راتلونکي په اړه فکر وکړ، زه به چېرته حم؛ ډېر فکر مې وکړ چې دا پوښتنه ځواب کړم . . . . چارلي خو راته ښکاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ویلي وو چې له ما او هاورډ په راپورونو کې لږ تر لږه د اولس سلنه زیاتوالی ښودلو تمه لري، زه څه ډول راپور ورکړم؟بیا مې ذهن ته یوه خبره راغله چې آرام یې کړم، ما ویل چې دا خبره مخکې ولې نه رایادیده؟ ښکاره ده دا پرېکړه زما نه وه. هاورډ خو لا مخکې ویلي وو چې هغه څه به کوي، چې ښه او سم ورته ښکاري. زما په راپور یې هېڅ اغېز نه کاوه، ما خو خپلو بادارانو ته د ښې اقتصادي ودې راپور ورکولای شو او خوشالولای مې شول، خو هاورډ بیا خپلواک و. زما کار په ماستر پلان کوم اغېز نه درلود، خلکو راته څو ځله زما د کار ارزښت په ګوته کړ، خو زه پوهېدم چې خبره یې غلطه وه، په ذهن مې فشار کم شو او له خوبه مې ښه خوند واخیست. څو وروسته هاورډ سخت اسهال شو، موږ زر د کاتولیک روغتون ته ور وست، ډاکټرانو دوا ورکړه او سپارښتنه یې وکړه چې زر یې امریکا ته ولیږدوو. هاورډ موږ ته وویل چې د اړتیا وړ ټول مواد یې راټول کړي دي او په بوستین کې به ترې په اسانه راپور جوړ کړي، د تلو په وخت کې یې راته وویل : (د اعدادو او ارقامو جادوګرۍ ته اړتیا نشته، ته که ددې اقتصادي پرمختګ د فریب لپاره هره وړاندوینه کوې ویې کړه، خو زه یې هېڅکله ددې فریب برخه نه ګرځم.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دويمه برخه

له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۵ز پورې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

شپږم فصل

زما څېړنيزه ونډه

له اندونيزيايي حکومت، اسيايي پرمختيايي بانک او USAID سره سره د
تړون لپاره مو بايد له هغه مرکزونو ليدنه کړې وای چې په ماستر پلان کې
يې يادونه شوې وه. ددې کار لپاره زه وټاکل شوم، چارلي خبره داسې وکړه:
(تا د امازون حالت ليدلی، ښه پوهېږې چې له حشراتو، مارانو او چيتلو اوبو
سره څه وکړې.)

له يوه موټړوان او يوه ژباړونکي سره مې ښايسته ډېر ځايونه وليدل او ډېرو
خفه کوونکو ځايونو کې پاتې شوم. له ځايي چارواکو او سياسي رهبرانو سره
مې وکتل او د اقتصادي ودې په اړه مې د هغوی نظريات واوريدل خو دا
احساس مې وکړ چې زياتره يې د معلوماتو له ورکولو وېرېږي. هغوی له ما
وېرېدل، همدا يوه خبره يې کوله چې له لوړو مقاماتو سره وګورئ او يا په
جاکارتا کې له دولتي ادارو او ولسمشر سره خبرې وکړئ، ما به کله کله ويل
چې ګني پر ضد مې کومه دسيسه جوړېږي.

داسې سفرونه لنډ وي، په دوه درې ورځو کې خپل دفتر ته هم تلم راتلم،
کومې ښځې چې دا چارې تنظيمولې يو زوی يې له ما څو کاله کشر و، نوم
يې تورزمان و خو له مور پرته نورو ټولو ورته ريزي ويل، ده په يوه ځايي
زما کار سره يې علاقه وښوده، زه وېرېدم چې
حتمن به رانه دنده غواړي، ماته يې د اندونيزيايي ژبې سبق هم پيل کړ.
اندونيزيا چې له هالنډه خپلواکي واخيسته نو د ولسمشر سيوکارنو لومړيتوب
ه بايد عامه شي. په دې ټوله سيمه کې تر درې سوو
ډېرې ژبې ويل کېږي. د سيونارکو دا فکر ښه و چې اندونيزيا يو ګډ کلتور

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ته اړتيا لري چې له ډېرو وچو (جزيرو) او بې شمېره تمدنونو يو متحد هيواد جوړ کړي. د ژبپوهنې يوه نړيواله ډله يې جوړه کړه او اندونيزيايي ژبه يې رامنځته کړه، ددې ژبې بنسټ مالايي ژبه وه خو ډېر بدلونونه پکې راغلل او ګرامري پيچلتياوې يې ترې وويستې، له ۱۹۷۰ ز کال راپدی خوا خلکو دا ژبه پيل کړې وا ورسره يې خپلې ژبې هم ويلې.

ريزې تکړه ښوونکی و او ډېرې ښې توکې به يې هم کولې، زه په دې پوهېدم چې د شوار او هسپانوي ژبو په پرتله باشا (اندونيزيايي) ژبه ډېره اسانه ده.

ريزې يو موټرسايکل درلود او د ښار له خلکو سره زما پېژندګلوي يې خپل مسئوليت ګاڼه. يو ماښام يې راته وويل: (زه به تاته د اندونيزيا هغه مخ دروښيم چې تا لا نه دی ليدلی.) زه يې ځان سره په موټر سايکل سپور کړم او روان شو.

موږ ډېرسيلونه وکړل د نانځکو ننداره، روايتي موسيقي، اورلوبه، مداري او پهېري (کهنه فروشان)، دې خلکو هر څه پلورل له زړو امريکايي منع شويو فيتو (کيسټو) نيولې تر ځايي نايابه لاسي شيانو.

په اخر کې بيا يو (کافي شاپ) ته لاړو، د ځوانو نجونو او هلکانو ګڼه ګونه پکې جوړه وه، خولۍ يې په سر کړې وې او ويښته يې داسې جوړ کړي وو لکه په ۱۹٦۰ ز کال کې به چې په (بيټلز) ننداره کې کېدل. خو ځانګړتيا پکې دا وه چې هر يو کس پکې اندونيزيايي و.

يوه مېز ته خلک ناست وو، ريزې ورسره زما پېژندګلوي وکړه او ورسره کيناستو، د انګليسي ژبې په ويلو کې درجې بېلابېلې وې، خو ټولو ويلای شوه زما [illegible] وستايلې او ډاډ يې راکړ. د ژبې په موضوع يې بحث پيل کړ او ماته يې وويل چې امريکايان ولې زموږ ژبه نه زده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوي؟ ما خواب نه درلود، ما دا وضاحت هم ونه کړ چې زه يوازينۍ لويديځوال ولې دلته راغلى يم، ځکه دلته هغوى ټول په ښو هوټلو او کلبونو کې چکرې وهي.

دا شپه به مې تل په ياد وي، ريزي او ملګرو يې ماسره د خپلو په څېر چلند وکړ، ددوى په ليدو مې د خوښۍ احساس وکړ. ددوى ښار، خواړه، موسيقي، لونګين سګرټ چې ددوى د ژوند برخه وه، ټوکې ټکالې، لنډه دا چې زه ددوى په هر څه کې شريک وم. داسې فکر مې کاوه چې د پيس کور شپې بيا راغلې دي. بيا مې ويل چې ولې په فرسټ کلاس (په الوتکه کې لومړۍ درجه ځاى) کې سفر کوم؟ که زه په هغه کې سفر وکړم داسې ډېر ملګري به له لاسه ورکړم. شپه چې پخيده مجلس هم خوريده مانه يې پوښتنې کولې، د ويتنام د جګړې په اړه يې زما نظر وغوښت، هغوى دې (غير قانوني بريد) ډېر وېرولي وو او چې پوه شول احساسات مو سره ورته دي، نو بيا ډېر ارام شول.

زه او ريزي د شپې ناوخته مېلمستون ته راستانه شو، توره تياره وه، ما ترې له زړه منته وکړه، د بيا ناستې ژمنه مو وکړه، يو بل ته غاړې وتو او خپلو خونو ته لاړو.

د ريزي او ملګرو بنډار يې دا شوق راکړ چې له MAIN ډلې جلا بايد ډېر وخت تېر کړم. په سبا يې زما او د چارلي ناسته وه، ښکاره مې ورته وويل چې له ځايي خلکو د معلوماتو په راټولولو کې بوخت يم، بله دا چې د راپور لپاره حقايق بايد د جاکارتا له رسمي دفترونو ترلاسه کړم؛ نو دواړو دا ومنله چې يوه يا دوه اونۍ بايد په جاکارتا کې پاتې شم.

_ وښوده، خو ما په زړه ګوري ماتولې چې وخت به په خپله خوښه تېر کړم، سيل به وکړم او ښو هوټلونو کې به شپې وکړم.

Downloaded By: Afghan Salar Library

جاکارتا ته چې ورسیدم عقده مې ختمه شوه، ژوند راته بل ډول ښکاریده، جاکارتا کې راته خپل امریکایي هیوادوال بل ډول ښکاریدل، ښایسته مېرمنې یې ډېرې ښې نه ښکاریدې، کړکیو ته نصب شوي سیخان ډېر ځرگند ښکاریدل، مخکې مې پرې فکر نه و کړی، د ښکلي هوټل خواړه بې خونده وو.دلته په دې هم پوه شوم چې سیاسیون او سوداگر راسره په ناسته کې څومره ځیرک وو، ما مخکې په دې خبره فکر نه کاوه خو اوس داسې فکر کوم چې ښه پرې نه لگیدم، په پېژندگلوی کې به یې ماته د باشا ژبې هغه لغتونه کارول چې په قاموس کې د پلټونکي او رازونو ټولونکي په معنا وو. ما ترې دا خبره پټه کړې وه چې زه په باشا ژبه پوهېږم، ژباړونکی مې هم دومره پوهېده چې په څو ټکو پوهېږم، ما یو قاموس اخیستی و، چې له دوی به جلا شوم هغه کې به مې پلټنه کوله.

ما سره څو ځله دا پوښتنه پیدا شوه چې دا القاب د ژبې پېښه وه او که د قاموس ناسم تعبیر؟ هڅه مې وکړه چې همداسې باور وکړم. خو ما چې ورسره څومره وخت تېراوه په دې پوهېدم چې زه ورته یو مداخله کار ښکارم.

په دې هم پوه شوم چې ماسره د مرستې امر ورته له لوړو مقاماتو راغلی او دوی اړ دي چې ویې مني، نور زه هم نه پوهېدم چې امر به له کومه راغلی وي. کوم لوړپوړکی چارواکی؟ بانکدار ؟ پوځي جنرال؟ یا د امریکا سفارت؟

زه یوازې په دې پوهېدم چې دا خلک مې خپل دفتر ته ورغواړي، ښه روغبړ کوي، چای راکوي ، مرسته راسره کوي، خو ددې ټولو کارونو ترشا یو کینه هم شته چې راسره پالي یې.زه د خپلو پوښتنو په ترلاسه شویو ځوابونو شکمن وم، ځکه ماته ناشونې وه چې ژباړونکي سره دفتر ته ننوځم او چې چاسره وغواړم وویینم. که څه هم وخت به مو له مخکې اخیسته. د کار دا ړیفاتو کې ډېر وخت ضایع کېده، ټیلیفوني کار

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په نشت حساب و. موږ اړ وو چې په ګڼه ګوڼو او تنګو کوڅو کې مزلونه وکړو او ساعتونه تېر کړو، حال دا چې ځای به رانه څو سوه متره لیرې و. هلته په رسیدو به مو ډېرې فورمې ډکولې، بیا به یو سکرتر راپیدا شو، مخامخ چلند به یې ډېر ښه و، جاوا کې دا رواج و، په موسکا به یې رانه وپوښتل چې څه ډول معلومات غواړم، بیا به د کتنې پر ځای د کتنې وخت راکول کېده. د ملاقات وخت به طبعاً څو ورځې وروسته و او وخت به دومره و چې د معلومات چمتو شوې دوسیه پکې راکړل شي، صنعتکارانو به خپل پنځه او لس کلن پلانونه راکول او بانکدارانو به اسناد لرل. دولتي چارواکو به یوازې د هغو پلانونو لست راکاوه چې ددوی په تخته به لیکلی و، عمل ته به پاتې و او اقتصادي وده به یې ډېروله. دا ټول په دې معنا وو: اندونیزیا د داسې یوې خوشالۍ په درشل ولاړ هیواد دی چې ښايي کوم بل هیواد به ددې خوشالیو خوند څکلای وي. ما یو داسې کس هم ونه لید چې په دې کار یې شک کړی وي او بدل معلومات یې راته راکړې وي. زه چې بندونګ ته راستون شوم په خپلو تجربو مې فکر کاوه، د خفګان کومه خبره حتمن وه، فکر مې کاوه چې په اندونیزیا کې زما کار یوازې یوه لوبه ده، دا د قطعو لوبه وه چې موږ به پکې پرې پټولې. موږ پر یو بل باور نه شوکولای او نه مو پر هغو موادو باور کاوه چې یو بل سره به مو تبادله کول. دا ډېره جدي لوبه وه، اغېز یې ډېر اوږدمهالی و او کلونه وروسته به د میلیونونو خلکو په ژوند راڅرګندیده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اووم فصل

ازمېښت

ریزي باندونګ ته زما په راستنیدو ډېر خوښ و، راته یې ویل چې : (نن شپه دې یوې مېلې ته بوځم، دا د ناڅکو تر ټولو ښه ننداره ده، ښګا ته یې ځانګړې ننداره ده.)

په موټرسایکل یې د ښار هغو برخو ته بوتلم چې زه ترې ناخبره وم. داسې سیمو ته لاړو چې د اندونیزیا روایتي کورونه پکې اباد وو، چتونه یې له کاشي (Tiles) جوړ شوي وو، د معبدونو په څېر ښکاریدل، د استعمار د دور لوېې ودانۍ پکې نه ښکاریدې. خلک غریب وو، خو چلند یې له فخر ډک و. کالي یې زاړه و خو پاک ستره به یې اغوستل، هر ځای ته به چې تلو په ورین تندي به مو ښه راغلاست کېده. یو ځای کې ودریدو ماشومانو رامنډې کړې، زه یې لمس کړم او زما کالی یې وکتل، یوې ورې ماشومې راته د سور یاسمین خوشبویه ګل په ویښتو کې وتومبه.

موټرسایکل مو تیاتر (ننداري) ته نږدې د سرک پر څنډه ودراوه، ډېر خلک راغلي وو، شپه رڼه او ښکلې وه. موږ که څه هم د پخواني بندونګ په مرکز کې وو، خو په سرکونو څراغونه وو، د اسمان رڼو ستورو سترګونه وهل، په هوا کې د لرګیو، موم پلیو او لونګو خوږه خوشبو ګډه وه.

ریزي په خلکو کې ورک شو، بېرته له خپلو ملګرو سره راغی، هماغو وو چې په کافي شاپ کې موسره کتلي وو، ماته یې تود چای، کیک او سیټ Sate راکړ، سیټ یو ډول میده شوې غوښه ده چې د موم پلیو په تبلو کې سره کیږي. غوښې ته خیر شوم، څکه یوې ښځې راته په خندا وویل چې ښخي تازه غوښه ده، همد اوس پخه شوې ده.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

موسیقي پیل شوه، د (ګیما دلانګ) جادوګر غږ راته د. منډر د زنګونو شرنګار
رایاد کړ.
ریزې راته په ګپ کې وویل: (دلانګ ټوله موسیقي خپله پیدا کوي، د هرې
ژبې نانځکه پیدا کوي او بیا یې په خبرو راولي، موږ به یې تاته ژباړه
وړاندې کوو.)
دا ډېره ښه ننداره وه، فلکلوریکې کیسې یې له اوسني وخت سره تړلې وې.
زه وروسته پوه شوم چې دلانګ جاودګر دی، چې د مدهوشۍ یو حالت
راولي او خپل کار کوي، یعنې خلک ځان سره عادت کوي، تر سلو ډېرې
نانځکې وې او هر یو خپل غږ ویست، هغه شپه مې اوس هم نه هېرېږي او
نه به هېره شي، پردې سربېره داسې شپه هم وه چې زما پر راتلونکي ژوند
یې ژور اغېز وکړ.
د لرغوني رامایڼ له اقتباساتو وروسته یې د ولسمشر نیکس نانځکه
(ګوډاګی) رامخته کړه، ښځې ورته وه، امریکایي ولس مشر ته یې د سام
کاکا کالي اغوستي وو، د ستورو لرونکې لوړه خولۍ او ښایسته دریشي،
ورسره یو بله نانځکه هم وه چې رسمي دفتري دریشي (Suit) یې وراغوستی
و، د دې نانځکې په لاس کې یو ډول و چې د ډالرو نښه ($) پرې جوړه
شوه، په خپل اوزګار لاس یې د نیکس په سر د امریکا بیرغ داسې رپاوه
لکه غلام چې خپل بادار ته پکی وهي.
ددې دواړو تر شا د منځني او لیرې ختیځ یوه نقشه را پیدا شوه، بېلابېل
هیوادونه په جنګک کې راخړیدلي وو، نیکسن نقشې ته لاړ، ویتنام یې
راخلاص کړ، خپل مخ ته یې رانږدې کړ، هغه چیغه کړه، چې ژباړه یې
داسې وشوه (د نه زغملو وړ، ډېران، بې معنا)، بیا یې هغه په ډول کې
واچاوه او ...
سره همداسې وشول.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زه ددې په ليدو ډېر حيران شوم چې ددوی وروستي نښه شوي هيوادونه د لېرې ختيځ کمزوري نظامونه نه دي، بلکې د منځنۍ آسيا ټول هيوادونه، فلسطين، کويټ، عربستان، عراق، شام او ايران وو، بيا افغانستان او پاکستان ته ور وګرځيد. هر ځل به يې چې کوم هيواد خپل ډول ته اړاوه، ځيني بد توري به يې ورسره کارول.

خلک ښځي په جوش راغلی وو، په ډول کې به چې کوم هيواد ورزيات شو خلکو به چيغې کړې، خندا ګانې، درد او غوسه، په يوه وخت خلکوکې همدا درې واړه ځپې ليدل کېدې. ما داسې احساس هم وکړ چې د نانځکې ځينې خبرې په خلکو بدې ولګيدې، زه لږ ووېرېدم ځکه په دوی کې زه ډېر بدل وم او د شخړې پر وخت کېدای شوای زه په نښه شوی وی. وروسته بيا نيکسن داسې خبره وکړه چې زما سر يې را وګرځاوه:

(دا نړيوال بانک ته وسپارئ، وبه ګورو چې د اندونيزيا د شتمنۍ په تروړلو زمور د خزانو ډکولو لپاره څه کولای شي؟) له نقشې يې اندونيزيا را واخيسته او غوښتل يې ډول ته يې ور واچوي، په همدې وخت کې له سيورې يوه بله نانځکه راووته او مخ ته راغله، دا د کوم اندونيزيايي کس ګوډاګی و چې باتک کميس او خاکي رنګ پطلون ور اغوستل شوی و، په خپلو کاليو يې يوه نښه هم لګولې وه چې له هغه يې نوم څرګنديده. ريزې وويل دا د بنډونګ يو مخور سياستوال دی.

دا نانځکه د نيکسن او دويم کس منځ ته راغله او چيغه يې کړه: (بس يې کړئ، اندونيزيا خپلواک هيواد دی) خلکو يې په ملاتړ چيغې کړې، دې سره بيرغ لرونکي کس خپل بيرغ راواخيست او د نيزې په شکل يې د اندونيزيايي په سينه ورخښ کړ، اندونيزيايي په ډېرو سختيو مړ شو، خلکو توهينوونکې چيغې ووهلې، نيکسن او ډول لرونکې کس زمور مخې ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ودریدل، خلکو ته یې وکتل او له سهېجه ووتل.
ما ریزي ته وویل چې زه باید اوس لاړ شم.
هغه د خواخوږی په ډول خپل لاس زما په اوږه کېښود او ویې ویل: (مه وېرېږه، هر څه سم دي، هغوی شخصاً تاسره هېڅ کار نه لري) خبره مې زړه ته نه لویده.
بیا ټول کافي شاپ ته لاړو، ریزي او ملنرو یې داډه کړم چې د نیکسن او نړیوال بانک د ډرامې په اړه یې له مخکې معلومات نه درلودل، یو ځوان پکې وویل چې ددې ننداره په اړه څوک نه پوهېږي چې څه پکې نسودل کیږي.
ما په لوړ غږ وویل، دا ننداره یې لکه چې زما په ویاړ جوړه کړې وه، یو راته په خندا وویل، ستا خودي ښخي ډېره ده، بیا یې زه په ملا وټپولم: (ستاسو امریکایانو خپل انداز دی.)
ماته مخامخ کس راته وویل: (اندونیزیایان له سیاسته ډېر معلومات لري، امریکایان داسې ننداره نه ګوري؟)
یوه ښکلې جلۍ راته مخامخ ناسته و، په پوهنتون کې یې انګلیسي لوسته، هغې وپوښتلم : (ته خپله نړیوال بانک سره کار نه کوې؟)
ما ورته وویل چې زه له اسیاسي پرمختایي بانک او USAID ادارې سره کار کوم؛ نو بیا یې وپوښتلم چې : (دا دواړه یو نه دي؟) زما ځواب ته په تمه نه ه د همدې نن شپې له نندارې سره سم نه دي؟
ایا ستاسو دولت اندونیزیا او نور هیوادونه د انګورو یوه غونچه نه ګڼي، چې کمه ږ، خوښ، شې، هغه ترې واخلي او نور وغورځوي؟ انګلستان وساته، کړه، اندونیزیا خپل ځای ته ورسوه.)
یوې بلې ښځې وویل: (زموږ د تېلو وروستی څاڅکی وزبیښئ.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما غوښتل چې خپله دفاع وکړم، خو نه مې شوه کولای. ما دلته په راتګ فخر کاوه چې په یوه ځای کې د امریکا پر ضد یوه ننداره وړاندې کیږي او زه له خپل ځایه پورته نه شوم، که مې دا فکر کړی وی چې دا زما شخصیت حمله وه هم په حقه وم، ما غوښتل هغوی ته وښیم چې وګوره زه دومره جرات لرم چې دا هر څه زغمم. ما دا هم ورښکارول چې زه د خپلې ډلې یوازینی غړی یم چې بهاشا مې زړه کړې او غواړم چې ستاسو کلتور خپل کړم او تر څنګ یې مهمه خبره دا ده چې ددې نندارې یوازینی بهرنی نندارچي یم، خو فکر مې وکړ چې دوی سره بحث نه کول هوښیاري ده. ددې پر ځای مې هڅه وکړه چې ددوی خبرو ته ډېر پام وکړم، زه په دې پوه شوم چې دوی څه فکر کړی چې دالانګ له ویتنام پرته یوازې مسلمان هیوادونه جلا وښودل.

د انګلیسي محصلې وخندل او یې ویل (لکه چې اصل پلان همدا دی.)

بل کس وویل: (ویتنام لنډمهالې معامله ده، لکه نازیانو ته چې هالنډ و، یوازې یوه وسیله، یا د ټوپ تخته چې پښه پرې کیښودل شي او ګام واخیستل شي.)

ښځې خپله خبرې پسې وغځوله: (اصلي هدف خو اسلامي نړۍ ده.)

زما نوره حوصله ختمه شوه، د اعتراض په ډول مې وویل : (تاسو دا نشئ ویلای چې امریکا د اسلام پر ضد ده.)

(ښه ؟ دا له کله؟ ته د ټواین بي (آرنولد، جي ټاین بي) په نوم خپل یو مورخ ولوله هغه په پنځوسمه لسیزه کې وړاندوینه کړې ده چې په راتلونکي پېړۍ کې به اصلي جګړه د پانګوالو او سوسیالیستانو تر منځ نه؛ بلکې د عیسویانو او مسلمانانو تر منځ وي.)

ما په حیرانۍ وپوښتل: (ټواین بي رښتیا داسې ویلي دي؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(هو، Civilization on Trail او The world and the West ، کتابونه یې ولوله.)

ناستو کسانو یو بل ته وکتل، باور یې نه کېده چې زه به داسې کم عقله پوښتنه کوم، بیا یې خبرې داسې په قلاره پیل کړې لکه یو ناپوه انسان چې مخاطب وي :

(څکه چې ټول لویدیځ او د دوی مشره امریکا اوس په دې پسې راخیستې چې ټوله نړۍ ونیسي او د تاریخ تر ټولو لویه امپراتوري رامنځته کړي، دوی خپلو موخو ته ډېر نږدې دي، اوس خو یې شوروي اتحاد مخه نیولې، خو دوی به سترې شي. ټواین بي همدا خبره نیولې وه چې روس خو هیڅ مذهب نه لري، دا نظریه کوم بنسټ نه لري، تاریخ دا ښودلې ده چې عقیده یعنې روح او په ستر ذات د باور اصلي بنسټ دی او دا شتمني یوازې موږ مسلمانانو سره شته، د ټولې نړۍ په پرتله دا خلک موږ سره ډېر دي، تر عیسویانو هم ډېر، نو څکه به تر هغه انتظار کوو، چې قوي شو.)

یوه بل کس یې خبره پخه کړه: (موږ به وخت ته په تمه شو او بیا به د عار غوندې خپل ګوزار وکړو.)

زه بیواکه شوم او ومې ویل : (دا فکر هم وېرونکی دی، ددې د بدلولو لپاره موږ څه کولای شو؟)

ښځې زما سترګو ته راوکتل ویې ویل: (دومره مه ځانغوښتونکی کیږه، ته باید پوه شې چې په نړۍ کې ستاسو له مانیو او مغازو پرته نور شیان هم شته، خلک له لوږې مري او تاسو خپلو موټرو ته د تېلو په غم کې یئ. ماشومان له تندې مري او تاسو د فیشن په مجلو سر ټیټ کړی دی، زموږ به څې ماتونه ، غ بت او بیوزلۍ په ګرداب کې ډوبیږي خو تاسو مو د مرسې چیغې او فریادونه هم نه اورئ، څوک چې درته دا خبرې کوي به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغوی ځان کنهوئ، په هغوی د انقلابي او سوسیالیست ټاپه لګوئ او غلي کینئ. تاسو دا بېوزله خلک غلامان کوئ، داسې مه کوئ، دې خواته د ټیله کولو پر ځای ورته د خپل زړه دروازې پرانیزئ، اوس وخت لږ دی، که تاسو په ځان کې بدلون رانه ولئ نو بربادي مو نصیب ده.)

تر دې ځو وروځې وروسته د اندونیزیا هغه بانفوسه سیاستوال چې په ننداره کې یې د نیکسن مخه نیولې وه؛ کوم موټروان په موټر وواهه، ویې واژه او د تل لپاره ورک شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اتم فصل

عیسی علیه السلام : له نوې زاوېې

دا ننداره او د هغې ښځې خبرې مې تر ډېره ... احساس ...
هغه شپې زما فکر او احساس ته نوې بڼه ورکړه.

په اندونیزیا کې د خپلو فعالیتونو په اوږدو کې مې هغه ...
کړې، خو زما احساسات پر څېرګون زورور وو. ما خپل احساسات د ...
تاریخ په مثالونو او بیولوژیکي غوښتنو تېر کړي وو. ما خپله ...
انساني اړتیاوو برخه ګڼلې وه او په دې مې ځان ...
انیار، چارلي او زمونږ نور ملګري یوازې هغه څه کوي چې ...
دي، یعني خپل او د خپلې کورنۍ لاسنیوی، په دې کې نوې خبره ...
خو له اندونیزیایي ځوانانو سره خبرو زه د مسئلې بل اړخ ...
ددوی له زوایې مې چې وکتل، نو داسې احساس مې وکړ چې ...
ځانغوښتنې پر بنسټ بهرنۍ پالیسي نه راتلونکو نسلونو ته خدمت ...
یې خوندیتوب پکې شته. په ساده ټکو کې یې د اوږدمهالي فکر نشت
تعبیرولای شو. ددې ماهیت او ترکیبي عناصر داسې وي لکه د سوداګریزو
شرکتونو کلني راپورونه او یا هم د ټاکنو پر وخت د سیاستوالو د بهرنۍ
پالیسۍ لرونکې پلان.

د خپل راپور لپاره په ارقامو پسې څو ځله جاکارتا ته لاړم. هلته یوازې وم؛
په دې مسایلو مې فکر وکړ او په یوه کتابچه کې مې یادښتونه هم
واخیستل، په هغه ښار کې ښه وګرځېدم، سوالګرو ته مې خیرات ورکړ،
نڅاګرو او د کوڅو له ماشومانو سره مې خبرې وکړې.

... مې د بهرنیو مرستو په څرنګوالي هم فکر وکړ. دا خبره ...

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

څرګنده شوه چې پرمختللي هیوادونه مخ پر ودې هیوادونو کې د بیوزلۍ او لوږې د ختمولو لپاره څه کولای شي. ما فکر وکړ چې بهرنۍ مرستې د خدای لپاره نه وي، ددې ترشا حتمن ځینې موخې شته. دا پوښتنه راسره پیدا شوه چې دا مرستې کومه پټه موخه لري که نه او که لري يې څه بدلون باید پکې راشي؟ ما هیله لرله چې زما او نور هیوادونه به هم د نړۍ د بیوزلو او رنځورو خلکو د مرستې لپاره څه اقدام وکړي، خو په دې داډه وم چې داسې نه کیږي او که کیږي هم نو زموږ د مداخلې بنسټیز محرک به بل څه وي.

ما به تل له ځانه دا پوښتنه کوله چې که بهرنۍ مرستې د استعمار لپاره کیږي؛ نو دا ناسم کار دی؟ زه به تل چارلي غوندې خلکو ته پسخیدم، هغه پر خپل نظام دومره کلک باور درلود چې غوښتل يې په ټوله يې دنیا په شین زور ومني. زه په دې شکمن وم چې د محدودو وسایلو په لرلوسره به د نړۍ ټول خلک د امریکا په څېر ژوند خنګه وکړي، حال دا چې په امریکا کې خپله ډېر خلک د لوږې ښکار دي او زه خو په دې هم نه پوهېدم چې د نړۍ ټول ملتونه ربښتیا هم غواړي چې زموږ په څېر ژوند وکړي که نه؟

د تاوتریخوالي، خفګان، اعتیاد، طلاق او جرمونو په اړه زموږ خپلې شمېرې دا ښيي چې که څه هم موږ د انساني تاریخ په ښو ملتونو کې راځو خو کېدای شي چې زموږ په ټولنه کې خوښۍ تر نورو ډېرو لږې وي، نو بیا موږ ولې غواړو چې نور خلک دې زموږ تقلید وکړي؟

کلاډین لکه چې ددې ټولو شیانو په اړه راته ویلي وو، هغه وخت زه نه پوهېدم چې هغه راته څه وایي. دا ټول علمي دلایل که یوې خواته شي نو زه په دې حقیقت پوهېدلی وم چې زما د ساده توب دوره پای ته رسیدلې ده، ما په خپله کتابچه (روزنامچه) کې ولیکل:

Downloaded By: Afg[...]lar Library

(آیا د امریکا په متحده ایالاتو یو کس هم بې ګناه (معصوم) شته؟ په دې کې شک نشته چې لوړ پوړي وګړي پکې ډېره برخه اخلي، خو دا هم حقیقت دی چې زموږ په شان میلیونونه خلک باید د اوسني وخت لپاره د وروسته پاتې هیوادونو له استعمار مستقیه یا غیر مستقیه منه وکړي. د اندونیزیا غوندې بېوزله هیواد نه وسایل او مزدوران راتلل، هغوی موږ ته کار کاوه او لږ شمېر به یې د ببرته ستنیدو جوګه پاتې کېدل. بهرنیو مرستندویه پورونو دا خبره باوري کوله چې د یوه هیواد بچی او لمسي یرغمل نیول کیږي. هغوی دې ته اړ کېدل چې خپل طبیعي وسایل زموږ شرکتونو ته راکړي، له زده کړو، روغتیا او نورو خدمتونو لاس ومینځي او زموږ پور پرې کړي. دا رښتیا ده چې د فابریکو، هوایي ډګرونو او صنعتي پارکونو د رغونې په بهانه زموږ شرکتونو له دوی د پور ډېره برخه وصول کړې ده ، خو دا فورمولونه په زیاتره ځایونو کې صدق نه کوي. دوی دا عذر وړاندې کوي چې ډېر شمېر امریکایان په دې حقایقو نه خبریږي، خو دا عذر د دوی د بې ګناهی استدلال نه کوي. دا خلک ناخبره دي، د ناسمو ارقامو په وړاندې کولو یې ذهن بدل شوی دی، خو بې ګناه ورته په هېڅ صورت نه شو ویلای.)

زه هم په هغو خلکو کې یم چې خلکو ته ناسم معلومات وړاندې کوم او په خپله ګناه اعتراف هم کوم.

د یوې سپیڅلې نړیوالې جګړې تصور هم ځوروونکی و خو ماداسې فکر کاوه چې دا کار شونی دی. ما فکر کاوه چې که د جهاد په نوم دا جګړه ونښته؛ نو د مسلمانانو او عیسویانو به لړه او د مخ پر ودې او پرمختللیو

البته مسلمانان پکې مخکې کېدای شي. موږ

پرمختللي هیوادونه وسایل کاروو او مخ پر وده هیوادونه راته دا وسایل چمتو

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوي. دا د پخوانی سوداګریز استعمار په نوې بڼه تکرار و. دا یو داسې نظام و چې زورواکو پکې له محدودو وسایلو د کمزورو ډېر وسایل ترې تروړلای شول.

ما د تواین بي کتاب نه و لوستی خو له تاریخه په دې پوه شوی وم چې که له یوه ملته تر ډېره وخته د هغوی وسایل استثمار شي؛ نو بغاوت رامنځته کیږي. ما د بېلګې په ډول د امریکا انقلاب او ټام پین رایاد کړل. زما په یاد دي انګلستان چې مالیات وضع کړل دلیل یې دا ووې چې موږ به د فرانسویانو او نیوزلنډیانو پر وړاندې د خپلو کورونو دفاع کوو ، خو کوم خلک چې له دې حالته اغېزمن شوي وو هغوی برعکس بل ډول فکر کاوه.

پین په خپل ستر کتاب (Common sense) کې خپلو هیوادوالو ته یو وړاندیز کړی دی. دا په اصل کې د هماغي (اروا) تصور دی چې ځوانو اندونیزیایي ملګرو هم راته راکړی و. ده د یوه تصور ،د یوه ستر ذات په عدل باور، خپلواکی او مساوات درس ورکړی و، چې دا درس د انګلیسي نظام د لوړپوړې طبقې پرضد و، مسلمانانو یو پر لوی ذات باور درلود او بل یې ویل چې پرمختللي هیوادونه د ټولې نړۍ د استثمار حق نه لري. لکه څنګه چې د انګلیسي استعمار پر ضد امریکایان په یوه خبره سره راټولیدل همداسې مسلمانانو د خپل دین لپاره جګړې ته ملاګاني تړلې دي او لکه څنګه چې په ۱۷۷۰ ز کال کې انګلیسانو کړي وو، هماغسې اوس موږ هم په مسلمانانو د ترهګرۍ تور پورې کوو او تاریخ یو ځل بیا تکراروو.

زه خو وایم هغه به لا څنګه نړۍ وي چې امریکا او شوروي اتحاد پکې یرغلونه ونه کړي او خپل قوت یوازې د بیوزلۍ له منځه وړلو، زده کړو او روغتیا ته وقف کړي او له دې اسانتیاو زموږ هیوادوال هم ګټه پورته کړي. ما تل په دې فکر کړی چې که موږ وغواړو بیوزلي ختمه کړو او خپل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چاپېريال وساتو؛ نو په راتلونکو نسلونو مو څه اغېز کولای شي. زه خو فکر نه کوم که زموږ مشرانو به دا فکر کړی وي چې د ژوند په خوند او اسانتیاوو یوازې د امريکايانو حق دی؛ نو بیا موږ ولې د استعمار پراخوونکی پلان عملي کوو، حال دا چې همدې استعمار سره په مبارزه مو مودې تېرې کړې دي.

په اندونیزیا کې مې وروستۍ شپه وه. له خوبه ويښ شوم، څراغ مې روښانه کړ، فکر مې کاوه چې په خونه کې راسره کوم بل څوک هم تشه، د هوټل د خونې مېزونو، څوکيو، کړکيو او کړکيو ته پرتو پردو ته ځیر شوم، سترې ويده شوم. په خوب کې مې عیسی علیه سلام وليد، هماغسې ښکاريده لکه په ځوانۍ کې به مې چې له عبادت وروسته ورسره خبرې کولې، توپیر یې دا و چې زما په ځوانۍ کې یې ويښته سره او پوټکی سپين و خو اوس یې ويښته تور او پوټکی غنم رنګه و. هغه ټيټ شو او په کوم څه یې په خپلو اوږو پورته کړل، فکر مې وکه صلیب به وي، خو چې ومې ليدل چې د موټر ایکسل دی او د ټایر ډرم (تبی) وپورې نښتې ده، دا یې په خپل سر پورته کړی و، له تندي یې د مبلایلو غوندې وينه راڅخيده، بیا سم ودريد، زما سترګوته یې راوکتل او ویې فرمايل: (که زه بیا دې نړۍ ته راغلم نو په بل ډول به مې وګورې) ما وپوښته چې ولې؟ هغه راته وویل چې نړۍ بدله شوې ده.

د سبا رڼايي خپره شوې وه، پوهېدم چې اوس خوب نه راځي، کالي مې بدل کړل، لاندې ښکته شوم او د حوض او باغ پر څنډو وګرځېدم، سپوږمۍ لکه د څوارلسمې د جانان په مستۍ وه د ګلونو خوشبويانو په هوا کې خپې کیناستم او فکر مې کاوه چې زه دلته څه کوم؟ د ژوند پېښنو دې ډګر ته ولې راوستی یم او مهمه دا چې اندونیزيا ته یې ولې راوستی یم؟ زه په دې پوهېدم چې ژوند مې بدل شوی دی، خو دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

معلومات راته نه وو چې دا بدلون څومره شدید دی.

له راستنیدو وروسته مې له این سره په پاریس کې وکتل چې کېدای شي اړیکې مو سره ښه شي خو په دې لنډه موده کې مو ایله جنګونه وکړل. که څه هم په دې موده کې ډېرې ښایسته او ځانګړې شېبې هم راغلې خو دا مو محسوسه کړه چې زموږ غوسه او اوږدې شخړې مو یو ځای کېدو ته نه پرېږدي. پردې سربېره مې ژوند ته ځینې داسې نور عوامل هم رانوتي وو چې دې ته مې نه شول ویلای. په نړۍ کې یوازې یو داسې انسان و چې ما ورسره دا ټول مسایل شریکولای شول او هغه کلاډین وه. ما یې په اړه ډېر فکر وکړ، زه او این د بوسټون په لوګان هوایي ډګر یوځای ښکته شو او په بیک بې کې مو لارې سره جلا شوې.

Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نهم فصل

د ژوند جوړولو فرصت

په اندونیزیا کې د تېرې شوې مودې اصلي ازمېښت په MAIN کې کېده. سهار تر هر څه د مخه د پروډېشنل سنټر مرکزي دفتر ته لاړم. زه هلته له لسګونو نورو کارکوونکو سره لفټ ته په تمه ولاړ وم. په همدې وخت کې خبر شوم چې د MAIN اتیا کلن اجرایوي مشر میک هال، انیار ته ترفیع ورکړې ده او د پورټ لینډ د سیمه ایز دفتر مشر کړی یې دی. اوس مې باید برونو زمبوټي ته راپور ورکولای.

برونو ډېر خوږ انسان و، د ویښتو د رنګ له امله به خلکو نقره یي ګیدړ باله، دا په زړه راښکون کې له مشهور فلمي ستوري کیري ګرانټ سره برابر و. دا وړتیا یې لرله چې که چا به یې واک وګواښه؛ نو ماته به یې خوړله، خپل مسلک یې انجینري وه خو په اداره او سوداګرۍ کې یې ماسټري لرله. د اقتصاد سنجونې له ټولو برخو سره بلد و. دا د MAIN د الیکټرو پاور ډویژن او زموږ د نړیوالو پروژ و مرستیال مسئول و. دا خبره ښکاره وه چې د دده له زوړ لاربسود او سرپرست له تقاعد وروسته به همدا نقره یي ګیدړ د هغه ځای ناستی کېده. د MAIN د نورو کارکوونکو غوندې زه هم له برونو زمبوټي وېرېدم.

د غرمې له ډوډۍ لږ وخت مخکې زه د برونو دفتر ته وغوښتل شوم، د اندونیزیا په اړه مو دوستانه خبرې اترې وکړې، بیا یې یوه داسې خبره وکړه کړ: (زه هارورډ پارکر ګوښه کوم، ډېر تفصیل ته اړتیا نشته، بس دومره پوه شه چې هغه په حقیقت سترګې پټې کړې دي.) داسې وموسید لکه له خپل دې منفي کاره چې خوند اخلي، په دې خبره مې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ګوتې پر یوه کاغذ ټکولې: (د کال اته سلنه: د فشار په اړه یې دا وړاندوینه کړې، څوک به یې ورسره ومني؟ دا څېړنې یې د اندونیزیا په اړه کړې ده، هلته فرصتونه ډېر او اسانتیاوې بې شمېره دي!) بیا هغه زما سترګو ته ځیر شو، موسکا یې ورکه شوه: (چارلي انګورت راته ویلي دي، ستا وړاندوینه بېخي په هدف ده او له اولسو تر شل سلنه فشار بېخي سم ثابتوي، همداسې ده؟)

ما ډاډ ورکړ چې په دې کې هېڅ شک نشته.

هغه ودرید، لاس یې ماته را اوږد کړ او ویې ویل: مبارک شه، تاته به اوس ترفیع درکړل شي.

په دې وخت کې به دا ښه وای چې ما بیرون په کوم ښایسته هوټل کې له ملګرو سره دا شېبه نمانځلې وای، خو ذهن مې له کلاډین سره بوخت و، زما تادي وه چې د خپل پرمختګ زیرې او د اندونیزیا تجربې ورسره شریکې کړم. په ما یې ډېر ټینګار کړی و چې له بهرنیو هیوادونو راته زنګ راونه وهې. زه چې بېرته راغلم نو زړه مې په دې ډېر خفه شو چې پخوانی ټیلیفون یې قطع شوی و او نوې شمېره یې ما نه لرله، په همدې پسې زه هم ورک وم.

په پخواني اپارتمان کې یې یوه ځوانه جوړه (ښځه او خاوند) میشته وه، وخت د ډوډۍ و، خو زه په دې باور وم چې دواړه مې له پالنګه راجګ کړي وو، زما مزاحمت پرې بد لګیدلی و خو یوازې دومره یې راته وویل چې د کلاډین په نوم څوک نه پېژني. ما د کور خاوند ته ځان د کلاډین د تره زوی ور وپېژاند او د معلوماتو هڅه مې ترې وکړه، خو د هغوی له اسنادو ښکاریدل چې په دې نوم کومې ښځې ته یې کور په کرایه نه دی ورکړی او ي وو چې چاته به مې نوم نه ښیي. په پروډشنل

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

سنټر کې MAIN ته اړوند دفتر کې راته وویل شول چې دا نوم ورسره نه دی ثبت شوی، یوازې دومره یې وویل چې یوه ځانګړې مشاوره لري خو ماته یې نه شي ښودلای.

تر مازیګره ستړی شوی وم او زړه مې هم ګډوډ و او تر دې سخته دا چې اوږده سفر مې ذهن ښځي خراب کړی و. زه بېرته خپل تش کور ته راغلم، چوپتیا خپره وه، یوازیتوب خوړلم، فکر مې کاوه تولو پرېښی یم، خپل پرمختګ راته بې معنا ښکاریده او کله به مې داسې فکر کاوه چې زما په غاړه کې یوه لوحه ځړېږي او . لیکلي مې دي چې زه د پلورلو توکی یم. نهیلی په کټ کې پریوتم کلا..ر ه وکارولم او پرې یې ښودم، څو ساعته مې تشو دیوالونو ته کتل، یا مـ لـ ځان سره قوي اراده وکړه چې نهیلی ته به نه تسلیمېږم او دې سره مې دحپلو احساساتو دریځې بندې کړې.

بالاخره پر ځان واکمن شوم، پاځېدم، یو بوتل بیر مې وڅښل او تش بوتل مې په مېز وویشت، له کړکۍ مې بیرون وکتل، په کوڅه مې لکه چې هغه ولیدله چې ما خواته را روانه ده، زه دروازې ته روانیدم، خو یو ځل بیا مې ور وکتل، ښځه رانږدې شوې وه، ښایسته وه، په لاره تګ یې ښځي کلاډین ته ورته و خو کلاډین نه وه. زړه مې ډوب شو، احساسات مې اول په غوسه او بیا په وېره واوښتل.

په مخ کې مې د کلاډین څېره راڅرګنده شوه، په ګولیو سوری سوری شوه او ولویده، هغه ووژل شوه! پام مې بدل کړ، د ویلیم څو ګولۍ مې واچولې او پریوتم.

اداري یوه زنګ له خوبه راویښ کړم، ددې ځانګې مشر مورمینو ښښه وغوښته چې زما خوب یې راخراب کړ، خو ویې ویل چې نن مازیګر بایددفتر ته راشې، تاته یوه خبر لرم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زه د هغه له وينا سره سم دفتر ته ورسيدم، ومې ليدل چې برونو له خپلې ژمنې هم يو څه زيات کړي دي، زه يې نه يوازې دا چې د هاروړ په ځای ټاکلی وم؛ بلکې موقف مې هم د ارشد اقتصادپوه شوی و، دې سره مې امتيازات هم لوړ شوي و، خو خبرې خوشالي رانه کړه.

مازيګر مې خان سره جانګی (نېکر) او بير واخيستل او د چارليست سيند په غاړه ګرځېدم، هلته کيناستم، د بادباني کښتيو سيل مې وکړ، غوښتل مې چې د اوږد سفر او ستړيا ترخه رانه هېر شي. ما ځان ته، دا قناعت ورکاوه چې کلاډين راسره يوازې يوه رسمي کاري اړيکه لرله او اوس به بل ماموريت ته تللې وي. تل يې په چُپ اوسېدو ټينګار کاوه. کېدای شي خپله راته زنګ راووهي، مورمينو رښتيا ويل زما ستړيا او افکار سره ليرې شوي .وو

په څو راتلونکو اونيو کې مې هڅه کوله چې د کلاډين په اړه فکر ونه کړم. خپل ټول پام مې دې ته کړ چې د اندونيزيا د اقتصادی حالت راپور څنګه وليکم او د هاووړد په وړاندوينه کې څنګه سمونه وکړم. ما په هماغه ډول شنه چمتو کړه چې مشر مې غوښته، يعنې د بند له کار خلاصيدو وروسته په هر کال کې د برق په مصرف کې نولس سلنه زياتوالی، ترې وروسته اتو کلونو کې اوولس سلنه او پاتې نورو پنځه ويشتو کلونو کې پنځلس سلنه.

د پور ورکولو د نړيوالو ادارو په ناسته کې ما د خپلې مطالعې لنډيز وړاندې کړ. د هغوی کارپوهانو ډېرې جامع او سختې پوښتنې وکړې، دې وخت کې زما احساسات په اوسپنيز هوډ واوښتل، هماغسې لکه ښوونځي کې مې چې ښودلي وو، د بغاوت پر ځای له ټولو د مخکې کېدو اراده، خو د کلاډين يادونه رانه چاپېر وو. په ناسته کې يو ځوان و چې په آسيايي پرمختيايي بانک کې يې دنده لرله، ده غوښتل چې لوی، نرم وګڼې، زه يې چې څو

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پرلپسې ساعتونه ښه په عذاب کړم نو د کلاډين هغه نصيحت راياد شو، چې ويل يې: (په راتلونکو پنځه ويشتو کلونو څوک پوهېږي، چې څه به کيږي، هسې هم تحمين دی، نه هم بايد دومره ښه اوسې لکه څومره چې دې سيال دی ، اصل شی پر ځان باور دی.)

زه په دې باوري شوی وم چې په خپل کار کې تکړه يم، ځکه کومو خلکو چې زما په کار نظر ورکاوه او پرېکړه يې پرې کوله، تر دې ټولو مې په مخ پر وده هيوادونو کې ډېر ژوند کړی و او دې هېڅ توپير نه کاوه چې د ځينو عمرونه يې زما دوه چنده وو. زه په امازون کې وم او د جاوا تر هغو سيمو تللی يم چې بل څوک ورته شايد زړه ښه نه کړي. ما ځينې داسې روزنې هم اخيستې وې، راته يکې ويل شوي وو چې لوړپوړي چارواکي بايد څنګه په خپلو خبرو او مهمو ټکو پوه کړم. په دې هم ډاډه وم چې د نوي نسل زلمی يم او زموږ ټول کار له اعدادو او شمېرو سره دی. د اقتصاد په باريکيو هغه زلمی چې د خپلو هيلو او غوښتنو پر مټ يې په ځوان عمر کې د خپلې بريا وزرې ورپولې، مخکې او د رابرټ مکينا مارا تر زړه ورسيد. رابرټ مکينا مارا، دا هغه کس دی چې ذ اعدادو او ارقامو، امکاناتو، د منلو نظر او حسابي ماډل (نمونې) پربنسټ يې ځانته د شهرت مانۍ رغولې وه. خو زه فکر کوم چې په دې کار کې يې دخپلې انا (خودۍ) پربنسټ ولاړ جرات هم شامل دی.

ما غوښتل چې له مکينا مارا او خپل مشر برونو، دواړو نه تقليد وکړم. له مکينا مارا مې د خبرو کولو چل زده کړ او حرکات مې له برونو راخپل کړل، پردې سربېره مې ددې له ځانګړې ادا او په لاس کې راځوړند لاسي بکس هم ډېره ګټه واخيسته. ځان پسې چې مخ واړوم په خپلو ترخو حيران شم، حقيقت دا دی چې زما مهارت ښخي محدود و، زما په زده کړو کې چې کوم

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

[illegible] جرأت پوره کړ. له نیکه مرغه دا سکه وچلیده [illegible] دې ولې زما راپور ومانه.

وروسته مې بیا د تهران، کاراکاس، کویټې ملا، لندن، ویانا او واشګنټن کې په بې شمېرو ناستو کې ګډون وکړ، له ډېرو مهشورو خلکو سره مې ولیدل چې د ایران شاه، د بېلابېلو هیوادونو پخواني ولسمشران او مکینا مارا هم پکې وو. د نومړي ښوونځي په څېر ډېر خلک وو، زه په دې حیران وم چې زما د نوې دندې او د پور ورکولو په نړیوالو ادارو کې تر بریا وروسته راسره څنګه د خلکو چلند بدل شو.

په نومړیو کې د پاملرنې اصلي مرکز زما رئیس و. ما ځان د یوه میرلن په شکل لیده چې پر یوه هیواد جادویي امسا وهم، هغه ځایونه روښانوم او صنعت پکې د سمسورو ګلونو غوندې راټوکوم. بیا دا جادو مات شي. ما چې کله د ځان او تر لاس لاندې خلکو محرکات وشنل نو ځان سره مې وویل چې په اندونیزیا کې د چټل نهر په غاړه چې کوم خلک ژوند کوي، د هغوی پر ستونزو د پوهېدو او له منځه وړلو لپاره د بې شمېره القابو او تحصیلي اسنادو اړتیا نشته. زه په دې باور وم چې د اعدادو او ارقامو دا جادو به انسان په راتلونکي کې له ستونزو سره مخ کوي. زه به چې څومره په هغو خلکو پوهېدم چې پرېکړې به یې پر ټولې نړۍ اغېز کاوه؛ همدومره به مې د هغوی په موخو او اړتیا هم شک پیدا کېده. زه چې کله هغه څېرې د [illegible] د مېز شاته ناستې وګورم نو خپله غوسه نشم قابو کولای.

[illegible] دا صحنه بدله شوه، ورو ورو پوه شوم چې دا خلک د خپل کار په [illegible] د چارلي په څېر دوی ټولو هم ویل چې کمونیزم او [illegible] دوی دا خبره نه منله چې دا دواړه قوتونه ددوی پرېکړو په عبرګون کې رامنځته شوي دي. دوی فکر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کاوه، چې د خپل هیواد، خدای او اولاد پر وړاندې ځینې مسئولیتونه لري او ترسره کولوپاره یې باید دا نړۍ د پانګوالۍ خواته کش شي. ددې تر څنګ د سولې د بقا Survival of the fittest له نظریې سره هم تړلي وو، دوی فکر کاوه چې له نیکه مرغه د یوې جونګړې پرځای په ممتازه طبقه کې پیدا شوي . دا یې مسئولیت ګاڼه چې خپله نیکمرغي راتلونکو نسلونو ته هم ولېږدوي. ددوی په اړه زما نظر د تردید نښکار و، کله به مې دسیسه کوونکې بلل او کله به مې ویل چې دوی غواړي په ټوله نړۍ قبضه او انحصار وکړي. ورو ورو مې امریکا له کورنیو جګړو وړاندې (وډېریو) سره تشبیه کړه، دا هغه خلک وو چې یوه ضعیفه نظام کې راټول وو، فکر او ګټې یې شریکې وې، دا هغه خلک نه وو چې پټ کمینونه به یې نیول. دا ټولواکه او د غلامانو په شتون کې رالوی شوي وو. ددوی په ختّه کې دا خبره ګډه شوې وه چې ګټي په کافرو (بې دینو) څارنه وکړي او د بادارانو د مذهب او د ژوند د دوول له مخې پکې بدلون راولي. که کوم خلک به یې د فلسفیانه نظر له مخې د غلامۍ مخالف هم وو، بیا به یې هم دا حالت د شرایطو له مخې جایز باله. دوی ویل که دا نظام ختم شي په اقتصادي او ټولنیز نظام کې به ګډوډي رامنځته شي. نن سبا د لویو شرکتونو خاوندان هم په همدې فکر دی او یاد چوکاټ کې مناسب ښني.

ما په دې هم فکر پیل کړ چې جګړه، د وسلو تولید، له سیندونو اوښتل او د تمدنونو چپه کول د چا په ګټه دي؟ ما سره دا پوښتنه هم پیدا شوه چې د لوړې، ناروغۍ او چټلو اوبو له لاسه خلک ومري نو ګټه یې چاته رسیږي؟

چې اوږدمهاله ګټه خو به یې حتمن چاته رسیږي؛

خو لنډ مهالې ګټه یې هغو ته ده چې په لویو لویو پوستونو کار کوي، لکه زما رئیس او زه، له مادي اړخه خو همداسې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دې نه څو پوښتنې راپيدا شوې، دا حالت ولې راغی؟ دومره دوام يې څنګه وکړ؟ آيا څواب يې هماغه پخوانی متل (د سستو مال د چستو) دی؟ يعنې واکمنه ډله غواړي چې همدا نظام دوام وکړي.

دا ځواب به شايد نيمګړی وي، چې يوازې قوت ګني ددې حالت د دوام لامل دی؟ که څه هم پورته متل نه ډېر څه څرګنديږي خو زه داسې فکر کوم چې د جبر ډېر شمېر نور قوتونه هم کار کوي. د اقتصاد د ليسې يو ښوونکی مې رايادېده، چې له شمالي هنده راغلی و. هغه به موږ ته پر محدودو وسايلو، د اړتيا پر زياتېدو او د جبري کار په اصولو لکچر راکاوه. د هغه د فکر له مخې په سلسله مراتبو ولاړو ټولو پانګوالو نظامونو کې د امر (حکم) يوه سخته لړۍ وي، په دې نظام کې څو لوړپوړي چارواکي د بېلابېلو سطحو ماتحتو کارکوونکو او تر ټولو ټيټه درجه کارونکو يو لښکر کنټرول کوي. په اقتصادي اصطلاح کې همدا د کارکوونکو لښکر په اصل کې غلامان دي. بلاخره په دې پوهېږو چې دا نظام روان دی او موږ يې ملاتړ په دې خاطر کوو،چې شرکتونو يو باور راکړی دی او هغه باور دا دی چې خدای غواړي دا کاروباري خلک دې د پانګوال نظام په لوړو پوړيو کې وي، خپل پلويان دې وګوماري او په ټوله نړۍ دې د خپلو ګټو دا نظام حاکم کړي.

موږ لومړي خلک نه يو چې دا کار کوو، موږ نه مخکې خلکو هم کړی دی، په تاريخ کې يې نومليړ ډېر اوږد دی، د شمالي افريقا لرغوني امپراتورۍ، منځنی ختيځ، آسيا، پرويشيا، يونان، روم، صليبي جنګيالي او د کولمبس له دور وروسته ټولو اروپايي نظامونو همدا کار کړی. د استعمار همدا عمل تل د لوږې، وژنو، قطحی، بربادۍ او نسل وژنې لامل شوی او اوس هم داسې کوي. دې حالت تل د همدې امپراتوريو د خلکو په ضمير د پرمختګ په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نوم يو بار اچولی دی او په ټولنه کې يې نارامي زياته کړې ده. ددې پاڼلد دا ده چې د انساني تاريخ تر ټولو لوړ او ستر تمدن نن د ځان وژنې، نشه يي توکو او نورو بدمرغيو په لومړي قطار کې ولاړ دی.

ما په دې پوښتنو ښه فکر وکړ، خو په دې ټولې لړۍ کې ددې هر څه شاته په خپله ونډه مې فکر ونه کړ. د ځان په اړه مې يوازې دا فکر وکړ چې دا پوښتنې د يوه اقتصادي جنايتکار نه؛ بلکې د يوه ارشد يا مشر اقتصادپوه په توګه کړې دي. ماته دا هر څه ډېر پر ځای او جايز ښکاريدل. که د جواز تصديق ته يې اړتيا وای نو زما د پېسو سند يې شاهد و. ماته ټولې پيسې د MAIN يوه شخصي شرکت راکولې. NSA، يا بلې دولتي اداره مې نه مې يوه تکه هم نه ده اخيستې، په دې دلايلو مې ځان تر يوه حده مطمئين کړی و.

يو مازيګر برونو خپل دفتر ته وروغوښتم، زما د څوکۍ شاته راتاوشو،په اوږه يې لاس راکيښود او ويې ويل: تا ډېر ښه کار کړی دی، ددې د منې په توګه درته د ژوند جوړولو يوفرصت درکوم، دا فرصت هغه خلکو ته هم په سختۍ نصيب کيږي چې ستا دوه چنده عمر لري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

لسم فصل

د پانامې اتل ولسمشر

دا د ۱۹۷۲ ز کال د اپریل میاشتې کیسه ده. په دې باراني شپه زه د پانامې په نړیوال هوايي ډګر (ټوکومینTocumen)کې ښکته شوم. د هغو ورځو له رواج سره سم موږ څو تنه لوړپوړي چارواکي په یوې ټکسي کې سپاره شو. دا چې زه په هسپانیوي ژبه پوهېدم مخ کې څوکۍ کې کېناستم. له ښیښې مې بهر کتل، په یو ځای کې پر یوې لوحې د یوه سړي انځور راښکاره شو، پراخه ټنډه او روښانه سترګې یې ښکاریدې، خولۍ یې کږه په سر کړې وه، ما وپېژنده، همدا د پانامې نوی اتل و او عمر طوریجو Omar Torrijos نومیده. ما سفر ته دخپل معمول له مخې چمتوالی نیولی و، یعنې د بوسټون د عامه کتابتون د ریفرنسونو برخې نه مې پوره ګټه اخیستې وه. زه پوهېدم چې طوریجو ولې په خلکو ګران دی، یو لامل یې دا و چې د پانامې د خپلواکۍ او پر کانال د خپلې واکمنۍ کلک پلوي وو. ده ژمنه کړې وه چې په خپل حکومت کې به پانامه له شرمیدلي تیندکه حتمن خلاصوي.

پانامه تر کانال کیندلو دمخه د کولمبیا برخه وه، په همدې وخت کې مشهور فرانسوي انجینر فردینانت لیسپس پرېکړه وکړه چې د منځنۍ امریکا په خاکنا کې به یو نهر کني او له دې لارې به اتلانتیک سمندر له اقیانوس سمندر سره تړي. ۱۸۸۱ ز کال کې فرانسوي انجینر په دې سترې پروژې کار پیل کړ او په همدې وخت کې له پرلپسې ستونزو سره مخ شو. بالاخره دا پروژه په ۱۸۸۹ ز کال کې د مالي ستونزو له امله ودریده، دا ناکامي په خپل ځای خو له همدې امله تهیودر روز ویلټ یو بل خوب ولید. د شلمې پېړۍ په پیل کې د امریکا متحده ایالاتو له کولمبیا یوه غوښتنه وکړه. دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

غوښته د یوه تړون وه چې له مخې به یې خاکنا د شمالي امریکا یوه کنسرسیوم ته سپارل کیږي، خو کولمبیا دا غوښتنه رد کړه.

دا د ۱۹۰۳ ز کال خبره ده چې ولسمشر روز ویلټ د ناشوایل په نوم یوه پوځي بیړۍ هلته ولیږله. پوځیانو د ځایي پوځ یو قوماندان وواژه، پانامه یې یو خپلواک هیواد اعلان کړ او یو لاسپوځې حکومت یې رامنځته کړ. د پانامې کانال لومړي تړون لاسلیک شو، له مخې به یې د کانال دواړو خواو ته یو امریکایي زون (ساحه) رامنځته کیږي، د امریکا پوځي مداخلې ته قانوني رنګ ورکړل شو او په عملي توګه په دې خپلواک هیواد امریکا قابضه شوه.

د حیرانتیا خبره دا ده چې پر تړون د امریکا د بهرنیو چارو وزیر HAY او یو فرانسوي انجینر فلپ بناو واریلا هم لاسلیک کړی و، چې دا خپله د اصلي تیم (ډلې) غړي هم وو. د پانامې د یوه وګړي لاسلیک هم پرې نه و، اصلي خبره دا ده چې پانامه په شین زور له کولمبیا جلا شوه، لامل یې دا و چې دوی تړون وکړي، د امریکا لاس پوځي شي او دا تړون په اصل کې د یوه امریکایي او فرانسوي تر منځ شوی و. که تېر وخت ته وګورو نو دا ښکاري چې پیل یې هم یوه معجزه غوندې وه. ۱

تر نیمې پیړۍ ډېر وخت د پانامې په تورو او سپینو هغه د ګوتو په شمېر پانګوال واکمن وو چې امریکا سره یې نږدې اړیکې لرلې. دا کین لاسي چارواکي وو، هر هغه ګام یې پورته کړ چې د امریکا ګټې یې تضمینولې. د لاتینې امریکا دچارواکو په څېر د پانامې چارواکي هم له واشنګټن سره جوړ وو او د امریکا د ګته لنده معنا د هر هغه حرکت ځپل وو چې د کمونیزم ورمړ ښکارېده. پر دې سربېره نیمه نړۍ کې په کمونیزم ضدو حرکتونو کې ای ایس ای او NSA مرسته کوله. له لویو سوداګریزو امریکایي شرکتونو (لکه

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

راک فیلر سټنډرډ ایل کمپني، یونایټډ فروټ...) سره مرسته کول هم ددوی مسئولیت و. دې حکومتونو فکر کاوه چې که له خپل ملت سره مرسته وکړي، هغوی به له اقتصادي پلوه ښه، په ځیټه ماړه شي او له احتیاجه خلاص شي؛ نو دا به ګني د امریکا د ګټو ضد خبره وي.

ددې خدماتو په بدل کې د پانامې حکمرانې طبقې په ډېرو ډالیو او امتیازاتو نازول کېدې. پانامې په ۱۹۰۳ ز کال کې خپلواکي اعلان کړه او تر ۱۹۶۸ ز کال پورې امریکایي پوځونو څو ځله د ددې کورنیو د ګټو ساتلو لپاره د هیواد په ملکی مسایلو کې مداخله وکړه. هغه وخت ما په اکوادور کې کار کاوه، چې د پانامې په تاریخ کې ناڅاپي بدلون راپیل شو، د یو انقلاب په لړ کې د پانامې د وروستي آمر ارنلفوآرایس حکومت چپه شو او عمر طوریجو د ولسمشر په توګه راڅرګند شو. ده خپله په انقلاب کې عملي ونډه نه وه اخیستې . ۲

د پانامې په ټیټې او منځنی طبقو کې طوریجو ته په درنه سترګه کتل کېدل. خپله هم د سینټیا په یوه کلي کې رالوی شوی و او له مور او پلاره یې زده کړې کړې وې. د ملي ګارد په کرښو کې یې چټک پرمختګ وکړ. نیشنل (ملي) ګارډ د پانامې لومړی پوځي یونټ و چې ۶۰ مه لسیزه کې په غریب ولس کې ډېر مشهور شو، له بیوزلو خلکو سره د ډېرې خواخوږی له امله د طوریجو شهرت پیل شو، هغه به په کوڅو کې ګرځېده او عامو خلکو سره به یې لیدل، سیاسیونو هغو ځایونو ته د تللو فکر هم نه کاوه. اوزګارو خلکو سره به یې د کار په پیدا کولو کې مرسته کوله او زیاتره به یې له خپله جیبه هغو کورنیو سره مرسته کوله چې ناروغي یا بله کومه ستونزه به یې

له ژوند سره دده مینه او بیوزلو سره مرسته یې یوازې تر پانامې محدوده نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وه، بلکې له پولو هم اوښتې وه، ده ویل چې که څوک د کومې ستونزې له امله ددوی هیواد ته راځي نو بې له عقیدوي توپیره به تابعت ورکول کیږي.په دې کې د دواړو سیاسي افکارو خلک شامل وو. د چیلي د پینوشي مخالفین چې کیڼ اړخي وو او د کاسترو ښي لاسې مخالفه ګوریلا ډله دواړو ته دلته پناه ورکړل شوې وه. ډېرو خلکو دا د امن ننبه ګڼله. ددې ځانګړنو له امله طوریجو په نیمه کره کې ډېر زیات مشهور شوی و. ورو ورو یې دا شهرت پسې زیاتېده او طوریجو یو داسې مشر و چې خپل ژوند یې شخړو حل کولو ته وقف کړی و. دې مخالفتونو د لاتیني امریکا هیوادونه د یو بل پر ضد درولي وو. مثلاً هندوراس، ګونتې مالا، آل سولیدرو، انکاراګوا، کیوبا، کولمبیا، پیرو، ارجنټاین، چیلي او پیراګوی.

د طوریجو وړوکې هیواد یوازې دوه میلیونه نفوس درلود او د ټولنیزو اصلاحاتو یوه بېلګه وه. دا هغه انسان و چې نړیوال رهبران یې له یوه نوي جوش او ولولې سره بدل کړل. په دې نړیوالو رهبرانو کې د قذافي په څېر امپراتور هم و او تر څنګ یې هغه خلک هم وو چې د شوروي اتحاد د وېشلو نقشې به یې جوړولې. ۴

په پانامه کې مې دا لومړی شپه وه، ترافیکي اشارې ته ودریدو، پورته په لوحه ددې شخص تصویر راځړیده او سترګې یې ماته نیولې وې. زه ترې ډېر زیات اغېزمن وم، ښایسته، زړور او زړه رانښکونکی شخصیت و. په بوستون کتابتون کې مې چې څومره وخت تېر کړ په دې خبره پوه شوم چې دا شخص په خپلو باورونو ډېر کلک ولاړ دی. په خپل تاریخ کې یې دا لومړی ځل و چې پانامه د واشنګټن یا بل هیواد برخه نه وه. طوریجو د چین او شوروي هېڅ یوې خبرې ته غاړه کېښنوده. په ټولنیزو اصلاحاتو یې د لارې یې بېوزلو خلکو سره مرسته کول غوښتل. خو

Downloaded By: Afghan Salar Library

خانګړې خبره يکې دا وه چې له کمونيزم سره هم ډېر جوړ نه وو. په دې او کاسترو کې يو توپير دا وچې ده له امريکا خپلواکي غوښته خو د هغو له مخالفينو سره يې ملګري نه کوله.

په بوستون کتابتون کې مې يوه داسې خانګړې مجله هم تر سترګو شوه چې طوريجو يې بيل ډول شخصيت معرفي کړی و. مجلې ويلې وو چې طوريجو د امريکا د زبرځواکۍ د ليوالتيا په ختمولو د لاتيني امريکا هيوادونو تاريخ بدلولای شي. ليکوال بيل له Manifest Destiny کړی و، دا نظريه په ۱۸۴۰ ز کال کې په امريکايانو کې ډېره مشهوره وه او منځپانګه يې دا وه چې د شمالي امريکا فتح د الله تعالی لخوا ټاکل شوی تقدير دی. دا د انسان نه؛ بلکې د خدای پرېکړه ده چې انډين (ځايي اوسېدونکي)، ځنګلونه او مېښې له منځه يوړل شي. پردې سربېره د سيندونو مخې تاوول او له مزدورانو او طبيعي سرچينو يې استثمار هم ددې الهي پرېکړې يو جز ګڼل کېده.

دې ليکنې زه اړ کړم چې ټولې نړۍ ته د امريکا د ليد په اړه فکر وکړم. په ۱۸۲۳ز کال کې ولسمشر جيمز مونرو د Monroe Dectorine نظريه وړاندې کړه، پر دې يې ګام واخيست او دويم قدم يې د تقدير ليک Manifest Destiny نظريه شوه. له ۱۸۵۰ نه تر ۱۸۶۰ کلونو پورې له همدې نظريې ګټه پورته شوه او له مخې يې وويل شول چې په ټوله نيمه کره د امريکا خانګړی حق دی. دا هم يکې راغلي وو چې که په منځنۍ او شمالي امريکا کې کوم هيواد دا پاليسي ونه مني بريد پرې کېدای شي. تيډي روز ويليټ د همدې نظريې له مخې په ډومنيکن جمهوريت او وينزويلا کې د مداخلې جواز ترلاسه کړ. بلاخره له کولمبيا د پانامې تش په خوله (خپلواکي) هم د همدې نظريې پايله وه. تر دې وروسته د امريکا د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram: https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

جمهور رئيسانو يوه بله لړۍ پيل شوه، دوی هم په همدې نظريې د عمل په ترڅ کې د دويمې نړيوالې جګړې تر پايه خپل بين الامريکايي فعاليتونه نه پراخه کړل. د شلمې پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې چې امريکا له کمونيزم نه خطر احساس کړ همدغه نظريه يې په ټوله نړۍ کې خپره کړه چې ويتنام او اندونيزيا يې د يادونې وړ هيوادونه دي. ۵

اوس داسې ښکاريدل چې د امريکا په لاره کې يوازې يو کس ولاړ دی. زه پوهېدم چې دا لومړی کس نه دی. تر دې مخکې کاسترو او آلينډې هم همداسې کړي وو. خو د طوريجو ښه والی دا و چې له کمونيزم نه يې جلا کار کاوه او دا دعوه يې هم نه کوله چې دده خوځښت (تحريک) ګني کوم انقلاب دی. ده به ساده خبره کوله چې پانامه خپل حقونه لري او يو حق يې پر هغه کانال واک دی چې همدا هيواد او ددې هيواد خلک يې په دوو برخو ويشلي دي. تر څنګ به يې دا هم ويل چې ددوی حقونه هم د امريکا د حقونو هومره قانوني او سپېڅلي دي.

طوريجو په دې هم نيوکه کوله چې د کانال دواړو خواو ته پرته امريکايي ساحه کې يو ښوونځي او يوه پوځي اکاډمي جوړ شوي او له کلونو راهيسي يې د لاتينې امريکا د چارواکو اولادونو ته د زده کړو بلنه کيږي. له شمالي امريکا بهر بله داسې هېڅ اداره نشته چې ددې ادارو سيالي دې وکړای شي. دلته دوی ته د جګړو، پوځي ماموريتونو او وسلو روزنه ورکول کيږي. موخه يې دا وه چې کمونيزم سره مبارزه وکړي او خپل د نفتو شرکتونه او نورې پانګې خوندي وساتي. دوی ته دا فرصت هم ورکول کېده ځ ، له لو، ىه،ه امر ىکاي چارواکو سره نږدې اړيکې جوړې کړي.

دې اسانتياوو نه نه حو شتمنو کورنيو پرته، د لاتينې امريکا ټولو وګړو په بده سترګه کتل. ددې ادارو په اړه ويل کېدل چې وژونکې ډلې (Death

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

Squad) او خورونکي (Torturers) روزي او همدا خلک بیا د نړۍ په ډېرو ملتونو کې ډله ایز نظامونه رامنځته کوي. طوریجو ښکاره اعلان وکړ چې د پانامې د کانال په څنډو کې داسې روزنیزې ادارې نه شي زغملای. ٦
د ښایسته جنرال څېره او ترې لاندې لیکل شوی شعار مې چې ولیدل نو په زړه مې وېره ننوته.
شعار و چې:
(د عمر فکر خپلواکي ده او تر اوسه داسې توغندی نه دی جوړ شوی چې فکر ووژني.)
ما فکر کاوه چې په شلمه پېړۍ کې لا د پانامې کیسه پای ته نه ده رسیدلې خو طوریجو کوم ستونزمن یا غالباً د یوې غمیزې حالت ته روانه کړې وه.
له ترافیکي اشارې چې تېر شو په خپل موقف مې فکر وکړ، زه دلته د یوه تړون پوره کولو لپاره راستول شوی وم. دا تړون په راتلونکي کې د MAIN لومړی ستر حقیقي پرمختیایي ماستر پلان و. ددې پلان له مخې په دې واړه هیواد کې نړیوال بانک، نړیوال پرمختیایي بانک او USAID ادارو ته د میلیونونو ډالرو د پانګونې جواز په لاس ورته. دا یو دام و چې پکې له ښکیل کېدو وروسته به پانامه په پورونو کې ډوبېده او بېرته به خپل لاس پوڅي حالت ته ستنیدله.
تیکسي چې روانه شوه د جرم د احساس یوه قوي څپه راباندې راغله، خو زر مې په شا وتبموله. اوس مې د څه پروا لرله؟ د جاوا په معامله کې مې لاس اورد کړی و. ځان مې پلورلای و ... اوس مې نو د ژوند جوړولو له ټولو فرصتو ښه ګټه اخیستی شوه. په یوه څپه کې زه ښه مشهور، شتمن او واکدار کېدای شوم.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

۱ د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې کتابونه ولولئ:

- "The path Between the Seas: The Creation of the panama canal ۱۸۷۰-۱۹۱٤"- David Mc Cullough.
- "Protrait of the Panama Canal: From construction to the Twenty-First Century: William Frair.

۲

"Zapta Petorbeum Corp." "Fortun" اپریل میاشت ۱۹۵۸ مخ ۲۴۸.

- "Initiative in Enegry: Dresser industries, inc, ۱۸۸۰-۱۹۸۷" Darwin Payne.
- Inside job: The Looting of America's savings and loans"- Stere pizzo.
- "Dark Alliance: The CIA, the Contras, and the Crack Cocaine Explosion"- Gary Webb.
- "They Will Be Done, The conquest of the Amazon: Nelson Rockfeller and Evangelism in the Age of Oil"- Gerard Colby Charlotte Dennet.

۳

- "The Memoirs orf Manuel Noriega, America's prisoner"- Manuel Noriega with Peter Eisner.
- "Omar Torrijos herrara, Ideario.
- "Conversations With the General" – Graham greene.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

٤

- "Conversations with the General" - Graham Greene.
- "The Memoirs orf Manuel Noriega, America's prisoner". Manuel Noriega with Peter Eisner.

٥

- " A Language Older then words" Dirrick Jensen.

٦ د ۴ شمېرې لاندې یاد شوي کتابونه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram: https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

یوولسم فصل

پانامه د قزاقانو پر وړاندې

په سبا راته د پانامې حکومت یو کس د چکر راکولو لپاره راواستاوه. نوم یې فیډل و او په ما دستي ښه ولګېد. دا لوړ دنګ سړی په لیدو کې ښه درون او خوداره انسان معلومېده. پلار نیکه یې له بولیور سره یو ځای د هسپانیې پر ضد د خپلواکۍ جګړه کړې وه. ما ورته وویل چې تامسن پین مې خپلوانو کې راځي. بیا یې راته وویل چې Common sense کتاب یې په هسپانوي ژبه لوستی دی نو زه ښځي احساساتي شوم. هغه انګلیسي ویله خو چې پوه شو زه یې په مورنۍ ژبه (هسپانوي) رواني خبرې کولای شم، نو احساسات یې د لیدو وړ وو.

راته یې وویل: (ستا ډېر هیوادوال له کلونو دلته اوسېدلي خو زموږ ژبه یې یو ټکی هم نه ده زده کړې.)

فیډل زه د ښار خوشالو سیمو ته بوتلم، دا ځای یې نیوپانامه باله. لوړې ښیښه یې ودانۍ مو چې ولیدې نو فیډل راته کړل، دلته نړیوال بانکونه دومره ډېر دي چې په ریو ګرینډې (د مکسیکو جنوب ته پروت هیواد) کې به هم دومره نه وي.

بیا یې زیاته کړه: زموږ هیواد ته زیاتره خلک امریکایي سویټزر لنډ وایي، ښایي همدا لامل وي چې له خپلو اړوندو خلکو ډېرې پوښتنې نه کوو.

مازیګر چې لمر په بحرالکاهل کې ډوبیده نو موږ په هغه لار واچول چې د خلیج له لوړو ژورو .سره څنګ په څنګ روانه وه او لویو بېړیو پکې لنګرونه اچولي وو. ما فیډل وپوښته چې په کانال کې څه خبره ده؟

هغه موسکی شو: دلته هر وخت دا حال وي، اوږده قطارونه نوبت ته ولاړ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وي. نړدې نيمايي بيړۍ يا جاپان ته ځي يا ترې راځي، له امريکا هم يو څه ورزيات.

ما ومنله چې دا راته يو خبر دی.

بيا يې وويل: زه ورته ډېر حيران نه يم، ځکه د شمالي امريکا خلک د نړۍ په اړه ډېر نه پوهېږي.)

بيا يو ښايسته پارک کې تم شو، له لوحې داسې ښکاريدل چې دا يوه کلا وه او دې کلا ښار د انګليسي قزاقي جنګياليو له يرغله خوندي ساته. يوې کورنۍ د مانښامنۍ ميلې چمتوالی کاوه. په کورنۍ کې مور، پلار، زوی او لور وو. تر څنګ يې يو بل سپين ږيری سړی هم و چې د ماشومانو نيکه ښکاريده. ما چې ددې خلکو اطمينان ته وکتل نو په ما کې يې هم يو اطمينان راپيدا کړ. مور چې ورنږدې شو مېرمن او خاونديې موسک شول او په انګليسي يې راته ښه راغلاست وويل. ما ترې وپوښتل چې سيالانيان ياست؟ سړی موسکی شو او راپاڅيده.

په ډېر فخر يې څرګنده کړه چې (زه اوس د کانال په ساحه کې د درېيم نسل استازی يم. د کانال له جوړيدو درې کاله وروسته مې نيکه دلته راغلی و، هغه به د کچرو او ټيکټر په مرسته بيړۍ کش کولې ، بيا يې پاخه عمر سړي ته اشاره وکړه، دا مې پلار دی، انجينر و او زه هم د همده په پله روان يم.)

ښځې له خپل خسر او ماشومانو سره په کار کې مرسته کوله، تر شا يې سور لمر په شنو اوبو کې ډوبيده، دير ښايسته او زړه راښکونکی منظر و، ماته يې د مونيټ Monet انځورګري رایاده کړه، ما ترې وپوښتل چې تاسو امريکايي وګړي يئ؟

په حيرانتيا يې راوکتل ويې ويل: (بالکل ! د کانال ساحه (کېنال زون) د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

امریکا سیمه ده.) هلک رامنډه کړه، پلار ته یې وویل چې دوډۍ تیاره ده.
(ستا زوی به د څلورم نسل استازیتوب کوي؟) ومې لیدل چې لاسونه یې د
دعا په انداز اسمان ته پورته کړل او ویې ویل: (زه هره ورځ دعا کوم چې
خدای ده ته هم همدا فرصت ورکړي، په زون (کانال زون) کې ژوند ښکلی
دی.) بیا یې لاسونه ښکته کړل او د فیډل سترګو ته یې وکتل: (زه هیله
من یم چې نیمه پیړۍ خو به پرې موږ واکمن یو، دا د طوریجو په نوم
ټولواک ډېر خطرناک دی، ډېره کیسه یې راخیستې ده.)
اوس زه باید زه تللی وای، په هسپانوي ژبه مې ورته وویل: (الوداع، زه هیله
لرم چې ته او کورنۍ دې دلته خوښ اوسئ او د پانامې د تمدن په اړه ډېر
څه زده کړئ.)
په غوسه یې راوکتل : (زه ددوی ژبه نه وایم) همداسې یې خپل زوی خواته
منډه کړه.
فیډل رانږدې شو، زما په اوږه یې لاس کېښود، لږ زور یې ورکړ او ویې
ویل: ډېره ډېره مننه
بېرته چې ښار ته ستانه شو فیډل یوه داسې ځای ته بوتلم چې کارونه یې
ټول خام وو، ویې ویل: دا زموږ تر ټولو بده سیمه ده، خو له دې ځایه به ته
پوه شې.)
په کوڅو کې چټلې اوبه ډنډ وې، زاړه او خام کورونه داسې ښکاریدل لکه له
کلونو زړې کښتۍ چې د چټلو اوبوپه غاړه ولاړې وي. څنګه چې په دې
کلي ورننوتو د پړسیدلو خېټو لرونکو ماشومانو رامنډې کړې، دې سره یو وړم
ر چې روان شوم نو ماشومانو کاکا کاکا راغږ کړ او
د خیرات غوښتو لپاره یې لاسونه را اوږده کړل، دې سره جاکارتا رایاده شوه.
کورونه په چونه سپین شوي وو، په ځینو یې د زړه ننبې رسم شوې وې اود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هلک او نجلۍ نومونه پرې ليکل شوي وو، خو په ډېرو نورو يې بيا امريکا ضد شعارونه کښل شوي وو لکه: (سور مخو! خپلو کورونو ته لاړ شئ)، (زمونږ په کانال کې چټلي مه اچوئ)، (سام کاکا (انکل) د غلامانو سوداګر)، (نيکسن بايد پوه شي چې پانامه ويتنام نه دی). يو شعار پکې داسې و چې زما زړه يې ولړزاوه (د خپلواکۍ په لار مرګ د عيسى عليه سلام لاره ده.) او په دې شعارونو کې بيا ځای پر ځای د عمر طوريجو انځورنو راځړول شوي وو.

فيډل راته وويل: (دا د سکې بل مخ دی، زه رسمي اجازه لرم او ته امريکايي وګړی يې؛ نو کانال ته په تلو کې هېڅ ستونزه نه لرو.) د شنه اسمان په څنډو لا سرخي خپره وه چې د کانال ساحې ته لاړو، ما چې کوم څه غوښتل ليدل هغه لږ لرې وو. ددې ځای شتمني بې سارې وه. لويې سپينې ودانۍ، ښکلي ميدانونه، ښايسته کورونه، د ګلف ميدان، لويې مغازې او سينما... .

فيډل وويل: دا رښتيا ده چې دلته هر څه د امريکا ملکيت دی. ټوله سوداګري، مغازې، سقاوې، سينګارتونونه، هوټلونه ... يعنې هر څه او دا ټول د پانامې له قوانينو او ماليات‌و معاف دي. دلته اوه د ګلف ميدانونه دي، ځای په ځای د امريکا پوسټ دفترونه دي، امريکايي ښوونځي او محکمې پکې فعاليت کوي، يعنې رښتيا دا ده چې دا د حکومت دننه بل حکومت ددی.

(دومره سپکاوی!) له خولې مې بېواکه دا خبره ووتله.

فيډل راوکتل او ويې ويل: (هو! دې حالت ته همدا جمله مناسبه ده) بيا يې د ښار يوې څنډې ته اشاره وکړه (هلته د سړي سر کلنی عايد ۱۰۰۰ ډالره دی او د بيکارۍ کچه يې ۳۰٪ ده او هغه خام کلي ته چې لاړو هلته خو دا

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

عاید تر زړو هم نه رسیږي او یو نیم پکې چرته په سخته کوم روزګار پیدا کولای شي.)

ما وپوښتل : (ددې لپاره څه کېږي؟)

په سترګو کې یې غوسه په خفګان واوښته، را ویې کتل، سر یې ټیټ کړ:

(مور څه کولای شو؟ زه نور نه پوهېږم خو د طوریجو له لاسه چې څه کیږي کوي، که په دې لاره یې سر ځي بیا به هم دومره کوي چې له وسه یې پوره وي، دا داسې سړی دی چې د خپل ولس لپاره جنګیږي او که یې سر پکې ځي هم دریغ ترې نه کوي.)

مور چې د کانال له ساحې راوتو فیډل راته په خندا وویل: (نڅا دې خوښیږي؟) زما ځواب ته په تمه نه شو، زیاته یې کړه : (راځه اول به ډوډۍ وخورو، بیا به درته د پانامې یو بل انځور وښییم.)

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دولسم فصل

سرتېري او نخاګري

تر ډوډۍ خوړلو وروسته په يوه تياره کوڅه ننوتو. فيډل مشوره راکړه چې په دې لاره بايد پياده لاړ نه شم: (دلته چې کله راتلې نو تر مخامخ دروازې حتمن په ټيکسي کې څه، دې ځای نه هاخوا بيا د کانال ساحه پيل کيږي.) زه يې د لاس په اشاره پوه کړم.

هغه موټر چلاوه، پراخه ځای له موټرو ډک و، تش ځای يې وليد او موټر يې پکې وداروه. يو بوډا سړی زموږ خواته راغی، فيډل ورکوز شو، هغه يې په خېټه وټپاوه، بيا يې د موټر په ښيښه يې لاس کېښود، په لاس کې يې ورته يو لوټ ونيوه ورته وويل : (دا ګوره په ما ډېر ګران دی، پام پرې کوه.)

له تمځايه راووتو، کوڅې ته چې ننوتو، ګورم چې کوڅه رڼاګانو په سر اخيستې. دوه ماشومان مو په منډه له څنګه تېر شول. دوه لرګي يې په لاس کې وو چې د ټوپکو غوندې يې يو بل پرې په نښه کول او په خوله به يې ډزې ورسره کولې. يو د فيډل له پښو سره ولګيد، ماشوم ودريد، شاته يې وکتل بيا يې په هسپانوي ژبه ښښنه وغوښته.

فيډل خپل دواړه لاسونه د خواږه ماشوم په اوږو کېښودل، ويې ويل: (هېڅ خبره نشته، څه نه دي شوي، خو ته راته دا ووايه چې تا او ملګري دې په څه شي ډزې کولې؟)

بل ماشوم هم راورسيده، له لومړي ماشومه يې خپل دواړه لاسونه داسې تاو کړل لکه د هغه د ساتنې مسئوليت چې ترسره کوي، ويې ويل: (دا مې ورور ... يم.)

فيډل په نرمه لهجه وويل: (ته مه خفه کيږه، هېڅ ام نه دي شوي، ما ترې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

یوازې دا وپوښتل چې په چا مو دزې کولې؟ زما یادیږي چې یو وخت به دا
هم داسې لوبې کولې.)
دواړو ماشومانو یو بل ته وکتل، موسکي شول او مشر یې وویل: (مور د
کانال د ساحې جنرال په نښه کړې و، هغه غوښتل مور سره مې بداخلاقي
وکي او زه یې بېرته خپل اصلي ځای ته لېږم.)
فیډل د سترګو په کونج کې راوکتل ، ویې ویل: (اصلي ځای یې چېرته
دی؟ ماشوم ځواب ورکړ : (خپل کور یې ، یعنې امریکا.)
(ښه ستا مور دلته کار کوي؟)
دواړوماشومانو په ډېر فخر د کوڅې په سر کې یوې روښانه لوحې ته اشاره
وکړه: (هو، هلته، په هغه بار (مېکده) کې کار کوي.)
فیډل دواړو ته په لاس کې یوه یوه سکه کېښوده او ورته یې وویل: (اوس
ځئ، خو ګوره پام کوئ، رڼا کې لاړ شئ، تیاره کې مه ځئ.) دواړوماشومانو
منته وکړه او منډې یې کړې.
په تلو تلو کې راته فیډل وویل چې د پانامې ښځو ته د ځان پلورلو
(فحاشۍ) اجازه نشته. ددې کار لپاره له بهره ښځې راوستل کیږي. دوی
په بار کې کار کولای شي، نڅا کولای شي، خو د ځان پلورلو اجازه نه لري.
مونږ یوه بار ته ورننوتو، یوې مشهورې امریکایي سندرې په لوړ غږ د خلکو
غوږونه ځورول. په دروازه کې څو لوړ دنګ امریکایي پوځیان ولاړ وو. د
دریشۍ له ښو یې ښکاریدل چې پوځي پولیس (ملیټري پولیس MP) دي.
[illegible] ستیج مې چې ولید. درې ځوانو مېرمنې پرې
نڅیدې، له سر پرته یې نور بدن لوڅ و، یوې یې د ماڼو (کښتۍ چلوونکیا)
[illegible] بلې شنه پوځي اودرېیمې یې د (کاوبوای) خولۍ په
[illegible] ې زړه رانښکونکی و او ډېر یې خندل. داسې ښکاریدل

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې په خپلو کې کومه لوبه یا په نڅا کې سره سیالي کوي. ددوی موسیقي، نڅا او ستیج ښځې د بوستون هغو ته ورته و خو یوازې لوڅو بدنونو یې توپیر درلود.

موږ ځانته لار وکړه او یو انګلیسي ویونکې ډلې سره یو ځای شو، که څه هم دوی بنیان او پطلون اغوستی و، خو له ویښتو یې ښکاریدل چې د کانال د ساحې د پوځي اډې اړوند دي. فیډل د یوې خدمتګارې په اوږه لاس کیښود، هغې چې مخ را واړاوه، له خولې یې چیغه ووته دواړه لاسونه یې له فیډل نه تاو کړ. د ځوانانو یوې ډلې ورته په ځیر راکتل، دا کار یې خوښ نه شو او د شکایت په ډول یې یو بل ته سره وکتل. خدمتګارې موږ یوه کونج ته بوتلو او نه پوهېږم له کومه ځایه یې یو مېز اودوه څوکۍ راپیدا کړې.

موږ چې څنګه په ځای کې کېناستو فیډل راسره په خواکې ناستو دوو کسانو سره په هسپانوي ژبه روغبړ وکړ. ددوی کالیو پوځیانو سره توپیر درلود، نیمه لستوڼي لرونکې کمیسونه او پرتوګونه یې اغوستي وو. خدمتګارې څو بوتله بیر راوړل اوبېرته لاړه. هغې چې مخ واړوه، فیډل یې پنډۍ زور کړه، هغې مخ را واړوه، ویې خندل او یوه هوایي مچکه (بوسه) یې فیډل ته راولیږله. ما شاوخوا وکتل او ډاډه شوم چې بار کې شته ځوانان راته متوجه نه دي. هغوی په نڅاګرو سترګې خښې کړې وې. په خلکوکې زیاتره هغه پوځیان وو چې انګلیسي خبرې یې کولې، ځینې نور خلک هم وو، لکه زموږ په خوا کې ناست خلک چې پانامایي وګړي وو. هغوی له لیرې پېژندل کېدل. وو او ځینو نورو یې بیا دیوالونو ته تکیه وهلې وه. دوی نیغ ولاړ وو، لکه د رمې سپي چې تل متوجې وي. ښځې له مېزونو ګردچاپېره ګرځېدې، کله به د چا په غېږه کې کېناستې،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کله به یې په خدمتګارو چیغې وهلې او کله به یې په نڅا کې سندرې ویلې.
کله کله به سټیج ته هم ورتللې، لباسونه یې ښځي تنګ او نري وو، یوې یې
ویکټوریایي کمیس اغوستی و او نقاب یې هم پر مخ و، یوې بلې یې بیا
یوازې نیکر او سینه بند Bikini ترلي وو. دلته د ډېرو ښایسته ښځو د ښکلولو
فرصت پیدا کېده. ما ځان سره فکر کاوه چې داسې څومره ښځو به پانامې
ته مخه کړې وي او کومو مجبوریو به خوارانې دلته راوستې وي.

په لوړه موسیقۍ کې مې فیډل نه تقریباً په چیغه دا وپوښتل چې دا ټولې
بهرنۍ دي؟ د سر به خوځولو یې هو وکړل، بیا یې خدمتګارې ته اشاره وکړه
او ویې ویل: (بې له دې، دا د پانامې ده.) زما په پوښتلو یې معلومات
راکړل چې دا نورې ټولې له هاندوراس، السلویډور، نکاراګوا او ګویټې مالا
نه راغي. ما یو پیغور ورکړ چې ټولې مو ګاونډیانې دي، راته یې وویل چې
نه دومره نږدې هم نه دي، زموږ په ګاونډیانو کې تر ټولو نږدې یې سټارکا
او کولمبیا دي. هغه خدمتګاره چې مېز یې راته برابر کړی و؛ بیا راپیدا شوه
او د فیډل په پنډۍ کېناسته، فیډل یې ملا ورتېښنوله ، بیا یې د سر په
حرکت سټیج ته اشاره وکړه او ویې ویل:

(کلارئیسا ! زموږ د شمالي امریکا دې ملګرې ته ووایه چې دوی ولې خپل
هیوادونه پرېښي دي.) درې نوې نجونې راغلې، په سټیج ولاړو پخوانیو
نجونو نه یې خولۍ واخیستې ، هغوی سټیج نه ښکته شوې او خپل کالي
یې واغوستل.

د موسیقۍ سُر بدل شو، نوې راغلې چې څومره له موسیقۍ سره برابرېدې
همدومره یې کالي وتل، کلارئیسا خپل چپ لاس اوږد کړ او ویې ویل:
[illegible] خوشاله شوم) پاڅېده او زموږ تش بوتلونه یې ټول کړل زیاته
یې کړه : (او د فیډل د پوښتنې په ځواب کې به ووایم چې دا نجونې دلته له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ویرې او وژنو راتښتیدلي دي، زه تاسو ته نور بیر راوړم.)
هغه چې روانه شوه فیډل ته مې وویل : (ته یې ښکاره ولې نه وایې چې دوی دلته د امریکایي ډالرو ګټلو لپاره راغلي دي.)
(سمه ده ! خو ددې خبرې څه ځواب دی چې دا ټولې له هغو ملکونو راغلي چې فاشست جابرانه نظام پکې پلی دی.)
زما سترګې ستیج ته واوښتې، درې واړو نجونو په کړس خندل او د پلورونکو خولې یې د فوټبال په څېر هاخوا دیخوا غورځوله. ما د فیډل سترګو ته وکتل او ومې ول : (ته خو به ټوکې نه کوې؟)
هغه په جدي لهجه ځواب راکړ، ښخي نه، کاشکې دا ټوکې وای، له دوی ډېرې یې له خپلو کورنیو بې برخې دي، د چا پلار نشته، د چا ورور نشته، د چا خاوند نشته او د چا مئین نشته. دوی د مرګ او ځور په غېږه کې رالویې شوي دي ، اوس ورته دا نڅا او نڅاګري دومره بده خبره نه ده، دوی دلته پیسې ګټې، بیا به لاړې شي چېرته به نوی ژوند پیل کړي، د چایو کوم هوټل یا دوکان به جوړ کړي او خپل ژوند به کوي.
بار (میکدې) سره نږدې غالمغال شو، دده پام ور واوښت، ومې لیدل چې خدمتګارې یوه پوځي ته ګوته وښنډله، هغه یې لاس ونیوه او مټ یې پرې تاو کړ، جینۍ چیغې کړې او په ګونډو شوه. پوځي په کړس وخندل او خپلو ملګرو سره یې مستي پیل کړه، ټولو په لوړ غږ خندل، خدمتګارې غوښتل په خپل خوشې لاس په سرتېري وار وکړي. هغه یې لاس نور هم تاو کړ، د دردله امله د نجلۍ څېره واوښته.
د ملټري پولیسو منصوبینو دا حالت لیده او غلي ولاړ وو. فیډل پورته شو او بار خواته . .. ـ . ـه ناست یوه کس یې مخه ونیوله، ورته یې ... اودریږه وروره ! اوس به هر څه سم شي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ستېج خواته يو لوړ پانامه يي وګړی رانښکاره شو، د پيشو غونډې بې بې له ۸
کومه غږه بيا په يو شېبه کې د پوخي سر ته ولاړ و، په يوه لاس يې د پوخي
مری ونيوله او په بل لاس يې د هغه په مخ اوبه ور واړولې. خدمتګاره له
منځه ووته، څو نورو پانامايي وګړو پوخي ونيو او بار ته يې اړم کړ، څه يې
ورته وويل خو ما وانه وريدل. بيا يې په دومره لوړ غږ وويل چې د موسيقۍ
په شور کې مې هم واوريدل، په واضحه يې انګليسي لګيا شو: (تاسو ته دا
خدمتګاره جايزه نه ده او اوس خو يوه هم نه شئ لمس کولای، تر څو مو
چې پيسې نه وي ورکړي.)

اوس دواړه MP را روان شول. د پانامه يانو ګڼې ګوڼې ته راغلل او ويې ويل
: (موږ دی له دې ځايه بوځو) پانامه يي هغه پوخي ځمکې ته ښکته کړ او
ورمېږ يې ورتاو کړ، پوخي له درده تاو شو، پانامه يي وويل :
(ته زما په خبره پوه شوې؟) له لاندې ټيټ او لړځيدلی غږ راغی (ښه پوه
شوم) بيا يې پوخي هماغو دوو ساتونکو ته ورټيله کړ او په غوسه يې وويل :
(له دې ځايه ورکيږه نو.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دیارلسم فصل

جنرال سره خبرې اترې

ددې بلنیک هیله مې نه لرله. د ۱۹۷۲ ز کال ددې سفر په یوه سهار خپل دفتر کې ناست وم، دا دفتر راته د پانامې د برېښنا دولتي شرکت راکړی و. زه له ارقامو سره بوخت وم چې یو کس ورو دروازه وټکوله. ما ورته د راتلو وویل او په زړه کې دې ته خوښ شوم چې له وچو ارقامو مې د پام بدلولو یوه بهانه پیدا کړه. ځان یې د جنرال موټروان راوپېژند او ویل یې چې د جنرال لیدلو ته باید ورسره لاړ شم.

یو ساعت وروسته د جنرال عمر طوریجو مخ ته ناست وم. ساده پانامه یي کالي یې په ځان وو، پطلون او د نیمه لستوني لرونکی کمیس، تنې یې تولې ترلې وې، قمیص یې خام آبي رنګ و، ځینې ځایونو کې یې دیزاین ښې ښکارېدې، لوړ دنګ سړی و، د خپلو دومره مسئولیتونو سره بیا هم ډېر مطمئین ښکارېده،په پراخه تنده یې تور وېښتان پراته وو.

زما د اندونیزیا، ایران او ګویتي مالا د سفرونو په اړه یې راته وویل درې واړو هیوادونو سره یې لیوالتیا لرله خو د ایران له شاه محمد رضا شاه پلوي سره یې لیوالتیا ښخي زیاته وه. شاه په ۱۹۴۱ ز کال کې هله واک ته ورسید چې انګلیسانو او امریکایانو یې په ګډه د پلار حکومت په دې تور چپه کړ، چې ګوندې له هټلر سره پټې اړیکې لري. ۱

طوریجو راته وویل: (ته دا منلی شې چې یو څوک دې د خپل پلار پر ضد دسیسه کې لاس ولري او هغه دې له واکه لیرې کړي؟)

د پانامې ولسمشر ددې پراخه هیواد له تاریخه ښه خبر و. موږ ښایسته شببه په دې خبرې کولې چې په ۱۹۵۱ ز کال کې د ایران د شاه پر ضد څنګه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خلک راپورته شول او خپل لومړی وزیر محمد مصدق یې جلاوطنۍ ته اړویسته.

طوریجو او بلکې توله نړۍ پوهېده چې د امریکا CIA په محمد مصدق د کمونېزم تاپه لګولې وه او همدوی شاه هم بیا خلې واک ته رواست. دا لکه چې په دې نه پوهېده یا به یې یادونه نه کوله چې ددې ټولو تر شا د روز ویلټ چالاکي او مکاري هم پرته وه اودا د استعمار د یوه نوي دور پیلامه وه. د نړیوالې امپراتورۍ د قیام لپاره چې کوم اور کرل شوی و دا یې لومړۍ سپرغۍ وه. دا ټولې کیسې ماته کلاډین کړې وې.

طوریجو خپلو خبرو ته دوام ورکړ : (شاه چې بیا پر واک شو نو څو انقلابي کارونه یې وکړل، ددې کارونو موخه صنعتي پرمختګ و چې ایران نوي دور ته ننباسي.)

ما ترې وپوښتل چې د ایران په اړه څومره پوهېږې؟

ویې ویل: (دا معلومات ساتل زما دنده ده. زه شاه ته په ښه سترګه نه ګورم، څکه د خپل پلار د څپلو لپاره بل سره ودریدل ښه نه دي، دی د واک ترلاسه کولو لپاره د CIA لاسپوڅې شو خو اوس چې د خپل هیواد د پرمختګ لپاره کوم کارونه کوي؛ نو که یو څه وخت ژوندی پاتې شي ډېر څه به ترې زده کړم.

(ته فکر کوې چې هغه نه ژغورل کیږي؟)

(دښمنان یې قوي دي)

(د نړۍ تر ټولو ښه ساتونکي به یې هم دفاع ونه کړای شي؟)

په تریخ نظر یې راوکتل : (د هغه په شخصي پولیسو (ساواک) کې ډېر ... ي، دې سره یې ملګري نه زیاتېږي او ډېر وخت دوام نه شي کولای.) یوه شېبه غلی شو، بیایې سترګې وګرځولې : (ته د ساتونکو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خبره کوې، زه هم یو څو لرم.) دروازې ته یې لاس ونیو ویې ویل: (ته څه فکر کوې، که ستا هیواد وغواړي چې مانه ځان بیغمه کړي؛ نو دا ساتونکي مې ترې ژغورلای شي؟)

ما ترې وپوښتل چې آیا رښتیا هم داسې خطر احساسوې؟

هغه داسې غبرګون وښود چې زه باید پر خپله پوښتنه پښېمان شوی وی: (ته پوهېږې چې موږ د پانامې کانال لرو او دا معامله تر آربنز او یونایټېډ فروټ ډېره ژوره ده.)

ما په ګوېټمې مالا ډېره څېړنه کړې او د طوریجو د خبرې تل ته په اسانه ورسیدم، د سیاسي ارزښت له مخې د یونایټډ فروټ مسئله ددوی د پانامې له کانال سره برابره وه. دا شرکت د اتلسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې رامنځته شو، خو ډېر زر د منځنۍ امریکا د قوي شرکتونو په قطار کې ودرید. په ۱۹۵۰ ز کال کې جاکوب آربنز د اصلاحاتو په نامه د ګوېټمې مالا ولسمشر وټاکل شو. دا ټاکنه د نیمایي کُرې لپاره د جمهوریت یوه نمونه وګرځېده او خلکو یې تود هر کلی وکړ. په دې وخت کې د ګوېټمې مالا له درې سلنه کم خلک د هیواد د اولس سلنه ځمکې خاوندان وو. آربنز ژمنه وکړه چې قحط ځپلي خلک به له دې لوږې خلاصوي، تر ټاکل کېدو وروسته یې په پراخه کچه کرنیز اصلاحات راپیل کړل.

طوریجو بیا خبرې پیل کړې: (غریبې او منځنۍ طبقې په ټوله ګوېټمې مالا کې د آربنز کړنې وستایلې، ما هغه خپل اتل (ایډیال) ومانه او په اړه مې یې ډېر فکر کاوه. زه پوهېدم چې یونایټډ فروټ شرکت یې کلک مخالف دی، ځکه هغه خپله د یوه سرسخته او لوی زمیندار شرکت و. په کولمبیا، کوستاریکا، کیوبا، جمیکا، نکاراګوا، سانتو دومینګو او دلته پانامه کې یې

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هم داسې ګڼې خوندي وې او دا خبره هغه هېڅکله نه منله چې د آربنز له نظرياتو دې زموږ په شان نور هيوادونه هم اغېزمن شي.

تر دې وروسته په هر څه پوهېدم. يونايټډ فروټ غوښتل د امريکا ولس او کانګرېس ته دا باور ورکړي چې آربنيز د روسيه کس دی او ګوټيمي مالا د روسيه د غېږې بچې دی. شرکت د خپلې موخې لپاره د عامه اړيکو يو قوي کمپاين پيل کړ، بلاخره په ۱۹۴۵ ز کال کې د CIA په زور حکومت بدل شو. امريکايي الوتکو په ګوټيمي مالا ښار بمبار وکړ او د جاکوب آربنز جمهوري حکوت يې نسکور کړ. ددې پر ځای کېڼ لاسی ظالم ديکتاتور کارلوس کاستېلو ارماس واک ته ورسيد.

نوی حکومت د يونايټډ فرو ټ شرکت منندوی و. د منني په ډول يې ټول رامنځته شوي کرنيز اصلاحات ختم کړل. د بهرنيو سوداګرو په ګټه او عايد يې لګيدلې ماليه ختمه کړه. د پټو رايو شمېرلوطريقه يې بنده کړه او زندانونه يې له خپلو مخالفينو ډک کړل. چا يې چې پر ضد خبره کوله هغه يې وځپل. د شلمې پيړۍ په پاتې کلونو کې چې په ګوټيمې مالا کې د ترهګرۍ او تاوتريخوالي کومې څپې راغلې؛ تاريخپوهان يې د يونايټډ فروټ شرکت، CIA او ديکتاتور کيستېلو له لاسو ګڼي. ۲

طوريجو زياته کړه : (آربنز ووژل شو، سياسي قتل شو او شخصيت يې ووژل شو.) يوه شېبه غلی و، بيا يې کړل : (آمريکايي ولس د CIA دا چټلې خنګه ښه وبلله؟ زه په دومره اسانه نه ځم. زما په پوخ کې زما خپل خلک دي.) بيا يې يوه ترخه موسکا وکړه : (په سياسي قتل هېڅ نه کيږي، زما د وژلو لپاره بايد CIA خپله لاس په کار شي.)

... په خپلو فکرونو کې ډوب وو. طوريجو دا چوپتيا ماته کړه، رامخکې شو علي يې وويل : (اوس زه بيشتېل Bechtel سره مخ يم.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ددې په اوریدو هک پک شوم، بیشټل د نړۍ تر ټولو ستر او قوي انجينري شرکت او په زیاترو پروژو کې د MAIN شریک دی. ما فکر وکړ چې د پانامې په ماسټرپلان کې زموږ په مخالفينو کې یو دا هم دی.
په حیرانتیا مې وپوښت: (ته څه ویل غواړې؟)
(موږ غواړو د پانامې یو نوی کانال وکینو، دا کانال به د بحر له سطحې سره برابر وي او هیڅ ډول lock به نه لري. سترې بیړۍ به ترې په اسانه تېرېږي. زه باوري يم چې جاپان به يې ځمن مالي مسئولیت پر غاړه واخلي.)
(حتماً، څکه همانغو له دې کاناله ډېره ګټه اخلي.)
(ته رښتیا وايي، که هغوی يې مالي مسئوليت واخلي؛ نو ښکاره خبره ده چې جوړوي به يې هم.)
ما ځان سره وويل چې د بيشټل کيسه خو ختمه شوه.
بيا يې وويل: (د معاصر تاريخ تر ټولو ستره ساختماني پروژه... ته پوهېږې په بيشټل کې څوک دي؟ نکسن، فورډ او د بوش لاسپوڅي (بوش په ملګرو ملتونو کې د امريکا سفير و او فورډ د هاوس مانتري ليډر او د جمهوري غوښتونکو ملي کنوانيسون مشر و) زه پوه شوی يم چې د جمهوري غوښتونکو ګوند واګې د بيشټل کورنۍ په لاسونو کې دي.)
دې خبرو زه ډېر ناآرامه کړم، زه له هغو کسانو وم چې ددې ټول نظام په منځ ته راتګ او دوام کې مې ونډه لرله اوطوريجو له دې نظامه کرکه لرله. خو زه په دې پوهېدم چې طوريجو زما له ونډې ښه خبر دی. زما کاري مسئوليت دا و چې طوريجو قانع کړم. په دې يې بايد قانع کړم چې دا پروژه امريکايي شرکتونو ته ورکړي او له نړيوال بانکه ورته پور واخلي. خو زه پدې پوهېدم چې زما ټول منطق له يوه لوی ديوال سره ټکر کيږي او دې سړي سره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

مخامخ کېدل اوس حتمي وو.

ما وپوښتل : (جنرال صیب، زه مو ولې راغوښتی یم؟)

خپل ساعت ته یې وکتل، موسکی شو: (ښه ! راځه چې اوس خپلې خبرې وکړو، پانامه ستا مرستې ته اړتیا لري.)

ما حواس وبایلل : (زما مرستې ته؟ څه درته کولای شم؟)

هغه په خپله څوکۍ کې تکیه ووهله او ویې ویل : (موږ د پانامې کانال بېرته اخلو، خو یوازې دا کفایت نه کوي، موږ باید یو بې سارې ماډل (نمونه) جوړ کړو. موږ باید خپلو وړو ورونو ته دا باور ورکړو چې ددوی غم راسره دی او دا باید سپینه کړو چې زموږ خپلواکي پر موږ د چین، روسیه یا کیوبا احسان نه دی. موږ نړۍ ته دا ښیو چې پانامه یو بامسئولیته هیواد دی، له امریکا سره دښمنی نه کوو، خو دومره وایو چې خپل ټول قوت خپل بېوزله ولس ته وقف کوو.)

بیا یې پښه پر بله واړوله : (ددې کار لپاره باید یو داسې اقتصادي بنسټ رامنځته کړو چې په ټوله نیمه کره کې ساری ونه لري. برېښنا! هو برېښنا مو پکار ده، خو داسې برېښنا چې زموږ لیرې پراته او بېوزله خلک ورته لاس رسی ولري او نرخ یې ټیټ وي، د لار او لېږ د وسایلو په اړه مې هم ورته فکر دی. پردې سربېره کرنه هم د یوه ځانګړي پام غوښتونکې ده، دا ټول کارونه په پیسو کیږي او پیسې به له کومه راځي؟ پیسې به ستاسو وی، د نړیوال بانک او د بین الامریکایي پرمختیایي بانک.

ماته رامخکې شو، زما سترګو ته یې وکتل او زیاته یې کړه : (زه پوهېږم ستاسو شرکت کار غواړي، کار ورته پیدا کیږي، خو د پروژو حجم به یې له اندازې او اړتیا ډېر زیات وي، لکه لویې لارې، بندونه، بندرګاه ... خو زموږ وي. ته ماته هغه څه راکړه چې زموږ ولس ورته ربښتیا اړتیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لري او زه به تاته ددې ټول کار درکړم، چې ته ورته اړتيا لرې.)

ده چي کوم وړانديز کاوه، ببخي مې تمه ترې نه وه. دده پلان مې چې واوريد هک پک شوم او يوه عجيبه ولوله راکې په څپو شوه. دا خو د هغو ټولو خبرو رد و چې په MAIN کې مو زده کړې وې. دی د بهرنيو پورونو په اړه ښه پوهېده چې موخه يې يوازې د ولسونو پوروړي کول وو. دا مرسته يوازې ددې لپاره کېده چې پانامه د امريکا او سوداگرۍ تر لاس لاندې شي. ددې مرستو يوازينۍ موخه دا وه چې پانامه د تقدير د ليک (Manifet- Destiny) په لاره راونه شي او د تل لپاره د واشنگتن او وال ستريټ گوتو ته ورشي. هغه په دې ښه پوهېده چې زموږ د نظام فرضيه څه ده، دا چې يو واکمن کس خاين او بې ايمانه شي، که کوم څوک داسې پيدا شو چې واک به يې د خپل ولس د گټې لپاره کاراوه؛ نو دا بيا موږ ته خطر و. دا يو ډول بغاوت و چې د غبرگون يوه لړۍ يې پيل کولای شوه او زموږ نظام يې رسوا کولای شو.

د مېز شاته ناست کس ته ځير شوم، هغه ډاډه و چې د پانامې د کانال له امله يې قوت درلود او همدې خبرې له يوې اندېښنې او بې باورۍ سره هم مخ کړی و. هغه بايد ډېر احتياط کړی وی. هغه له مخکې هم ځان ددې سيمې د رهبرانو رهبر گاڼه. که د خپل ايډيال آربنز په څېر ده هم سينه سپر کړې وی؛ نو ټوله نړۍ به ددې ننداري ليدو ته په تمه وه. پوښتنه دا وه چې د امپراتورۍ جوړولو ددې نظام غبرگون به څه وي؟ بلکې اصلي خبره دا وه چې د امريکا غبرگون به څه وي؟ د لاتيني امريکا تاريخ له اتلانو (قهرمانانو) ډک پروت دی.

ما خپلو کارونو ته د جواز لپاره يوه کيسه جوړه کړې وه او کوم کس چې راته مخامخ ناست و هغه غوښتل چې دا کيسه باطله کړي. دې انسان به ډېرې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نیمګړتیاوې لرلې خو بحري قزاق نه و. هغه د هنري مارګن یا فرانس ډریک غوندې کس نه و چې د انګلیسي شاه د لیکونو په لړ کې یې بحري قزاقانو ته جواز ورکړی وی. په لویه لاره دده تر انځور لاندې کنبل شوی شعار ډېر بد نه و چې :

(د عمر فکر خپلواکي ده او په نړۍ کې داسې توغندی نه دی جوړ شوی چې فکر ووژني.)

تام پین Tom Paineهم نږدې همداسې خبره کړې وه

ما په دې شعار فکر کاوه، زه دا منم چې افکار نه وژل کیږي خو تر شا یې چې کوم ژوندي خلک دي هغوی سره څه کیږي؟ ماسره یوه بله پوښتنه پیدا شوه، که طوریجو باید د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړي نو زما کړنلاره به څه وي؟

موږ چې جلا شو؛ نو دواړه په دې پوهېدو چې د ماستر پلان پروژه به MAIN ته ورکول کیږي ، زما کار به دا وي چې موږ د طوریجو له پلان سره سمه بولي ووهو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خوالې

- "The Shah's Last Ride: The Fate an Ally" ...
shwcross.
- "All the Shah's Men: An American coup...." ...
knizer>

- د زينر، يونايټډ فروټ پر ګويټي مالا د تاوتريخوالي په اړه ډېر ښه ليکل شوي دي : لکه

- " A people's History of the United States" : Howard z ...
- "For the Record: The United Fruit Company's ... Year in Gautemala": Diane K.Stanbey
- " The Banana Republic: The united ... Company"http://www.mayapradise.com/L flce.htm
- "CIA Involved in Guatemala Coup, ۱۹۵٤" http://www.english.up.enn.edu\-afilries\٥٠s\gautemala.html

- ش د کمپنۍ د ملوث کېدو پر ثبوت د پوهېدو لپاره :

" Zapata Petrpleum corp". April ۱۹۵۸ "fortune"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded by: Afghan Salar Library

خوارلسم فصل

د اقتصادي تاریخ لانجمنه دوره

په MAIN کې زه د ارشد اقتصاد پوه په توګه د يوې برخې مشر وم. د دې
خبرتو او مطالعاتو څارنه هم زما مسئولیت و چې موږ به د نړۍ د اقتصادي
وضیعت په اړه کولې. پر دې سربېره مې باید ځان هم د معاصرې دورې د
نویو اقتصادي نظریاتو او لیوالتیاوو خبر کړی وی.

په ۱۹۲۰ لسیزه کې ځینې نفتوصادرووںکو هیوادونو د اوپیک (OPEC) په
نوم یوسازمان رامنځته کړ. موخه یې د نفتو د سترو تصفیه کوونکو شرکتونو
ماتول وو. ایران هم پکې یو مهم عنصر و. که څه هم د ایران شاه د ځیرک
ژوند، کورنۍ او واک لپاره له امریکا منندوی و. ځکه همدې امریکا د محمد
مصدق په وخت کې مجرمانه مداخله وکړه او د ایران شاه یې وژغوره. نه
بلې خوا شاید همدې اندېښنې د ایران شاه هم یوه فکر ته اړ کړی وي: چې
کېدای شي لوبه یې بیا پر وړاندې چپه شي.

د نفتو په پېسو ماړه د څو نورو هیوادونو مشران هم وو، چې له همدې حالت
سره مخ وو او ورته وېره یې محسوسوله. د تېلو لویو شرکتونو ته یې (اوه
خویندې) (Siven Sister) ویل. دوی هم د تېلو د بیو د کنټرول لپاره یوه
جلا ټولنه رامنځته کړې وه، چې تر ټولو ډېره ګټه خپل جیب ته واچوي.
ددی پر ضد او غبرګون کې د اوپیک په نامه د نفتو د صادرووںکو هیوادونو
ګډ سازمان رامنځته شو.

۱۹۷۰ کال کې OPEC ډېرې لویې صنعتي ستې په ګوندو کړې. په دې
وخت کې د OPEC غړو هیوادونو له خوا د اقداماتو یوه لړۍ پیل شوه چې
بلاخره یې سر د تېلو په صادرولو بندیز ته ورسید. دې سره د امریکا د تېلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په پمپونو کې د موټرو اوږده قطارونه ودریدل. داسې فکر کېده چې یوه ستر اقتصادي بحران د امریکا خواته مخه کړې ده. د نړۍ زیاترو سترو اقتصادي قوتونو ته دا یوه ستره ضربه وه. ددې سترې ضربې د زیان محاسبه د لږو خلکو له وسه پوره وه.

د تېلو د بحران دا موده د امریکا تر ټولو بدمرغه شېبې وې. د امریکا ولس دانتشار ښکار و، وېره يې په رګونو ننوتې وه، پر ځان يې باور نه درلود. دې ولس د ویتنام په شرمیدلې جګړه کې خوړلې ټپونه ځټل او پر دې ټولو سربېره يې ولسمشر هم استعفا کړې وه. د ولسمشر نېکسن ستونزې تر ختیځې آسیا او واټر ګېټ محدودې نه وې، هغه په داسې ځای کې ولاړ و چې د نړیوال سیاست او اقتصاد یوه نوې دوره ترې روښانه ښکاریده. دې وخت کې داسې ښکاریده.چې د OPEC په ګډون (شپږ ورونه) د قوت خواته روان دي.

ما له دې حالته خوند اخیست، زما روزي که څه هم له کارپوریټوکراسۍ وه، خو ځان سره به مې ویل چې دوی مې باداران ښه ځای ته روان کړي دي. کېدای شي په دې خبره به مې د جرم احساس یو څه قلاریده. ماد تصور په سترګه ټامس پین د OPECپه دې کارونو خوښ لیده.

د تېلو په لیږد چې بندیز ولګید، هغه وخت مو ددې سختې احساس نه کړه. موږ خپل څو نظریات لرل چې له امله يې موږ پر دیوال لیکل نه شول لوستی. چې اوبه له ورخه تېرې شوې؛ نو موږ ایله پوه شو چې د تېلو تر بحران وروسته مو د اقتصادي پرمختګ کچه د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو پر پله ۵۰٪ کمه شوې ده او دا هم د قوي انفلاسیون په بدل کې. هر څه چې وشول له بنسټیزه اړخه بېخې بدل وو. دې سره کار ورک او خلک اوزګار شول. تر ټولو مهمه دا چې د مالیاتو نړیوال نظام ګډوډ شو. د ثابتې تبادلې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بیه Fixed exchange rate بیه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته بنه ساتل شوې وه خو اوس هغه هم رالویده.

هغه وخت زما دا عادت و چې ملګرو سره په ناسته کې به مې پر دې موضوع خبرې اترې کولې. ځینو یې ما لپاره کار کاوه چې زما خپل پرسونل هم پکې شامل و. دوی ټول ډېر وینښ او فکري کسان وو. زیاتره پکې خوانان وو او د روایت له مخې د خپل ازاد فکر خاوندان وو. نور خلک بیا د بوسټون پوهان، د ځایي پوهنتونونو استادان او یو د کوم کانګرس معین هم و. په دې غیر رسمي ناسته کې به موږ زیاتره وخت له دوو تر لسګونو تنو ګډون کاوه، بحثونه به تل خواږه، خوندور او ژوندي وو.

ماسره ډېرې داسې خبرې وې چې نه به مې کولې، زیاتره ملګرو به مې په ډېر فخر د خپلې پوهې او اړیکو خبرې کولې. ما به ددوی د ټولو غوږو خواب د یوه ستر شرکت د هغه ارشد اقتصاد پوه په توګه ورکاوه، چې نړۍ یې لیدلې وه او تل یې د الوتکې په لومړۍ درجه صالون (فرسټ کلاس) کې سفر کړی و. دې سره مې هم ورته د طوریجو په شان سترو خلکو سره د ناستې پاستې خبرې نه کولې او نه مې ورته دا رازونه ویل چې موږ هیوادونه څنګه په خپل جال کې نښلوو. دا ټولې خبرې په یو وخت کې زما د تکبر، ناارامۍ او ذهني انتشار لامل شوې وې.

موږ به چې د (شپږ ورونو) د قوت په اړه خبرې کولې؛ پر ځان به مې ډېر کنټرول کاوه. زه پوهېدم دوی یو هم په دې نه پوهېږي چې کارپوریټوکراسي، ددوی اقتصادي جنایتکار او ګیدړان (Jackals) د پردې تر شا ناست دي او دې ورو قوتونو ته هېڅکله واک په لاس نه ورکوي. ددې خبرې ثابتولو لپاره آربنز، مصدق او په ۱۹۷۴ ز کال کې د CIA په لاسو د چیلي د ولسمشر سلاوادور الاندې حکومت ړنګول یې ښې بېلګې دي. زه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په دې پوهېدم چې د نړيوالي امپراتورۍ دايره راتنګيږي او دا ټول د OPEC د کارونو اغېز و. ما لومړۍ هسې شک کاوه خو وروسته په دې باوري شوم چې دا دايره د OPEC په وسيله تنګيږي.

زموږ د خبرو اصلي محور به زياتره وخت د ۱۹۷۰ او ۱۹۳۰ کلونو د پېښو ورته والی و. ۱۹۳۰ لسيزه په نړيوال اقتصاد کې د بدلون ښکارندويي وه؛ مثلاً پر دې د فکر کولو طريقه، ددې افکار او د تجزيې لارې. دا هغه دور و چې د کينز KEYNES اقتصادي نظريات په زور کې وو. دا خبره مشهوره شوه چې د بازار په کنټرول او د عامه خدمتونو په چمتو کولو کې بايد حکومت ونډه ولري. اوس هغه پخوانی فکر مړ شوی و چې ويل به يې بازار خپله لاره خپله ټاکي او د حکومت لاسوهنه بايد پکې کمه وي. ۱

د بحران DEPRESSION پايله د NEW DEAL په شکل راڅرګنده شوه او داسې پاليسی عملي شوې چې په مرسته يې د اقتصادي حالت د قابو کولو ليواليتاوې، په مالي معاملو کې د حکومت چټکتيا او د عامه ماليات‌و (ماليه، بوديجه، سود) کچه لوړه شوه[1]. ددې تر څنګ همدا حالت او دويمه نړيواله جګړه ددې لامل شوه چې ځينې ادارې رامنځته شي؛ لکه : نړيوال بانک، نړيوال مالياتي فنډ او د سوداګرۍ او محصولاتو عمومي تړون:

(Gatt : Genral Agreement on Trade and Tariff) ... . ۱۹۶۰ مه لسيزه ددې دورې مرکزي وخت و، دا دوره هغه وخت هم په ګوته کوي چې معاصر اقتصادي نظريات پرېښودل شوي وو او پرځای يې د کينز اقتصادي

---

[1] NEW DEAL : دا هغه پاليسي وه چې د امريکا ولسمشر روز ويليټ په ۱۹۳۳ کال کې د ۱۹۲۹ ز کال د بحران د قابو کولو لپاره عملي کړه. د NEW DEAL کليمه يې ۱۹۳۲ ز کال کې په شيکاګو کې يوه کنوانسيون ته د وينا پر مهال وکاروله. دا يې د ولسمشريزو ټاکنو د کمپاين يو مهم ټکی و. ددې پاليسی له مخې ځينې داسې کارونه وشول چې اغېزې يې په اوږدمهال کې راښکاره شوې؛ خو د امريکايانو له طبيعت سره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By Afghan Salar Library

نظريات خپلبدل. د کينډي او جانسون په اداره کې اوج ته رسيدلي وه او
پوازينی کس رابرټ ميکنامارا و چې په دې ټول منظر يې تر نورو ډېر اغېز
درلود.

زموږ د بحث پر ډلې د ميکنامارا اغېز زور و. داسې ويلای شو چې ميکنامارا
به په غيبانه ډول زموږ په بحثونو کې برخه لرله. موږ دده له شهرت او
پرمختګه خبر وو، دا ښاغلی په ۱۹۴۹ ز کال کې د فورډ شرکت د پلان
مدير او په ۱۹٦۰ زکال کې ددې شرکت پوازينی هغه رئيس شو چې د فورډ
کورنۍ غړی نه و او څه وخت وروسته کينيډي همدا سړی خپل د دفاع وزير
وټاکه.

ميکنامارا د کينز د نظرياتو پر بنسټ د حکومتي اقتصادي پاليسی د جوړولو
تر ټولو ستر وکيل و. ده د حسابي او ارقامي ماډل په مرسته د ويتنام د
جګړې پاليسي، پوځي ډلې او د دوی اړتياوو سرچينې بيا له سره ترتيب
کړې. دده د تېرګرې رهبریAggressive leadership شعار د حکومتي
چارواکو تر څنګ سوداګرو ته هم يوه نمونه وګرځېده. د پرمختللو ملتونو په
اقتصادي ښوونيزو ادارو کې دا فلسفه ومنل شوه. له دې بيا د اجرايه
رئيسانو (CEO: Chief Executive officers) هغه ځوانه ډله راووته چې د
نړيوالې امپراتورۍ تېرګر سرلاري (علمبردارن) شول. ۱

موږ به چې پر نړيوال اقتصاد خبرې کولې؛ نو د ميکنامارا شخصيت به ډېر
ستايل کېده. موږ ته به زياتره وخت هغه شخصيت مخې ته ودريد چې د
نړيوال بانک د مشر په توګه دده پېژندګلوي وه. دا پوسټ يې د دفاع وزارت
تر پرېښودو څومياشتې وروسته اشغال کړی و. زما زياترو ملګرو به پر دې
کنامارا شخصيت د نظامي او صنعتي ځانګړنو ټولګه وه.
هغه د يوه ستر شرکت رئيس و، بيا د دفاع وزير شو او اوس د نړۍ د ستر

Downloaded By: Afghan Salar Library

بانک مقتدر مشر دی. د واک په ویش کې دا دومره سخت و، چې خلک ترې وېربدل خو زه ددې حالت په لیدو بېخي نه حیرانیدم.
اوس چې ګورم نو په تاریخ کې د میکنا مارا تر ټولو ستره شراچوونکې ونډه دا وه چې نړیوال بانک یې په ډېره ستره کچه د نړیوالې امپراتورۍ استازی کړ او دومره لویه کچه تر دې دمه نه وه لیدل شوې. ده یوه بده نمونه پرېښوده. د کارپوریټوکراسۍ اصلي ستنې یې داسې سره په یو ترتیب برابرې کړې چې اوس یې دده ځای ناستي اسانه په یوې سترې نمونې (ماډل) بدلولای شوې. مثلاً جورج شټلز د نېکسن په کابینه کې د خزانې وزیر او د اقتصادي پالیسي جوړونې د کمیسون مشر و او پردې سربېره یې د بیشتېل شرکت ریاست هم کاوه. تر دې وروسته بیا د ریګن په کابینه کې بهرنیو چارو وزارت قلمدان هم له ده سره و. همدارنګه کیسپر وین برګر و، دا د بیشتېل شرکت معاون و او وروسته بیا د ریګن په کابینه کې د دفاع وزیر شو. د جانسن په وخت کې ریچارد هیلمز د CIA مشر و، د نیکسن په وخت کې په ایران کې سفیر شو، د جورج ډبیلو بوش په وخت کې د دفاع وزیر و، وروسته بیا هالي برټن مشر و او د همدې بوش معاون هم و. یوازې دا نه ده، همدا جورج ډبلیو بوش په خپله د زباپاټا پطرولیم شرکت بنسټګر د نیکسن او فورډ په دورو کې په ملګرو ملتونو کې د امریکا سفیر و او بیا د ولسمشر فورډ په وخت کې د CIA مشر شو.
اوس چې شاته ګورم نو دنیا راته ډېره ساده ښکاري، په ډېرو مسایلو کې مو هغه وخت د نړیوالې امپراتورۍ د رامنځته کولو لپاره زړې حربې وکارولې. په اصل کې کرمټ روز ویلټ موږ ته ډېره ښه لاره راو ودله. ده په بریا ایران ک ي نظام رنګ کړ او پر ځای یې یو تولواک سه واک ته ورساوه. هغه وخت موږ اقتصادي جنایتکارو په اندونیزیا او

Scanned by CamScanner

Downloaded by: Afghan Salar Library

اکوادور غونډې هیوادونو کې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره هڅې کولې. خو دډې پر وړاندې بیا ویتنام یوه بېلګه وه او له دې بېلګې معلومیدل چې پخوانی انداز بېرته خپلول څومره اسان دي.

ددې حالت د بدلولو لپاره د OPEC یوه مهم غړي سعودي عربستان ته سخته اړتیا وه.

حوالې

۱: "Robert S. McNamara: ۸th Secertary of Defense", Https;/www.defenselink.mil

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځلسم فصل

د سعودي عربستان د پېسو مېنځلو قضيه

د ۱۹۷۴ ز کال خبره ده، د سعودي د سفارت یوه کارکوونکي د خپلې پلازمېنې رياض يو څو انځورونه راوښودل. په يوه انځور کې مې وليدل چې د اوزو يوه رمه د يوې دولتي ودانۍ په خواکې ګرځي او په پرتو ځنځلو کې خوله وهي. ما چې د سفارت له کارکوونکي ددې حالت پوښتنه وکړه نو ځواب يې زه ښځي هک پک کړم. هغه راته وويل چې دا د ښار د ځنځلو پاکولو تر ټولو ښه وسيله ده.

ويل يې چې : (هېڅ يو قدرمن عرب دې ځنځلو ته لاس نه ور وړي، موږ دا کار څارويو ته پرېښي دي.)

زه ښځي حيران شوم، چې د تېلو د دومره لوی صادرووونکي هېواد په دولتي ودانۍ کې اوزې ګرځي او ځنځلې خوري.

دې وخت کې زه د مشاورينو د هغې ډلې غړی وم چې د تېلو بحران ته يې حل لاره لټوله. دې اوزو په يوه ټکي پوه کړم چې ستونزې ته حل څنګه پيدا کېدای شي.

سياست او اقتصاد ته د مذهب (دين) ورننوتل، په اصل کې هغه عنصر و چې د تېلو په ليږد يې بنديز لګولی و او لويديځه نړۍ يې لړزولې وه. د ۱۹۷۳ زکال د اکتوبر په ۱۶ مه نېټه د يهودانو لوی مذهبی جشن (Yom kippur) و، په همدې ورځ مصر او شام په ګډه پر اسرايلو بريد وکړ. همدا جګړه د اکتوبر پيل و. دا د عربو او اسرايلو څلورمه او تر ټولو سخته جګړه وه، همدې جګړې ټوله نړۍ اغېزمنه کړه. د مصر ولسمشر سادات پر شاه فيصل فشار راوړ، ورته يې وويل چې امريکا له اسرايلو ملاتړ کوي او ته د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

امریکا پر ضد د تېلو وسله وکاروه. د همدې کال د اکتوبر په ۱٦مه نېټه ایران او سعودي په ګډون څلورو نورو عربي هیوادونو د تېلو بیه ۱۷٪ سلنه لوړه کړه.

د کویټ په ښار کې د عربو د تېلو وزیران سره راټول شول او پر یوه بل متبادل وړاندیز یې فکر کاوه. د عراق استازي په ډېر شد او مد سره خپل دا نظر وړکړ چې امریکا دې په نښه شي. ده د ډلې له هر غړي سره جلا جلا وکتل او ورته یې وویل چې په عربو کې دې د امریکا ټولې ګټې بندې شي، امریکا او هغو متحدینو ته دې یې چې له اسراییلو سره ملګري لري د تېلو په صادرولو بندیز ولګي. تر څنګ دې یې له امریکایي بانکونو د عربو ټولې پیسې راوویستل شي. دده هدف دا و چې د امریکا په بانکونو کې پرتې پیسې که عربان بېرته ترې واخلي؛ نو خلکو نه به د ۱۹۲۹ ز کال اقتصادي بحران هېر شي.

د عربو نور وزیران له داسې انقلابي کړنو وېرېدل، خو بیا یې هم ویل چې یو څه باید وشي، ددې لپاره یې د بندیزونو لړۍ له پنځه سلنه کمې پیل کړه او هره میاشت به زیاتېده، تر دی چې دوی خپلې سیاسي موخې ترلاسه کړي. په دې یې سره هوکړه وکړه چې امریکا ته به د اسراییل دوستانه پالیسی سزا حتمن ورکوي، نو څکه پرې بندیزونه باید ډېر شي. په دې ناسته کې د ځینو هیوادونو استازو وویل چې د پنځو سلنو پر ځای به لس سلنه کمی راوړي.

د اکتوبر په ۱۹ مه ولسمشر نېکسن له کانګرسه وغوښتل چې اسرایلو سره دې دوه میلیارده ډالر مرسته وکړي. په سبا یې سعودي عربستان او نورو هیوادونو امریکا ته د تېلو صدور بند کړ. ۱

۱۹۷۴ ز کال د مارچ په ۱۸ مه نېټه ختم شو. ددې لړو شپو اغېز ډېر زیات ژور و. د سعودي د یو بېرل تېلو بیه د ۱۹۷۰ کال د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

جوړي په لومړي نېټه ۳۹ ډالره وه او څلور کاله وروسته یې ۸،۳۲ ډالره زیاتوالی راغی. (۲) سیاسیونو او اینده سنجوونکو هغه سبق هېر نه کړ چې د ۱۹۷۰ ز کال په پیل او منځ کې ورکړل شوی و خو بلاخره پایله دا شوه چې دې ژور ټکان کارپوریټوکراسي لاپسې ځواکمنه کړه.

د دې درې واړه ستنو (لوی شرکتونه، نړیوال بانک او حکومت) تر منځ اړیکې په بې ساري ډول پخې شوې او یو تلپاتې اتحاد یې رامنځته کړ. ددې بندیز اغېز په چلندونواو پالیسیو کې د بدلون په ډول راڅرګند شو. وال سټریټ او واشنګټن په دې پوه شول چې په راتلونکي کې دا ډول بندیزونه نه زغمل کیږي. د تېلو پر صادراتو ډاډمنیدل زموږ په کاري لومړیتوبونو کې و. ۱۹۷۳ ز کال نه وروسته خو بېخي زموږ د ساه رګ ګرځیدلی و. سعودي د تېلو د بندیز له امله په نړیوال سیاست کې ډېر ارزښت ترلاسه کړ او امریکا په دې پوهه شوه چې د خپل اقتصاد لپاره یې سعودي عربستان څومره مهم دی. پر دې سربېره یادو بندیزونو د کارپوریټوکراسی رهبران نورو لارو لټولو ته اړیستل چې په مرسته یې د تېلو ګټه د امریکا تر خزانو را ورسوي. دوی پر دې ښه فکر وکړ چې سعودي عربستان نه عصري وسایل (مشینري) لري او نه هم داسې منظمه اداره شته چې له ځمکې راخوټېدونکي تېل په منظمه توګه اداره کړي.

دلته د سعودي لپاره دا شتمني یوازې یو اسماني نعمت و. ملي خزانه یې له ډالرو ډکه وه؛ خو د شتمنی دې سیلاب یوه بله ملي شتمني ډوبه کړه او هغه شتمني یې د (وهابیت) عقیده وه چې تر دې دمه پرې کلک عمل کېده. شتمنو عربانو په امریکا او اروپا کې سیلونه کول او د هغه ځای په مشهورو پوهنتونو کې یې زده کړې کولې. ګران بیه موټرې او کورونه یې اخیستل او له لویدیځ په را واردو شویو توکو یې سینګارول. سختې

Scanned by CamScanner

Downloaded by: Afghan Salar Library

لرغونپرستي عقيدې خپل ځای یوې نوې ماده پرستۍ ته پرېښوده او په همدې ماده پرستۍ کې د تېلو د راتلونکي بحران حل لاره پرته وه. (دا ماده پرستي چې څومره زیاته شي د تېلو بحران به ورسره همدومره زر حل کیږي.)

بندیز (embargo) چې ختم شو؛ نو واشنګټن له سعودي سره اړیکې ښې کړې، ټکنالوجیکي مرستې، پوځي وسایل او روزنه او شلمې پیړۍ ته د عربانو ته راوستلو وړاندیز. ددې په مقابل کې عربانو دوی ته په تېلو ګټل شوي ډالر (پیټرو ډالر) او دا باور ورکاوه چې په تېلو به بیا ځلي بندیز نه لګیږي.

ددې مذاکراتو په لړ کې یو بې ساری سازمان رامنځته شو. د سعودي عربستان او امریکا ګډ اقتصادي کمیسیون Uninted states/Saudi Arabian Join Economic Commission چې (JECOR) په يې باله. دې کې یو بې ساری وړاندیز وشو، دا وړاندیز شته بهرنیو مرستو د پروګرام برعکس و. اوس به د سعوي له دولته امریکایي اداري په مزدوری اخیستل کیږي، چې په سعودي کې بیارغونه وکړي.

که څه هم ددې کمیسیون اداره او مالي ملاتړ د امریکا د مالیې وزارت په لاس کې و، خو بیا يې هم بشپړه خپلواکي لرله. دې اداري باید په پنځه ویشتو کلونو کې میلیاردونه ډالر لګولي وای او د خوند خبره دا ده چې په دې پیسو کانګرس هېڅ واک نه درلود.

دا چې په دې پیسو کې د امریکا یو سینټ هم نه مصرفیده؛ نو د امریکا د مالیې وزارت د ناڅیزه ونډې سره بیا هم کانګرس پکې کار نه درلود. ډیوېډ هولډن David Holden او ریچارډ جانز Rechard johns چې JACOR ښه وڅېړه؛ نو ویې ویل چې: (امریکا چې تر اوسه مخ پر ودې هیوادونو سره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوم تړونونه کړي دي، دا يې بېخي بدل او د اوږدمهالو اغېزو پر بنسټ جوړ شوي دي. په دې تړون کې دا وړتيا شته چې په مرسته يې امريکا په سعودي عربستان کې خپلې ريښې وځغلوي او له امله يې د (ګډ انحصار) فکر لا پسې ځواکمن شي.) ۳

د امريکا د ماليې وزارت ددې تړون په لومړيو کې MAIN شرکت له ځان سره د مشاور په توګه ملګرى کړ. زه يې وغوښتم راته يې وويل چې کار او مسئوليت دى ډېر ظريف او مهم دى، زه چې څه کوم او له کومې خبرې خبريږم؛ نو د يوه راز په توګه يې بايد وساتم. ما چې مسلې ته له کومې زاويې کتل دا راته د غلا يوه پېښه ښکاريده. هغه وخت باور راکړل شوى و چې MAIN پکې يوازې يو مهم مشاور شرکت دى. خو وروسته پوه شوم چې د MAIN په ګډون د سلګونو نورو خلکو له کار او زياره ګټه اخيستل کېده.

دا چې هر څه پټ وو، زه په دې نه پوهېدم چې د حکومت او نورو مشاورو ادارو تر منځ څه خبرې شوي دي. زه نه پوهېدم چې په دې مسئله کې زما ونډه څومره ده؛ خو په دې پوهېدم چې د اقتصادي جنايتکارو کار معيار پکې بېخي جلا دى. ورسره په دې هم پوه شوم چې د نړيوالې امپراتورۍ د پراختيا لپاره د پخوانيو پر ځاى څو نوې او بې سارې حربې کارول کيږي.

زه پوهېدم چې زما له څېړنيزې مطالعې چې کومې پايلې اخيستل شوي هغه ګټورې دي او MAIN پرې په سعودي عربستان کې ښه غوړه پروژه ترلاسه کړه. وروسته په همدې کال کې په يوې سترې جايزې هم ونازول شوم.

زما کار وړاندوينه وه، ما بايد ويلي واى چې که د سعودي عربستان په دومره لويه شتمنى پانګونه وشي؛ نو پايله به يې څه وي؟ او دومره ډېرې پيسې بايد د کوم پلان له مخې ولګول شي. يعنې ماته ويل شوي وو چې د خپلې تخليقي وړتيا په مرسته بايد سعودي عربستان ته د ميلياردونو ډالرو د ليږد يو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

منطقي جواز وړاندې کړم. دې ته مې هم باید پام کړی وای چې د امریکا ساختماني او انجینري شرکتونه په کار کې شریک شي. ځانګړی هدایت راته دا وشو چې ټول کار باید یوازې زه وکړم او په دې برخه کې په خپل پرسونل هم باور نه شم کولای. زه یې له خپل ډیپارټمنټ نه جلا، څو پوړه پورته د کنفرانس خونې په یوه کونج کې کېنولم او وروستی ګوانې راته دا وشو چې کار مې په ملي سلامتی او د MAIN په ډېرو سترو ګټو پورې تړلی دی.

زه په دې پوه شوم چې اصلي موخې له معمول هغو سترې دي. دلته موخه یوازې د یوه هیواد پوروړي کول نه وو؛ پلان دا و چې د (پیټرو ډالرو) لویه برخه باید بېرته امریکا ته وګرځي. دې کار سره به سعودي عربستان راته رانږدي شي. پراخېدونکی اقتصاد به یې زموږ له اقتصاد سره ګډ شي او تر ټولو مهمه دا چې زموږ انحصار به پرې ډېر شي. پر دې سربېره به د لویدیځ په رنګ کې رنګ شي، زموږ چلند به ورسره خواخوږی وي او دوی به زموږ په نظام کې جذب شي.

ما چې کار پیل کړ، ځان سره مې فکر وکړ چې د ریاض په کوڅو کې ګرځېدونکې اوزې به ددې معاملې سمبولیکه کونجي ثابته شي. دا اوزې په اصل کې د عربانو خوږه (ټیپي) ګوته وه. که دا صحرایي امپراتوري غواړي عصري دور ته ننوځي نو ددې اوزو پرځای باید ورته یوه بله آله نصب شي. زه پوهېدم چې د OPEC اقتصاد پوهانو د تېلو صادرووونکو ته مشورې ورکولې، ورته یې ویل چې له خپلو تېلو دې خپل مصنوعات جوړ کړي چې ارزښت یې ورسره لوړ شي. ددې کارپوهانو ټینګار دا و چې یوازې د خامو تېلو کوهیانو ته دې نه کیني؛ خپل صنعتي پرمختګ ته دې هم لږ پام تېلو دې هغه مصنوعات جوړ کړي چې په نړۍ یې وپلوري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

او ښایسته ډېره ګټه ترې وکړي.

دې احساساتو زه یوې پالیسۍ ته بوتلم چې پوهېدم د ټولو خلکو به خوښه شي. اوزې خویوازې دننۍ بهانه وه، دې ځای نه کار پیل کېدای شو، موږ د تېلو په پېسو د هغو امریکایي شرکتونو خدمتونه پېرلای شول چې د اوزو پر ځای یې دې څخلو ته یو سیستم نصب کړی وی او سعودي هم ددې ټکنالوجیکي شهکار په لرلو سره خپله سترګه جګولای شوه.

ما فکر کاوه چې د اوزو فورمول خو د عصري ټکنالوجۍ یوه وړه برخه ده. دا فورمول نورو برخو ته هم پراخیدی شوه او په مرسته یې شاهي کورنۍ، امریکا او MAIN نښې بریاوې ترلاسه کولای شوې. زما په نظر له دې فورموله داسې صنعتي سکتور رامنځته کېدای شو چې خام تېل یې تصفیه کړي وای. په وچو دښتو کې سترې چانځونې (تصفیه خانې) جوړېدای شوې او ګردچاپېره ترې بیا بې شمېره صنعتي پارکونه زرغونیدای شول. ددې کار لپاره برښنا، لویو لارو، پایپ لاینونو، مخابراتو، ټرانسپورټ، هوایي اډو، بندرونو او بېلابېلو خدماتي شرکتونو ته اړتیا وه، خو ددې ټول نظام د چلولو لپاره ډېره شتمني پکار وه.

موږ دې پلان سره ډېرې لویې هیلې تړلې وې. موږ ویل دا به یوه داسې نمونه شي چې به موږ به یې په جګه سترګه ټولې نړۍ ته وړاندې کولای شو او نورو ځایونو کې به هم دا چارې ترسره کیږي. بیا به څه کیږي؟ په ټوله دنیا کې ګرځېدونکي عربان به زموږ سندرې وایي، د نورو هیوادونو مشران به سعودي عربستان ته رابلي او پرمختګونه به ورته ښیي او بیا به دا رهبران له موږ غواړي چې د هغوی د هیوادونو لپاره هم داسې پلانونه جوړ کړو؛ بیا به نو د OPEC له دایرې دباندې ځینې هیوادونه د نړیوال بانک په پورونو ک . . . . . به د نړیوالې امپراتورۍ تر ټولو ستر خدمت وي.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زه په همدې فکرونو کې ډوب وم چې د موټروان دا خبره مې تر غوږو شوه: (هېڅ قدرمن عرب دا خځلې نه راټولوي.) دا خبره به مې زیاتره ناستو کې اوریدلې وه چې عربان په خپلو خلکو ناوړه (سپک) کارونه نه کوي. دا کار که په کومه صنعتي اداره کې وي او که د کومې پروژې په عملي کولو کې. لومړی خبره دا وه چې د داسې کار کوونکي لږ وو، دویم لامل یې خپل ولس سره د سعودي شاهي کورنۍ هغه ژمنه وه، چې پر دوی به څه ناڅه زده کړې کوي او داسې ژوند به ورکوي چې مزدورۍ ته ورته هېڅ کار به پکې نه ځایږي. په نورو یې دا کارونه کولای شول؛ خو خپله ورته دا کار سپک او ناوړه ښکاریده.

ددې کار لپاره باید له بهره مزدوران راوستل شوي وی، دا کار له هغو هیوادونو شونی و چې خلک یې بېوزله او کار ته محتاج وو، د اړتیا پر وخت د منځنۍ اسیا له نورو او په ځانګړې ډول اسلامي هیوادونو (پاکستان، مصر، فلسطین، یمن.) نه مزدوران راوستل کېدای شول.

دې حالت د پرمختګ پالیسۍ ته ستر فرصتونه ورکړل، دې کارکوونکو ته په لویه کچه هستوګنځایونه پکار وو. تر څنګ یې سوداګریز مرکزونه، روغتونونه، اطفایه، پولیس، اوبه، ښاروالي، برښنا، مخابرات، ټرانسپورټ او نور مهم خدمتونه پکار وو. یعني په دې دښته کې باید نوي ښارونه اباد شوي وی. د کارونو کمی نه و، خصوصاً د ټکنالوجۍ په برخه کې؛ مثلاً د بحر اوبه تصفیه کول، روغتیا، انټرنټ او نور ستر مرکزونه.

سعودي عربستان د یوه پروژه جوړوونکی د خوب تعبیر کېدای شو. دا د ساختماني او انجینري کاورباریانو لپاره یو خیالي جنت هم ګڼل کېدای شو. د اقتصاد بی شمېره او بې ساري فرصتونه یې لرل. فکر یې هم ښکلی و:

یو ورر ... یواد، ښه ډېره شتمني لري او غواړي عصري دور ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بوښي.

ډېر نو ترې ډېر خوند اخیسته، ستونزه دا وه چې د ماډل (نمونې) لپاره مواد او ارقام نه په سعودي کې وو او د بوسټون په کتابتون کې. خو که د دومره نويي پروژې لپاره ارقام هم وای نو څنداني مرسته يې نه شوه کولای. دا د بوه هیواد بشپړ او بنسټيز بدلون و.

د دومره سترې څېړنې فکر هم چا نه کاوه. ما د خپل فکر له مخې داسې يو راپور ولیکه چې د سعودي راتلونکې پکې روښانه ښکاريده. ځينې عملي نسخې راسره وې د بوه میګاواټ برښنا د لګښت اندازه ترې کېده. د يوه میل سړک لګښت معلومیده، اوبه، مزدوران، ښاروالي خواره ... دا هر څه مې د هماغو نسخو له مخې محاسبه کړل. زما کار د دقیقو ارقامو وړاندې کول نه وو، يوازې غوښتل مې دومره ووايم چې کوم کارونه کېدای شي او لوی لګښتونه يې څه دي؟

زما اصلي موخې امریکايي کمپنیو ته ډېره ګټه او په سعودي د امریکا انحصار و او دا دواړه موخې يو بل سره تړلې وې. په نږدې وخت کې د ټولو پرمختیايي پروژو لپاره د عملي کېدو لارې چارې او خدمتونه پکار وو او دا پروژې يوازې هماغو شرکتونو کولای شوې چې لومړنی پلان يې جوړ کړی و. اوس باید هماغو شرکتونو ددې حفظ ،مراقبت او بیارغونه کړې وی. زه په دې پوه شوم چې د هرې پروژې لپاره باید دوه لړليکونه جوړ کړم، يو يې د ساختماني او ډيزاين تړون او بل يې د اوږدمهالي حفظ او مراقبت او اداري تړون. په راتلونکو کلونو کې به MAIN، BECHTEL ، Brown and Root ، Halliburton ، Stone and Webster او ډېر نور شرکتونه او قراردادیان ښې ډېرې پیسې وګټي.

تر دې سیمه اقتصا... ورهاخوا يوه بله کیسه هم وه چې سعودي

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

عربستان يې موږ ته کینولای شو. د تېلو په دې شتمن هیواد کې له نوي عصر سره د مخالفت څپه هم راتلای شوه. په لرغونپرستو مسلمانانو کې به غوسه راپیدا شي. اسرایل او نور هیوادونه به ترې خطر احساس کړي. ددې هیواد له صنعتي پرمختګه د یوه بل صنعت رامنځته کېدل اړین وو. د عربو د وچې دفاع ! د امریکا شخصي امنیتي شرکتونو او پوځ د پراخو او اوږدمهالو خدماتي تړونونو تمه لرله. ددوی په راتګ به د ساختماني او انجینري شرکتونو یوه بله کاري دوره پیل شي چې په هغو کې به هوایي ډګرونه، پوځي هډې، د توغندیو ساحې، بیزونه او نور کارونه شامل وي.

ما خپل راپورونه په یوه بند پاکټ کې د مالیې وزارت د پروژې مدیر ته واستول. کله کله به مې د خپل ټیم او د MAIN له رئیس او معاون سره ناسته پاسته کوله. څکه دې پروژې لا کوم رسمي وجود نه درلود او تر اوسه د څېړنې او پراختیا په مرحله کې وه. دا چې لا JECOR برخه نه وه ګرځېدلې نو موږ به له ټوکو SAMA بلله. ټول پوهېږي چې دا د Saudi Arabian Money Laundering Affairs مخفف دی.

ځینې وخت به دولتي استازي هم راسره وو، دوی به ځینې پوښتنې کولې، زیاتره وخت به ما له خپلو کارونو خبرول، د هغوی په خبرو به مې نظریات ورکول، ډاډ به مې ورکاوه چې تر خپله وسه به هڅه کوم. معاون او دولتي استازي رانه د اوږدمهاله خدماتو او اداري تړونونو له امله ډېر اغېزمن وو، معاون یوه ورځ یو مثال ورکړ، چې بیا به موږ یاداوه، ده وویل: سعودي عربستان هغه غوا ده چې موږ یې تر مانښامه او د خپل کار تر خلاصیدو لوشلای شو. خو ماته به پکې د غوا پر ځای اوزه ذهن ته راتلله.

په ناستو کې پوه شوم چې ځینو سیالو ادارو مو هم کار پیل کړی دی، موږ په تمه وو چې ددې زیار په بدل کې به غوړې پروژې واخلو. ما فکر کاوه

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې MAIN او نورې اداري به ددې لومړيو کارونو لګښت له خپله جېبه کوي. دوی دا جواري ددې لپاره کوله چې لوبې ته د ننوتلو لاره پيدا کړي. ډېر زر باوري شوم، څکه ما به د خپلې ورځنې کار مصرف له عمومي او اداري حسابه (General and Administrative over head account) نه اخيسته. دا کار به زياتره د هغو پروژو لپاره کېده چې لا به د څېړنې او پراختيا په حالت کې وې. په دې معامله کې لومړنی لګښت ډېر زيات و، خو معاون صيب په دې باور و چې بدل به يې تر دې ډېر زيات وي.

سره له دې چې سيالانو موهم کار کاوه خو موږ پوهېدو چې ميدان ډېر پراخه دی. زه نو په دې لوبه کې پوخ شوی وم او په دې پوهېدم چې زموږ معاوضه په رسمي دفترونو کې زموږ د کار د خونبولو پورې تړلې ده. ډېرې پروژې به هغو شرکتونو ته ورکول کيږي چې پلانونه يې په هر صورت د عملي کېدو وړ وی. ما دا کار ځانته يوه ننګونه وګڼله او داسې يو منظر مې وپنځاوه چې له ډيزاين نه تر ودانيزو چارو پورې ټول پړاوونه پکې شامل وو. په MAIN کې خو مې د بخت ستوری له مخکې لا ځليده، خو که موږ بريالي شوی وای نوبه SAMA کې د کليدی ونډې لرلو به دا ځلا لا پسې ډېره کړې وای.

په ناستو کې به مو دا ويل چې د SAMA او JECOR ماموريت به نوي معيارونه او بېلګې رامنځته کړي. دا يوه بې سارې لار وه، په هغو هيوادونو کې د ګټور کار فرصتونه برابر شوي وو چې نړيوال بانک نه يې پور اخيستو ته اړتيا نه لرله. ذهن ته مې راغلل چې ايران او عراق هم بايد په دې ليست کې ورزيات شي. د انسان فطرت دی چې ددې هيوادونو مشران به له سعودي عربستان اغېزمن کيږي. د ۱۹۷۰ ز کال د تېلو بنديز که څه هم په هغه وخت کې زيانمن و، خو اوس دا خبره پخه ده چې ياد بنديز به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ساختماني او انجينري شرکتونو ته ښې ګټې ورکوي او دا د نړيوالې امپراتورۍ د پراختيا يوه مهمه لاره وه.

په دې خيالي پلان مې اته مياشتې کار وکړ، په خپل کور يا د کنفرانسونو په شخصي خونه کې به يوازې ناست وم، نور پرسونل مې خپل کارونه پر مخ وړل شول خو زه به کله کله ځانې ته ورتلم. د وخت په تېريدو راز داري يو څه کمه شوه، ځينې نور خلک هم پوه شول چې په سعودي عربستان کې کومه خبره شته. اوازې خپرې شوې، د معاون او دولتي کسانو کړۍ هم پراخه شوه، لامل به ښايي دا و چې زموږ ورکړې معلومات به يې نورو سره شريکول.

ددې پرمختيايي پروژو په بدل کې امريکايانو له عربانو غوښتل چې د تېلو عرضه اوبيه دې د امريکا او متحدينو په خوښه وي البته تر ټاکلي حده بدلون پکې راتلای شي. که نور هيوادونه لکه، ايران، عراق، ونيزويلا... بندويزونه لګوي نو سعودي عربستان بايد د تېلو دا تشه ډکه کړي. ددې هيوادونو د بنديزونو ليرې کولو لپاره همدې کفايت کاوه چې موږ څه پاليسي اختيار کړې ده. ددې کار په بدل کې امريکا سعودي ته يو په زړه پورې وړانديز کاوه، دا سودا څه وه؟ دا باور چې امريکا به سعود کورنۍ سره ځرګنده سياسي او د اړتيا پر وخت پوځي مرسته کوي، چې په دې توګه به سعود کورنۍ د تل لپاره په عربستان واکمني کوي.

د سعودي ستراتيژيک موقيعت، پوځي کمی، له ايران، شام، عراق او اسرايلو خطر.... دا ټول هغه لاملونه وو چې سعودي يې دې سودا ته چمتو کاوه. له همدې حالته په ګټه امريکا يو بل دروند شرط کېښود، زه چې اوس ګورم نو وايم سعودي عربستان دا شرط څنګه ومانه؟ هيڅ باور مې نه کېده. شرط دا و چې سعودي عربستان به په خپلو (پيټرو ډالرو) د امريکا رسمي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

تضمين ليکونه (Security) پېري. له دې چې کوم سود ترلاسه کيږي هغه به د امريکا د ماليې وزارت په خپله خوښه ددې لپاره کاروي چې سعودي عربستان له منځني دور نه عصري دور ته ننباسي. که ساده يې ووايو نو د امريکا د تېلو په پېسو چې کوم ميلياردونه ډالر سود راځي، هغه به ددې خوب د پوره کولولپاره امريکايي شرکتونو ته ورکول کيږي. همدا خوب ما او ښايي زما سيالانو هم ليدلی و چې سعودي عربستان څنګه عصري دور ته ننوځي. اوس به د سعودي عربستان په لګښت زموږ خپله اداره موږ ته دا امر کوي چې په ټول سعودي عربستان کې سترې پروژې عملي شي او ښارونه اباد شي.

که څه عربانو دا حق درلود چې خپل نظر څرګند کړي، خو د سعودي عربستان د راتلونکې پلان اوس ټول د کافرو انجينرانو په لاس کې و. دا کار په هغه خاوره کېده چې نظام يې د وهابي عقيدې پر بنسټ رامنځته شوی و او کلونه کلونه يې سوداګريز نظام پر همدې اصولو روان و.

دا کار ډېر سخت و خو سعود کورنۍ د امريکا تر سياسي او پوځي فشار لاندې وه او بله لار يې نه لرله.

زموږ په نظر د ګټې وخت رارسيدلی و، دا بې سارې ګټوره سودا وه او خوند يې په دې کاوه چې د کانګرس تصويب ته يې اړتيا نه لرله. د کانګرس نه لاسوهنه شرکتونو ته ډېره د خوشالۍ خبره وه، ځکه شرکتونو نه غوښتل چې کاروباري تېري يې چاته ښکاره شي.

د منځني ختيځ د انستيټوت يو کدر او پخواني خبريال توماس والټرلپ ددې سودا په اړه ويلي وو چې :

(عربان پيسو سره لوبې کوي، دوی به د ماليې وزارت ته ميلياردونه ډالرورکړي، ډالر به تر هغه دوی سره وي چې شرکتونه او قراردادیان يې نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وغواړي. یعنې دا چې د سعودي شتمني به د امریکا په اقتصاد کې دورې وهي. دا خبره هم ترې ښکاره شوه چې په دې نظام کې شته خلک او عربان چې څه وغواړي هغه کولای شي او کانګرس پکې هېڅ کار نه لري.)

ددې تاریخي پروژې حدود تاکل اسان وو، ورپسې پوښتنه دا وه چې څنګه به عملي کیږي؟ ددې کار لپاره یو لوړپوړی چارواکی سعودي عربستان ته واستول شو. دا پټ ماموریت و، باوري نه یم خو دا کس به شاید هنری کسنجر و.

ددې کس لومړی کار د سعودي کورنۍ په دې پوهول وو، چې ډاکټر مصدق چې انګلستان تېل بند کړل نو څه ورسره وشو؟ دویم کار یې د پروژې داسې ښکلی انځور وړاندې کول وو چې عربان یې رد نشي کړی. عربان باید په دې پوه شوي وای چې له (هو) ویلو پرته بله لار نه لري. زه پوهېږم دا به یې ورته ویلي وي چې یا دې زموږ وړاندیز ومني او ارام ژوند دې وکړی؛ که نه نو د محمد مصدق له برخلیک سره به مخ شي، قاصد چې بېرته راستون شو، دا پیغام یې راوړ، چې سعودي عربستان زموږ خبره مني.

یو وړوکی خنډ دا پاتې و چې د سعودي عربستان د حکومت غړي لا نه وو همغږي شوي. موږ ته یې وویل چې دا د کور خبره ده. که څه هم په سعودي کې جمهوریت نشته خو پر یوې موضوع د سعود کورنۍ د ټولو غړو رضایت مهم دی.

په ۱۹۷۵ ز کال کې راته د یوه مهم حکومتي چارواکي په لاره کول [illegible] ورته شهزاده (W) ډبلیو وایم. که څه زه هم پوه نه شوم چې [illegible] ولیعهد شهزاده دی او که نه. ما باید ورته قناعت ورکړی وای چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دسعودي عربستان په پېسو مېنځلو کې دده ځپله او د هیواد ګټه ده.

دا کار چې ځومره اسان ښکاریده هومره نه و. شهزاده ډبليو خان وهابي راوپېژند او ښکاره یې ووېل چې نه غواړي هیواد یې د لویدیځ نظام پر لیکو روان شي. دا یې هم ووېل چې زموږ د وړاندیز په مضریت او چالاکی ښه خبر دی. ویل یې چې ستاسو اراده هم د هغو صليبيانو غوندې ده چې زر کاله مخکې یې غوښتل عربان عیسویان کړي. په جزيي ډول یې دا خبره سمه وه. زه فکر کوم په موږ او صليبي جنګياليو کې یوازې د موقف توپیر و. له منځنیو پیړیو اروپایي کاتولیکانو دا دعوه کوله چې غواړي مسلمانان له اوره وژغوري او موږ ویل چې له عربانو سره مرسته کوو. زه اوس په دې باور یم چې ددې شرکتونو په څېر صليبي جنګياليو هم یوازې د خپلې امپراتورۍ پراختیا غوښته او بس.

که مذهبي عقاید یوې خواته کړو؛ نوشهزاده ډبليو یوه بله کمزوري لرله او هغه ښایسته ، سپینې او د زیړو ویښتو لرونکې نجونې وې. خلکو نه د خپل کار اخیستلو لپاره د داسې ناوړه عمل یادونه کول سخت کار دی، خو ما باید دا خبره کړې وای. ما چې ځومره عربان پېژندل شهزاده ډبليو یکې یوازینی کس و چې دا کمزوري یې لرله یا به پرې ښایي زه پوه شوی یم. ددې تاریخي سودا په پوره کېدو کې د شهزاده دې شوق مهم رول ولوباوه. له دې ښکاري چې د خپل ماموریت د بریا لپاره زه تر کومه حده تلای شم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

۱ دا چې په تېلو کوم حالت کې بندیز ولګیداو څه اغېزې یې لرلې، په دې د پوهېدو لپاره لاندې ماخذونه ولولئ:

- "Inside the Mirage: America's Fragile Partnership with Saudi Arabia. Thomas W. Lippman
- "The Prize: The Epic Quest for Oil, Money and Power". Daniel Yergin.
- "The Oil Price Revolution". Stephen Schneider.
- "OPEC : Instrument of Change". Ian Seymour.

۲- " Inside The Mirage" .... Thomas W. Lippman.

۳- The House of Saud: The Rise and Rule of the Most Powerfull Dynasty in the Arab World: David holden and Richard johns.

٤- "Inside the Mirage....." Thomas W. Lippman.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

شپاړسم فصل

دلالي او د اسامه بن لادن مالي ملاتړ

شهزاده ډبليو راته لا دمخه ويلي وو چې کله بوسټون ته درشم نو دده د خوښې مېرمن بايدورته ښه راغلاست ووايي. غوښتل يې چې مېرمن بايد د لاړښوونې تر څنګ نور ځيني نور کارونه هم وکړي. خو هغه دا نه غوښتل چې کومې فاحشې ښځې سره دې وګرځي. ځکه وېرېده چې کېداى شي د خپلې کورنۍ له کوم غړي سره چېرته مخ شي. د شهزاده ډبليو ليدنې پټې وې، چې خپلې هيلې په اسانۍ پوره کړاى شي.

سيلي (Seliy) شين سترګې مېرمن وه، سپين رنګ او سره ويښته يې لرل. خاوند يې په يونايټډ هوايي شرکت کې کار کاوه، تل به په سفر و، له ښځې يې خپله بيوفايي نه پټوله، مېرمن يې هم ورسره ډېر کار نه درلود. هغه بوسټن کې سيلي ته هغه ټولې اسانتياوې ورکړې وې چې د يوه پيلوټ مېرمن يې لري. سيلي له ازادو جنسي اړيکو سره عادت وه. د ګټې د يوې پټې سرچينې خبره ورته ډېره په زړه پورې وه. په يوه شرط يې ومنل چې شهزاده سره به ازمېښتي مجلسونو ته ځي او هغه شرط دا و: سيلي ټينګار کاوه چې په راتلونکي کې به اړيکې پر هغه چلند ولاړې وي، چې شهزاده يې ورسره کوي.

زما ښه بخت ته ګوره چې دواړه د يو بل په معيار پوره وختل.

د شهزاده ډبيلو او سيلی اړيکو ماته ځيني پوښتنې راپيدا کړې. ما په خپلو ځنګو بنديز لګولی و چې ناوړه کار به نه کوي. د قانون له مخې ما مېرمنه چمتوکوله يعنې دلالي مې کوله او دا کار په ميساچوسيټس کې د قانون خلاف و. اوس اصلي خبره دا وه چې سيلي، ته د خدماتو پيسې له کومه

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afg[illegible]alar Library

[illegible] پارتمنت په دې مسايلو کې پوه [illegible] هوټلونو کې اوسېدم. د بوسټون د ستر[illegible] خبره کړې وه چې سپين بيلونه به راکوي، هغه [illegible] هغه وخت ټول بيلونه په لاس ليکل کېدل او [illegible] لا نه وه.

[illegible] شهزاده [illegible] فکر هم پرانخه شوه. بالاخره يې وويل چې [illegible] د شهزاده په ميلمستون کې دېره شي. تر منځ [illegible] د اروپا او منځني ختيځ په ځوانانو کې د ښځو [illegible] روانه وه. دې ښځو سره به د لنډ مهال لپاره قرارداد کېده او له ترون ختمېدو وروسته به چې خپل وطن ته راتلې نو بانکي حسابونه به يې ډک شوي وو. رابرټ باير شل کاله مخکې د CIA عملياتي مشر او د منځني ختيځ د چارو کارپوه و، ده ليکلي وو:

(په ۱۹۷۰ ز کال کې چې د پيټرو ډالرو (د تېلوپيسو) باران پيل شو؛ نو ځينو کاروباري فکره لبنانيانو شهزادګانو ته د نجونو (نخاګر، طوايفو) قاچاق پيل کړ. شاهي کورنۍ د چيک په بيلانس کولو هم نه پوهېده او چالاکو لبنانيانو ترې ښې ګټې وکړې.)

زه په دې حالت پوهېدم او ددې برخې ځينې مخور مې هم پېژندل. خودې ټولو سره بيا هم زما لويه ستونزه سيلي او د هغې پيسې وې. زه پوهېدم چې سيلي هېڅکله هغه وجو دښتو ته نه ځي؛ خو بله خبره دا وه چې د هوټلونو خالي بلونو په دې لګښتونو پرده نه شوه اچولای.

يوه ستونزه خو شهزاده حل کړه او ويې منل چې د خپلې نازولې لګښت به ورېچارې سمبال کړې وی، زړه مې هله ولګيد چې شهزاده راته د راز خبره وکړه. ويل يې چې په سعودي کې هماغه سيلي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عمرو نه دی، که به هم ورته کېږي. ما ژر خپلو بانکونو ته زنګ وواهه او په
څو ورځو کې یې زموږ سیسټم تېروتنو لاسیک کړ.

شهزاده ډېر پېچلی انسان و. سیسي به یې جنسي اړتیاوې پوره کولې، دا چې
د شهزاده سره مرسته کوله نو ډېر پوره یې زړه ورتیا درلوده. خو دې ټولو سره
یې هم ما نه منل چې خپل هېواد ته زیان ورسوي د SAMA پروژې د عملي کېدو
سرپرسته وکړي. ما باید د خپل ماموریت د بریا لپاره ډېره مرسته کړې وی،
شهزاده ته مې هغه ټول معلومات او ارقام ورکړل چې نورو هېوادونو ته مو
جوړ کړي وو، هغه معلومات هم چې ما او کلاډین اندونیزیا ته له تللو
مخکې کویت لپاره جوړ کړی و. ما فکر کاوه چې شهزاده ته ناست وم او د خپلې
قضیې دفاع به مې کوله چې بالاخره هغه تر رانږدې شو.

زه په خبر چې زما مګرو جنایتکارو له نورو چارواکو سره څه وکړل خو په
دې پوه شوم چې پروژه تړلې شاهي کورنۍ قبوله کړه. له څو غړو پروژو یوه
یې MAIN واخیستله. دا د مالیې وزارت لخوا د هغه زیار ډالۍ وه چې ما په
دې لوبه کې ویستی و.

په هېواد کې د برښنا د وېشلو نامنظمه سیستم د بیا سروې پروژه MAIN
ته ورکړل شوه. ترڅنګ یې د یوه عصري سیستم د بیا ډیزاین کولو پروژه
هم MAIN واخیستله، ددې سیستم معیار باید له هره اړخه د امریکا په معیار
وای.

د تېر په څېر دا هم زما مسئولیت و چې د هېواد د هرې سیمې د برښنا د
قوت او اقتصادي وړاندوینې لپاره لومړی باید یو ټیم ولېږم. زموږ ډلې د
ریاض د سفر لپاره ځانونه تیارول چې د قانون له وزارته لیک راغی، وېل
یې چې د قانون له مخې موږ باید په څو راتلونکو اونیو کې په ریاض کې یو
منظم دفتر ولرو. ددې مباشت ورته چا پام نه کاوه. مالیې وزارت سره د

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ترون له مخې باید زموږ د دفتر ټول وسایل په امریکا یا سعودي کې چمتو شوي وای. دا چې په سعودي کې نه کېده؛ نوهر څه باید امریکا کې چمتو شوي وی. اوس موږ ته یوه بله ستونزه جوړه شوه، د ټانکرو قطارونه له مخکې لا عرب بندر ته تلو په تمه ولاړ وو، په دې صورت کې زموږ کارګوا(توکي) رسیدو، نږدې میاشتې وخت نیوه.

MAIN خو ټوله پروژه ددې یوې ستونزې له امله نه شوای پرېښودی. نو ټول شریکان راټول شول، له څو ساعته خبرو اترو وروسته دا پرېکړه وشوه چې یوه بوینګ ۷۴۷ ډوله الوتکه باید چارټر (دربست) شي، چې د بوسټون له دفتره د اړتیا وړ ټول وسایل سعودي عربستان ته ولیږدوي. ما به ځان سره ویل دا به ښه خوند وکړي چې الوتکه د یونایټډ هوایي شرکت وي او پیلوټ یې د هماغې ښځې خاوند وي چې د سعودي شهزاده په رام کولو کې یې مهمه ونډه ارله .

د امریکا او سعودي ترون په یوه شپه کې زنګ راوړ، اوزې ورکې شوې پر ځای یې دوه سوه ژیړې امریکایي لارۍ راغلې. دا لارۍ له Waste Management شرکت سره د دوه سوه میلیونه ډالري ترون له مخې راوړل شوې وې. دې لاریو د خځلو ډېرانونه پر ځای کول ۲

د سعودي په اقتصاد کې څغلنده بدلون راغی، دا انقلاب له کرنې نیولې تر روغتیا، زده کړو او مخابراتو ... ټولو کې ښکاریده. په دې حالت توماس لیپ مین په ۲۰۰۳ کال کې یوه تبصره وکړه چې :

(امریکایانو په خپل طرز د یوې داسې مرې ځمکې شکل ور بدل کړ، چې د کوچیانو له خیمو او خامو کورونو پرته پکې هېڅ هم نه وو. اوس په هغو کنډرو کې د قهوې دوکانونه او په لویو مغازو کې د معیبونو بایسکلونه هم ... په سعودي عربستان کې هم د امریکا غوندې ښایسته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دوکانونه، مارکیټونه، چټک انټرنټ او مخابراتي اسانتیاوې شته دي.) ۳
موږ چې په ۱۹۷۴ ز کال کې کوم خوب لیدلی و، هغه اوس نورو تېل صادروونکو هیوادونو ته د بحث وړ نمونه وه. په اصل کې خو SAMA/JECOR دویم میدان و، اصلي لوبه خو کرمیټ روز وېلیټ په ایران کې کړې وه. په سیاسي اقتصادي وسله تون کې اوس یوه بله بې ساري او پیچلې وسله وه چې د نړیوالې امپراتورۍ سرتېرو ورته اړتیا لرله.
د سعودي پېسو مینځلو او ګډ کمیسون په نړیوال قانون کې بله طرحه جوړه کړه او دا خبره د ایدی امین په قضیه کې ښه‌خي روښانه شوه. دې بدنام آمر په ۱۹۷۹ ز کال کې په سعودي عربستان کې پناه واخیسته. که څه پر دې تولواک مجرم له سلو تر درې سوو زرو کسانو د وژلو تور و، خو دلته یې ښه ښایسته ژوند کاوه. هر څه ورته شاهي کورنۍ ورکړي وو، امریکا یې پر ضد یو ټیټ غږ پورته کړ، خو ټینګار یې ځکه ونه کړ چې هسې نه ددوی او شاهي کورنۍ په اړیکو کومه بده اغېزه وکړي. امین د خپل ژوند وروستي کلونه په کب نیونه او د سمندر پر غاړه په قدم وهلو تېر کړل او بلاخره په ۲۰۰۳ ز به جده کې د ګردو د فلج له امله د اتیا کالو په عمر مړ شو. ۴
سعودي عربستان یو ډېر حساس او مضر رول دا لوباوه چې نړیوالې ترهګرۍ سره یې مالي مرسته کوله. امریکا غوښتل چې سعودي عربستان په افغانستان کې د ۱۹۸۰ مې لسیزې په جهاد کې له اسامه بن لادن سره مالي مرسته وکړي.
دې دواړو هیوادونو مجاهدینو ته نږدې درې نیم بیلیونه ډالره مرسته اعلان کړه، خو په اصل کې مرسته تر دې څو چنده ډېره وه.
په ۲۰۰۳ ز کال کې د امریکا یوې مجلې (یو ایس اینډ ورلډ ریپورټ) د (سعودي اړیکې) په نامه یوه لیکنه خپره کړه. دې مجلې زرګونه پاڼو د

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

محاکمې قضیې. د بهرنیو استخباراتو راپورونه او نور اسنادو ته کتنه وکړه. د منځني ختیځ د ترهګرۍ په اړه یې له چارواکو او کارپوهانو سره مرکې وکړې. د پایلو یوه برخه یې داده:

په شواهدو کې شک نشته. د امریکا پخوانی ملګری او په اوسنی نړۍ کې د تېلو سترصادرونکی هیواد سعودي عربستان په څه نا څه ډول د ترهګرۍ مرکز ګرځېدلی دی....

د ایران انقلاب او په افغانستان کې د شوروي جګړه دواړه د ۱۹۸۰ مې لسیزې په وروستیو کې وشول. د سعودي عربستان د دولتي خیرات نیمې پیسې د جهاد قوي کېدو لامل شوې. تر شلو زیاتو هیوادونو کې په دې پیسو نیمه پوځي روزنیز مرکزونه رامنځته شوي وو، وسلې پېرل کېدې او خلک یې جذبول.

د سعودي د ملګرې لپاره امریکا په هر څه سترګې پټې کړې وی. پخواني استخباراتي مامورین وایي چې د تړونونو، تضمینونو او معاشونو په ډول میلیاردونه ډالر د امریکایي چارواکو جیبونو ته تللي دي او دې پیسو له سعودی عربستان سره اړیکه درلوده. په دې کې سفیران، د CIA چارواکي او سکرتران شامل و......

له برېښنایي وسایلو داسې خبرې اترې ترلاسه شوي دي چې ښیي د سعودي شاهي کورنۍ پر القاعده سربېره نورو ترهګرو ډلو سره هم مرستې کوي.)٦(

۲۰۰۱ ز کال کې چې پر نړیوال سوداګریز مرکز او پنتاګون بریدونه وشول؛ نو د سعودي او امریکا تر منځ د پټو اړیکو نور شواهد هم رابرسیره شول. د ۲۰۰۳ د اکتوبر په میاشت کې وینټي فئیر Vanity Fair مجلې د عربانو خېندتوب تر سرلیک لاندې په یوه لیکنه کې هغه رازونه افشاء کړل چې عام حسب پرب ......پرهېدل. د بوش، سعودي کورنۍ او اسامه بن لادن تر

Downloaded By: Afghan Salar Library

منځ د اړيکو دې کيسې ته زه حيران نه شوم، ځکه دا کيسه هم د سعودي عربستان د پيسو مينځلو کيسې (۱۹۷۴) هومره زړه ده. دا لړۍ هغه وخت ته هم رسيږي چې جورج ايچ ډبليو بوش په ملګرو ملتونو کې امريکا سفير و (۱۹۷۱-۱۹۷۳). بيا وروسته چې له (۱۹۷٦ نه تر ۱۹۷۷) پورې د سي ای اې مشر و، زه يوازې د خبرې ته حيران وم، چې دا موضوع اخر هم رسنيو ته ووتله، مجلې کيسه په دې ټکو پای ته رسولې ده:

(بوش او سعود د نړۍ دوه قوي کورنۍ دي او تر منځ يې ژورې شخصي، سوداګريزې او سياسي اړيکې له نږدې شلو کلونو راهيسې روانې دي...

سعودي عربستان په خصوصي سکتور کې له هارکن انرجي HARKEN ENEGRY شرکت سره ډېره مرسته کوي او په دې شرکت کې جورج ډبليو بوش پانګونه کړې ده.

لږ وخت مخکې پخوانی ولسمشر جورج ډبليو بوش او دده پخوانی همکار او د بهرنيو چارو وزير جمېز ای بيکر عربانو ته ورغلل، چې کارلايل ګروپ Carlyle Group ته مالي ملاتړ پيدا کړي، ويل کيږي چې دا د نړۍ تر ټولو ستر شخصي شرکت دی او بوش پکې اوس هم د ارشد مشاور په توګه دنده لري....

له ۹/۱۱ پيښې څو ورځې وروسته د بن لادن کورنۍ د څو غړو په شمول ځينې شتمن عربان هم په يوه شخصي الوتکه کې له امريکا بهر وليږدول شول او اوس يې د پروازونو د روښانه کولو مسئوليت هېڅوک په غاړه نه اخلي. دا هم رښتيا دي چې له يوه مسافره هم پوښتنه نه ده شوې او پوښتنه دا ده، دا کار به څکه شوی وي چې بوش له سعود کورنۍ سره پخوانۍ اړيکې لري.) ۷

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

۱. "Sleeping with the Devid: How Washington Sold our Soul for Saudi Oil": Robert bear

۲. "Inside the Mirage ...." Thoms W. Lippman.

۳. Ibid

٤. "Idi Amin, Murderous Ugandan Dictator Dies". Henry Wasswa. ایسوسی ایتډ پرئیس: ۱٦ اګست ۲۰۰۳.

٥. "The Saudi Connections". U.S. News and World Report. Dec. ۱٥'۲۰۰۳.

٦. Ibid

۷.

- "Vanity fair" . October ۲۰۰۳
- "Zapata Petroleum"
- " A Nation at War" . New york times April ۱۸, ۲۰۰۳.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دریمه برخه

له ۱۹۷۵ تر ۱۹۸۱ز پورې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اولسم فصل

د پانامې کانال خبرې اترې او ګراهم ګرین

عربانو د ډېرو خلکو بختونه بیدار کړل. زه خو له مخکې هم بریالی وم خو دې صحرایي امپراتورۍ راته د بریا نورې دریځې هم پرانیستې. تر ۱۹۷۷ پورې ما هم یوه وړه امپراتوري جوړه کړې وه. نږدې شل تنو متخصصینو پکې کار کاوه او مرکزي دفتر یې په بوسټون کې و. پر دې سربېره په نړۍ کې د MAIN د ټولو دفترونو مشاورت ماته راتر غاړې و. ددې ادارې په سل کلن تاریخ کې زه تر ټولو کشر شریک وم. زما د اصلي دندې (ارشد اقتصادپوه) تر څنګ زه د اقتصاد مدیر او ساحوي پلان جوړونکی هم معرفي شوی وم. په هارورډ او ورته نورو ادارو کې مې لکچرونه ورکول. ورځپاڼو به راته په روانو حالاتو د لیکنو زارۍ کولې. څپله یوه شخصي کښتۍ مې هم لرله چې د بوسټون بندر له مشهورې جنګي بېړۍ کانسټیټوشن سره په څوا کې به یې لنګر اچاوه. تر انقلابي جګړې وروسته همدې بېړۍ د بحري نزاقانو په څپلوکې لوی نوم ګټلی و. ما ښه معاش اخیسته. ځینې اسهام مې هم لرل، دهغو ګټه مې چې سنجوله، په دې باوري وم چې له څلویښت کلنۍ دمخه به میلیونر شم. دا منم چې د واده ناکامۍ ځپلی وم خو په بېلابېلو لویو وچو کې به مې له ښایسته مېرمنو سره وخت تېراوه.

برونو Bruno د اقتصادي وړاندوینې په اړه بې سارې نظر ورکړ. د اقتصادي شننې دا نوی ماډل د یوه روسي ریاضي پوه پر نظریاتو ولاړ و. ددې ما ډل اصول دا و : داخلي یا موضوعي امکانات دې له وړاندوینې سره داسې ګډ شي، چې د ځینو اقتصادي اړخونو وده ترې څرګنده شي. په دې فکر کې

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه ورځ شته چې د ودې د لویې کچې جواز ترې ترلاسه شي. موږ دې کچې ته ځکه اړتیا لرله چې لوی پورونه ترلاسه کړو.

ما خپلې ادارې ته ځوان ډاکتر نادي پریم پرساد راوست او بودیجه مې ور وسپارله. په شپږو میاشتو کې یې د اقتصادي تجزیې لپاره د مارکوف نظریه د کارولو وړ کړه. موږ ټولو د تخنیکي اسنادو یوه لړۍ پیل کړه. په دې کې مو د مارکوف د طریقې له مخې دا معلومول چې پر اقتصادي ودې د شتمنۍ د پانګونې اغېزې به څه وي؟ او دا اغېزې مو د وړاندوینې په توګه کارولې.

موږ همدا لټول. داسې یو څه چې په علمي ډول دا ثابته کړه چې موږ کوم هېوادونه د پور په جال کې نښلوو؛ په اصل کې ورسره ښېګڼه کوو. ربښتیا خبره خو داده چې څوک به یو ځل په دې جال کې بند شول بیا به یې هېڅکله خپل اخیستی پور نه شو پرې کولای.

هغه اقتصادي کارپوه چې پریمانه وسایل، سرچینې او وخت ولري او د مارکوف د سیستم په نزاکتونو او پیچلتیاو پوهېږي او پابله ترې اخیستی شي. دا اسناد ډېرو مشهورو رسنیو خپاره کړل او موږ خپله هم په ځینو کنفرانسونو او لکچرونو کې وړاندې کړل. په ټول صنعت کې ددې اسنادو او زموږ اوازه خپره شوه. ۲

ما او عمر طوریجو په خپل منځ کې د شوي پټ تړون خیال وساته. باور مې ورکړ چې زموږ تجزیې (شننې) به ربښتیا وي او په سپارښتنو کې به مو بېوزله خلک په پام کې نیولي وي. که څه هم ګونګسی اوریدل کېده چې د پانامې په اړه زما په راپور کې لګښت ډېر نه دی بنودل شوي او ځینو خو یې لا ویل چې د سوسیالیزم بوي ترې راځي؛ خو یو حقیقت دا هم و چې د عمر طوریجو MAIN ته په قرارداد پسې قرارداد ورکاوه. په دې تړونونو کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لومړی یې دا و چې له روایتي شتمنۍ سره دې د کرنې برخه هم یو ځای شي. ما له یوې زاویې دې خبرې ته هم پام وکړ چې عمر طوریجو او جیمي کارټر د پانامې پر کانال خبرو ته چمتو شوي دي.

ټولې نړۍ په دې خبرو اترو خوښي وښوده. ټول خلک په تمه وو چې امریکا به ددوی د خوښې کار کوي، یعنې د پانامې د کانال واک به پانامه یانو ته ورکوي او که د تقدیر لیک هغه نظریه به بیا نه پلې کوي چې شکل د ویتنام د بحران غوندې خراب شوی و. ډېرو خلکو فکر کاوه چې په ډېر ښه وخت کې ښه او مهربانه انسان د امریکا ولسمشر شوی دی. خو د واشنګټن مذهبي او لرغون پرستو خلکو بیا دې عادلانه پرېکړې ته په کرکه کتل: دا څنګه کېدای شي چې موږ ددې ملي دفاع له دې قوي کلا لاس واخلو؟ او د امریکا د ښه تدبیر دا شهکار له لاسه ورکړو؟ د اوبو دې لیکې خو د جنوبي امریکا قسمت د امریکا له سوداګریزو ګټو سره تړلی دی.

زه به چې پانامې ته لاړم نو په انټرکانټینینټال هوټل کې به اوسیدم، په پنځم ځل تګ مې په دې هوټل کې د بیارغونې چارې رواني وې، نو غړونه پکې ډېر و. دا ځل پانامه هوټل ته لاړم. لومړی مې خوښ نه شو، ځکه په سفر کې انټر کانټینینټال هوټل زما کور و، خو وروسته چې بیا په کوم صالون کې ناست وم، د څوکیو ښکلا او سینګار یې زما زړه یووړ. داسې ښکاریدل لکه دا کاسابلانکا فلم سیټ چې وي او همفري بوګرټ به اوس له کومه ځایه راوځي.

په نیویارک ریویو آف بکس کې مې د ګراهام ګرین لیکنه ختمه کړې وه، کتاب مې څنګ ته کېښود، د چت پکو ته مې وکتل او نږدې دوه کاله مخکې یوه شپه رایاد شوه:

(فورډ ضعیفه ولسمشردی، بیا نه ټاکل کیږي) دا په ۱۹۷۵ ز کال کې د

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

عمر طوريجو وړاندوينه وه. ده د پانامې له څو مخورو سره خبرې کولې، په څو بهرنيانو کې يو زه وم چې خپل ښکلي کلپ ته يې دعوت کړي وو. زياته يې کړه : (همدا لامل دی چې د پانامې د کانال خبره مې تېزه کړه، ددې سياسي جګړې د ګټلو لپاره دا ډېر مناسب وخت دی.)

دې خبرو ډېر اغزيمن کړم، خونې ته چې راغلم زر مې بوستون ګلب ته يو ليک وليکه او پوسټ مې کړ. د بوستون يوه ايډيټر مې دفتر ته ځوابي زنګ راوهه، رانه يې وغوښتل چې دې عنوان لاندې ورته يوه ليکنه وکړم (د ۱۹۷۵ کال په پانامه کې يرغل ته ځای نشته.) دا نيمه صفحه ليکنه د همدې کال د سپتمبر په ۱۹ نېټه د ادارې يادونې ته مخامخ چاپ شوه.

دې ليکنه کې هغه درې لاملونه په ګوته شوي چې له مخې يې بايد د پانامې کانال پانامې ته وسپارل شي.

۱ اوسنی حالت انصاف نه دی، داد پرېکړې لوی لامل دی.

۲ په اوسني ترون کې امنيتي خطر ډېر دی، ددې په نسبت پانامې ته ورکړل شوی کنټرول کم دی. د حوالې لپاره مې د انټروشيانيک کانال کميشن يوه مطالعه ياده کړه ې پکې ويل شوي وو : (وسايل (ترافيک) دوو ‌کلونو لپاره معطل کېدای شي او دا د يو کس کار دی، چې د ګاتون (بربښنا بند) په څنګ کې يو بم نصب کړي.) دا ټکی خپله عمر طوريجو هم ويلی دی.

۳ د امريکا او لاتينې امريکا تر منځ اړيکې له مخکې هم کړکېچنې دي او اوسنی حالت دا ستونزې لاپسې ډېرولای شي.

وروستۍ خبره مې دا ده :

(د پانامې د کانال معاملې ته د حرکت ورکولو تر ټولو ښه لاره دا ده چې واک مسئوليت يې همدې خلکو ته وسپارل شي. که موږ داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وکړل نو دا به د هغه دور بيا ځلي پيل وي چې دوه سوه کاله مخکې
مود خپلواکۍ حق منلی و.....

د استعمار سکه چې په ۱۷۷۵ کال کې څنګه چليده اوس هم هغسې
نه چليږي. ددې ترون تصديق په هغه زمانه کې کېدای شو خو اوس
هيڅ جواز نه لري. په ۱۹۷۵ ز کال کې ښکيلاک نه ځايږي. اوس
چې موږ دوه سوه کاله پخواني مراسم نمانځو؛ نو دا احساس بايد وګړو
چې د هغې سره سم عمل بايد وکړو.)۳

دې ورېږ ليکنې ستر جرات غوښت، خصوصاً په داسې حالاتو کې چې ماته
په MAIN کې د شريک درجه راکړل شوې ده. له شريکانو هيله کېده چې
له رسنيو دې ليرې ووسي او په مجلو کې د ليکنو چاپ کولو خو دې فکر
هم نه کوي. بيا نو د دفتر په پوسټ د بينومه خلکو د خبرتياوو (نوټس) يو
سيلاب راپيل شو. دې ليکونو سره زما د ليکنې نقلونه هم يو ځای شوي وو.
يو خو مې وپېژنده چې چارلي لانګورت ليکلی و. دا ښاغلی په MAIN کې
زما د لومړی پروژې مدير و او تر لسو ډېر کلونه کار يې کړی و. ددې نه
وړاندې زما کار له پنځو کلونو کم و خو زه اوس ددې شرکت شريک وم او
دا ښاغلی لا دې ځای ته نه و رسيدلی. دده په ليک يوه خطرناکه محاوره او
د خطر نښه (دوه هډوکي) له ورايه ښکاريدل. پيغام يې ښخي لنډ او ساده:
(آيا دا سور (سرخه) ربښتيا هم زموږ په شرکت کې شريک دی؟)

برونو خپل دفتر ته ور وغوښتم او راته يې وويل: تا چې څه ليکلي پرې
پښېمانه به شې، MAIN لرغون پرسته اداره ده. خو زه درته وايم چې د
ډېرې هوښيارۍ ثبوت دې ورکړی دی. طوريجو به يې ډېر خوښ کړي. زه
باوري يم چې يو نقل به يې ور وليږې. د هغه دفتر کړتن چې وايي طوريجو
سوسياليست دی، که يې کار پيدا کړ، بيا به دې خبرو پسې نه ګرځي!

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د برونو خبره د تل په څېر سمه وخته. په ۱۹۷۷ ز کال کې کارټر په سپینه ماڼۍ کې میشت و او د کانال په مسئله یې جدي خبرې کولې. د MAIN ډېر سیال شرکتونه په غلطه لاره، هغوی له پانامې بهر ووتل او زموږ کار په ډېره چټکۍ پرمخ روان و.

زه د پانامه هوټل په صالون کې ناست وم او لږ مخکې مې د ګراهم ګرین لیکنه ختمه کړې وه. ددې لیکنې عنوان (د پنځو پولو هیواد) و او ډېره زړوره لیکنه وه. پکې د پانامې د ملي ګارد په رشوت اخیستلو هم خبرې شوې وې. د لیکوال په وینا جنرال خپله دا منلې وه چې خپل پرسونل ته یې ځانګړي امتیازات (لکه ښایسته کورونه) ورکړي دي. د جنرال په وینا که زه دوی ته دا شیان ورنه کړم نو CIA یې ورکوي. دا اشاره وه چې د امریکا استخباراتي کړی غواړي د ولسمشر کارټر اراده له خاورو سره خاورې کړي. که اړتیا پېښه شي د پانامې لوړپوړو پوځي چارواکو ته په رشوت ورکولو سره مذاکرات ناکامیدای شي. زه حیران شوم چې ګیدړانو (Jackals) لکه چې په طوریجو کړی راتنګه کړې ده.

د ټایمز یا نیوز ویک د (خلکو) په برخه کې یو خپور شوی انځور مې لیدلی و، چې طوریجو او ګرین پکې یو ځای ناست وو. د تصویر عنوان داسې و چې لیکوال یو ځانګړی میلمه او ښه ملګری هم دی. زه نه پوهېږم چې جنرال ددې ناول لیکوال په اړه څه احساس کاوه، چې دومره باور یې هم پرې درلود او معیاري تنقیدي تبصره یې هم پرې لیکلې. د ګراهم ګرین لیکنې یو بل ټکی هم راپورته کړ. دې ټکي د ۱۹۷۲ کال له هغه ورځ سره اړیکه لرله چې زه او جنرال د قهوې یوه مېز ته ناست وو. ما هغه وخت دا فرض کړه چې طوریجو د بهرنیو پورونو په کیسه پوهېږی، دی پوهېږي چې دا بهرني پورونه به طوریجو شتمن کړي او ولس به یې په پورونو کې ډوب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شي. زه باوري وم عمر په دې پوهېده چې دا ټول کار د چارواکو په فساد ولاړ دی چې خپلې ګټې تر ملي ګټو لوړې وګڼي او که چا ویل چې بهرنۍ پورونه د خپل ولس د وضیعت د ښه والي لپاره کاروي نو دا په خپله یو اخطار و، داسې اخطار چې ټول نظام په بل مخ اړولای شي. ټولې نړۍ دې کس ته سترګې نیولې وې. دده کارونو دا اغېز داسې خپې خپرولې چې تر پانامې بهر هم وتلې او خلکو ترې ځان نه شو ژغورلای.

ما فکر کاوه چې که پانامه رښتیا پورونه د غریب ولس لپاره ولګوي او داسې پورونه واخلي چې بیا یې د پرې کولو وس نه لري؛ نو د کارپوریټوکراسی غبرګون به څه وي. اوس مې دا فکر کاوه چې طوریجو به زما او دده ترمنځ په کړې ترون پښېمان وي؟ زه خپله هم نه پوهېدم چې زه یې په اړه څه احساس لرم. زه د خپل جنایتکار شخصیت نه وروسته شوی وم. ما دخپلې لوبې پر ځای هغه ته لوبه کوله. ما د ډېرو قراردادونو نیولو په تکل پر ایمانداری د هغه ټینګار ومانه. له سوچه اقتصادي اړخه خو دا د MAIN لپاره ډېره ځیرکه پرېکړه وه. خو کلاډین چې راکې کومه ساه پوو کړې وه دې پرېکړې ورسره اړخ نه لګاوه. دا د نړیوالې امپراتورۍ د قیام د هدف خواته ګام نه و. آیااوس ګیدړان (Jackals) خوشې پرېښودل شوي وو؟

په هغه ورځ چې د طوریجو له دفتره راووتم؛ نو فکر مې وکړ چې د لاتیني امریکا تاریخ له مړو شویو مشاهېرو ډک دی. د کوم نظام بنسټ چې د ولسي شخصیتونو په فاسدولو ایښی وي، په هغه نظام کې داسې خلک ګوزاره نه شي کولای چې له فساده انکار کوي.

ما وې که سترګې مې راسره چل کوي، په دهلیز کې مې یو کس له خواتېر شو، حیران شوم، ما وې که همفري بوګرټ دی، خو بیا مې فکر وکړ چې ... ... ـکې مړ شوی دی. فکر مې چې پر ځای شو نو کس مې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ویېژنده. دا د معاصر انګلیسي ادب یو ستر شخصیت و او د The pride and the Glory, The Commedians Our Man in Havan لیکنه مې دده لوستې وه. یعنې ګراهم ګرین و. هغه یوه شېبه ودرید، هاخوادیخوا یې وکتل اوبیا قهوه خانې ته روان شو.

ما ویل چې ورغبر کړم یا پسې ورمنډه کړم، خو بیا مې ځان قابو کړ. فکر مې وکړ چې یوازتوب ته به اړتیا لري. بیا مې ویل چې کېدای شي مانه به ځنګ ته شوی وي. کتاب مې پورته کړ او څو شېبې وروسته بیا د قهوه خانې په درشل ولاړ وم. په دې ورځ مې خواړه وختي خوړلي وو، خدمتګار په حیرانی راوکتل. ما سترګې وګرځولې. ګراهم ګرین د دیوال خواته پروت مېز ته یوازې ناست و. مېز ته په اشاره مې خدمتګار ته وویل چې یو ځل بیا د خوړو لپاره هلته کیناستی شم؟ زما عادت و چې خدمتګاران به مې خوشاله ساتل، هغه مې په خبره پوه شو، موسکی شو او مېز ته یې روان کړم.

ناول لیکوال په ورځپانه کې ډوب و. ما د قهوې فرمایش ورکړ. ما غوښتل چې د پانامې، کانال او طوریجو په اړه د ګراهم ګرین په نظر پوه شم خو هیڅ نه پوهېدم چې خبرې څنګه پیل کړم. هغه له قهوې یوګوټ وکړ، بیا یې سترګې راپورته کړې.

ما وویل

- وبښئ

ما فکر وکړ چې ماته یې راوکتل

- (هم ! وایه)

- د مزاحمت بښنه غواړم، تاسو ګراهم ګرین یاست؟

موسکی شو

- پېژندلی دې یم، په پانامه کې مې ډېر خلک نه پېژني.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By Afghan Salar Library

خپل د خوښې ناول لیکوال مې چې ځان ته مخامخ ولید، لږ وویریدم او د خپل ژوند حالت مې ورته بیان کړ. په دې کې مې ورته په MAIN کې زما د مسئولیتونو او طوریجو سره د کتنو یادونه هم وکړه.

هغه راته وویل ته هغه لیکوال یې چې (امریکا دې له پانامې ووځي) تر عنوان لاندې لیکنې دې کړې وه او په بوستن ګلوب کې چاپ شوې وه؟ ددې په اوریدو حیران شوم، راته یې وویل

- ستا موقف ته په لیدو ویاړی شم چې ډېره زړورتیا دې کړې ... راځه ماسره کېنه.

زه ورپاځیدم، هغه سره مېز ته کېناستم، نږدې نیم ساعت ناست وو، له خبرو یې معلومیده چې طوریجو ته ډېر نږدې دی، کله کله به یې د طوریجو په اړه داسې خبرې کولې لکه د خپل زوی په اړه چې لګیا وي، راته یې وویل:

- جنرال زه راغوښتی یم، چې د هیواد په اړه یې یو کتاب ولیکم، په همدې بوخت یم، دا کتاب ناول نه دی، دا کارمې یو څه له پخوانیو سره توپیر لري.

ما ترې وپوښتل چې ولې یوازې ناول لیکې؟ نورې لیکنې ولې نه کوې؟ ځواب یې راکړ:

- د داستان جنس ډېر خوندي دی، زما له ډېرو لیکنو سره اختلاف کیدای شي؛ مثلاً ویتنام، هایتي او د مکسیکو انقلاب. زیاتره خپرندویه اداره د سنجیده موضوعاتو په اړه له کتا ب خپرولو وېرېږي.

په پخواني مېز مې دده کتاب لا پروت و، هغه ته یې اشاره وکړه ویې ویل:

- ...رې ډېرې زیانمنې ثابتیدای شي.

بیا موسکی شو:

Downloaded By: Afghan Salar Library

- ناول ددې لپاره هم لیکم چې خپلواکي پکې ډېره وي.

بیا یې ماته جدي راوکتل ویې ویل:

- تر ټولو مهمه، په هغو مسایلو باید لیکنې وشي چې خپل بو موقف ولري، لکه تا چې د کانال په اړه په ګلوب کې لیکل کړي وو.

طوریجو یې ښکاره خوښیده، دا ددې خبرې ثبوت و چې د پانامې ولسمشر له خپل بېوزله ولسه نیولې تر د ناول لیکوال زړه پورې ټولو ته لاره کړې ده او بله خبره دا وه چې ګرین د خپل ملګري ژوند ته هم ډېر اندېښمن و.

په غمجن غږ یې وویل:

- د شمال له دیو سره سیالي ډېره سخته ده.

بیا یې سر د نه په نښه وخوځوه، په خفګان یې وویل:

- زه یې ژوند ته ډېر اندېښمن یم

د هغه د تلو وخت و. ماته یې لاس راکړ او په قلاره پاڅېد:

- زه باید فرانسې ته پرواز وکړم.

زما سترګو ته یې راوکتل ویې ویل :

- ته خو کوم کتاب نه لیکې؟ ته یې لیکلای شې، خو یوه خبره یاده ساته، په مهمو مسایلو لیکل کوه.

روان شو، څو ګامه یې واخیستل، بېرته یې مخ راواړوه.

- غم مه کوه ! جنرال یې ګټي، کانال بېرته اخلي.

طوریجو کانال بېرته ونیوه، په همدې کال (۱۹۷۷) کال کې یې له ولسمشر کارټر سره ګټورې خبرې اترې وکړې او د نوي تړون له مخې یې د کانال او ساحې واک بېرته ترلاسه کړ. سپینه ماڼۍ په سخت ځای کې وه، کانګرس یې باید راضي کړی وی چې ددوی تړونونه تصویب کړي. اورد ربار پیل شو او بلاخره د یوې رایې په اکثریت د کانال تړون تصویب شو؛

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خو لر نونپرساتو د بدل اخيستو قسمونه وکړل.

خو کاله وروسته، چې د ګراهم ګرين کتاب Getting ti Know the General خپور شو، نو انتساب (نومونه) داسې و :

د خپل ملګري عمر د خپلوانو په نوم، چې په نکاراګوا، السولیډور او پانامه کې مېشت دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې:

۱-

- "Colonialism in Panama Has no Place in ۱۹۷۵" John M. Perkins.Boston Glob,۱۹th November.
- "U.S Brazil pact upsets Educator" John M.perkin. boston glob ۱۰th may ۱۹۷۵

۲- " Getting to know the General". Graham Greene.

۳- Ibid

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اتلسمه فصل

د ایران شهنشاه

۱۹۷۵-۱۹۷۸ کلونو کې مې ایران ته تګ راتګ ډېر و. زیاتره وخت به مې سفر د لاتیني امریکا، اندونیزیا او ایران تر منځ و. په ډېرو ځایونو کې مې کار کړی و، خو د شاهانو د شاه (دولتي لقب شهنشاه) په ځای کې له یوه بدل چاپېریال او حالت سره مخ شوم.

ایران هم د عربستان غوندې په تېلو مالامال دی؛ نو د خپلو سترو پروژو عملي کولو لپاره یې زموږ مرستې ته اړتیا نه لرله. ایران له عربستان سره یو توپیر درلود، د ایران خلک مسلمانان وو، خو په منځني ختیځ کې دا یوازیني خلک وو چې عرب نه وو. پردې سربېره یې سیاسي تاریخ هم له کش مکشه ډک وو. کورني بغاوتونه پکې کېدل او له ګاونډیانو سره یې هم اړیکې ښې نه وې. موږ دوی سره د معاملې لپاره یوه نوې لاره خپله کړه. د واشنګټن دولتي او سوداګریزو کړیو په دې خاطر سره ائتلاف وکړ، چې د ایران شهنشاه به د پرمختګ سمبول ګرځوي.

موږ دا سترې هڅې ډېرې په درز کې پیل کړې. نړۍ ته مو ښودل چې د امریکا د سوداګرۍ او سیاسي ګټو، قوي او جمهوري ملګری څه کولای شي. ددې په ظاهري غیر جمهوري لقب مه تېروځئ. هغه پټه دسیسه هم هېره کړئ چې CIA د یوه ټاکل شوي جمهور رئیس پر وړاندې جوړه کړې وه. واشنګټن او متحدینو یې دا غوښتل چې د شاه حکومت د عراق، لیبیا، چین، کوریا او نورو داسې هیوادونو د متبادل حکومت په توګه وړاندې کړي. دا هغه هیوادونه وو چې د امریکا مخالفې خپې پکې ښکاریدې. ظاهرې، شواهده دا ښودله چې شاه د بیوزلو ترقي پسندو ملګری دی. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۱۹۶۲ کې یې د کرنیزو اصلاحاتو په لړ کې لوی جاګیرداران مات کړل او د هغوی ځمکې یې په بزګرو وویشلې. په ورپسې کال یې سپین انقلاب اعلان کړ چې په لړ کې یې په پراخه کچه اقتصادي او ټولنیز اصلاحات رامنځته شول. په ۱۹۷۰ ز کال کې د اوپیک سازمان قوت زیات شو او شاه د یوه قوي رهبر په توګه ومنل شو. په همدې وخت کې ایران د منځنی ختیځ تر ټولو قوي پوځ رامنځته کړه. (۱)

په ټول هیواد کې د MAIN بې شمېره پروژې رواني وې. د ژوند له ټولو برخو سره یې اړیکه لرله. په شمال کې د کسپیئن بحیرې له سیاحتي ځایونو نیولې تر جنوب کې د پټو پوځي هډو جوړولو پورې ټولې پروژې MAIN ته ورکړل شوې وې. دې پوځي هډو مخامخ د هورمز خلیج ځاره. د تل په څېر موږ په سیمه کې د پرمختګ د وړتیا کچې ته پام کاوه. دې پسې د برېښنا تولید، لېږد او وېش د سیستم پلان طرح او چمتو کول وو، دې پلان د پرمختګ کچې ته یو باور ورکاوه او زموږ وړاندوینه ترې سمه ثابتیدای شوه.

چې وخت به مو پیدا کړ، د ایران بېلابېلې سیمې به مو لیدلې. ما له کرمانه تر عباس بندره پورې په هغو لارو سفر کړی چې له غرونو او رغونو به تېریدلې، دا د کاروانونو پخوانۍ لاره وه. د لرغونو شاهانوکیسه ایز هستوګنځایونه مې ولیدل دا هستوګن ځایونه د پرسیپولس په کنډرو کې وو. د هیواد ښایسته او زړه راښکونکې ځایونه مې هم ولیدل. په دې کې شیراز، اصفهان او پرسیپولس ته نږدې هغه ښار هم شامل دی چې شاه ته به پکې تاج په سر کېده (تاج پوشي). په دې موده کې مې له دې بېلابېلو ځایونو او خلکو سره زړه لګیدلی و.

دا هیواد په ظاهره د عیسویانو او مسلمانانو تر منځ د مرستې یوه بېلګه ښکاریده. خو ډېر زر پوه شوم چې ددې امن او خوښۍ تر شا ژور خفګانونه

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afgha[n Sal]ar Library

هم پرانه دي.

په ۱۹۷۷ کال کې یوه ورځ ناوخته خپلې خونې ته لاړم. د دروازې لاندې یو لیک پروت و. په لوستلو یې وارخطا شوم. دا د یامین په نوم یو کس رالیږلی و. ما دی هیڅکله نه و لیدلی خو په یوه رسمي پېژندګلوۍ کې یې راته ویل شوي وو، چې مشهور انقلابي او ورانکاري دی. لیک یې په ښایسته انګلیسي لیکلی و او زه یې په یوه هوټل کې میلمستیا ته دعوت کړی وم.

په لیک کې یو اخطار هم وو، ویل یې که غواړې د ایران هغه مخ وګورې چې تاغوندې خلکو لا نه دی لیدلی نو میلمستیا ته راشه. زه اندېښمن وم چې یامین خو به زما په اصلیت نه وي پوهېدلی؟ زه پوهېدم چې ډېر لوی خطر ته غاړه ږدم. خو ددې پراسراره انسان لیدو ته هم ډېر لیواله وم.

ټکسي نه د یوه داسې لوی دیوال څنګ ته ښکته شوم. چې وړه دروازه پکې لګېدلې وه. ښایسته تورګالی ایراني راته ولاړه وه، زه یې څان سره روان کړم. له داسې دهلیزه تېر شو چې څراغونه پکې راځړېدلي وو او لاره یې ته روښانه کړې وه. بیا داسې یوې خونې ته ننوتو چې د الماسوغوندې ځلیده. سترګې مې وبرېښېدې، چې دید مې وګید ومې لیدل چې دیوالونه په ښایسته غمیو سینګار شوی دي. هوټل په ښایسته شمعو روڼ شوی، دا شمعې په نازکو او تراشل شویو شیشه یي فانوسونو کې نریدلې وې.

یو لوړ سړی رانږدې شو، لاس یې راکړ، د بحري پوځ دریشي یې په غاړه وه. ځان یې راوپېژند ویې ویل چې نوم یې یامین دی. له لهجې یې ښکاریدل چې په انګلیسي ادارو کې یې زده کړې دي. ماته ورانکار او انقلابي نه ښکاریده. له څو مېزو ورانديې یې بوتلم، ښځې او سړي غلي ناست وو، خواړه یې خوړل. یوازې (تش) ځای ته ورسیدو. ویل یې چې . . . . . کولای شو. زه پوه شوم چې دا رستوارنټ د نجونو او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هلکانو د ملاقاتونو پټ مرکز دی. په دې شپه ښايي يوازې زموږ ليدنه داسې وه چې جنس پکې مطرح نه و.

يامين ډېر مينه ناک و. له خبرو يې پوه شوم چې زه يې د اقتصادي مشاور په توګه پېژندم، په پټو اړخونو خبر نه و. ماته يې وويل زه يې ددې لپاره ټاکلی يم، چې په پيس کور کې رضاکار پاتې شوی يم، ددوی هيواد پېژنم او له هره فرصته ګټه اخيستی شم.

خبره يې وغځوله: (ستا په هم مسلکو کې ته لږ ځوان يې، زموږ له تاريخ او مسايلو سره دې ليوالتيا سنجيده ده. تاسو غوندې خلکو کې راته هيلې ښکاري.)

دې خبرو يې نرۍ ته ښودل، زه د هغې ستر اداري غړی یم چې دومره لويې
لويې معاملې يې کړې دي. ددې معاملې جزيات رسنيو ته نه دي ورکړل
شوي، ما يو داسې تړون پنځولی و چې له مخې يې امريکا ته د تېلو په لېږد
کې هېڅ ډول خنډ نه شو رامنځته کېدای، په عربستان به آل سعود کورنی
حکومت کوي، له اسامه بن لادن سره مالي مرسته به پلان شوې وي او د
[illegible] دې امين غونډې نړيوال مجرمين به خوندي وي. زما دا پېژ [illegible] بانه يوازې
د هغو خلکو لپاره وه چې په دې هر څه پوهېدل، دې فقرې ښودل چې د
MAIN اقتصادپوه داسې يو کس دی چې هر څه کولای شي، د
MAINLINE د مقالې وروستی پاراګراف د ليکوالې شخصي نظر و چې زه
[illegible] حيران کړم:
[illegible] پلان ګذارۍ کې ډېره پراختيا راغلې ده، جان په دې
[illegible] څومره مسلکي او زيارکښ دي، له داسې خلکو

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

سره کار کول خپله نیکمرغي ګڼي، ما سره یې چې خبرې کولې نو پوهه شوم چې له خپل پرسونل سره ډېره مینه لري او ډېر پام پرې کوي، چې دا د ستایلو خبره ده.)

اصلي خبره دا ده چې ما هېڅ کله ځان اصلي اقتصاد پوه نه دی ګڼلی، ما په بوستن کې په مدیریت او سوداګرۍ کې لسانس اخیستی چې مسلک مې بازارموندنه وه، زه یو معمولي زده کوونکی وم، په مډل بري کالج مې د خوښې شعبه ادبیات وو، زه په لیک کې تکړه وم، ما چې د ارشد اقتصادي مشاور، د اقتصادي چارو کارپوه او د ځایي پلانګذار په پوستونو کار کړی دی، په دې کې زما د پوهنتون د زده کړو هېڅ ونډه نه وه، اصلي خبره دا ده، چې زما بادارانو او پېرودونکو به څنګه وړاندوینه غوښتله ما به ورته په هماغه ډول وړاندې کوله، تر څنګ یې راکې دا طبیعي وړتیا وه چې په لیکنه کې مې نور خلک د ځان همفکره کولای شول او دې ټولو سره مې هغه هوښیارتیا هم لرله چې د ډېرو پوهو خلکو خدمتونو مې هم ترلاسه کولای شول، په دوی کې د ماسټرۍ او دوکتورا لرونکي هم وو، زه د داسې پرسونل په راټولو توانیدلی وم چې زما د کار په نزاکتونو او باریکیو تر ما ښه پوهېدل، ددې ټولو حقایقو په نظر کې نیولو سره دا نظر : (جان خپلو همکارانو سره ډېره مینه لري او ډېر پام پرې کوي، د ا د ستایلو خبره ده) ، د ډېرې حیرانۍ وړ نه و.

زه دا دواړه او ورته نور څیني اسناد د خپل مېز په پورتني روک کې ږدم او زیاتره وخت یې لولم. کله کله د خپلو همکارانو په مېزونو ګرځم، هغه ښځې او نارینه چې په خپل کار کې ګورم ؛ نو د جرم دا احساس راکې پیدا شي چې ما له دې خلکو څه جوړ کړل. موږ ټولو یو رول لوباوه او هغه د شتمن او بېوزله تر منځ واټن پیدا کول او د شته واټن لا پسې ډېرول وو. ما به زیاتره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وخت د اوږو او بېوزله خلکو په اړه فکر کاوه او بیا به مې خپلو همکارانو ته لیدل چې په لویو هوټلونو کې به اوسېدل، خواړه به یې پکې او د شتمنۍ ډېري به ورته پراته وو.

زما په ذهن دا یو فشار و، ما چې کوم خلک روزلي وو هغوی ټول اوس اقتصادي جنایتکار وو او دوی ټول ما دې نظام ته رانویسي وو، ما ګومارلي او روزلي وو. خو اوس حالات هغسې نه وو لکه زما د ګومارنې پر وخت چې وو، نړۍ بدله شوې وه او کارپوریټوکراسۍ ډېر پرمختګ کړی و. زموږ نظام پرمختګ کړی و خو خلکو ته مو ضرر هم زیات شوی و، ماته چې کومو خلکو کار کاوه دا بل نسل و، د دوی په ژوند کې نه NSA و او نه کلاډین.

دوی ته چا نه وو ویلي چې د نړیوالې امپراتورۍ د ماموریت پر مخ وړلو لپاره له دوی څه تمه کېږي، دوی نه د اقتصادي جنایتکار اصطلاح اوریدلې وه او نه یې له مخفف (EHM) سره بلد وو، دوی ته چا دا هم نه وو ویلي چې ګنې ټول عمر به په همدې نظام کې تېروي. دوی ته زه مثال وم، زما له کارونو یې هر څه زده کړي وو، چې کله به پرې مکافات او کله مجازات کېدل. دوی یوازې دومره پوهېدل چې زما د غوښتنې سره سمې څېړنې او پایلې باید وړاندې کړي. ددوی معاشونه، امتیازات او حتی د ندې زما په رضایت پورې تړلې وې.

پردوی د فشار کمولو لپاره چې زما په وس کې څه وو ټول مې وکړل، لیکنې مې وکړې، لکچرونه مې ورکړل ... او ټول هغه کارونه مې وکړل چې دوی پرې زیاتوالي ته د هیله مندی، لویو پورونو او پراخه پانګونې په ارزښت پوه کړم. دوی په دې پوهول شوي وو چې که دا ټول عوامل رایوځای شي GNP دومره لوړوي چې دا به د نړۍ تر ټولو ښه ځای وګرځوي. په یوې لسیزه کې مو دوی داسې یو ځای ته را ورسول چې جرم او د جرم احساس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پکې معناوې بدلې کړې وې او ښه شکل یې غوره کړی و ، دې کار ته موږ په شریفانه ژبه د ماغزو مینځل (براین واش) وایو. همدا خلک چې زما په دفتر کې مېزونو ته ناست وو، بهر به ځي او د نړیوالې امپراتورۍ د قیام لپاره به هلې ځلې کوي. دوی ما داسې جوړ کړي لکه کلاډین چې زه جوړ کړی وم. بس تر منځ مو دومره توپیر دی چې دوی په تیاره کې دي او نه پوهېږي چې دا کارونه د کوم هدف لپاره کوي.

ما ډېرې شپې په ویښه او نارامۍ تېرې کړې، دې کارونو زه نارامه کړی وم. پاولا مې پېژندپانې ته په اشارې یو بله موضوع پیدا کړه. کله کله د خپلو همکارانو ساده توب او بې خبرۍ ته پسخیږم. ما دوی تېرایستي وو او د خپل ضمیر له عذابه مې خوندي کړي وو، زه چې کومو اخلاقي مسایلو خوږم دا خلک خو ترې لږ تر لږه بیغمه وو.

یو بل فکر چې راسره پیدا شوی و په کاروبار کې د صداقت مسئله وه. ما به ځان په دې خبره تېرایسته چې د تاریخ له پیله خلکو یو بل تېرایستلي دي،دا دومره داستانونه او فلکلوریکې کیسې له همداسې ټګۍ او برګۍ ډکې پرتې دي: د غالیو ټګ سوداګر، سودخور ساهو کار او درزي، چې شاه ته یې ویل کالي یې یوازې هم ده ته نه ښکاري او نور یې ټول خلک یې ګوري. ما به ځان ته دا ډاډ ورکاوه چې معاملې زیاتره همداسې کیږي، زما د پېژندپانې او ظاهر او تر شا یې پرتې کیسې انساني طبیعت دی، خو په زړه کې ښه پوهېدم چې اصلي خبره دا نه وه اوس ډېر څه بدل شوي دي او زه ښه پوهېدم چې موږ د ټګۍ یوې نوې کچې ته رارسیدلي یو، داسې کچه چې وروسته زموږ د بربادۍ لامل کېدای شوه، دا بربادي یوازې اخلاقي نه؛ بلکې بدني هم وه. موږ به له خپل تمدنه لاس مینځو، تر دې چې په خپله کړنلاره کې بدلون راوړو.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

مور به چې څومره منظم جرمونه کول د استعارې په مرسته په ډېر ښه ډول بیاندل. د مافیا ستر باداران د خپل جرمي ژوند پیل په کوڅو کې له بدماشیو کوي، خو وخت سره چې څنګه د ژینې لوړو پوړیو ته ورسیږي نو بیا خپل شکل هم بدلوي، ښایسته دریشي اغوندي، له نوم سره یې هېڅ غیر قانوني کار نه وي تړلی او د ټولنې په عصري او لوړ ځای کې اوسیږي. په خپل چاپېریال کې ځان سخي ښيي، خیراتونه کوي او په ټولنه کې ورته په درنه سترګه کتل کېږي، څوک چې مالي ستونزې لري پور ورکوي، لکه څنګه چې په پېژندپاڼه کې د جان پرکنز پېژندنه وړاندې شوې ده دوی هم داسې یوه پېژندګلوي خپلوي، دوی ځانونه ښه وګړي ښيي؛ خو ددې ښایسته انځور تر شا د وینې دارې ښکاري... . پوروړي هیوادونه چې خپل پورونه نه شي پرې کولای نو همدا اقتصادي جنایتکار رامیدان ته کېږي او د غوښو ټوټې ترې غواړي، چې ور یې نه کړي نو دا ګیدړان کوټک ته لاس کړی او دایره پرې راتنګه کړي او چې دا هم ناکامه شي نو بیا د رایفل ګولۍ د حرفې په ډول کاروي.

زه پوهېدم چې په دومره لویو پوستونو زما معرفي کول، د هغه دوکاندار هومره ساده ټګي نه وه چې خپل پیردونکي په سودا کې تېرباسي. دا د هغه بد نظام برخه وه چې یو معصوم پیرودونکی پکې ګرد ګرځول کېده؛ بلکې د استعمار یو پېچلی او ګټور شکل پکې پرمخ وړل کېده. ددې استعمار په اړه ما تراوسه په نړۍ کې نه څه لیدلي او نه اوریدلي دي. زما د پرسونل هر یو تن خپله دنده لرله: اقتصادي چارو کارپوه، ټولنپوه، اقتصادپوه، اقتصاد متخصص، ایکانومیټریشن (د اقتصادي ارقام د سروې له مخې کتل او تر منځ یې اړیکه رامنځته کول)، د بیو متخصصین او نور ... خو جالبه دا ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې ددې يوه له کاري عنوان هم دا نه ښکاريدل چې دوی په خپل ذات کې اقتصادي جنايتکار دي او د نړيوالې امپراتورۍ په ګټه کار کوي.

له دې القابو دا هم نه څرګنديده، موږ خو د کنګل غرونو هغه برخې يو چې له اوبو راوتې وو اصلي خطرناک غر خو اوبو لاندې پټ دي، چې که بېړۍ ورسره ټکر وکړي غرقيږي. هر لوی نړيوال شرکت له بوټونو نيولې تر ورزشي وسايلو پورې ټول په خپل ډول کې اقتصادي جنايتکار وو، ګامونه پورته شوي او نړۍ ډېره په سرعت ددوی پنجو ته لويږي. اوباشانو خپل لباس بدل کړی او کورتۍ يې اغوستې دي، ښايسته دريشو کې ګرځي او خپل شخصيت لوړ ښيي. په نيويارک، شيکاګو، سان فرانسسکو، لندن او توکيو کې له مېشتو سوداګريزو دفاترو ښځې اوسړي نړۍ ته خپرېږي . ددوی کار دا دی چې هر هيواد فاسد مشران دې ته چمتو کړي ، چې هيواد يې همدې سوداګرو ته وسپاري او د خبرو او لارښونو په مرسته غريب ولس په بازار کې خپل او فابريکو کې خپل بدنونو پلورلو ته اړباسي.

زما د پېژندپانې او MAINLINE تر شا اصلي موخه موږ د هغې نظام په شکنجه کې ساتل وو چې بد اخلاقي او خان وژنې خواته يې ګامونه پورته کول. زه په دې اعتراف کوم چې پاولا زه دې کړښو ته متوجې کړم او په دې لاره يې يو بل ګام پورته کولو ته اړويستم، چې ورسره زما د ژوند لاره ښخې بدله شوه.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

څلورويشتم فصل

د اکوادور ولسمشر او ستر نفتي شرکتونه

په کولمبیا او پانامه کې ډېر بوخت وم، هغو هیوادونو سره مې هم اړیکې کمې شوې چې زما کور ته نږدې یا د کور غوندې وو. د دیکتاتورۍ اوږدې لړۍ او کینې لاسو چاړواکو د امریکا د ګټو لپاره کار کاوه او اکوادور ته یې سخت ټپونه ورکړي وو. دا د یوه هیواد د مفلسۍ او کمزوري جمهوریت غوره بېلګه وه او کارپوریټوکراسي پرې سمه واکمنه وه.

د اکوادور له امازون ساحې د تېلو استخراج په ۱۹۶۰ کال کې پیل شوی و. د انتیکو او قیمتي شیان د پېرلو لړۍ پیل شوه. د اکوادور څو واکمنې کورنۍ د نړیوال بانک د لاس آلې وګرځېدې، خپل هیواد یې په پورونو کې ډوب کړ. دې سره د تېلو د عاید ژمنه هم وه، په ټول هیواد کې د سړکونو، صنعي ښارګوټو، برېښنا بندونو، د برېښنا وېش او انرژۍ د نور مرکزونو جال هم خپور شو او یو ځل بیا ورسره د نړیوالو انجینري او سوداګریزو شرکتونو بله شوه.

په دې هیواد کې د یوه کس د بخت ستورۍ ځلیده، دا سړی له سیاسي فساده پاک او د کارپوریټوکراسۍ په جال کې نه و. جیمي رولډس JAIME ROLDOS په پوهنتون کې استاد او وکیل و، عمر یې د دېرشو او څلوېښتو کلونو په منځ کې و. حو خله مې ورسره لیدلي دي، ډېر په زړه پورې او زړه راښکونکی شخص و. یو وار مې ورته په ډېره خوښۍ کیټو ته د ورتلو او وړیا مشاورتي خدماتو وړاندیز کړی و. هر وخت یې راسره لیدلی شول، په دې کار کې یو څه طبیعي طنز هم شامل و، خو ما دا کارونه په خپلو رخصتیو کې کولای شوا.. دا ک... راته ګران و، ورته مې ویلي وو چې ستا هیواد ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

... ړلو لپاره ښکاره کوم. هغه موسکی شو او راته یې وویل چې که هر کله ... پلار به اړ کوم ... ډېره ګول غواړې؛ نو اړیکه راسره کولای شې.

... بولاړ، ... مشر او رهبر و. د بیوزلو خلکو پر حق یې باور درلود، ویل به یې چې ... سیاستوال باید ملي شتمنې او زېرمې په هوښیارۍ وکاروي. په ۱۹۷۸ ز کال کې یې د والسترېز کمپاین پیل کړ، په لږ وخت کې د خپلو خلکو او هغو بهرنیانو پام ور واوښت چې هلته د تېلو په استخراج بوخت وو او یا یې د قوي نړیوالو له اثر او رسوخه ځان پناوه. په اوسنیو رهبرانو کې لږو یې د رولډوس غوندې ښېګڼې لرلې. یوه ښېګڼه یې دا وه چې د (ستېټس کو) له مخالفته هم ونه وېرېد، د تېلو کومو شرکتونو چې ستېټس کو سره مرسته کوله دا یې پر ضد ودرید. ما اوریدلي چې د امریکا پر یوې تبلیغاتي اداري Summer institute of linguistics (SIL) یې تور پورې کړی و چې د تېلو له شرکتونو سره یې جوړجاړی کړی دی. زه د SIL له مبلغینو سره د پیس کور له وخته بلد وم، دوی د نورو هیوادونو سره اکوادور ته هم له دې شعار سره رانوتي وو چې د ځایي ژبو مطالعه، ثبت او ژباړه به کوي.

SIL په امازون کې پر حوراني Huaorani قبیله ډېر کار کاوه. دا هغه وخت و چې د تېلو استخراج نوی پیل شوی او د SIL د یوې ځورونکې کړنلارې راپور ورکړل شو. کېدای شي دا به تصادف و او کوم ثبوت به یې نه درلود؛ خو د امازون په ځینو ډلو کې دا کیسه مشهوره شوه چې د زلزلو د چارو کارپوهانو د امازون په داسې یوه سیمه کې مرکزي دفتر جوړلو غوښتل چې د تېلو نښې پکې لیدل شوې وې، په همدې وخت کې SIL ځینې مبلغین هلته ... خلکو سره خبرې یې کړې وې چې له خپلو ځایونو کډه وکړي او د مبلغینو سیمو ته ورشي. ورته ویل شوي وو چې هلته به وړیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خواړه، روغتیایي خدمات او زده کړې ورکول کیږي. ددې کیسې له مخې ددې تولو وړیا خدمتونو شرط یوازې دا و چې خلک خپلې ځمکې د تېلو شرکتونو ته ورکړي.

داسې اوازې هم وې چې د SIL مبلغینو ددې لپاره ډېرې دسیسې جوړې کړي چې خپل ځایونه پرېږدي. دا ډېره مشهوره وه چې مبلغینو په خلکو جلاب لرونکي خواړه وېشلي وو او چې اسهال خپور شو نو بیا یې درمل وېشل. له الوتکو یې داسې بسکیټ وغورځول چې راډیو ترانسمیټرونه پکې نصب شوي وو، ویل کیږي ددې ترانسمیټرونو اړیکه د امریکایي پوځ له هدو سره وه، چې هلته به پیغامونه ترې ترلاسه کول. د سیمې کوم تن به چې مار وچیچه یا به سخت ناروغ شو؛ نو مبلغینو به د تېلو د شرکتونو په چورلکو کې درمل او تریاک ور وړل.

د تېلو د استخراج په لومړیو کې د پنځو مبلغینو مړي وموندل شول چې د حوارانی قبیلې نیزې یې پر سینو خښې وې. وروسته بیا د سیمې خلکو وویل دا کار یې ځکه کړی چې مبلغینو ته له خپلې سیمې د لیرې ګرځېدو پیغام ورسوي. په دې پیغام غوږ ونه ګرول شو، اغېز یې اپوټه و. د یوه وژل شوي پلوي راشل سینټ Rachel Saint په ټوله امریکا وګرځېده او پر ټلویزونو کې به یې په دې خپرونه کوله چې SIL او د تېلو شرکتونو ته فنډ او مرستې پیدا کړي.دعوه یې دا وه چې ټول په ګډه د هغو وحشیانو د متمدنه او باسواده کولو لپاره هلې ځلې کوي.

د ځینو سرچینو په وینا SIL سره مالي مرسته راک فیلر کوله. د راک فیلر کورنۍ نازولي جان ډي راک فیلر د سټیټ ایل شرکت بنسټ ایښی و چې وروسته بیا د شیوران CHEVRON ایګزون EXXON او موبل MOBILE په شمول لویو شرکتونو کې مدغم شو. (۱)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما فکر کاوه رولډوز هغه کس دی چې د طوریجو په روښانه کړې لار به ځي، دواړه د نړۍ مقتدر خبرخواک ګواښلی و، طوریجو کانال بېرته واخیست او رولډوز د تېلو له مشهورو او مخورو شرکتونو سره اړولي وه. رولډوز هم د طوریجو غوندې کمونیست نه و. د خپل هیواد د حقونو بیرغ یې راپورته کړی او غوښتل یې خپل تقدیر په خپله ولیکي. سیاسي پنډتانو وړاندوینه کړې وه چې لویې سوداګریزې ادارې او واشګنتن به رولډوز هم د سیاسي مشر په توګه ونه زغمي او د طوریجو په سرنوشت به یې اخته کړي، که چیرې دا ټاکنې وګټې؛ نو انجام به یې هماغه وي چې د ګویټمې مالا آربینز او د چیلي آلندې ورسره مخ شوي وو.

ما فکر کاوه چې دا دواړه به د لاتیني امریکا په سیاست کې د یوه نوي تحریک سرلاري وي او یو داسې خوځښت به رامنځته کوي چې ټوله نړۍ به ترې اغېزمنېږي. دوی دواړه کیاسترو یا قذافي نه وو. روس او چین سره یې اړیکه نه لرله. دواړه یې په خلکو ګران او ځیرک مشران وو. یوازې نظري خلک نه وو، علمي هم وو. قام پرست وو خو د امریکا پر ضد نه وو. کارپوریټوکراسي په درې ستنو ولاړه وه، شرکتونه، نړیوال بانک او حکومت ... خو رولډوز او طوریجو دا وړتیا درلوده چې د حکومت ستنه یې ولړزوي.

د رولډیز په پالیسیو کې تر ټولو مهمه هغه یې د هایدروکاربن وه. ددې پالیسۍ فرضیه دا وه چې پټرول د اکوادور تر ټولوستره طبیعي سرچینه ده او په راتلونکي کې باید پرې داسې کار وشي چې خلکو ته یې تر ټولو ډېره ګټه ورسېږي. رولډیز په دې باور و چې د حکومت مسئولیت غریبو او بېوزله خلکو سره مرسته ده. دده په باور هایدرو کاربن پالیسي هغه وسله وه چې پر مټ یې ټولنه اصلاح کېده. دده کار د تورې پر ژۍ د تګ هومره باریکه و، دی پوهېده چې د نورو هیوادو په څېر دی په ایکواډور کې هم تر هغه نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

شي تاکل کېدی چې شتمنې کورنۍ ورسره نه وي او که په یوه ډول بې ددوی له مرستې تاکل شوی هم وی؛ نو بې ددوی له ملاتړه یې خپل پلانونه نه شول عملي کولای.

زه خپله ډاډه وم، دا وخت په سپینه ماڼۍ کې د کارټر غوندې کس ناست و. د ټیکساکو او تېلو د نورو ګټو له لورې تر سخت فشار لاندې بیا هم واشنګټن تر ډېره حده خپله لمن غوړولې وه. زه پوهېدم چې بله هره اداره (دیموکرات یا جمهوري غوښتونکې) وای دا کار ناشونی و.

د نورو ټولو مسایلو په مقابل کې یوازې هایدروکاربن هغه لامل و چې له مخې یې هر اکوادوري رولډوز خپل مشر غوښت. د امیرینو (زورواکو) تر اورد لیست وروسته دا ددوی لومړی راټلونکی منتخب ولسمشر و. ده د ۱۹۷۹ ز کال د اګست په لسمه نېټه په یوه وینا کې د خپلې پالیسۍ خاکه داسې وړاندې کړه:

(موږ ډېر ګټور اقدمات کوو چې د انرژۍ د ملي سرچینې دفاع وشي. دا د حکومت مسئولیت دی چې هر حالت کې په استخراج کې بدلون وساتي او خپله اقتصادي خپلواکي په خطر کې وانه چوي .... زموږ د پرېکړو تر شا به یوازې ملي ګټې وي. موږ به د خپل لوړ اقتدار په دفاع کې هېڅ ډول نیمګړتیا پرې نه ږدو.) (۲)

ډاک ته له رسېدو وروسته باید رولډوز پر کوټیکساکو ډېر پام کړی وی، ځکه د تېلو په لوبه کې همدا لوی لوبغاړی و. دا ډېره ستونزمنه لاره وه. د تېلو دې شرکت پر نوي ولسمشر باور نه کاوه ، نه یې غوښتل چې ددې پالیسۍ برخه وګرځي او په دې لوبه کې کوم نوی ریکارډ جوړ کړي. دوی پوهېدل چې دا پالیسي د نورو هیوادونو لپاره هم یو بېلګه ګرځېدای شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د رولډوز یوه ارشد مشاور Jode Carvajal د نوې اداري پالیسی خاکه داسې وړاندې کړه:

(که زموږ یو شریک (تیکساکو) خطر نه مني، د تېلو پر کشف پانګونه نه کوي، یا د تېلو له هغو خدماتو ګټه نه اخلي چې لري يې؛ نو بل شریک دا حق لري چې خپله پانګونه وکړي او د خاوند په توګه قابض شي ...

موږ غواړو چې له بهرنیانو سره مو اړیکې پر انصاف ولاړې وي. په دې هلو ځلو کې به له خپل موقف کلکه دفاع کوو. د هر ډول فشار زغملو ته به چمتو یو؛ خو دې بهرنیانو سره د معاملې پر وخت باید د هېڅ ډول وېرې یا کمترۍ احساس ښکار نه شو.) (۳)

۱۹۸۰ د یوې نوې لسیزې پیل و، اته ویشت ورځې وروسته به مې عمر پنځه دېرش کاله شي، ځان سره مې پرېکړه وکړه چې را روان کال به په خپل ژوند کې یو ستر بدلون راوړم او وروسته به هڅه کوم چې خپل ژوند د نوي دور د مشاهېرو جیمی رولډوز او عمر طوریجو د ماډل سره سم تېر کړم.

څو میاشتې مخکې یوه بله ستره پېښه شوې وه، د ګټې کولو له مخې برونو د MAIN په تاریخ کې تر ټولو بریالی مشر و. خو په یو دم او بې له کوم خبرداري میک هال Mac Hall برونو له خپلې دندې لیرې کړی و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې :

د SIL او تاريخ په اړه يې د لا زياتو معلوماتو لپاره د ګرارډ کولبي کتاب "They will be done" ولولې، سربېره پرې د جوکين ليکنه "SAVAGE" هم مطالعه کړئ.

۲- " Politics and Petroleum in Ecuador" John. D. Martz.

۳- "Objectivos politicas de CEPE" Jose Carvajal Candall.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځه ویشتم فصل

زما بېلتون

د برونو په تګ په MAIN زلزله غوندې راغله. په دفتر کې شخړې او مخالفتونه پیدا شول، خلکو به چې خبرې کولې ویل به یې چې برونو شرکت ته ډېره ګټه رسولې ده، له پنځلس کالو یې دلته کار کاوه، اوس یې چې لیرې کړ لامل یې دا و چې مشر ترې وېرېدلی و، ټول پوهېدل چې دا پرېکړه د حسد له مخې شوې وه.

یوه یې وویل: (هال دا نه شول زغملی چې برونو دې دومره پرمختګ وکړي، هغه پوهېده چې لږ وخت کې یې برونو ځای نیوه او ډېر لوی خلک له میدان وتل.)

دې خبرو هله زور واخیست چې د هال له خوا پال پر ډې PAUL PRIDDY د نوي رئیس په توګه وګومارل شو. پال له څو کلو د MAIN معاون و. ډېر نرم او تکړه انجینیر و. د مشر (چیرمین) هره خبره یې منله او نوي مشر له ډېرې ګټې هېڅ وېره نه لرله، ډېر خلک زما له خبرې سره موافق وو.

ما فکر کاوه چې د برونو تګ خطرناک و. هغه زما شخصي ملګری او ناصح و، خو زموږ په نړیوالو مسایلو کې یې شخصیت د ځانګړي پام وړ و. اپوته د پرډي پام ډېر داخلي مسایلو ته او د بهرنیو مسایلو په اړه لږ پوهېده. ما غوښتل د شرکت په راتلونکي پوه شوم، د برونو کور ته مې زنګ وواهه، خو د هغه غبرګون ډېر فلسفي و.

هغه راته د هال په اړه وویل چې : (هغه پوهېده چې هېڅ جواز یې نه درلود، ما د بېلتون لپاره غوښن امتیاز وغوښت او هغه یې راکړ. زه پوهېږم چې د هغه رایې ډېرې وې او که کوم ګام یې پورته کړ وی نو زه بې وسه کېدم.)

Downloaded By: Afghan Salar Library

برونو راته وویل چې نړیوال بانک یې پېرودونکی پاتې شوی دی، د کوم لوړ پوسټ وړاندیز یې ورته کړی او دا پرې فکر کوي.
ما ترې وپوښتل چې زه باید څه وکړم؟
مشوره یې راکړه چې: (سترګې پرانستې ساته، هال له حقایقو سره اړیکه پرې کړې، خو دا خبره به ورته هېڅوک نه کوي، خصوصاً په داسې حال کې چې پوهېږې ماسره یې څه کړي.)
د ۱۹۸۰ ز کال دمارچ په میاشت کې مې په ورجن جزیره د کښتۍ چلولو تفریح پیل کړه، د MAIN یوه کارمنده میري هم راسره وه. ما چې د استراحت لپاره کوم ځای ټاکلی و هغه وخت نه پوهېدم، خو اوس پوهېږم چې زما د نوي کال د پرېکړې په عملي کولو کې یې لویه ونډه لرله. زه یې په اشاره هغه وخت پوه شوم چې په سینټ جان جزیره کې مو چکر وواهه او سر فرانس ډریک کانال ته ننوتو، دې کانال وېرجن برطش جزیره (آیلند) له امریکا جلا کوله.
دا کانال د هسپانیایي بېړۍ چلوونکي ډریک په نوم نومول شوی و. له دې پوه شوم چې تېرو څو کالو کې مې څو ځله په ذهن کې د بحري جنګیالو او تاریخي شخصیتونو خبره راغلې وه. داسې نومونه هم پکې وو؛ لکه ډریک او سرهنري مارګن ، دوی غلاوې وکړې، خلک یې ولوټل خو بیا یې هم په شان کې قصیدي لیکل شوي دي، تر دې چې د سر (ښاغلي) خطاب ورته وشو. ما څو ځله له ځان وپوښتل، زه خو هم دې لپاره روزل شوی یم چې د داسې خلکو عزت وکړم، نو بیا ولې زما ضمیر ما د اندونیزیا، پانامې، کولمبیا او اکوادړو هیوادونو په استحصال ملامتوي. ایتهنی ایلن، توماس جیفرسن، جورج واشنګټن، دانیال بیون، ډیوي کراکټ، لویس او کلارک زما مشاهېر وو. دوی خو انډینز، غلامان او هغه ځمکې استحصال کړې چې د دوی نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وي. ما به د خپل جرم د سپکولو لپاره ددې مشاهېرو بېلګې وړاندې کوې، خو اوس چې د سرافرانسیس کانال ته روان وم نو په خپلې پخوانۍ عقلیت پسندۍ مې د کم عقلتوب احساس کاوه.

د تېرو کلونو څو خبرې مې رایادې شوې. ایتهین ایلن څو کاله د برطانوي بېړۍ په تنګ او تیاره محبس کې تېر کړل. زیاتره وخت به یې په پښو کې دېرش پونډه بېړۍ پرتې وې، بیا یوه اوږده موده د برطانیه په زندان کې جنګي اسیر و. دی د ۱۷۷۵ ز کال د مانټریال په جګړه کې نیول شوی و، که څه هم ده د خپلواکۍ داسې جګړه کوله لکه عمر طوریجو او جیمي رولډوز یې چې د خپلو خلکو لپاره کوي. توماس جیفرسن، جورج واشنګټن او نورو اساسي مشرانو د همداسې فکر لپاره ځانونه په خطر کې واچول. د خپلواکۍ د جګړې کومه حتمي پایله نه وه. دوی پوهېدل که ناکام شوي وی نو د ناکامۍ په جرم یې ځای د اعدام تخته وه. په همدې دانیال بون، ډیوي کراکت، لیوس او کلارک هم ډېرې ربړې تېرې کړې او سترې قربانۍ یې ورکړې دي.

ډریک او مارګان څه مقام درلود؟ د تاریخ په دې باب کې مې دومره مالومات نه لرل خو دومره پوهېدم چې معترضینو د انګلستان له هسپانوي کاتولیکانو ډېر خطر احساسوه. فکر کوم دوی دواړه ځکه د بحري قزاقانو لاره غوره کړه چې د هسپانیه پر بېړیو بریدونه وکړي ، ځکه دا کار په اصل کې ددې امپراتورۍ زړه داغل وو. د خپلې ګټې پر ځای به یې غالباً د انګلستان د دفاع لپاره دا کار کاوه.

موږ چې کانال ته نږدې شو نو په ډېر ارام د هغه غر خواته روان شو چې د اوبو له منځه راوتی و. GREAT THATCH ISLAND په شمال کې وې او سینټ جان په جنوب کې. دې سره هم له هغوافکارو خلاص نه شوم، هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

افکار مې په ذهن خپاره وو. میري راته یو بیر راکړ او د جمې بفي د سندرې غږ یې لوړ کړ. سره له دې چې ښایسته منظرې راته ښکاریدې او کښتیو راته د خپلواکۍ احساس راکاوه خو بیا هم زه ورک ورک وم. ما غوښتل له دې حالته ووځم او په همدې نیت مې بیر له ستوني تېر کړل.

نه! دې خفګان زه نه پرېښودم، د تاریخي له پاڼو دې راتلونکو غږونو زه ځوروم. خپل پلار او هغو غږونو ته مې غوسه راتله چې ما پکې یو سپیڅلی ښوونځي ولوست او هلته یې دا خبرې راته په ذهن کې کینولې. د بیرو بل بوتل مې خلاص کړ، دومره احساساتي وم چې حتی میک هال مې د برونو په سر وژلای هم شو.

یوه لرګینه بادبان لرونکې کښتۍ مو له څنګه تېره شوه. د کښتۍ دواړه بادبانونه خلاص وو. څو ښځو موږ ته لاسونه خوځول او شور یې کاوه. خوشاله وې، شوخ رنګ کالي یې اغوستي وو. د کښتۍ پر فرش یوه جوړه (ښځه او سړی) لوڅه پرته وه. کښتۍ او خلکو ته په یو نظر معلومات کېده چې خلک مسافر دي. ددوی خپله ګډه ټولنه ده، عصري قزاقان، دوی خپلواک وو، هېڅ بندیز پرې نه و.

ما غوښتل لاس ورته وخوځوم، خو لاس مې راسره ملګري ونه کړه، لکه چې حسد مې پرې راغی. میري تر ډېره د کښتۍ پر فرش ولاړه وه، تر دې چې هغه بله کښتۍ فنا شوه، ویې پوښتلم:

(په تا دا ژوند ښکه لګي؟)

(بلې زه په ټوله خبره پوه شوم، زما غوسه مې موږ، پلار او ښوونځي ته نه راتله، دا اصل کې زما خپل ژوند و چې کرکه مې ترې کوله، ددې مسئول یوازې زه وم، ما خپل ځان نه کرکه کوله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

میري کوم څه ویل، د کښتۍ بلې څنډې ته یې اشاره کوله، بیا ماته رانږدې شوه ویل یې: (لینسټر خلیج) را ورسید، شپه به همدلته کوو.)
دا ځای د سینټ جان له وچې (ای لینډ) سره نښتی و، همدلته د قزاقانو کښتۍ د هسپانوي ګولډفلیټ په موضع کې پټه شوې وه، ما خپله کښتۍ لږه ورنږدې کړه، بیا مې کښتۍ میري ته پرېښوده او زه یې بل سر ته لاړم، هغې کښتۍ د واټر میلن کی نه راتاوه کړه او ښایسته خلیج ته ننوتو.
ما د کښتۍ لنګر را خلاص کړ، میري په ډېر مهارت بادبان رانښکته کړ، لنګر مې یوې خواته واچوه، درون زنځیر سپینو اوبو کې ډوب شو او کښتۍ ودریدله. په ارام چې ودریدو میري لږه وګرځېده او بیا ویده شوه. ما ورته یو پیغام پرېښود او خپله ساحل خواته روان شوم. هلته د ګنیو ویجاړو شویو پټو سره ودریدم. څو شېبې اوبو ته نږدې کیناستم. ډېره هڅه مې وکړه چې څه فکر ونه کړم او ذهن مې له احساساتو تش کړم خو بریالی نه شوم.
ماسپښین بیا د یوه غره سر ته وختم، په نړېدلي دیوال کیناستم او لنګر اچونکې بیړۍ ته مې کتل. لمر په کارابین بحیره کې ډوبیده. دا هر څه ساده او خوندور وو خو زه پوهېدم چې زما خواته پراته پټي ځورونکي وو. دلته زرګونو تورپوټکو غلامانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و. په دوی یې د توپک په زور ښایسته ماڼۍ ابادې کړې، ګنې یې پرې وکرل او ګانۍ یې پرې وچلولې. ددې ځای د سکون تر شا د ظلم او وحشت کیسو شور جوړ کړی و. په دې ځای یوازې د امن پرده راځړېدلې ده، همداسې زما په ذات کې په شته کشمکش او طوفان هم یوه پرده ځړېدلې وه.
ددې، جزیرې، د ټولو غرونو شاته لمر ډوبیده. په اسمان د ارغواني رنګ یو محراب جوړ سوی و. سمندر تیاره شوی و. اوس مې نو دا تریخ حقیقت منلی ته ولاړ و چې ما خو هم خلک غلامان کړي دي. MAIN کې زما کار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يوازې دا نه و چې هيوادونو ته پورونه واخلم، ددې پورونو هدف خو يوازې همدا نه و چې د پوروړو هيوادونو په تبلو واکمن شوې او د وجود ټوټې ترې پرې کړو، زما او د MAIN د شريکانو کار يوازې ګټه زياتول نه وو. زما دندې له خلکو او د هغوی له کورنيو سره ژوره اړيکه لرله. دوی هم دهغو غلامانو په څېر وو چې دا ديوال يې پرې رغولی او پکې خښ کړي يې دي، دا ديوال چې يې زه پر نړيدلي وجود ناست يم. رښتيا خبره خو دا ده چې موږ د خلکو استثمار کړی دی.

له لسو کلونو زه د همدې غلام سازو خلکو وارث يم. دوی به د افريقا ځنګلونو ته تلل، ښځې او نر به يې نيول او په زوره به يې بېړيو ته پورته کول.

زما کار يو څه عصري و، نازک او پيچلی، ما څوک نه دي وژلي، د مړو بويونه نه مې نه دي حس کړي. دردونکي چيغې مې نه دي اوريدلي، خو څه مې چې کړي هر شبېه يې له بديو ډکه ده، ځکه چې ما ځان له داسې دردوونکو پېښو خوندي ساتلی دی، ما د چا مرګ، چيغې او فريادونه نه دي ليدلي، زه ډېر ګنهګار وم.

يو ځل مې خپلې کښتۍ ته وکتل، ولاړه وه او له څپو سره يې مبارزه کوله، ميري په تخت ګرځېدله، لکه چې له مارګريتا شرابو يې خوند اخيست، په تمه به وه چې زه بېرته ورشم او ماته يې هم راکړي. ما چې د ډوبيدونکي لمر په دې وروستيو کې شپېو کې ليدله ډېره ارامه او بيغمه ښکاريده. زه ولړزيدم، زه دې او خپلو نورو همکارانو سره څه کوم؟ په کومو حيلو مې له دوی اقتصادي جنايتکاران جوړول. ما دوی سره عيناً هماغه څه کول چې کلاډين ماسره کړي وو، خو په دې توپير چې زه د کلاډين هومره رښتينی نه وم. ما غوښتا ... ـګ او معاشونو په حرص کې فاسد او غلام ساز

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کړم، خو زما په خبر دوی هم له نظام سره نښتي وو او په خپله هم غلامان وو.

له سمندر، اسمان او ارغواني مابنامه مې مخ واړوه. له هغو دیوالونو مې هم سترګې پټې کړې چې د جوړولو لپاره یې له افریقا نه غلامان راوستل شوي وو. غوښتل مې له هر څه جلا شم. یوه شېبه پریوتم، اسمان ته مې ولیدل، چې سترګې مې پرانستې په یوه کوتک (لرګي) مې سترګې ولګیدې، دېلوالی یې د کلنګ د لاستي قدر و، کوتک مې راواخیست او دیوال ته مې ونیوه، تر هغه مې دا دیوال وواهه چې بلاخره زه ستړی شوم، بیا ښایسته شېبه په کبلو (چمن) پریوتم په اسمان کې مې وریځو ته کتل.

بلاخره راستون شوم، څو شېبې پر ساحل ولاړ وم، خپله کښتۍ مې ولیده چې په شنو اوبو کې ولاړه وه، زه په دې پوه شوی وم چې څه باید وکړم. پوه شوم چې که خپل پخواني ژوند MAIN او اړوندو مسایلو ته ورستون شم له منځه به لاړ شم. معاش، تقاعد، بیمه، جایزې، سفرېې ... دا ډېر زړه راښکونکی جال و، څومره چې پکې اوسېدی همدومره ترې راوتل ستونزمن وو، زه غلام وم یوازې غلام، زه باید یا بهر راوتی وی او یا مې ټول عمر ځان داسې وهلی وی لکه دا دیوال مې چې وواهه.

دوه ورځې وروسته بېرته بوستون ته راستون شوم، د ۱۹۸۰ ز کال د اپریل په لومړۍ نېټه د پال پرډي دفتر ته ورننوتم او استعفا مې ورکړه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

څلورمه برخه

له ۱۹۸۱ تر اوسه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

شپږ ویشتم فصل

د اکوادور د ولسمشر مړینه

د MAIN پرېښودل اسان نه وو. د پال پرډي باور نه کېده، سترګې یې ومونښلې ویې ویل: (اپریل فول کوې مې؟) (د اپریل لومړۍ نېټه د دروغو نړیواله ورځ ده. ژ)

ما ورته وویل چې جدي یم. د پاولا نصیحت مې په یاد و چې راته یې ویلي وو، هېڅوک مه خبروه چې ته ګني اقتصادي جنایتکار افشاء کوې. ما ورته وویل چې MAIN راته څه کړي د ټولو قدر کوم، خو زه باید لاړ شم. تل مې غوښتل د هغو خلکو په اړه لیکل وکړم چې په MAIN ورسره معرفي کړم. له داسې خلکو نړۍ ډکه وه خو زما لید سیاسي نه و. ورته مې وویل چې د نیشنل جیوګرافیک یا کومې بلې مجلې سره به د ازاد خبریال په توګه کار کوم، دې سره به مې د سیل او چکر شوق هم پوره شي. له MAIN سره مې د وفادارۍ ژمنه وکړه او ومې ویل چې هر ځای کې به ددوی صفتونه کوم او بلاخره پال پرډي ومنله.

له دې وروسته راته ټولو ویل چې استعفا دې بېرته واخله. تکراراً راته ددې ادارې ګټې په ګوته کېدې او څینو خو آن لیونی وبللم. زه پوهېدم دوی دا نه شوه زغملای چې زه دې دوی په خپله خوښه پرېږدم. لږ تر لږه په جزوي ډول همداسې وو، ځکه له دې پېښې وروسته باید هغوی په خپلو معاملاتو هم فکر کړی وی. که ما دا ځای د کوم لیونتوب له امله نه و پرېښی نو دوی باید فکر کړی وی چې ددوی په کې څه ګته ده؟ ددې ستونزې یوازینی حل دا و چې ما خپل حواس بایللي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نر تولو خورونکی غبرګون زما د پرسونل و. دوی فکر کاوه چې زه ګني ورسره
ټګي یا خیانت کوم. ځکه دوی ته بل قوي ځای ناستی هم نه ښکاریده خو
ما پخه اراده کړې وه. له دومره تودو سړو وروسته مې نن ایله پخه پرېکړه
کړې وه.

له بده مرغه هر څه هغسې نه شول چې ما یې فکر کاوه. ما دنده نه لرله. د
MAIN هم نیمګړی شریک وم. دومره څه نه وو چې ورته ناست وی، که زه
له دې دفتر سره لږ وخت نور پاتې وی نو د حساب له مخې، څلوېښت کلنی
کې به مې ښې پیسې لرلې. خو اوس مې باید په پنځه دیرش کلنی کې
ددې هدف ترلاسه کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کړې وی. په بوستن کې د
اپریل دا میاشت سړه او بې خونده وه. یوه ورځ راته پال پرډي وویل چې د
هغه په دفتر کې ورسره وګورم. په لیدنه کې یې راته وویل : (زموږ یوه
پېرودونکي د کار نه راکولو ګواښ کړی دی، موږ ته یې کار په دې شرط
راکاوه چې د متخصصینو پر وړاندې به یې ته وکالت کوې.)

ما په دې مسئله فکر وکړ. همدلته مې فکر وکړ، د خپل کار بیه مې ورته
وویله، دا بیه په MAIN کې زما له معاشه درې چنده زیاته وه. زه حیران یم
چې څنګه یې راسره وملنه، په دې توګه مې د عاید یوه سرچینه پیدا شوه.

په وروستیو څو کلونو کې زه د ډېر معاش اخیستونکی مختصص وکیل وم.

په اصل کې زه د هغو امریکایي برېښنایي شرکتونو وکیل وم چې د عامه چارو
له کمیسیون نه یې د نویو برېښنا کوټونو د نصب امر اخیسته. په پېرودونکو
کې مې یو د نیوهمپشایر د عامه خدمتونو شرکت هم و. زما دنده دا وه چې
په ډېره دعوه مې د سي بروک نیوکلر پلانټ د عملي کولو جواز قسماً
وړاندې کړی وی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

که څه هم اوس مې له لاتینې امریکا سره مخامخ اړیکې نه لرلې خو له پېښنو یې خبریدم، کار مې داسې و چې د حاضریو (جلسو) په منځ کې مې ډېر وخت درلود. پاولا سره مې اړیکه لرله. ترځنګ مې یې د اکوادور په پیس کور کې هم له ځینو پخوانیو ملګرو سره اړیکې ورغولې. دې هیواد په ناڅاپي ډول د تېلو په نړیوال سیاست کې مرکزي ونډه خپله کړې وه.

جیمي رولډوز پر مخ روان و، کمپاین کې پر کړیو ژمنو عمل یې کاوه، د تېلو د شرکتونو پرضد یې پراخ کمپاین پیل کړی و، هغه شیانو ته ځیر و چې د پانامې د کانال د دواړو خواو چارواکو ته نه ښکاریدل یا یې پرې سترګې پټې کړې وې. د ځمکې لاندې هغو څپو باندې ښه پوهېده چې نړۍ یې په نړیواله امپراتورۍ بدلوله. پوهېده چې دا څپې به د هیواد وګړي د داسې یوې لوبې برخه وګرځوي چې پولې به یې په لوړه او بیوزلې ختمېږي. دده په اړه له خپریدونکو لیکنو ډېر اغېزمن وم. دا سرې خپله هم پوهېده او په نورو مسایلو یې هم سر خلاصیده. دې ژورو مسایلو دې ته اشاره کوله چې نړیوال سیاست نوي دور ته ننوځي.

د ۱۹۸۰ ز کال د نومبر په میاشت کې کارټر ټاکنې وبایللې او ریګن بریالی شو. دده د بایلات لاملونه، طوریجو سره د کانال تړون، ایران کې د امریکا د سفارت کارکوونکي یرغمال کېدل او په خلاصون کې دده ناکامې هڅې وې. ځینې پېچلې پېښې هم شوې وې. د یو ولسمشر اصلي هدف نړیوال امن و او غوښتل یې په تېلو د امریکا تکیه کمه کړي خو اوس یې ځای داسې یو کس نیولای و چې پوهېده د امریکا اصلي مقام تر ټولې نړۍ لوړ دی او دا مقام یوازې په پوځي قوت ترلاسه کېدای شي. دا چې چېرته هم د تېلو زېرمې دي، نیول یې د (تقدیر لیک) یوه برخه ده. اوس هغه ولسمشر تللی و چې د سپینې ماڼۍ پر چت یې د لمریزې برښنا تختې نصب کړې وې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پر ځای یې داسې یو کس راغی چې ځنګه OVAL دفتر ته رانوت دا تېښتې یې لیرې کړې.

کېدای شي کارټر به د امریکا لپاره ډېر ګټور نه و، خو افکار یې هغو ارادو ته ورته وو چې د خپلواکۍ په جګړه کې ښودل شوې وې. اوس چې شاته ګورم، نو دا سړی راته ډېر زوړ فکره انسان ښکاري. دا هغه زاړه افکار وو چې امریکا یې په یوه نوي چوکاټ کې واچوله او زموږ پلرونه یې سینې پورې ونیول. موږ یې چې له اوسنیو مشرانو سره پرتله کوو؛ نو ددوی له ډلې نه ښکاري. دده نړیوال لید له اقتصادي جنایتکارو سره جوړ نه ښکاري.

ددې اپوته ریګن د نړیوالې امپراتورۍ رغوونکی او د کارپوریتوکراسۍ خادم و. دا چې بریالی شو نو ما وې چې د هالیوود ممثل پوست ورته ښه و. هلته به یې روزلی وی چې د مشرانو په وینا عمل وکړي او هدایت اخیستل خو یې ښخي په فطرت کې نه وو. دا به حتمن د هغو خلکو غوښتنې مني چې کله په شرکتونو ګرځي، کله په نړیوال بانک کې وي او کله بیا په لویو حکومتي پوستونو کار کوي. دا به د هغو خلکو خدمت کوي چې په ظاهره دده خدمت کوي خو په اصل کې ټول نظام پر مخ وړي. تاسو یې له دې نومونو پېژندلای شئ: د ولسمشر معاون جورج. ایچ. ډبلیو بوش، د بهرنیو چارو وزیر جورج شټلز، د دفاع وزیر کسپر وین برجر، ریچارد چیني، ریچارد هلمز او رابرټ میکنامارا. دا ولسمشر به د هر هغه شي ملاتړ کوي، چې دوی یې غواړي: داسې امریکا چې پر ټوله نړۍ او سرچینو یې واکمنه وي، داسې نړۍ غواړي چې ددوی حکم ومني، داسې پوځ چې د امریکا احکام نافذ کړي،د نړیوالې سوداګرۍ او بانکدارۍ داسې سیستم چې مشر یې تل د امریکا په خدمت کې وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما چې راتلونکي ته وکتل، نو فکر ومې وکړ داسې یوه دور ته داخلیږو چې د اقتصادي جنایتکارو لپاره به یو ستر نعمت وي.

دا هم د قسمت کار و چې په ما په دې وخت کې د MAIN پرېښودو پرېکړه کړې وه، څومره فکر مې چې کاوه هومره مې پرېکړه سمه ښکاریده، دا یې ډېر ښه وخت و. د اوږدمهالو اغېزو په اړه مې وړاندوینه نه شوه کولای؛ خو د تاریخ مطالعه ښيي چې امپراتورۍ ډېر وخت دوام نه کوي. ما چې له کومې زاويې لیدل رولډوز غوندې خلک راته هیله ښوونکي ښکاریدل. زه پوهېدم چې د اکوادور اوسنی ولسمشر له اوسنیو پېچلتیاو ښه خبر دی. دا هم رامعلومه وه چې هغه د طوریجو مینه وال و او د پانامې د کانال په اړه یې د کارټر زړور موقف ته په درنه سترګه کتل. ما باور درلود چې د رولډوز قدمونه به نه لړځیږي. هیله من وم چې دده کړنې به یوه شمع روښانه کړي، چې نور ولسمشران یې له رڼا ګټه واخلي، خو ددې لپاره ورته د طوریجو په څېر خلکو فیض اړین و.

په ۱۹۸۱ ز کال کې د رولډوز ټیم د هایدرو کاربن د قانون مسوده د اکاډور کانګرئیس ته وړاندې کړه. که دا قانون پلی شي نو ددې هیواد او تېلو شرکتونو اړیکې به ښې شي. د هراړخیز معیار له مخې دا انقلابي او پر اقلیت ولاړ ګڼل کېده، دې قوانینو دومره وړتیا لرله چې د کاروبار رخ یې بدلولای شو. دده اغېزې به له اکودوره پیل او تر لیرې ځایونو خپرې شي، لاتیني امریکا او حتی ټولې نړۍ ته. (۱)

لکه څنګه چې فکر کېده د تېلو شرکتونو سخت غبرګون وښود. مخالفانه تبلیغات یې پیل کړل او د رولډوز د بدنامولو لپاره یې زهرجنې ژبې وخوځولې، چې حاشیې یې له کیتو نه تر واشنګټن وغځیدې. لاسي بکس یې له چاودیدونکو توکو او رشوته ډک شو. د اکوادور د معاصر دور منتخب ولس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

مشر یې د کاسټرو په رنګ کې ونبوده. خو رولډوز د وېرې سړی نه و. د خپيړې خواب یې په سوک ورکړ او د تېلو، مذهب او سیاست تر منځ جوړجاړی یې وغنده، که څه هم کوم ثبوت یې نه درلود، خو تور یې پورې کړ چې سمر انسټیټیوټ آف لنګوسټکس د تېلو له شرکتونو سره جوړجاړی کړی، بیا یې یو زړور ګام پورته کړ او امر یې ورکړ چې SIL دې دا هیواد پرېږدي. (۲)

کانګرس ته د مسودې له لېږلو او د SIL د مبلغینو له وتلو څو ورځې وروسته یې ټولې بهرنۍ ادارې (د تېلو شرکتونو په ګډون) وګواښلې چې که د اکوادور د ولس په ګټه پلان نه عملي کوي، نو له دې هیواده به وویستل شي.

ده د کیټو په هالپا اولمپیک لوبغالي کې یوه تاریخي وینا وکړه او بیا یوه واړه کلي ته روان شو. همالته د ۱۹۸۱ ز کال د مئ په ۲۴ نیټه په یوه هوایي پېښه کې مړ شو. (۳)

ټوله دنیا ولړزیده، د لاتیني امریکا خلک خفه شول، ددې نیمې وچې په ورځپانو کې د (قاتله CIA) عنوان خپور شو. یو حقیقت خو دا و چې واشنګټن او د تېلو شرکتونو ورسره ستونزه لرله، ددې حقیقت تر څنګ ځینې نور داسې شواهد هم رامخته کېدل چې د خلکو په ذهن کې یې شکونه زیږول. ثابت هېڅ هم نه شول، خو د عیني شاهدانو په وینا رولډوز ګواښل شوی و چې ژوند ته یې خطر دی. ځینې حفاظتي تدابیر یې هم نیولي وو، چې یو یې پکې پر یوه وخت د دوو الوتکو پرواز و. هېڅوک نه پوهېدل چې هغه په کومه الوتکه کې سفر کوي، په همدې ورځ یې امنیتي مسئول دا په هغه الوتکه کې کیناوه چې په هوا کې یې چاودنه وکړه. ټوله دنیا کې غوغا جوړه وه خو د امریکا رسنۍ پرې غلې وې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اسوالډ هرټاډو نوی ولسمشر شو، دده په اداره کې د SIL کارکوونکو پیا فعالیت پیل کړ او ځانګړې ویزې یې ورکړې. د تبلو په کېندنو کې د زیاتوالي پلان یې ورکړ چې د ټیکساکو ارزښت پکې ډېر و. (۴)

عمر طوریجو پرې په تبصره کې رولډوز خپل ورور وباله او دا یې ومنله چې دده ژوند ته هم خطرونه پېښ دي، د خپل یوه وېرونکي خوب د ویلو په ترڅ کې یې وویل چې د اور په یوه لوی غونداري کې له اسمان راولېږي، دده وراندوینه تکي په تکي رښتیا وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

1. "Politics and petroleum in Ecuador" John.D.Martz.
2. "They Will de Done.......". Gerard Colby
3. "Politics and petroleum in Ecuador" – John D. Martz.
4. Ibid

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اوه ویشتم فصل

پانامه د یوه بل ولسمشر په دور کې

د رولډوز د مرګ په اوریدو هک پک شوم، زه باید داسې نه وای شوی، ځکه زه دومره ساده نه وم، چې په دې مسایلو پوه نه شم. زه د آربینز، مصدق، الاندې او نورو ډېرو خلکو په اړه په ډېر څه پوهېدم، ددوی په اړه په مجلو او خبرونو کې تبصرې کېدې، خو ددوی ژوند تباه او یا لنډ شو، ځکه چې دوی سوداګري (کارپوریتوکراسي) ننګولې وه، ماته که څه هم لړزونکی خبر و، خو نور هر څه ښکاره وو.

په سعودي کې زموږ له بې سارې بریا وروسته ما ګڼلې وه چې داسې څرګند بې ځایه اقدامات اوس زړه کیسه ده. ما دا هم ګڼلې وه چې (ګیدړان) به اوس ژوبن لوټي. ما په دې کې هېڅ شک نه درلود، چې د رولډوز مرګ پېښه نه وه، دده په مرګ کې د CIA دسیسه له ورایه ښکاریده، زه پوهېدم دا وژنه ښکاره ځکه شوې چې خلکو ته ترې یو پیغام ور ورسیږي. (ګیدړان) بېرته تللي وو، ددوی نښه اوس عمر طوریجو او ټول هغه خلک وو، چې د کارپوریتوکراسی مخالفت یې کاوه.

خو طوریجو سر نه ټیټاوه، دی هم لکه د رولډوز، زړور و، ده هم SIL اداره له هیواده بهر کړه، د ریګن هغه غوښتنه یې رد کړه، چې پر کانال د بیا خبرو اترو لپاره یې کړې وه.

د رولډوز له مرګه دوه میاشتې وروسته د عمر طوریجو خوب ربښتیا شو او دی هم د ۱۹۸۱ ز کال د جولایي په ۳۱ مه نېټه په هوایي پېښه کې ووژل شو. لاتینه امریکا او ټوله دنیا ولړزیده، طوریجو هر چا پیژانده، خلکو یې قدر کاوه، دا هماغه کس و، چې قوت یې امریکا بېرته د پانامې کانال ورکولو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اړ کړې وه، تر څنګ يې د ريګن پر ورانديې هم نيغ ولاړ و. د انساني حقونو لوی سرلاری و، داسې رهبر و چې سياسي مظلومينو ته يې ښه راغلاست وايه، يو يکې د ايران شاه هم و، د تولنيز عدالت لپاره يې غږ پورته کاوه، خلکو باور درلود چې د نوبل جايزې ته به ونوماندېږي، دا کس مړشوی و، (د CIA يو بل قتل)، په ټوله نړۍ کې د رسنيو ستر عنوان و.

په پانامه هوټل کې مې چې له ګراهم ګرين سره وکتل، نو د هغه د نوي کتاب Getting to Know the General په اړه مو خبرې وکړې، ددې کتاب يو پاراګراف دی چې :

(د ۱۹۸۱ په اګست کې د پانامې د پنځم سفر لپاره زما بکس چمتو و، چې په ټيليفون مې د خپل ملګري او کوربه، عمر طوريجو د مرګ خبر واوريد، هغه وړوکې الوتکه د پېښې ښکار شوه چې عمر پکې خپل غرني کور ته روان و، په الوتکه کې سپاره ټول خلک ووژل شول، څو ورځې وروسته يې پر ټيليفون د ساتونکي سرجنټ چوچو غږ پورته شو، سرجنټ چوچو په پانامه پوهنتون کې د مارکسي فلسفې استاد و، ترڅنګ يې شاعر هم و، هغه راته وويل چې په الوتکه کې بم و، زه باوري يم چې په الوتکه کې بم و، خو دا چې ولې و؟ په ټيليفون يې نه شم ويلی.) (۱)

په هر ځای کې د هغه کس پر مړينه ماتم کيږي چې د بيوزلو او بې کسو خلکو ساتونکی ګڼل کيږي. خلکو پر واشنګټن غږونه کول چې د CIA پر فعاليتونو دې څېړنې وشي، خو داسې ونه شول. له طوريجو ډېرو خلکو کرکه هم کوله، په دوی کې داسې خلک هم وو، چې ډېر قوت او شتمني يې درلوده. زه چې څومره پوهېږم دا سړی د ريګن، بوش، وين برجر او نورو سترو ستهو د لارې خنډ و. کارټر د هغه تړون په مادو خفه و، چې له مخې يې دوی بايد سکول اف امريکاز او ټراپيکل جنګي مرکز بند کړي وی، دا د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوځي مشرانو پر وړاندې لويه ستونزه وه، يا خو يې بايد دا تړون بدل کړی وی او يا يې بايد داسې هيواد موندلای وی چې دوی ته يې دا ټولې اسانتياوې ورکولې. د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې دا ناشونې وه، اوس يوازې يو بديل پاتې وه، چې طوريجو له مخې ليرې شي او د هغه له ځای ناستي سره د نوي تړون خبرې اترې پيل شي.

د طوريجو په کاروباري رقيبانو کې ټول ستر نړيوال شرکتونه وو. زياتره يې امريکايي سياسيونو پورې تړلي وو. دوی د لاتيني امريکا د مزدورانو، طبيعي زېرمو، صعنت، لرګيو، فلزاتو او کرنې په استثمار اخته وو. په دوی کې صنعتي، ټرانسپورټي، بحري، انجينري او نور شرکتونه شامل وو. د امريکا د حکومت او شخصي شرکتونو تر منځ د اړيکو ښه بېلګه بيشټل انټرنيشل ګروپ و، چې په مشرانو کې يې جورج شلټرز او کيسپر وين شامل وو. ما بيشټل ښه پيژانده، زه چې په MAIN کې وم دې شرکت سره زياترو کارونو کې نږدې پاتې شوی وم. ددوی مشر انجينر زما شخصي ملګری و. بيشټل د امريکا ډېر اغېزناک ساختماني او انجينري شرکت دی. د بيشټل زياتره کارکوونکو له عمر طوريجو کرکه کوله، ځکه هغه د يوې جاپانی پروژې کلک ملاتړ کاوه، چې پکې د پانامې پر ځای د يوه بل ګټور کانال د کيندلو پلان هم موجود و. په بله وينا ددې معنا دا وه، چې د پانامې د کانال ملکيت له امريکايانو پانامې ته ليږدول کېده، تر څنګ به يې د پېړۍ تر ټولو ستره ساختماني پروژه د بيشټل له لاسه وتله.

طوريجو ددې خلکو مخې ته سينه سپر کړې وه او دا ټول کارونه يې په ډېره زړورتيا، ښايست او د حيرانتيا تر حده په خندونکي ډول وکړل. اوس هغه په دې نړۍ کې نه و، د هغه ځای يوه ناوړه کس مينوول نوريګا نيولی و، دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نه د طوريجو غوندې هوښيار و، نه ځيرک او د ډېرو خلکو په وينا دا سړی د ريګن، بوش او بيشتل پر ورانديې هېڅ هم نه و.

دې پېښې زه وخوروولم، له طوريجو سره مې په خپلو خبرو فکر کاوه، يو ځل مې د شپې تر ناوخته په مجله کې د هغه تصوير ته کتل، په پانامه کې لومړۍ شپه رايادہ شوه چې په ټيکسي کې روان وم او د سرک پر غاړه خړيدلی يو لوی انځور مې وليد، انځور لاندې ليکل شوي وو : (د عمر فکر خپلواکي ده او تر اوسه داسې توغندی نه دی جوړ شوی چې فکر ووژني.)

دې ليک مې په زړه يخني نتويسته، په هغې طوفاني شپه هم همداسې شوی وم.

هغه وخت زه په دې نه پوهېدم چې طوريجو به له کارټر سره د کانال په بېرته سپارلو کې مرسته وکړي. زه نه پوهېدم چې د امريکايي کمونيستانو او چارواکو تر منځ د سولې هلې ځلې به ګني ريګن او د بوش اداره دې حد ته راولي، چې د طوريجو مرګ ته به غاړه کيږدي، د سينټ له خبرونو دا خبره څرګنده شوه. (۳) هغه وخت زه څه پوهېدم چې دا به په توره شپه کې په يوه وړه الوتکه کې وژل کيږي او نړۍ به هېڅ شک هم نه کوي، چې ۵۲ کلن طوريجو ګني د امريکا CIA وژلی دی.

که هغه ژوندی وی نو د منځنۍ او جنوبي امريکا د خلکو تر منځ د زياتېدونکي تاوتريخوالي د مخنيوي هڅه به يې کوله. د هغه سوانح ته په کتو ويلای شو داسې يو نظام به يې رامنځته کړی وی چې د تېلو شرکتونو به د امازون په سيمه کې (اکوادور، کولمبيا او پيرو) کې د بربادۍ جرات نه کولای. يوه ګټه يې دا وه، واشنګټن چې کومه جګړه د ترهګرۍ او نشه يي توکو جګړه ګني او دوی يې د مظلومو خلکو د بقا جنګ ګني، دا شخړه به حل شوې شوه. زه په دې باور يم چې دا به د امريکا، آسيا او افريقا د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

رهبرانو لپاره یوه الګو وای او دا هغه څه دي چې CIA ، NCI اوEHM (اقتصادي جنایتکار) یې هېڅکله نه شي زغملی.

حوالې :

۱."Getting to Know the General" – Graham Greene

۲. نکبسن/فورډ اداره (۱۹۷۲ تر ۱۹۷۴، جاج شلتز د خزانې وزیر او د اقتصادي پالیسی د کونسل مشر و. ۱۹۷۴ نه تر ۱۹۸۲ پورې د بیشتل مشر و. د ریګن او بوش په اداره کې د بهرنیو چارو وزیر و. په همدې ډول کیسپروین بجر هم د نیکسن او فورډ په دوره کې د معارف، روغتیا اوتولګتو چارو وزیر و. تر څنګ یې د بودیجې او ادارې امورو د دفتر مشر هم و. د بوش په دوره کې د دفاع په وزارت کې و او په زړه پورې دا ده چې له ۱۹۷۵ نه تر ۱۹۸۰ پورې د بیشتل ګروپ معاون هم و.

۳. په ۱۹۷۳ د واترګیټ قضیې د اوریدنې پر مهال جان ډین لومړی کس و چې د امریکا د سینټ پر وړاندې یې دا کشف کړه چې د طوریجو په وژنه کې د امریکا دسیسه وه، د سناتور فرنیک چرچ په مشرۍ د CIA په اړه څېړنه کېده، ۱۹۷۵ ز کال کې دوی ته د طوریجو او نوریګا د وژنې په اړه لا ډېر اسناد او شواهد مخې ته شول، د لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ.

"The Memoirs of Manuel Noriga ...." Peter Eisner

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

اته ویشتم فصل

زما شرکت ، انران او جورج ډبلیو بوش

د طوریجو له مرینې وروسته مې د پاولا له لیدو څو میاشتې اوښتې وې. په دې موده کې مې څو مېرمنو سره د مینې ملاقاتونه شوي وو، چې یوه پکې (وېني فرید) هم وه. دا ښایسته مېرمنه د چاپېریال پلان جوړوونکې Enoviromental planner وه. ما ورسره په MAIN کې ولیدل. پلار یې په بېشتل کمپنۍ کې مشر انجینر و. پاولا د کولمبیا له یوه خبریال سره لیدنې کولې. موږ ښه ملګري وو، خو پرېکړه مې کړې وه چې د مینې تار سره پرې کړو.

زما دنده د مسلکي وکیل وه. د سي بروک نیوکلر انرژۍ شرکت د جواز لپاره دلیل ویل زما مسئولیت و. ما به تل فکر کاوه، چې ځان مې وپلوره او یوازې د پیسو لپاره بېرته خپل پخواني مسلک ته ننوتم. په دې موده کې راسره وېني فرید ډېره مرسته وکړه. هغه چاپېریال پوهه وه، خو تر څنګ یې د برښنا د لوړېدونکې تقاضا په اړه هم معلومات لرل. دا د سان فرانسیسکو د ختیځ خلیج په برکلي سیمه کې رالویه شوې وه. همالته یې زده کړې هم کړې وې. پراخ فکره مېرمن وه. د ژوند په اړه یې افکار زما له سختګیر پلار او AAN سره بېخي په تضاد کې وو.

اړیکې مو پراخېدې. دې له MAIN نه رخصت واخیست او موږ دواړه زما په شخصي کښتۍ کې د فلوریډا اتلانتیک ساحل په چکر ووتو. د وخت کمی نه و. په زیاتره ساحلونو کې به مو کښتۍ پرېښوده او زه به د خپلې دندې په اړه د نظر ورکولو لپاره په الوتکه کې سپور شوم. بلاخره د فلوریډا په ویسټ نومې ساحل کې میشت شو او یو اپارتمان مو کرایه کړ. همالته مو واده وکړ

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ۱۹۸۲ کا مئ په ۱۷ نېټه مو لور (جيسيکا) وزېږده. زما عمر په دې وخت کې ۳٦ کاله و.

زما مسئوليت دا و، چې نيو همپشاير کې د عامه خدمتونو يو شرکت قايل کړم، چې له اقتصادي پلوه حکومت ته اټومي انرژي تر ټولو ښه ټاکنه ده. له بده مرغه ما چې څومره دا دوسيه لوستله همدومره مې ببرته په خپلو دلايلو شک او ترديد زياتېده. ددې موضوع اوسني ادبيات په بدليدو وو. له دې ښکاريده چې د څېړنې ساحه څومره پراخه شوې ده. اوسنی شواهد ښيي چې د انرژۍ ډېرې متبادلې سرچينې له مسلکي او اقتصادي پلوه تر اټومي انرژۍ ښې دي.

دې پخواني نظر اوس وزن بايللی و، چې ويل به يې اټومي انرژي خوندي ده. اوس د BACK UP سيستم د روغتيا په اړه ببلابېلې پوښتنې راولاړې شوې وې. تر څنګ يې د چلوونکو روزنه، انساني خطاوې، د ماشينری خوړ او د فاضله موادو د ليږد نيمګړی سيستم ... هغه ستونزې وې چې موږ ورته مثبت ځواب نه درلود. د شاهدانو په ځای کې به مې چې قسماً کوم موقف اختيار کړی و هغه ته هم اندېښمن وم ، ځکه دا ټوله د محمکې د چارو برخه وه. ما دا هم منله چې نوي فني اکتشافات د برښنايي انرژۍ ترلاسه کولو لپاره داسې لارې چارې وړاندې کوي، چې چاپېريال ته به هم په ګټه وي. مهمه خبره پکې دا وه، چې اوس هغه فاضله مواد هم ببرته کاريدل، له کومو چې د برښنا انرژي توليدېده.

يوه ورځ مې د نيو همپشاير په يوټيليټي شرکت کې چارواکي خبر کړل چې زه ددوی له خوا شاهدي نه شم ورکولای. دا ګټوره دنده مې هم پرېښوده. بيا مې وويل چې خپل يو شرکت به جوړ کړم او عصري ټکنالوجي به ددې عمل ميدان ته راوباسم. مېرمن مې وينې فريډ راسره ډېره مرسته وکړه. که

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

څه هم پوهېدو چې زموږ نوی پلان ډېر د ډاډ وړ نه دی خو بیا مو هم یو نوی ژوند پیل کړ او نوې نړۍ ته ننوتو.

په ۱۹۸۲ کال کې د جیسیکا له زېږېدو څو میاشتې وروسته مې د خپل شرکت (IPS) INDEPENDENT Power System بنسټ کېښود. ددې شرکت اهداف دا وو : د داسې یوه برېښناکوټ نصب چې چاپېریال ته زیان ونه رسوي او د داسې موډلونو رامنځته کول چې نورو ته د هغوی د موخو په ترلاسه کولو کې حوصله ورکړي. په کاروباري لحاظ دې پلان ډېر خطرونه لرل. همدا لامل و، چې زموږ ډېر سیالان بلاخره ناکام شول. خو ځینې داسې پېښې وشوې، چې موږ یې له ناکامۍ راوویستو. ما باور درلود، چې زیاتره وخت یو څوک د مرستې لپاره راوځي او په دې هم باوري وم، چې پخواني خدمتونه او چوپتیا به مې هرو مرو څه بدل راکوي.

برونو زمبوټي په کورني پراختیایي بانک کې ستره دنده واخیسته. ده په IPS بورډ کې د برخه اخیستو او نوي شرکت سره د مالي مرستې په برخه کې زموږ ملاتړ وکړ. اوس نو موږ د ډېرو سترو ادارو لکه ، بینکرز ټرسټ، ای ایس ای انرژي، پروډشنل انشورنش کمپني، شډ بورن اینډ پارک، ریلي سټوکر کارپوریشن ملاتړ درلود. پر دې سربېره مو د کانګرس ملاتړ هم ترلاسه کړ، هغوی راته یوه ځانګړې ډول مالیه معاف کړه او دې سره موږ په خپلو سیالانو باندې شو.

په ۱۹۸۴ کال کې ښېښتل او IPS شرکتونو په دوو جلا جلا ځایونو کې، پر داسې برېښنا کوټونو کار کاوه، چې ضایع د شویو ډېرو سکرو تزابیت به یې نه خپراوه او د نوې ټکنالوجۍ په مرسته به یې هغه ببرته د بیاځلي کارونې لپاره رغوله. ددې لسیزې تر پایه دې دواړو شرکتونو یو انقلاب رامنځته کړې و. دې کار د هوا د ککړتیا پر ضد نویو قوانینو سره مرسته وکړه. دا هم ترې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ثابته شوه چې ډېر ضايعات په برښنايي انرژۍ اوښتی شي او د ډېرو سکاره داسې هم سوځي، چې تيزابيت يې خپور نه شي. تر دې دمه چې د ټولګټو چارو شرکتونو د تيزابيت په اړه کومې دعوې کولې ټولې ناسمې ثابتې شوې. موږ دا هم ثابته کړه، هغه ټکنالوجي چې تراوسه باوري شوې هم نه وه، يوه وړوکي شرکت د وال سټريټ او نورو مالي ادارو په مرسته د باور وړ وګرځوله. ۱ نورو شرکتونو له برښناکوټه خارجېدونکی حرارت تر يخو برجونو رساوه، خو موږ برعکس همدا حرارت هغه ۷ جريبه ځمکې ته وليږداوه، چې د ترکارۍ او نيالګيو شنه خونه (ګرين هاوس) پکې جوړه شوې وه.

د IPS شرکت د مشر په توګه مې د انرژۍ صنعت لور ته ذهني دريځې په خلاصيدو شوې . ددې کاروبار به برکت له ډېرو بارسوخه خلکو سره بلد شوم، چې وکيلان، لابي ګران، بانکداران او د لويو شرکتونو خاوندان پکې شامل وو. د خپل خسر ملاتړ مې هم درلود، هغه په بيشتل شرکت کې د مشر انجينر دنده لرله او اوس يې په عربستان کې يو ښار ګوتې رغاوه. ما چې په ۱۹۷۰ ز کال کې په عربستان کې د پېسو مينځلو کوم کار کړی و، دا د هغې مستقيمه پايله وه. وني فريډ په سان فرانسيسکو کې د بيشتل د نړيوال مشر له دفتر سره وروزل شوه او اړيکه له يې کاروباري کورنۍ سره وه. له برکلي تر فراغت وروسته يې لومړۍ دنده هم په بيشتل شرکت کې وه.

د انرژۍ صنعت د بيا رغونې په دور کې و. د انجينرۍ لويو شرکتونو د مکمل انحصار لپاره هلې ځلې کولې يا به يې د ټولګټو چارو له شرکتونو سره سيالۍ کولې. تر دې مخکې د ټولګټو چارو شرکتونو يوازې تر ملي حده انحصار درلود. ددې انحصار ماتول د وخت مهمه اړتيا وه. قوانين او ضوابط په ډېر سرعت بدلېدل. کاري فرصتونه ډېر وو. يوازې له دې فرصته ګټه په کار وه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ځکه په دې وخت کې کانګرس او محاکم بې وسه وو. د صنعت هوښیارانو په دې حالت ته د انرژۍ وایلډ ویست WILD WEST وایه.

ددې عمل یو ښکار MAIN و. لکه برونو چې ویلي وو، میک هال له حقیقته لیرې تللی و او هیڅ‌چا دومره جرات نه درلود، چې دا خبره یې ورته مخامخ کړې وی. پال پړدي هېښکله د قابو د سختولو هڅه ونه کړه او د MAIN اداري نه یوازې دا چې له دې بدلونونو یې ګټه وانخیسته؛ بلکې د تېروتنو یوه لړۍ یې راپیل کړه. برونو چې کومه ګټه کړې وه، څو کاله وروسته د MAIN جنایتکارو ختمه کړه او شرکت له مالي بحران سره مخ شو. پایله دا شوه، چې شریکانو یې MAIN شرکت په یوه ستر انجینري شرکت وپلوره، دې انجینري شرکت هغه وخت خپل چال په پوره نزاکت لوبولای و او پکې کامیاب هم شول. ما خپل اسهام په ۱۹۸۰ کال کې په ۳۰ ډالره في سهم بیه پلورلي وو. نورو شریکانو ته څلور کاله وروستي ددې قیمت نیمایي هم ونه رسید. په دې توګه سل کلن شرکت ذلت او رسوایۍ سره مخ شو. زه د شرکت په دې حال خفه شوم، خو بیا مې په دې لړه د لرام ساه واخیسته، چې په وخت کې مې پرېښی و.

د نویو خاوندانو تر سیوري لاندې یو څه وخت د MAIN نوم و، خو وروسته یې دا نوم هم پرېښود. هغه شرکت چې یو وخت یې د نړۍ په ښلابېلو برخو کې پروژې لرلې اوس یوازې یوه هېره شوې کیسه وه.

د انرژۍ په صنعت کې به چې کوم شرکت ځان د وخت له بدلون سره بدل او عیار نه کړ؛ نو MAIN یې د سرنوشت بنه ښېلګه وه. تر دې منظره هاخوا د اینران په نوم یو شرکت و، چې په کاروباري نړۍ کې یې ډېر چټک ګامونه اخیستل. خدای خبر دا شرکت له کومه راغی او د سترګو په رپ کې بیا د نړۍ ستر قراردادونه له دوی سره شول. د کاروباري ناستو پیل زیاتره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بخت په ټوکوټکالو وي، شريکان په خپلو ځايونو کې ناست وي، چاى او قهوه څښي او اړين کاغذونه ترتيبوي. دې ورځو کې د ټوکو ټکالو محور اينران و. له دې شرکته بهر هېڅوک نه پوهېدل، چې دوى څه معجزه کړې ده. د شرکت کورنيو خلکو به هم يوازې په شونډو مسکا خپره کړې وه او هېڅ به يې نه ويل. چې ټينګار به وشو نو يوازې دومره به يې وويل: اداري ورتياوو ته نوې کتنه؛ تخليقي ماليات او داسې چارواکي ګومارل چې د ټولې نړۍ ولسمشران د اقتدار غلامو کړيو ته د راوستلو په چل پوهېږي.

ماته دا هر څه د پخوانيو اقتصادي جنايتکارو EHM د تکتيکونو نوې بڼه ښکاريده. نړيوالې امپراتورۍ په ډېر سرعت پرمختګ کاوه.

په موږ کې به چې چا د تېلو او نړيوال منظر سره ليوالتيا لرله، نو د بحث وړ راتلونکي موضوع يې دا وه: د ولسمشر د معاون زوى جورج ډبيلو بوش او دده پخوانى شرکت اربسټو (اربسټو هسپانوي لغت دى او د بوش په معنا دى) ناکام شو، چې وروسته بيا په ۱۹۸۴ کې په سپيکټرم ۷ کې مدغم شو. بيا سپيکټرم هم ديواليه شو او په ۱۹۸٦ کال کې هارکن انرژي کارپوريشن دا ډوبېدونکې بېړۍ وپېرله. جورج ډبليو بوش يې د بورډ د غړي او مشاور په توګه ځان سره ومانه او کلنى معاش يې يوسل او شل زره ډالر وټاکل شو. ۲ موږ فکر کاوه، چې د پلار نوم يې ګټي ددې دندې ستر لامل و، ځکه ددې ځوان يو کار هم دومره ګټور نه و، چې په ليدو دې يې ددې دندې جواز ورکړل شي. دا هم کومه پيښه نه وه، چې هارکن له فرصته په ګټې په خپل کاروباري تاريخ کې د لومړي ځل لپاره په نړيوال ميدان کې قدم کېښود او ډېر زر يې په منځني ختيځ کې د نفتو په برخه کې پانګونه وکړه. وينټي فيير VANITY FAIR مجلې وليکل :

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بوش چې څنګه په بورډ کې وګومارل شو، هارکن عجیبو مسایلو سره مخ شو. نوې پانګونه، مالیاتي سرچینې او له ښه مرغه په ناڅاپي ډول د تېلو کوهیانو کیندلو حقونه.) ۳

په ۱۹۸۹ ز کال کې اموکو له بحرین سره د بحر په غاړه د کوهیانو کیندلو په مذاکراتو بوخت و. دې وخت کې معاون ولسمشر بوش، ولسمشر شوی و. تر دې لږه موده وروسته د بهرنیو چارو د وزارت مشارو په بحرین کې د نوي امریکایي سفیر چارلس هوسلر مشاور وګومارل شو. دې سړي د بحرین حکومت او هارکن شرکت تر منځ د خبرواترو زمینه برابره کړه او د اموکو ځای هارکن ونیو. څو اونیو کې د اسهامو په بازار کې د هارکن شرکت د اسهامو بیه شل سلنه یعني له ۴،۵ نه ۵،۵ ته لوړه شوه. ۴

د بحرین په دې پېښه د انرژۍ د صنعت ټول کارپوهان غوسه وو. زما یو وکیل ملګری چې د جمهوري غوښتونکو سخت پلوي او د انرژۍ د چارو کارپوه دی، په یوه تبصره کې یې وویل: (ج، ډبلیو دې داسې کوم کار نه کوي، چې زیان یې پلاز ته ورسیږي. زه نه پوهېږم چې هغه څه کوي.) موږ د وال سټریټ په یوه کونج کې کوکټیل (جوس) څښنه او ده په نهیلې لهجه وویل: (زه وېرېږم، دې چې څه کوي ایا دومره ارزښت لري، چې دومره ستر خطر دې ورسره ومنل شي، آیا د زوی راتلونکی دومره مهم دی، چې د امریکا ولسمشرۍ دې پرې داو شي؟)

زه د خپلو ملګرو په نسبت لږ حیران وم، ځکه دا هر څه مې له یوې نوې زاويې لیدل. ما د کویټ، عربستان، مصر او ایران حکومتونو ته کار کړی و. زه د منځني ختیځ د سیاست په اړه ډېر پوهېدم. زه پوهېدم چې د انران شرکت مشرانو غونډې بوش هم د اقتصادي ترهګرۍ د هغه شبکې غړی و،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې ما او ملګرو مې راجوړه کړې وه. په حقیقت کې همدا خلک یعنې بوش او ملګري يې ددې ټولې لوبې اصلي طراحان او ملاتړي وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

۱." The George W. Bush Success Story" Harper Magazine, feb ۲۰۰۰.

۲. " Saving the Saudeis" , Vanity Fair, Oct ۲۰۰۳.

۳.

- " The Turning Point After Coming Up Dry" Washington Post, july ۳۰. ۱۹۹۹.

"The George W. Bush success story" Harper magazine, Feb ۲۰۰۰.

"The Bush Family Oligracy – Part two: the Third generation".

http://www.newnetizen.com/

presendential/bushoiligarchy.html.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نهه ويشتم فصل

زه بيا خرڅ شوم

د خپل ژوند په دې پړاو مې احساس کړه، چې موږ په رښتيا هم د نړيوال اقتصاد يوه نوي دور ته ننوتي يو. يو وخت به رابرټ ميکنامارا زما ايډيال شخصيت و. دا سړی د دفاع وزير او د نړيوال بانک د مشر په توګه د خپل وخت حاکم و. ده چې مسايل څنګه پر مخ وړل چټکتيا پکې راغله،تر دې چې زما تر ټولو بد شکونه يې هم شاته پرېښودل. د کينز پر نظرياتو ولاړ دده سړي فکر او رهبرۍ هرې خواته نفوذ کاوه. همدارنګه د اقتصادي جنايت پاليسي دومره پراخه شوې وه، چې هر ډول چارواکي او بېلابېل کاروباونه يې په خپله ولکه کې راوړي وو. ددې ګومارنې او چمتوالی NSA کړی و، دوی هم هماغه کار کاوه، خو په دې توپير چې سترو اقتصادي جنايتکارو د نړيوالې بانکدارۍ د سيستم فنډ نه مصرفاوه. پخواني اقتصادي جنايتکار، يعنې ما غوندې خلک هم ګرځېدل، خو دا نوی کهول ډېر وران و. ۱۹۸۰ مه لسيزه کې له منځنۍ درجې اداري ځينې ځوانې مېرمنې او سړي راڅرګند شول، دوی ويل چې موخې ته د رسيدو لپاره هره وسيله بايد وکارول شي او نړيواله امپراتوري خو هسې هم د ګټې لار وه.

دا نوې ليوالتيا د انرژۍ صنعت پورې محدوده وه، ما هم په دې برخه کې کار کاوه. کانګريس په ۱۹۷۸ کې د PUPRA قانون پاس کړ، بيا دا قانون له ډېرو پيچليتاو تېر شو او بلاخره په ۱۹۸۲ کال کې د قانون په توګه ومنل شو. اصلاً کانګرس غوښتل چې ددې قانون په مرسته زما په څېر د وړو شرکتونو حوصله ورزياته کړي او د برښنا او انرژۍ د ترلاسه کولو نوې لارې چارې ولټول شوي. ددې قانون له مخې د ټولګټو چارو لوی شرکتونه اړ وو،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې د ورو شرکتونو تولید کړې برښنا ترې وپېرې. د کارټر هیله دا وه چې په تېلو تکیه راکمه شي هغه که کورني وي او که بهرني. ددې قانون څرګنده موخه د ورو انرژيو موندلو د نويو لارو چارو لټولو تر څنګ د هغو خپلواکو شرکتونو ملاتړ و، چې د امریکایي ادارې څرګندونه ترې کبده خو حقیقت بېخي بل ډول رابنکاره شو.

په ټوله ۱۹۸۰ مه، بلکې ۱۹۹۰ مه لسیزه کې نوي کاروبار رامنځته کولو پر ځای اصلاحاتو ته ډېر پام وشو. په دې موده کې ما ولیدل چې سترو شرکتونو ډېر واړه شرکتونه له ستوني تېر کړل. تر دې چې د ټولګټو چارو شرکتونو هم له ورو یونټونو سره همداسې وکړل.

ځینې شرکتونو ته د قانون له مخې داسې جواز ورکړل شو، چې اخیستونکي شرکتونه (هولډینګ کمپني: هغه شرکتونه چې اسهام اخلي) یې جوړ کړل او د انرژۍ د تولید پر پر ټولو خپلواکو منظمو (ریګولیټید) او نا منظمو شرکتونو واکمن شول. (ریګولیشن : دا د انرژۍ د شرکتونو لپاره ځانګړی قانون و.) په دوی کې زیاترو یې شرکتونه اول دیوالیه کړل او وروسته یې وپېرل. ځینې یې داسې هم وو، چې له صفره یې پیل کړه او د خپلواکو شرکتونو معادل شرکتونه یې جوړ کړل.

پر تېلو د تکیه د کمي فکر په ډېران ولوید. ریګن د تېلو د شرکتونو احسانمن و. د تېلو د سوداګر په توګه خو بوش هسې هم معلوم و. دا دواړه هغه مشران وو، چې چارواکي یې زیاتره یا د تېلو د شرکتونو غړي وو یا د ودانیزو شرکتونو او له دې دواړو ادارو یې ښه ګټه ترلاسه کوله. ډېرو دیموکراتانو هم په دې موده کې ښه ګټه وکړه او پر ځای ددې خلکو منلوی وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

IPS د چاپېريال له پلوه د ګټورې انرژۍ په پيدا کولو کې خپل اوږدمهالی فکر پر ځای وساته. موږ د PUPRA په تاکل شوي اصلي موخې د عمل اراده لرله او داده ژوند مو کاوه. موږ له څو هغه خپلواکو شرکتونو يو وو، چې هم مو ځان ساته او هم مو پرمختګ کاوه. ددې لامل هغه تېر خدمتونه وو،چې ما د کارپوريتوکراسی لپاره کړي وو.

د انرژۍ په ډګر کې چې هرڅه کېدل د هغه ميلان نښه وه، چې په ټوله نړۍ غوړېده. د ټولنيز پرمختګ فکر، چاپېريال او د ژوند د ښېګڼې مسايل اوس دويم لاس موضوعات وو. ددې بازار اصلي سکه اوس حرص وه. ټول بهير کې ډېر ټينګار پر دې کېده، چې شخصي کاروبار پرمختګ وکړي. دا نظر هم و چې پانګوال نظام د سوسياليستي نظام په پرتله ښه دی او دا خپله د کمونيزم مخنيوی دی. وروسته معلوم شوه، چې دې جواز ته هېڅ اړتيا هم نه وه. دا خبره د يوه نظر په توګه منل شوې وه، چې لويې پروژې که د دولت پر ځای شخصي پانګوال ته ورکړل شي، نو څه ناځه ګټه به حتمن لري. نړيوال بانک هم ددې نظر ملاتړ کاوه، دوی هم ويل چې اوبه رسونه، ټرانسپورټي سيستم، ټولګټې چارې او نورې اسانتياوې چې تراوسه دولتي وې، خصوصي سکتور ته دې ورکړل شي.

دې سره د جنايتکاري فکر خپراوی اسان شو. اوس له کاروباري کړيو مشران هغه ډګر ته استول کېدل، چې تر دې مخکې به څو کسان ورتلل او ددې کار لپاره به ټاکل کېدل. دا مشران په ټوله نړۍ کې خپاره شول. تر ټولو ارزانه کارکوونکي يې ولټول. اسانه زېرمې او سرچينې يې وموندلې او پراخه بازارونو ته يې مخه کړه. دوی په خپل کار کې ډېر چالاک وو. د خپلو مشرانو جنايتکارو غوندې ، لکه زه چې په اندونيزيا، پانامې او کولمبيا کې وم. دوی په خپلو فسادونو د پردې اچولو لپاره ورته د اقليت پالنې نوم ورکړ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زموږ غونډې دوی ټولنې او هیوادونه په لومه کې بند کړل. دوی پوروړو هیوادونو سره د ډېرو پیسو ژمنه وکړه او له پوره د خلاصي لاره یې ورته د خصوصي سکتور کاروونه وروښوده.

دوي ښوونځي او سرکونه جوړ کړل، ټیلیفون، رسنۍ او طبي اسانتیاوې یې رامنځته کړې خو که به یې بل ځای کې ارزانه زېرمې او مزدوارن پیدا کړل دا ټولنه یې همداسې پرېښوده او ترې وتل. ددې ټولنو هیلې لوړې او پایلې یې ډېرې بدې شوې. خو کاروباریان په دې کارونو نه پښېمانه شول او نه یې وجدان نا آرامه شو.

زه به حیران وم، چې ددوی اروا به نارامه شوې وي؟ آیا زما غونډې دوی ته هم کله شک په نصیب شو؟ آیا دوی هم کله په کوم چټل نهر کې کومه ښځه په لمبا لیدلې، او کوم سپین ږیری سړی نهر ته په رفع حاجت ناست دی؟ له بده مرغه اوس په دې لوبه کې کوم هاوورډ پارکر نه و پاتې، چې داسې پوښتنې یې کړې وای.

که څه هم IPS ښه روان او ما له ګډ ژونده خوند اخیست خو د خفګان یو څپه هم راباندې راغلې وه، ځکه زه د یوې پېغلې لور پلار وم او دا فکر مې کاوه، چې دې ته به څه میراث پاتې شي. ما چې څه کړي، د جرم احساس لې زه یې خوړلم.

چې مخ به مې واړاوه، له څورونکي تاریخ سره به مخ شوم. د نوي دور معاصر اقتصادي سیستم له دویمې جګړې وروسته راجوړ شو. دا نظام د بېلابېلو هیوادونو مشرانو په یوه ناسته کې رامنځته کړ، دا ناسته د نیو همشپایر په Bretton woods کې شوې وه. زه د همدې ایالات یم. نړیوال بانک او IMF اداري رامنځته شوې، چې په جنګ کې ویجاړه شوې اروپا بیا ورغول شي. دا دواړه اداري ډېرې کامیابې شوې. دا نظام ډېر په چکټې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خپور شو. د امریکا هر متحد پرې د تصدیق تاپه ووهله او دا مرض یې آب حیات وباله. موږ ټولو ته دا باور راکړل شو، چې د کمونیزم له ناوړه پنجو به خوندي یو.

زما شک په خپل ځای چې دا هر څه موږ کومې خواته بیایي خو د ۱۹۸۰ کال په وروستیو کې چې شوروی اتحاد او نړیوال کمونیزم وپرځید، دا خبره څرګنده شوه، چې د کمونیزم مخنیوی له سره هدف نه و. تر څنګ یې دا هم ښکاره شوه، چې د نړیوالې امپراتورۍ ریښې په پانګوال نظام کې دي او د ودې فرصت ورکول کیږي. جم ګیرئیسن تبصره کړې وه چې:

(نړۍ یوه کېدل؛ خصوصاً اقتصادي نړیوالتوب او د ازاد بازار سوداګري هغه پراسراره پانې دي، چې خپله په خپل ذات کې یوه رښتیني امپراتوري ده .... نړۍ کې داسې ملت نشته، چې ځان د نړیوالتوب له جاله خوندي وساتي. البته ځینې استثنا دي چې د نړیوال بانک، نړیوال سوداګریز مرکز او IMF ادارو له اصولو او قوانین خوندي پاتې وي. دا نړیوالې مالي ادارې که هر څومره ناوړه او نیګمرې دي خو دا ثابتوي، چې د اقتصادي نړیوالتوب معنا څه ده؟ منل یې څه ګټه او نه منل یې څه زیان لري؟ که ټولنه هر څومره نابرابره وي، خو ددې اقتصادي نړیوالتوب قوت دومره ډېر دی، چې موږ به په خپل ژوند د نړۍ ټول اقتصاد، د ازاد بازار په یوه نړیوال سیستم کې ګورو.)۱

ما چې دا حالت ولیداو فکر مې وکړ؛ نو پرېکړه مې وکړه چې زه باید د اوس د Conscience of an Economic Hit Man (د اقتصادي جنایتکار ضمیر) په نوم کتاب ولیکم او په دې کتاب کې به دا هر څه بیانوم. خو ما ددې کار د پټولو هېڅ هڅه ونه کړه. نن هم داسې لیکوال نه یم، چې په خپلو کړنو دې پرده واچوم. ما به چې څه کول نورو سره مې پرې خبرې اترې کولې.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دې سره له نورو خلکو داد اخلم. زه له ټولو غواړم چې مرسته راسره وکړي او ټېرې پېښې سمې انځور کړو. زه غواړم دا مواد چې زه يې پرې کار کوم، له خپلو ملګرو سره شريک کړم او د هغوی غبرګون هم وګورم. زه پوهېږم دا کار خطر لري، خو زه يې په يوه طريقه ليکلای شم. خو دا خبره پټه وه، چې ما په MAIN کې کوم وخت تېر کړی، په اړه يې کتاب ليکم.

د ۱۹۸۷ ز کال په يوه مازيګر د MAIN پخواني همکار زنګ راووهه او له Stone and Webster Entineering corp. شرکت سره د يوه ګټور مشاورتي قرارداد وړانديز يې راته وکړ. دا شرکت يو له لويو انجينري او ساختماني شرکتونو و. په قرارداد کې ويل شوي وو، چې زه به ددوی يوې ځانګې ته راپور ورکوم، دا ځانګه يې زما IPS ته ورته د انرژۍ يوه خپلواکه اداره وه. زه په دې داده وم، چې د نړيوالو اقتصادي جنايتکارو په هېڅ دول پروژه کې به ککړ نه يم.

ملګري مې راته وويل، چې زما کار هم پکې ډېر ته دی. زه يو له هغو بختورو خلکو وم، چې خپل شخصي شرکت مې جوړ کړ، پرمختګ يې وکړ او ما د انرژۍ د صنعت په ډګر کې لوی نوم وګاټه. دSWEC شرکت زما له CV سره ډېره ليوالتيا لرله او غوښتل يې چې زما نوم د خپلومشاورينو په ليست کې شامل کړي. دا يو قانوني او د صنعت د چارو برعکس طرزالعمل و. دا وړانديز مې ډېر خوښ شو، ځکه په ځو دليله ما غوښتل چې خپل شرکت IPS وپلورم.

په کومه ورځ چې SWEC ته ورننوم، نو اجرايه رئيس مو ځان سره دودۍ ته بوتلم. خو شيبې مو شخصي خبرې وکړې. دې وخت کې زه پوه شوم، چې زما د شخصيت يوه برخه غواړي چې د سوداګريز مشاوريت دې برخې ته راشي. د انرژۍ د پېچلو مسئوليتونو، د کارکوونکو کنترول، کتنې، سلګونه

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خلک او د هغوی کارونه څارل، له دې ټولو جنجالونو د خلاصي لپاره زما د شخصیت یوې برخې دا وړاندیز مانه. له مخکې مې فکر کړی و، چې ددې شخص په وړاندیز شویو پیسو به څه کوم؟ پرېکړه مې وکړه، په دې پیسو به یوه غیر انتفاعي (خیریه) اداره رامنځته کوم.

تر ډوډۍ وروسته مو خواږه خوړل چې زما کوربه زما د یوه کتاب The Stress Free Habit یادونه وکړه. ویلی یې چې ددې کتاب صفتونه یې اوریدلي دي. بیا یې زما سترګو ته په راکتو وویل: (ته د کوم کتاب د لیکلو اراده لرې؟)

زما معدې درد وکړ، پوه شوم چې څه خبره ده، ورته مې وویل: (نه! اوس خو اراده نه لرم.)

هغه وویل : (په دې خبره خوښ شوم، د MAIN په څېر موږ هم غواړو، چې خبرې مو خوندي وي.)

ما ورته وویل: (زه پوهېږم)

هغه موسکی شو او بېرته یې په خپله څوکۍ کې ډډه ووهله.

(ستا وروستی کتاب چې د ذهني مسایلو په اړه دی ښه دی. ځینې وخت داسې کتابونه د انسان راتلونکی روښانه کوي. زموږ د شرکت د مشاور په توګه ته داسې کتابونه لیکلای شې.) ماته یې راوکتل او د ځواب په تمه شو.

(مننه، خوښ شوم.)

(بالکل ! موږ یې درسره منو. البته ددې ویلو اړتیا نشته، چې ته به په کتاب کې زموږ د شرکت یادونه نه کوې او زموږ د کار د څرنګوالي په اړه به څه نه لیکې. پردې سربېره، چې تا په MAIN کې څه کړي، په هغه به هم خوله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بندوي. همدارنګه سياسي موضوعات، نړيوالو بانکونو سره اړيکې او پرمختيايي پروژې هم ستا له حدودو بهر دي. يوازې د راز ساتلو خبره ده.)
ما غوښتل داډ ورکړم : (ببخي سمه ده، ددې خبرې اړتيا نشته.)
يوه شېبه مې ويل ګني زړه مې ودرېد، يو ښخواني احساس بيا راتازه شو، ببخي هماغسې لکه اندونيزيا کې چې هاوورډ پارکر سره، پانامه کې فيډل او کولمبيا کې پاولا سره و. زه يو ځل بيا خرڅېدم، له سوچه قانوني پلوه دا کوم رشوت نه و. دا يو حقيقي تړون و، چې يو شرکت زما نوم په خپله حاطرې کې ليکي او وخت ناوخت ما خپل دفتر ته د مشورې اخيستو لپاره ورغواړي. زه خو پوه شوم چې ددې وړانديز تر شا اصلي موضوع څه ده. ده د يوه رييس په معادل معاش زه خپل شرکت کې وګومارلم.
په دې مازيګر زه هوايي ډګر کې د فلوريډا پرواز ته په تمه غلی ناست وم. ځان راته يوه فاحشه او تر هغې بدتر ښکارېده. ما احساسوله چې خپلې لور، کورنۍ او هيواد سره مې خيانت وکړ خو ځان ته مې دا ډاډ ورکړ، چې زه بله لاره نه لرم، زه وېرېدم چې که دا وړانديز مې نه واى منلی؛ نو پايله به يې له خطره ډکه وه.

۱. "American Empire: global Leader or Rogue Power?" Jim Garrison.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دېرشم فصل

پانامه د امريکايي بريد پر وړاندې

طوريجو مړ شوی و، خو پانامه زما په زړه کې ژوندی وه. زه په لويديځه فلوريډا کې اوسېدم، خو د منځنۍ امريکا له پېښنو د خبرېدو وسايل مې لرل. د طوريجو پاتې شوني وو، خو د هغه د پرمخ وړلو لپاره هغه وقار، شخصيت او هوډ نه و. په ټوله نيمه کره کې د شخړو د حل هڅې روانې وې. همدارنګه امريکا ته د کانال د شرايطو پر تړون د پابندۍ هوډ هم قوي و.

د طوريجو ځای ناستي مينول نوريګا د خپل مشر سياستوال په پلونو روان و. ما نوريګا ونه وليد. لومړيو کې يې هڅه وکړه چې د لاتيني امريکا د مظلوم او بېوزله ولس په ګټه کارونه وکړي. له دې پلانونو يې يو دا و چې د نوي کانال امکانات وڅېړل شي، ددې کانال ودانيزې چارې جاپان پر مخ وړلې. له تمې سره سم واشنګتن او امريکايي شخصي شرکتونو ددې کار سخت مخالفت وکړ او نوريګا پخپله وليکل:

(د بهرنيو چارو وزير جورج شلټز د بيشتل نړيوال ساختماني شرکت رييس پاتې شوی دی. د دفاع وزير کسپر وين برګر ددې شرکت معاون و. بيشتل ته دا تر ټولوښه فرصت دی، چې د کانال د جوړولو له لارې بې حسابه ډالر وګټي .... د ريګن - بوش ادارې خطر احساسوه، چې په دې معامله کې به جاپان ميدان وګټي. دلته خبره د خلکو د ګټې نه؛ بلکې د کاروباري رقابت وه. که اجاره جاپان اخيستې وای؛ نو امريکايي ساختماني شرکتونه به له بيليونونو ډالرو ګټې برې خې پاتې وو.) ۱

خو له بده مرغه اوس کيسه له نوريګا سره وه، طوريجو نه وه. ده د خپل رهبر په څېر وقار او جديت نه درلود. د وخت په تېريدو يې د فساد کيسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خپرې شوې. تر دې چې د یوه سیاسي حریف Hugo Spadafora د وژنې تور هم پرې پورې شو. د نوریګا شهرت د پانامې د پوځ له G.۲ یونټ پیل شو، چې دی یې قوماندان و. دا د پوځي استخباراتو شعبه وه او د امریکا له CIA سره یې اړیکې لرلې. له دې لارې یې د CIA له مشر ویلیم جي کیسي سره شخصي اړیکې رامنځته کړې. CIA له دې اړیکو په کارابین او منځنۍ لویدیځې امریکا کې د خپلو پروژو عملي کولو لپاره ګټه واخیسته. مثلاً په ۱۹۸۳ ز کال کې امریکا پر ګرینیډا د برید ګواښ وکړ. دا اخطار یې باید کاسترو ته ورکړی وای، خو Casey نوریګا ته وویل چې دا ګواښ دې تر کاسترو ورسوي. نوریګو خپله کولمبیا او د مخدره توکو په نورو مرکزونو کې د CIA نفوذ لاره هواره کړه.

تر ۱۹۸۴ ز کال نوریګا پړمختګ وکړ، جنرال او د پانامې د دفاعي پوځونو سپه سالار شوی و. ویل کیږي په همدې کال چې Casey پانامې ښار ته سفر وکړ، په هوایي ډګر کې ورته د CIA استازي ښه راغلاست وویل او ده ترې وپوښتل چې: (زما زوی نوریګا چېرته دی؟) بیا چې نوریګا امریکا ته لاړ دواړو د Casey په کور کې سره شخصي لیدنه وکړه. څو کاله وروسته نوریګا خپل اعتراف وکړ، چې له Casey سره د نږدې اړیکو له امله اوس ځان نه بدلیدونکی ګڼي. دی پوهېده چې د G.۲ په څېر CIA هم د خپل حکومت قوي شعبه ده. دی داده و، چې د کانال د تړون او پر امریکایي پوځي بیز به دده له موقف سره بیا هم Casey ورته خوندیتوب ورکوي. ۲ طوریجو په نړیواله توګه د انصاف او مساوات سمبول و خو نوریګا د فساد او پستۍ ښه ګرځېدلې وه. دا خبره هله پخه شوه، چې نیویارک تایمز ۱۹۸۶ کال د جون په ۱۲ مه نېټه یوه لیکنه خپره کړه، ددې لیکنې عنوان و : (د پانامې اوسپنیز سړی د مخدره توکو او تورو پیسو په راکړه ورکړه کې ښکیل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دی.) دا لیکنه یوه د Pulitzer جایزې ګټونکي معتبر خبریال کړې وه، ده ویلي وو، چې د لاتیني امریکا جنرال د مخدره توکو په پټ او ناوړه کاروبار کې شریک دی. ده د امریکا او کیوبا دواړو لپاره او پر ضد جاسوسي کړې او په دې برخه کې یې هم شخصیت د یوه دوه مخي جاسوس دی. G-2 د ده په امر د هوګوډا فورا سر پرې کړ او په پانامه کې د مخدره توکو ټول کاروبار دی خپله رهبري کوي. دې لیکنې سره د جنرال یو انځور هم خپور شوی و او په سبا یې نور جزیئات هم خپاره شول. ۲

د نوریګا خپلې ستونزې هم ډېرې وې، بیا یې لا داسې ولسمشر سره مخه شوه، چې د هغه شهرت خپله هم ددې ستونزو ښکار و او خبریالانو د جورج ډبلیو بوش د شخصیت Wimp Factor ونوماوه. ۴ ددې خبرې ارزښت هله زیات شو، چې سکول اف امیریکاز ته یې پنځلس کلن تمدید ور نه کړ.د جنرال په یادښتونو کې ډېر په زړه پورې حالت بیان شوی دی:

(موږ غوښتل چې په ډېر فخر او قوي هوډ د طوریجو نظریات عملي کړو، خو امریکا نه منل. امریکا د خپل (سکول آف امریکاز) تمدید یا پرې له سره خبرې اترې غواړي. هغوی ویل چې په منځنۍ امریکا کې د مخ پر زیاتېدو چمتوالي لپاره دوی، دې ته هم اړتیا لری. خو دا ښوونځی زموږ د خوربدو لامل کیږي. موږ په خپله خاوره ځنګه وژونکې ډلې DEATH SQUAD یا د کین اړخو متشددو پوځیانو ته د روزنې اسانتیاوې ورکړو.)۵

دې حالت ته په کتو نړۍ باید دمخه پوه شوې وای چې څه کېدونکي دي، خو توله نړۍ هله حیرانه شوه، چې د ۱۹۸۹ کال د دسمبر په ۲۰ مه نیټه امریکا پر پانامه برید وکړ. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په هېڅ یو ښار داسې هوایي یرغل نه و شوی. ٦ پانامه او وګړي یې له هېڅ پلوه امریکا یا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

نورو هيوادونو ته خطر نه و. سياستوالو، حکومتونو او رسنيو د امريکا دا يو ارخيز عمليات وغندل او د نړيوال قانون پر ضد عمل يې وباله.

که دا پوځي عمليات د يوه داسې هيواد پر وړاندې شوي وی، چې عام وژنه پکې شوې وی؛ نو خلکو زغمل. مثلاً د پينويشت - چيلی، د ستزانر - پيراګويي، د سوماسا - نکاراګو او د دي آبسن - ال سلويډور ، يا د صدام حسين عراق ... خو پانامې داسې هېڅ حرکت نه و کړی. ددوی ګناه يوازې دا وه، چې د زورورو سياستوالو او کاروباري اشخاصو پروړاندې يې سر ټيټ نه کړ. دوی ټينګار کاوه، چې د کانال ترون ته دې درناوی وشي. له توليزو مشرانو سره يې خبرې اترې وکړې او جاپان سره يې د يوه نوي کانال د کيندلو په امکاناتو هم فکر کړی و. پايله دا شوه، چې دوی خپله له بربادۍ سره مخ شول، نوريګا وليکل:

(امريکا دا نه غوښتل چې پر کانال دې خپلواکه پانامه واکمنه وي او جاپان دې ترې ملاتړ وکړي. ددې لپاره يې له ۱۹۸۲ ز کاله يو کمپاين پيل کړ او بلاخره په هوايي بريد پای ته ورسيد....

په دې وخت کې سلتز او وين برګر داسې وښودل، چې دوی ګني د ولس خدمتګار چارواکي دي. په اصل کې دوی د پراخه جهالت لاملين وو. دوی نه پوهېدل چې د ځواکمنو خلکو د اقتصادي ګټو لپاره کارېږي. دوی غوښتل چې ما له خپلې مخې ليرې کړي، ددې لپاره يې تبليغات پيل کړي وو.)۷

واشنګټن يو کس ددې بريد مسئول وباله. آمريکا خپلې پېغلې او ځوانان پانامې ته ددې لپاره ولېږل چې يو کس ته سزا ورکړي. دې پېغلو او ځوانانو خپل ژوند او ضميرونه داو کړي وو. دبر شمېر ماشومان او بې ګناه خلک يې ووژل. د پانامې ښار يې وسيځه او سزا يې يوازې يو کس ته ورکوله،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه نوريګا نوميده. دا يې د بدۍ د سمبول په توګه وړاندې کړ، د ولس دښمن يې وباله، د نشه يي توکو په سوداګرۍ يې تورن کړ او په دې توګه د امريکا حکومت يوه بهانه پيدا کړه چې د يو سل او شل زره نفوس لرونکي دې ښار باندې بې سارې پوځي يرغل وکړي، دې خلکو له بده مرغه د ځمکې يوه قيمتي ټوټه لرله.

زه دې بريد دومره خفه کړم، چې څو ورځې ځوريدم. دا سمه ده چې نوريګا ساتونکي لرل، خو ګيدړان Jackals بيا هم ده ته ورسيدل. هماغسې لکه رولډوز او طوريجو ته چې ورسيدل. دده زياتره ساتونکي امريکايي پوځ روزلي وو. دوی پېرل کيدل. ګيدړانو خپل کار کولای شو او دوی پرې سترګې پټولای شوی؛ بلکې خپله يې هم دا کار کولای شو.

ما چې په دې بريد څومره فکر وکړ، دې پايلې ته ورسيدم، چې امريکا د امپراتورۍ جوړونې پخوانيو وسلو ته مخه کړې ده. د بوش ادارې دا هوډ کړی و، چې له ريګن نه يو قدم مخته کيږي او نړۍ ته به دا پيغام ورکوي، چې دوی خپل هدف ته د رسيدو لپاره ښکاره تشدد هم کولای شي.

دا خبره ټول غوندې روښانه ده، امريکا غوښتل له پانامې د طوريجو پاتې شوني ختم کړي او داسې يو لاسپوڅی نظام رامنځته کړي چې ددوی غلام وي. پر دې سربېره يې غوښتل چې عراق غوندې هيوادونه ووېروي او د ځان تابع يې کړي.

ډيويډ هېرنيس د نيويارک ټايمز مجلې ايډيټر او د ډېرو کتابونو ليکوال دی، ده ډېره په زړه پورې تبصره کړې وه، ۲۰۰۱ کال کې يې Shooting the Moon نومي کتاب کې ليکلي:

(امريکا د نړۍ په هر کونج کې له بې شمېره چاړواکو، متقدرو اشخاصو، مشرانو او پوځيانو سره معاملې کړې دي. په دې ټولو کې يوازينی شخص

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

جنرال انتونيو نوريګا دی چې امريکا پرې داسې ور ولويدله. په خپل دوه نيم سوه کلن تاريخ کې دوی لومړی ځل په يوه هيواد بريد کړ او د هغه هيواد ولسمشر يې محکمې لپاره امريکا ته راوست چې د امريکايي قانون له مخې سزا ورکړل شي، خو دا جرمونه مجرم امريکا کې نه؛ بلکې په خپله خاوره کړي وو.)۸

له بمبارۍ وروسته د امريکا حالات يو څه درانه شوي وو. يو وخت داسې فکر کېده، چې هر څه ګني برعکس شول او تول تاوان به دوی پرې کوي. د بوش ادارې به بنايي نوريګا مات کړی وی، خو ددوی پر وړاندې پرته ستونزه قانوني جواز و. د خلکو په ذهن کې يې يو وېرونکی بدماش تصوير جوړ کړی و، چې کمزوري خلک به يې ګوابنل، وروسته بيا د ترهګرۍ په دور کې همداسې ثابت هم شو. ويل کيږي چې امريکايي ځواکونو تر درې ورځو بمبار شوې سيمې ته رسنۍ، کارپوهان او د سره صليب کارکوونکي نه پرېښودل. وروسته خبريالانو دا پوښتنه راپورته کړه چې څومره شواهد له منځه وړل شوي او څومره خلک د طبي اسانتياوو نه لرلو له امله مړه شوي دي؟ دې پوښتنو هېڅ ځواب نه درلود.

ددې بريد په دېرو حقايقو به هېڅکله پوه نه شو او نه به دا معلومات وشي، چې په دې تول وژنه کې څومره خلک مړه شوي دي. د دفاع وزير د مړو شمېر له پنځو سوو تر شپږو سوو ښودلی و خو د بشرپالنې خپلواکو ادارو دا شمېر له درې زرو تر پنځه زرو ښودلی او د پنځه ويشت زرو خلکو بې کورۍ خبر يې ورکړی و. ۹

نوريګا يې ونيو، ميامي ته يې وليږداوه او هلته په څلويښت کاله بند محکوم او د امريکا پر ځمکه يوازينی بهرنی جنګي بندي وبلل شو. ۱۰

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د نړۍ تر ټولو ستر قوت بشريت ته سپکاوی وکړ او زرګونه بې ګناه خلک يې ووژل، ټوله نړۍ پرې خفه وه، خو په امريکا کې لږ خلک د واشنګټن په دې کړي جرم پوهېدل. رسنيو دې پېښو ته محدود لاسرسی درلود، لاملونه يې ډېر وو: حکومتي پاليسي، خپرندويه ادارې او د رسنيو مشرانو ته د سپينې ماڼۍ لارښوونې. د کانګرس غړي هم وېرېدل چې بوش سره يې ستونزه رانه شي او خبريالانو هم ويل چې دې ولس ته اتلان په کار دي، نه موخې.

ددې ظلم او وحشت په ټوپان کې يوازې يوه استثناء وه، هغه هم د NEWS DAY ايډيټر او اسوشيټډ پريس خبريال Peter Eisner، ده پر پانامې بريد خپور کړ او څو کاله يې بيا پرې شننې کولې. (د مينول نوريګا يادښتونه، د امريکا بندي) په ۱۹۹۷ ز کال کې خپور شوی او ښکې يې ليکلي:

(نوريګا سره د جنګ تر نامه لاندې چې کومې وژنې، ورانی او ظلم شوی دی او ددې په اړه چې د دروغو څومره اوازې خپرې شوې، دا د امريکايي جمهوريت لپاره لوی خطر دی.... پوځيانو ته امر شوی و، چې د پانامې خلک ووژني او هغوی همداسې وکړل. ورته ويل شوي وو چې دا هيواد بايد له يوه ظالم او جاهل مشر نه وژغورل شي. دوی چې دا کار وکړ؛ نو خپلو هيوادوالو (امريکايانو) ترې په يوه خوله ملاتړ وکړ.)۱۱

په امريکايي زندان کې له نوريګا سره د مرکې په شمول تر ژورو څېړنو وروسته Peter Eisner وليکل:

(په نوريګا چې کوم تورونه پورې شوي فکر نه کوم، چې شواهد دې يې جرم ثابت کړي. د يوه بهرني سپه سالار او خپلواک ولسمشر په توګه چې ده څه کړي، فکر نه کوم چې امريکا ته دې پر پانامې د بريد جواز ورکړي او نه دده کړنو امريکا ته کوم امنيتي خطر پېښاوه.)۱۲

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په وروستیو کرښو کې لیکي :

(د سیاسي حالاتو له مطالعې او په بریدونو د راپورنو په لړ کې دې پایلې ته ورسیدم، چې دا برید د قوت د ناوړه کاروني یوه کرکجنه بېلګه ده. دې برید امریکایي ساینسپوهانو او د هغوی پانامایي شریکانو ته موخې اسانې کړې او بیه یې د بې ساري انساني وینې تویولو په شکل پرې شوه.)۱۳

له طوریجو مخکې واکمنه ډله او آریاس کورنۍ بیا واک ته ورسیده. له کولمبیا د پانامې د جلا کولو او د طوریجو واک ته رسیدو په موده کې دا خلک د امریکا لاسپوځي وو. د کانال د نوي تړون اختلافي موضوع حل شوه، خو په عمل کې پر دې اوبلنې لویې لارې امریکا واکمنه شوه؛ سره ددې چې په رسمي اسنادو کې داسې هېڅ خبره نه وه شوې.

ما MAIN کې د خپلو تجربو په رڼا کې پر دې پېښو فکر وکړ او هماغه پوښتنې مې په ذهن کې راولاړې شوې :

دې خلکو د سم ګام پورته کولو پر ځای څومره ډېرې پرېکړې د خپلو غوښتنو له مخې وکړې؟ په دې کې هغه مهمې تاریخي پرېکړې هم وې، چې میلیونونه خلک ترې اغېزمنېدل. زموږ د حکومت څومره چارواکي د ملي ګټو پر ځای خپلو شخصي ګټو پسې منډې وهي؟ او څومره جګړې یوازې ددې لپاره وشوې، چې ولسمشر خپلو رایه اچوونکو ته ځان قوي، زړور او فعال وښيي؟

نوې اداريSWEC سره مې ژمنه هم کړې وه، خو پر پانامې د ناوړه برید خفګان زه دې ته وهڅولم چې په خپل کتاب بیا کار پیل کړم، یوازې په دې توپیر چې غوښتل مې طوریجو د خپلې توجه مرکز وګرځوم. دې کیسې دا فرصت راکړ، چې له ټولو شویو ظلمونو او بې عدالتیو پرده پورته کړم، دې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کړنو زموږ ژوند خوړ. دا ځل مې پرېکړه وکړه چې هر څه به پټ کوم او له هېڅ مشر یا ملګري سره به يې په اړه مشوره نه کوم.

په دې کتاب مې چې کار کاوه، دې ته حیران پاتې وم، چې موږ اقتصادي جنایتکارو په څومره هیوادونو کې څومره پراخ عملیات کړي دي. څو داسې هیوادونه مې غوره کړل، چې بېلګې پکې ځرګندې وې، خو داسې هیوادونه سخت ډېر وو، چې زموږ تر عملیاتو وروسته ډېر خراب شوي دي. خپل دې فساد ته په کتو مې وېره احساس کړه. ځان سره د حساب په لړ کې پوه شوم، چې د ورځنیو چارو او بوختیاوو له امله مې دې موضوعاتو ته هېڅ په پراخه نظر کتلي نه وو. زه چې په اندونیزیا کې وم د هاوورډ پارکر خبرو او د زلمي ریزي ځینو ټکو به په تشویش کولم. په پانامه کې چې فیډل ځینې شیان (کانال، ټاپرۍ (د وښو کورونه)، د کانال ساحه او د نځا ځای) راوښول؛ نو دې شیانو راباندې ژور اغېز وکړ. همدارنګه په ایران کې له یمین او ډاکټر سره خبرو هم نارامه کړم، پر دې کتاب د کار کولو سره مې ذهن هم پراخه شو. زه اوس پوه شوم چې محدود فکر ښه وي، ځکه د خپلو کړنو د اغېز سم معلومات راته نه کېده.

په ښکاره دا هر څه اسان دي، خو دا تجربې څومره مرموزې وې. ماته ځان د یوه جنګیالي په څېر ښکاره شو. په پیل کې ساده او معصوم وي، د خلکو په وژلو يې ښايي ذهن کې د اخلاقیاتو اړوند ځینې پوښتنې وي. خو زیاتره وخت خپله د وېرې احساس کوي، خپل پاېښت ته يې پام کېږي، ښايي د خپلې کورنۍ فکر به هم ورسره وي او د هغوی په مرګ به خفه کیږي. خو د وخت په تېرېدو چې څو جګړو کې برخه واخلي او خلک ووژني؛ نو زړه يې هم کلکیږي او مسلکي جنګیالي ترې وځي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

زه هم مسلکي جنګیالی شوی وم. ددې حقیقت له منلو وروسته مې د ذهن دریڅې بېرته شوې او درک مې کړه، چې جرمونه څنګه کېږي او نړیواله امپراتوري څنګه رامنځته کېږي. اوس په دې پوه شوم چې دومره خلکو څنګه ظلمونه کړي دي؛ مثلاً هغه شریف خلک څنګه د شاه د پټو پولیسو د لاس آلې شوې، چې خپلې کورنۍ هم پرې ګرانې وې. ښه او نېک المانیان څنګه د هټلر ملاتړي شول او څنګه د امریکا ښځو او نرو په پانامې بمبار وکړ؟

د یوه اقتصادي جنایتکار په توګه مې یوه تنګه هم مخامخ له NSA یا دولتي ادارې نده اخیستې، ما خپل معاش له MAIN شرکته اخیسته. زه یو عام وګړی وم او شخصي اداره کې مې کار کاوه. په دې پوهېدو مې معلومات نور هم زیات کړل چې د اقتصادي جنایتکارو په توګه به د کاروباري مشرانو ونډه څه وي. نړۍ ته د جنګیالیو (پوځیانو) یوه وېرونکې ډله په راتلو وه، دا خلک د خپل کار په اړه لږې حسه وو، ما ولیکل:

(نن زموږ ښځې او نر، تایلنډ، فلپاین، بوتسوانا، بولیویا او هغه نورو هیوادونو ته ورځي، چې هلته ښايي کارغوښتونکي خلک پیدا شي. دوی هلته د هغو خلکو د استمثار په اراده ورځي. دوی چې د کومو خلکو ښکار ته ورځي هغه خلک په سوی تغذیه او لوږه اخته دي. دا خلک په خامو جونګړو کې اوسیږي او د ښه ژوند فکر هم نه شي کولای. دوی خو دا تمه هم نه لري چې سبا به ګني لمر راخېژي. ددوی ښکاریان امریکا کې له خپلو سړو او تودو دفترونو راوځي، په الوتکه کې له بحرونو اوړي، هلته په عصري هوټلونو کې اوسیږي او ښه رستورانتونو کې ډوډۍ خوري، وروسته بیا د بدمرغو او نهیلو خلکو په لټه له همدې ځایه وځي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په موږ کې نن هم د غلامانو سوداګري شته. خو نننی سوداګر په غلامانو پسې د افریقا تورو ځنګلو ته نه ځي او نه هم د ښه توکو په لټه د چارلټسن، کارتاجینا او هوانا د لیلامیو صالونونو کې ګرځي. دوی هماغه بدمرغه خلک ګوماري، بیا پرې د جاکټونو، پطلونونو، بوټانو، پرزو، کمپیوټر او نورو وسایلو فابریکې جوړوي، چې خپل توکي د خپلې خوښې بازار کې وپلوري. دوی دا اړتیا هم نه لري، چې د فابریکې جوړولو زیار وګالي، همالته له یوه ځایي سوداګر سره خبره کوي او د هغه له خدمتونو ګټه اخلي چې خپلې ناوړه چارې پرې ترسره کړي.

دا ښځې او سړي ځانونه ډېر ریښتوني ګڼي. دوی چې ېېرته کورونو ته ستنېږي خپلو بچو ته د زړو کندرو جالب انځورونه وړي. سیمینارونو کې برخه اخلي، یو بل سره مرسته کوي او په لیرې پرتو هیوادونو کې د ګمرک له چارواکو سره د چلند پر بېلابېلو لارو خبرې اترې کوي. ددوی بادارن ځیني وکیلان ګوماري، دا وکیلان دوی ته داډ ورکوي چې تولې کړنې یې له قانون سره سمې دي. دوی ځینې ارواپوهان او د مزدورانو چارو کارپوهان هم لري. دا کارپوهان اقتصادي جنایتکار په دې قانع کوي، چې دوی په اصل کې له بدمرغو خلکو سره مرسته کوي.

د غلامانو پخوانیو سوداګرو به ځان ته دا ډاډ ورکاوه، چې دوی د یوه توکي سوداګري کوي، دوی پوره انسانان نه دي او د سوداګرۍ ګټه یې دا ده چې د عیسوي کېدو ښه فرصت هم ورته برابرېږي. دوی په دې پوهېدل چې د تولنې د پایښت لپاره غلامان مهم دي او دا په اقتصادي پرمختګ کې هم مهم عنصر دی. د غلامانو عصري سوداګر ځان په دې ډاډه کوي، چې له بېکارۍ خو د ورځې په یوه ډالر کار ښه دی. تر څنګ یې دا فرصت هم ورکوي، چې له خپلې نړیوالې تولنې سره یوځای شي. دوی په دې هم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوهېږي، چې د شرکت د پایښت لپاره یې دا نهیلي خلک مهم دي او ددوی ژوند پر همدې بدمرغو خلکو جوړ دی. خپله هم نه پوهېږي چې دوي خپله، د ژوند دول یې او تر شا یې شته اقتصادي نظام له نړۍ سره څه کویاو بلاخره به داهر څه ددوی د خپلو اولادونو په راتلونکي څه اغبز کوي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې :

۱. The Memoirs of Manuel Noriega..... " Peter Einser.

۲. "Shooting The Moon: The True Story of an American Man hunt unlike other, Ever", David harris

۳. ibid

٤. The Memoirs of Manuel Noriega....."

٥. Ibid

٦. See www.famoustexans.com/georgebush.

۷. The Memoirs of Manuel Noriega"

۸. "Shooting the Moon" David harris

۹. www.famoustexans.com/georgebush.

۱۰. "Shooting the Moon" David harris

۱۱. The Memoirs of Manuel Noriega"

۱۲. Ibid

۱۳. Ibid

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

يودېرشم فصل

عراق کې د اقتصاد جنايتکارو ماته

۱۹۸۰ لسيزه کې د IPS د مشر او د ۱۹۹۰ په وروستيو کې د SWEC د ستر سلاکار په توګه ما د عراق په اړه هغه معلوماتو ته لاسرسی درلود، چې ښايي هر چا به نه درلود. رښتيا دا ده چې په ۱۹۸۰ مه لسيزه کې لږ امريکايان د عراق په اړه پوهېدل. ددوي په ذهن خپور منظر کې عراق نه و، خو هلته چې څه کېدل ماته په زړه پورې وو.

زه خپلو تولو هغه ملګرو سره په اړيکه کې وم چې په نړيوال بانک، USAID، IMF او نورو مالي ادارو کې يې کار کاوه. تر څنګ مې د بېشتل او نورو انجينري شرکتونو له کارکوونکو سره هم اړيکې لرلې، چې زما خسر هم پکې شامل و. ډېر هغه انجينران چې د IPS په څانګو يا نورو خپلواکو ادارو کې يې کار کاوه، اوس د منځني ختيځ په پروژو کې بوخت وو. زه ښه پوهېدم چې اقتصادي جنايتکار به عراق کې ډېر زيار ګالي.

د ريګن او بوش ادارې پوخ هود کړی و، چې عراق به هم سعودي عربستان ته ورته کوي. ډېر لاملونه وو چې له مخې يې بايد صدام حسين د آل سعود پر پلونو تللی وی. ددې راضي کولو لپاره يوازې د هغو ګټو يادونه بس وه، چې سعودي عربستان د پيسو مينځلو په پروسه کې کړې وه. عربستان سره چې معامله وشوه، په دښتو کې ښارګوټي جوړ شول، په رياض کې ښار کې د رمو ځای اوس پاکو لاريو ونيوه او ښاريانو له عصري ټکنالوجۍ ګټه اخيسته. په دې کې د ترخو اوبو چاڼخونې، د ارتباطاتو سيستم او برښنا شامله وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

صدام حسين پوهېده، چې د نړيوال قانون په مسئله کې هم عربانو ته ترجيح ورکول کېده. واشنګټن کې دده بنو ملګرو د سعودي په کارونو سترګې پټولې، په دې کارونو کې يو يې له مذهبي جنونيانو سره مالي مرسته وه. عربستان له يوه داسې سياسي انقلاب سره په خپله اړيکه پوهېده چې پولې پر ترهګرۍ ختمېدې. پردې سربېره يې نړيوالو مجرمينو ته هم ځای ورکاوه. امريکا خپله روسيه سره د جهاد په نوم اسامه بن لادن ته، له سعودي مالي مرستې غوښتې او ترلاسه کړي دي. د ريګن او بوش ادارې نه يوازې سعودي ته ددې کار ډاډ ورکړ؛ بلکې په نورو هيوادونو يې هم د ورته کار فشار راوړ.

۱۹۸۰ مې لسيزې کې په عراق کې ډېر شمېر قوي اقتصادي جنايتکار مبشت وو او فکر يې کاوه چې صدام به يوه ورځ لارې ته سم شي. که عراق امريکا سره د سعودي په څېر تړون کړی وی، نن به صدام ته پر خپل هيواد د حکومت سربېره سيمه کې د خپل رسوخ موندلو اجازه هم ورکړل شوې وه.

دې هېڅ توپير نه کاوه چې صدام حسين ظالم او جابر حاکم و، لاسونه يې په وينو رنګ وو او کارونو يې خلکو ته هېټلر رايادوه. امريکا مخکې هم ورته خلک زغملي او ملاتړ يې ترې کړی دی. موږ ته دا خبره هم بنه وه، چې د پيټرو ډالرو (د تېلو پېسو) پر ځای مو ورته د امريکايي حکومت تضمين پانې (سيکورټي) ورمخکې کړې وی. دې سره به د تېلو د بې خنده عرضې تړون شوی وی او د تضمين پاڼو د سود په پېسو به لويو امريکايي شرکتونو په عراق کې ودانيزې چارې ترسره کولای. دې شرکتونو به ټول عراق کې د بنستيزو پروژو په نامه لوی نبارونه اباد کړي وی او وچې دښتې به يې د کجورو په شنو باغونو بدلې شوې وی. ددې کار د کېدو په صورت کې به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

موږ ټانکونه او جنګي الوتکې هم ورکړې وی او لکه د نورو هیوادونو به مو د اټومي وسلو بټۍ هم ورته فعالې کړې وی. موږ دې کیسه کې هم نه وو، چې هغوی به ګني په دې بټیو کې عصري وسله جوړولای شوه.

عراق موږ ته ډېر مهم و، تر هغه څو چنده ډېر چې په ظاهره ښکارېده. د عام نظر برعکس د عراق معامله یوازې تر تېلو محدوده نه وه.په دې کې د اوبو او جغرافیایي سیاست مسئله هم ډېره مهمه وه. دجله او فرات دواړه سیندونه په عزاق کې بهیږي، په سیمه کې دا یوازینی هیواد و چې د اوبو پر مهمو سرچینو واکمن و او دا ارزښت ورځ یې تر بلې لوړېده.

موږ چې د انرژۍ له سکتور سره اړیکه لرو په دې پوهېږو چې په ۱۹۸۰ مه لسیزه کې د اوبو سرچینې له سیاسي او اقتصادي پلوه څومره ارزښت لري. د شخصي کولو په دې دور کې لویو شرکتونو لومړی د انرژۍ وړو شرکتونو ته سترګې نیولې وې چې څنګه یې تر ستوني تېر کړي او اوس یې پر دې فکر کاوه چې څنګه کولای شي افریقا، لاتیني امریکا او منځني ختیځ کې د اوبو سرچینې د خصوصي کولو (Privatization) ښکار کړي.

پر تېلو او اوبو سربېره عراق د جغرافیایي موقیعت له مخې هم مهم و. له ایران، کویټ، عربستان، اردن، شام او ترکیه سره پولې لري او ساحل یې هم له فارس خلیج سره لګیږي. دا ځای اسرائیلو او پخواني شوروي اتحاد ته دومره نږدې دی چې راکټي برید ترې په اسانه کېدی شي. د پوځي چارو کارپوهان دې ځای ته په دومره ارزښت قایل دي، لکه د فرانسې، هندي جنګونو او امریکایي انقلاب کې چې د هډسن HUDSON درې درلود. اتلسمه پېړۍ کې فرانسویان، انګریزان او امریکایان ښه پوهېدل، چې دره چا ونیوله لویه وچه د هماغه ده. نن خلک په دې پوهېږي چې عراق د ټول منځني ختیځ کونجي ده. پر دې سربېره عراق د امریکایي ټکنالوجۍ او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

انجینري خدمتونو ښه بازار هم ثابتېدای شي. له ټېلو پر ډې غني سیمه (د ځینو خلکو پر وینا تر سعودي غني ده) واکمنېدل په دې معنا وو، چې دلته د بنسټیزو پروژو او صنعتي پلانونو پلي کولو زرین فرصت شته دی. ټولو سترو لوبغاړو، انجینري او ودانیزو شرکتونو، د ټکنالوجۍ شرکتونو؛ د الوتکو،ټانکونو او توغندیو شرکتونو؛ د درملو او کیمیاوي موادو شرکتونو او ... همدې سیمې ته سترګې نیولې وې.

د ۱۹۸۰ مې لسیزې تر نیمایي دا څرګنده شوه، چې صدام د اقتصادي جنایتکارو په دام کې نه نښلي. دا خبره د بوش اداري د خفګان او نهیلۍ وړ وه. د پانامې په څېر عراق هم هغه مسئله وه چې د بوش بې زړه توب، ناوړتوب او بې اغېزتوب پکې ننګول شوی و. بوش لا له دې شخړې د وتلو په فکر کې و، چې صدام حسین خپله لوبه پیل کړه، د ۱۹۹۰ز کال د اګست په میاشت کې یې پر کویټ برید وکړ، بوش سمدستي غبرګون وښود او له نړیوال قانونه د سرغړونې پر بنسټ یې دا صدام دا کړنه وغندله، په داسې حال کې چې څه کم یو کال مخکې بوش خپله پر پانامې همداسې غیر قانوني او یو اړخیز برید کړی و.

دا د حېرانۍ وړ نه ده، چې بوش د یوه ستر برید امر وکړ، د یوه نړیوال پوځ د برخې په توګه ، د امریکا پنځه سوه زر پوځ په دې برید کې برخه لرله. د ۱۹۹۱ په لومړیو میاشتو کې پر عراقي پوځ او ښاري ابادۍ د امریکا هوایي بریدونه پیل شول. تر دې وروسته نږدې سل ساعته ځمکني پوځ قوي برید ته دوام ورکړ، د عرق له هره اړخه کمزوری پوځ یې ټوټې ټوټې کړ او کویټ یې ترې یې وژغوره. د یوه ټولواک حاکم پر ضد ملاتړي عملیات شوي وو، خو سزا یې نه وه ورکړې. دې سره په امریکا کې د بوش د ملاتړو کچه ۹۰٪ ته پورته شوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په عراق چې برید کېده ما بوستون کې یو ملاقات درلود. ښه مې په یاد دي چې د بوش په پرېکړه څومره خوښي ښودل شوې وه. په ستون اینډ ویستر کې ځینې خلک هوا ته الوتل، که څه هم دا خوښي له دې امله نه وه چې موږ د یوه جابر حاکم پر ضد ګام پورته کړی دی، دوی عراق نیول د ډېرې ګټې فرصتونو او لوړو معاشونو په معنا ګڼل.

دا خوشالي یوازې تر موږ کاروباري خلکو محدوده نه وه چې د ګټې په تمه وو، ټول ولس په دې خوښ و، چې پوځ یې بریالی شو.

ددې کار لاملونه ډېر وو، هغه فلسفي بدلون هم پکې وو چې د ریګن پر وراندې د کاسترو د ماتې پر وخت رامنځ ته شو. ایران کې یرغمل شوي کسان راخوشې شول او ریګن اعلان وکړ چې د پانامې کانال په تړون به بیا مذاکرات کیږي. په پانامې د بوش برید په اور د تېلو کار وکړ.

د وطن پرستۍ او عملي اقداماتو تر شا د یوه باریک بدلون فکر هم روان و، فکر دا و چې د امریکا ګټې او هغه خلک چې کاروباري ادارو ته کار کوي، نړۍ ته په کومه سترګه ګوري. نړیوالې امپراتورۍ خواته تګ اوس ممکن خوب ګڼل کېده، چې د هیواد ډېره برخه پکې شریکه وه. د نړیوالتوب او خصوصي کولو دوه نظریات لکه د تورې دوه اړخونه زموږ په افکارو راځړیدلي وو.

وروستۍ خبره دا چې اوس کیسه یوازې تر امریکا نه وه او له ټولو پولو اوښتې وه. د قانون له مخې ټول امریکایي شرکتونه اوس نړیوال شوي وو. ډېرو شرکتونو په بېلابېلو هیوادونو کې ریښې ځغلولې وې او د ډېرو قوانینو له منځه به یې د خپل کاروبار چلولو لپاره د خپلې ګټې هغه پلې کاوه. د نړیوالتوب تړونونو او ورپورې اړوندو ادارو دا کار لا پسې اسان کړی و. جمهوریت، سوسیالېزم او پانګوالي ... دا لغتونه اوس له ذهنه په وتو وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کارپوریټوکراسي اوس یو حقیقت و او د نړۍ په سیاست او اقتصاد یې اغېز ورځ تر بلې زیاتېده.

حالات عجیب خواته روان وو، زه هم ۱۹۹۰ ز کال کې هله د کارپوریټوکراسۍ په ګونډو کړم، چې IPS شرکت مې وپلوره. زما شریکانو ته دا ګټور فرصت و، خو ما دا شرکت ځکه وپلوره چې Ashland Oil شرکت راباندې فشار راوړی و. زه تجربو پوه کړی وم، چې دوی سره مبارزه راته تاوان کوي او د شرکت له پلوره مې ښه پېسې ترلاسه کولای شوې. دا هم ستم و چې د تېلو یو شرکت زما د انرژۍ د شرکت معادل یو شرکت ترلاسه کاوه، دې وخت کې زما د شخصیت یوې برخې پر ما د خیانت تور رالګاوه.

که د وخت خبره وکړو نو په SWEC کې مې ډېر وخت نه تېراوه. کله کله به یې راته ویل چې بوسټون ته د کومې ناستې لپاره ورشم یا په کومه پلان ګذارۍ کې مرسته وکړم. کله کله به RIO DE JANEIRO غوندې ځایونو ته هم ورتلم، چې د هغه ځای له محترک ډوله خلکو سره اړیکې جوړې کړم. یوه ورځ په یوه شخصي الوتکه کې ګویټې مالا ته هم تللی یم. زیاتره به مې د پروژې له مدیر سره اړیکه نیوله چې د خپل شتون احساس ورکړم. د دومره لږ کار په مقابل کې ډېر معاش اخیستو به مې کله کله ضمیر را ځوراوه. زه په دې کاروبار ښه پوهېدم او غوښتل چې مې یو ګټور کار وکړم، خو د هغو خلکو په اجنډا کې زه شامل نه وم.

دې فکر ډېر ځورولم چې زه اوس د نورو خلکو په منځ کې عام انسان یم، ما غوښتل داسې یو کار وکړم، چې زما د شتون جواز پیدا شي او د خپل تېر ژوند منفي اړخونه په مثبتو اړخونو واړوم. ما په غلي او نامنظم ډول په خپل کتاب (د اقتصادي جنایتکار ضمیر Consciecnce of Economic Hit

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

Man.) کار کاوه، خو دومره خوش باوره نه وم چې دا کتاب به ګني چاپ شي.

۱۹۹۱ ز کال کې مې امازون ته د ځینو ورو ډلو لارښوونه پیل کړه. موخه مې دا وه چې دوی له شوار قبایلو سره لږ وخت تېر کړي، هغوی غوښتل چې د ځایي مالیاتي سیستم او روغتیا په اړه مالومات نورو خلکو سره شریک کړي. په راتلونکو څو کلونو کې د داسې سفرونو غوښتنه زیاته شوه او د Dream Change Coalation په نوم یوه غیر انتفاعي اداره رامنځته شوه. دا چې صنعتي نړۍ دې سیمې ته په کومه سترګه کتل او زموږ ورسره څه اړیکه وه؟ نوې ادارې خپل وخت د همدې فکر بدلون ته وقف کړی و. په همدې اساس ټوله نړۍ کې ددې ادارې مینه وال پیدا کېدل او دا واک هم ورکړل شوی چې ورته ادارې جوړولای شي. ټایمز مجلې دا اداره د هغو ادارو په لست کې راوړله چې له ویبسایټه یې Earth day موخې په ښه ډول څرګندېدې.

ټوله ۱۹۹۰ لسیزه کې زه له غیر انتفاعي ادارو سره بوخت وم. ما د داسې ډېرو ادارو په رامنځته کولو کې مرسته کړې او د نورو ادارو په رهبرۍ پلاوي کې زما خدمتونه څرګند وو. له دې جملې ډېرې ادارې د هغو خلکو منندوی وې چې په ډریم چینج اداره کې یې کار کاوه او د لاتینې امریکا په ځینو قبایلو؛ لکه د امازون شوار او اچوار؛ د ویندیز قویچو او د ګویتمې په مایا کې یې کار کړی و. تر څنګ یې دې خلکو په امریکا او اروپا کې ددې قبایلو د رسم و رواج ښوونه هم کوله. دې کار یې د هغوی له خپل پروګرام United way سره هم اړخ لګاوه. ما یو څو نور کتابونه هم ولیکل، خو په دې احتیاط چې ټول پام مې ځایي مسایلو ته وکړ او د اقتصادي جنایتکار په توګه مې په خپلو ټولو کارونو سترګې پټې کړې. ددې بوختیاو له امله زما

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خفګان کمبده. له لاتيني امريکا او سياسي مسايلو سره مې يې اړيکه د خپل شوق له مخې ساتله.

ما هڅه کوله ځان داده کړم، چې خيريه کارونه او کتاب ليکنه به مې د تېرو ګناهونو کفاره شي، خو دا کار ستونزمن و. زړه کې په دې ښه پوهېدم چې د خپل لوړ په مقابل کې له شته مسئوليتونو تښتم. جيسيکا ته مې په ميراث کې هغه نړۍ پرېښوده چې سلګونه زره ماشومان پکې پوروړوی زيږيدل او مړه کېدل. په دې لړ کې بايد زه خپل مسئوليت ومنم.

زما د کتابونو مينه وال ډېريدل، په ځانګړي ډول د A World Is As You Dream it. له دې امله مې د لکچرونو او ورکشاپونو غوښتنه هم زياته شوه. کله کله به چې د بوسټون، نيويارک يا ميلان د خلکو مخې ته ولاړ وم نو دا احساس به مې کاوه: که دا نړۍ داسې وي چې موږ يې خوب ليدلی؛ تو موږ داسې خوب ولې ليده؟ او د دومره ويرونکي خوب د رښتيا کولو لپاره مو دومره کار ولې وکړ؟

۱۹۹۷ کال و، د اوميګا انستيتيوټ له خوا مې د کارابين په سينټ جان ايی لينډ کې يو ورکشاپ ورکاوه. د شپې ناوخته ورسيدم، سبا چې راويښ شوم نو وړوکي بالکېن ته ووتم، سترګې مې په هغه ساحل ولګېدې، چې له ۱۷ کاله مخکې مې پکې د MAIN پرېښودلو پرېکړه کړې وه. زه خپلو احساساتو مات کړم او په ځوکۍ کېناستم.

توله اونۍ به مې اوزګار وخت له همدې بالکنه سېل کاوه. عجيب حالت و، په خپلو احساساتو پوهېدل راته سخت شوي وو. فکر مې وکړ چې له دې ګردابه راووتم نو بل ګام مې څه واخيست؟ زه په دې هم پوهېدم چې په دې نظام کې ژوند زما په ذات څومره بد اغېز کاوه. د اونۍ په وروستيو کې پوه شوم، تر ما چاپېره هغه نړۍ نه وه چې ما يې خوبونه ليدل. اوس بايد ما

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه څه کړي و چې خپلو زده کوونکو ته مې پرې ټينګار کاوه. يعنې هغه بايد په محسوس حالت کې رښتيا کړم او غوښتل مې دا حقيقت په خپل ژوند کې روان ووينم.

پرته چې راغلم د مشاوريت دنده مې پرېښوده. د SWEC هغه مشر تقاعد شوی و چې زه يې ګومارلی وم ، په ځای يې يو کشر کس راغلی و او داسې ښکارېدل چې زما له زړو کيسو سره يې علاقه نه لرله، هغه د لګښت کمولو برنامه پيل کړې وه او پوهېده چې زما له غوښن معاش نه خلاصيدای شي.

ما پرېکړه وکړه چې خپل نيمګړی کتاب بايد پوره کړم. دې پرېکړې ډ اطمينان احساس راکړ، خپل نږدې ملګري مې هم له دې کاره خبر کړل. زياترو يې په خيريه ادارو کې کار کاوه، د ځايي کلتوري ميراثونو لپاره يې کار کاوه او د ځنګلونو ژغورنه يې د پلان برخه وه. هغوی زما په دې کار نهيلي وښوده او دا ماته د حيرانۍ وړ وه. دوی ويل چې رښتيا ويل به زما په تدريسي کارونو منفي اغېز وکړي او هغه خيريه ادارې به هم اغېزمنې شي چې زه ورته کار کوم. له موږ ډېر يې په دې بوخت وو چې د امازون قبايل د تېلو د شرکتونو له پلاوو وژغورو. دوی ويل چې زما په دې کار به ښايي د خلکو باور راباندې مات شي او ممکن ټول تحريک ته يو ډول زيان واوړي.

ځينو خو يې وګواښلم چې مرستې به راباندې بندې کړي. يو ځل مې له ليکلو لاس واخيست، ټول پام مې دې ته و، چې خلک د امازون منځ ته دننه کړم. ما غوښتل داسې ځايونه او قبايل ور وښيم چې د عصريت او تمدن له ځنګه هم نه وي تېر شوي. دا هغه ځای و چې زه پکې د ۲۰۰۱ ز کال د سپتمبر په ۱۱ نېټه اوسېدم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

١. "The Web's Wild World", Time, April ٢٦, ١٩٩٩.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دوه دېرشم فصل

یوولسم سپتمبر او اغېزې يې

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په ۱۱ نېټه ما د اکوادور د امازون په یوه سیند کې سفر کاوه. د خپل کتاب Spirit of the Shuar شریک لیکوال Shakaim Chumpi هم راسره و. موږ شپاړس شمالي امریکایان د ځنګل په منځ کې یوې قبیلې ته ور وستل. دا خلک د هغوی پېژندلو او قیمتي ځنګلونو ژغورلو لپاره راغلي وو. نږدې وختونو کې د اکوادور او پیرو یوه شخړه راغلې وه او شکیم پکې د پوځي په څېر جنګېدلی و. د تېلو لویو مصرفوونکو هیوادونو خلک له دې جګړې خبر هم نه وو، خو دا جګړه اصل کې همدې هیوادونو ته د تېلو چمتو کولو پر بنسټ شوې وه. که څه هم ددې دواړو هیوادونو تر منځ د پولې په سر شخړه له کلونو روانه وه خو اوس یې فوري هوارې ته اړتیا لرله. دا اړتیا ځکه رامنځته شوه چې د تېلو شرکتونو غوښتل دلته د کوهیانو کېندلو لپاره دې هیوادونو سره مذاکرات وکړي او ددې کار لپاره د پولو تاکل ډېر مهم وو.

شوار قبیلې د اکوادور د دفاع لومړۍ کرښه وه. دې قبایلو په خلکو ځانونه د ترخو جنګیالو په څېر منلي وو. دښمن له ډېر شمېر او وسلو سره بیا هم پر دوی نه شو راتلی. دا خواران د جګړې تر شا سیاست باندې نه پوهېدل. دوی دومره هم نه پوهېدل چې ددې شخړې په هواریدو به د تېلو شرکتونو په مخ دروازې پرانیستل شي، دوی ددې لپاره جنګېدل چې جګړه یې په زړو روایاتو کې شامله وه او هېڅ بهرني پوځي ته یې هلته د ننوتلو اجازه نه ورکوله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

موږ له سیند سره یو ځای روان وو، شکیم مې وپوښت چې اوس لنډمهالې سوله شته که نه؟

(هو! خو باید درته ووایم چې موږ تاسو سره د جګړې په چمتووالي بوخت یو.) بیا یې یوه کرړم چې موخه شخصاً ما یا زموږ ډلې سره د جګړې خطر نه دی، ویې ویل چې تاسو زموږ ملګري یاست او ما په اصل کې د تېلو له شرکتونو سره د جګړې خبره کوله.

(موږ ولیدل چې هغوی له Huaorani قبیلو سره څه وکړل. ځنګلونه یې له منځه یوړل، سیندونه یې چټل کړل او د ماشومانو په ګډون یې ډېر خلک ووژل، اوس دا خلک د یوې قبیلې په توګه له منځه تللي دي. اجازه نه ورکوو، چې موږ سره هم داسې وشي، موږ چې څنګه د پېرو خلک خپلې ځمکې ته نه دي راپرېښې همداسې دا د تېلو شرکتونه هم نه راپرېږدو. موږ قسم کړی چې تر وروستۍ ساه به جنګېږو.) ۱

په دې شپه موږ له ښو او بانسونو جوړه شوې یوې ښایسته اوږدې کوټې کې اور ته ګردچاپېره ناست وو. ما خپل ملګري شکیم سره له کړو خبرو خبر کړل. موږ حیران وو، چې په نړۍ کې به څومره نور خلک زموږ د هیواد او د تېلو د شرکتونو په اړه موږ ته ورته فکر لري. د شوار قبایلو غوندې څومره نور خلک به په دې وېره کې وي چې موږ به یې ګني په ژوند کې مداخله وکړو او کلتور او تمدن به یې له منځه یوسو، څومره خلک به له موږه کرکه کوي؟

په سبا یې زه خپل کوچني دفتر ته لاړم، دلته مو یوه دوه طرفه راډیو(مخابره) نصب کړې وه. ما غوښتل خپل پیلوټ ته پیغام ورکړم، چې څو ورځو کې راشي او موږ له دې ځایه بوځي، هغه سره مې خبرې کولې چې یوه چیغه مې تر غوږو شوه، د راډیو له بلې خوا غږ راغی ... (اوه خدایه، په نیویارک بریدونه کیږي.) د راډیو د سوداګریز اعلان موسیقي په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

صحنه (بکګراونډ) کې اوړېدل کېده، هغه د راډیو غږ پورته کړ، تر راتلونکي نیم ساعت پورې پر امریکا د کېدونکو بریدونو شېبه په شېبه احوال راکول کېده. دنورو غونډې ماته هم دا شېبه داسې وه چې هېڅکله به مې هېره نه شي.

فلوریډا کې خپل کور ته چې راستون شوم، نو ومې ویل چې ګراونډ زیرو (هغه ځای چې نړیوال سوداګریز مرکز پکې و)، ته باید یو ځل سر ورښکاره کړم او نیویارک ته د تلو تیاری مې ونیو. ماسپښین خپل هوټل ته ورسېدم، د نومبر لومړی لمرینه ورځ وه، ښایسته شمال لګېده، زه د سنټرل پارک په څنډو ګرځېدم، طبیعت ډېر پر جوشه و، بیا د ښار هغه برخې ته لاړم چې پخوا مې پکې ډېر وخت تېر کړی و، دا ځای وال سټریټ ته نږدې سیمه وه چې اوس یې پواینټ زیرو باله.

زه چې ورغلم په هغه ځای کې د شور او مستی پر ځای یوه وېره خپره وه. د هغه ځای تصویر او بوی مې په ذهن ننوتل، بې سارې ورانی شوی و. د ودانیو کنډرونه، کنډوالې، خاورې، لوګي او د سوځیدلو غوښو بویونه ... ما دا هر څه په ټلویزیون لیدلي وو، خو په خپلو سترګو لیدل جلا وي.

ما دا حالت نه شو لیدی، ټول خلک همداسې وو، په دې پېښې دوه میاشتې اوښتې وې، خو کومو خلکو چې دلته نږدې کار کاوه له بریده ژوندي وتي وو؛ اوس به هم راتلل او دلته به ودرېدل. یو مصري موچي به د خپلې ورې غرفې مخې ته ګرځېده او سر به یې داسې خوځاوه لکه په دې هر څه یې چې باور نه کېده.

(زه دا نشم زغملای، زما مشتریان لاړل، زما وراره دلته مړ شو.) بیا یې په بریډو شنه اسمان ته ولیدل: (ما لکه چې ولیده چې راتوپ یې کړ ... سم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

مې په یاد نه دي ... ډېرو خلکو توپونه راوهل .... خپل لاسونه یې داسې خوځول لکه په هوا کې د الوتو هڅه چې کوي.)

د خلکو له خبرو معلومیده چې دا هر څه ناڅاپي شوي او خلک یې په وېره کې پرېښي دي. نیویارک کې داسې پېښه حېرانونکې وه. د بیان لپاره یې توري نه وو. سترګې یې سره ولګېدې، که څه هم غم اوخفګان ترې څڅېده، یو بل ته یې په خواخوږی وکتل، له درده ډکه موسکا یې وکړه، په دې ادا کې زرګونه خبرې پټې وې.

خو دلته نور څه هم وو، ددې ځای په اړه عمومي احساس، سمدستي یې په اړه پوه نه شوم، خو وروسته یو دم پوه شوم، دا د هغه ځای د رڼا په اړه و. ما چې د IPS لپاره د پېسو راټولو کمپاین کاوه نو خپلو بانکدارانو ملګرو سره به دلته دوړی ته راتلم. هغه وخت به Manhattan د رڼا چم ښکارېده، د رڼا لیدو لپاره به خلک د ترېوال سوداګریز مرکز بام ته ختل، خو اوس دا هر څه د کوڅې سطحې ته رانښکته شوي وو، او دا چم توتې توتې شوی و. زه اوس دې کنډرو سره نږدې په کوڅه کې ولاړ وم، ګرمي مې وشوه، فکر مې وکړ چې د پراخه اسمان او لمر به د خلکو زړه هم خلاص کړی وي. دې فکر سره راکې د جرم احساس پیدا شو.

زه د Trinity کلیسا خواته ورتاو او د وال سټریټ له څنګه تېر شوم. پخوانی نیویارک تیارو نغاړلی و. اسمان ښکارېده خو رڼا پکې نه وه، خلکو یو بل ته نه کتل او په ګړندیو قدمونو روان وو، په یوه ولاړ موټر پولیس تکیه وهلی ولاړ و.

زه په نږدې زینو کېناستم، ډېر غږونه راتلل خو څرګند پکې د یوه ستر پکي غږ و. داسې ښکاریده لکه د نیویارک د اسهامو د بازار له ودانۍ چې راځي. زه خلکو ته خیر شوم، د سرک دواړو خواوو ته په خپلو خولو کې ډوب روان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

وو، څوک کورونو ته روان او څوک له کاروباري سټرې د کلبونو او میخانو خواته تلل. یو نیم به پکې توکې هم کولې، خو زیاتره هغه یې غلي او خوړند سر روان وو، ما غوښتل چاسره سترګې ولګوم، خو بریالی نه شوم.

په کوڅه کې د یوه موټر هارن متوجه کړم. یو کس له کوم دفتره رامنډه کړه، کونجي یې د موټر خواته وخوځوله او هارن غلی شو. ښایسته شېبه همالته غلی ناست وم، بیا مې له جېبه یو زوړ کاغذ راویست، څېنې شمېرې او توزې پرې لیکلي وو.

بیا مې هغه ته سترګې ور واوښتې، څمکې ته یې کتل او کوڅه کې روان و، ږیره یې سپینه وه، کورتی او جمپر یې اغوستې وه، دا نو د وال سټریټ په ننني ورځ عجیب ښکارېدل، زه پوه شوم چې افغان دی.

ماته یې راولیدل او له لږ ځنډ وروسته په زینو راپورته شو. په ډېر ادب یې سر وخوځاوه او ماسره څو فوټه نږدې په زینه کېناست، ما چې هغه له ځان سره داسې ولید؛ نو فکر مې وکړ چې خبرې باید زه پیل کړم :

- نن ښه ورځ ده کنه؟

- ډېره ښه ورځ ده، زما همداسې ګرمي پکار ده.

تلفظ یې ډېر دروند و. ما وویل :

- ستا موخه دا ده چې د نړیوال سوداګریز مرکز له امله؟

د سر په خوځولو یې د هو اشاره وکړه، بیا مې وپوښت :

- ته افغان یې؟

ماته یې راولیدل، ویې ویل :

- دومره واضح ښکارم؟

- ما ډېر سفرونه کړي دي، اوس اوس له کشمېر او هېمالیا نه راغلی یم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه په خپله ږیره لاس راکش کړ:

- هو ! کشمیر جنګ

ما وویل :

- هو، هند، پاکستان او هند مسلم لیګ، ایا ته د مذهب په اړه فکر کوې؟

ماسره یې سترګې ولګولې، سترګې یې تور ته نږدې نصواري وې، پوهه او خفګان ترې څڅېده، د نیویارک سټاک مارکیټ (اسهامو بازار) خواته تاو شو، په خپله کړه ګوته یې هغې ودانۍ ته اشاره وکړه.

ما هغه سره په توافق وویل

- ښایي دا له مذهب سره نه؛ بلکې له اقتصاد سره اړیکه ولري.

ویې پوښتلم:

- ته پوځي یې؟

زه موسکی شوم، هغه کاغذ مې ورمخکې کړ، چې شمېرې پرې لیکلې وې، ورته مې وویل :

- نه ! زه اقتصادي مشاور وم، دا مې وسله وه.

هغه رانه کاغذ واخیست او ویې ویل :

- دا خو شمېرې دي.

ما ورته وویل:

- د دنیا ارقام دي.

لړلیک یې ولید، بیا یې په خندا کاغذ بېرته راکړ، زیاته یې کړه :

- زه یې نه شم لوستی.

ما ورته وویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا شمېرې ښيي چې هره ورځ څلورويشت زره کسان له لوږې مري.

ه خولې يې د شپېلي تيټ غږ پورته شو. بيا يې له څو شېبو فکره وروسته سوړ اسويلی وويست :

- کندهار ته نږدې مې د انارو کوچنی بڼ و. بيا روسان راغلل او مجاهدين د ونو شاته ويالو کې پټ شول. هغوی روسانو ته غلي وو، زما ونې او د اوبو ږېرمه يې وويشتل)

- بيا تا څه وکړل؟

کاغذ ته په اشاره يې وويل:

- په دې لست کې سوالګر هم شامل دي؟

زما په دې لست کې شامل نه وو، خو راياد مې شول، ومې ويل :

- نړۍ کې نږدې ۸ ميليونه دي.

- زه هم له هغو يو وم.

په نهيلۍ يې سر وخوځاوه، په خپلو فکرونو کې غرق ښکاريده، څو شېبې غلی ناست و، بيا يې وويل:

- زما سوال نه خوښيږي، خو زوی مې مرګِ حال و، بيا مې د کوکنارو کر پيل کړ.

ما ترې وپوښتل :

- موخه دې افيوم دي؟

خپلې اوږې يې پورته واچولې:

- زموږ ځای کې نه ونې شته نه اوبه، د خپلې کورنۍ د کفالت همدا يوه لار راپاتې وه.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما په خپل ستوني کې یوه غوټه غونډې احساس کړه، د زړه بدوالي او خفګان احساس ورسره مل و، ورته ومې ویل:

- موږ کوکنار کرل بد ګڼو، خو دا هېروو، چې ډېر شمتنو خلکو د همدې په قاچاق خپل ژوند جوړ کړی دی.)

هغه ماسره سترګې ولګولې او داسې فکر مې وکړ چې نظر یې زما اروا ته ښکته شو، سر یې وخوځاوه او ویې ویل :

- ته حتمن پوخې وې.

بیا په قلاره جګ شو او په ړنګو قدمونو له زینو ښکته شو، ما غوښتل چې ویې دروم، خو د څه ویلو قوت راکې نه و. زه هم په زور ودریدم او هماغه پسې روان شوم، له زینو لاندې یوې لوحې ته مې پام شو، د هغې ودانۍ انځور پرې رسم و چې زه یې مخې ته ناست وم، د لوحې په لومړیو جملو کې خلکو ته خبر ورکړل شوی چې دا لوحه د نیویارک Heritage Trails نصب کړې او پسې یې لیکلي وو:

(وینس کې د سېنټ مارک د بېل ټاول Bell tower په سر د هالي کرنانس مقبره ده. د۱۴، وال سټریټ د ډیزان بنسټیز فکر همدا دی. ۵۳۹ فوټه لوړې ودانۍ کې په ابتدایي ډول د بانکونو د ټولنې د مشرانو دفترونه وو، چې د هیواد یوه له شتمنو ادارو ده.)

ما د ماتې احساس کاوه او هغه ودانۍ ته مې لیدل، دې (۱۴، وال سټریټ) د تېرې پېړۍ له پای سمدستي وروسته هغه کار کاوه، چې ترې را وروسته نړیوال سوداګریز مرکز کاوه. همدا ځای مقام د قوت او اقتصادي لوړاوي سمبول و. لکه څنګه چې پورته وویل شول دلته د بانکداراونو دفترونه هم دې، همدا ودانۍ ما خپل شرکت ته د پانګې چمتو کولو لپاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

تاکلې وه، دا زما د میراث مهمه برخه وه، همدې ته هغه بوډا افغان لاس ونیو او په څرګند ډول یې وویل چې د یوه پوځي ترکه (میراث.)
په څرګنده خو دا یو تصادف و چې نن مې هغه افغان سره په خبرو ورځ تېره کړه. تصادف! دې کلیمې ته متعجب شوم. فکر مې کاوه چې څنګه د خپنو پېښو په اړه زموږ غبرګون مو ژوند په یوه خاص چوکاټ کې اچوي. ددې تصادف په اړه به زما غبرګون څه وي؟
پیاده روان وم، په ګڼه ګوڼه کې مې د خلکو سرونو ته ولیدل، د هغه افغان څه نښه نه وه. په بله ودانۍ یوه لویه مجسمه ولاړه وه چې، اسماني رنګه پلاستیک پرې خپور و، ورلاندې تخته باندې له لیک ښکاریدل چې دا په ۲۶ وال ستریټ پروټ نړیوال تالار و، دې تالار کې د ۱۷۸۹ ز کال په ۳۰ مه نېټه د امریکا لومړي ولسمشر جورج واشنګټن د ولسمشرۍ سوګند کړی و. په اصل کې دا هغه ځای و چې دې لومړي کس ته پکې انساني ژوند، خپلواکۍ او خوښیو لپاره د هلو ځلو د خوندیتوب مسئولیت ورسپارل شوی و او هغه ددې مسئولیت د پوره کولو سوګند کړی و. دا هر څه زیرو پواینټ او وال ستریټ ته څېرمه شوي وو. زه له دې بلاکه راتاو شوم او پاین ستریټ ته راغلم، دلته زه د CHASE د نړیوال مشر دفتر ته مخامخ ولاړ وم، دا هغه بانک دی چې David rock filler جوړ کړی و، بانک د تېلو له پیسو ډک و او ما غوندې خلکو خروب کړی و. دې بانک اقتصادي جنایتکار پالل، نړیوالې امپراتورۍ ته یې کار کاوه او له ډېرو خواوو د کارپوریتوکراسی سمبول ګرځېدلی و.
زما هغه وخت راياد شو چې په ۱۹۶۰ کال کې راک فیلر د نړیوال سوداګریز مرکز پلانګذاري پیل کړې وه. نږدې کلونو کې دا کامپلیکس قادوس Albatross (لوی اسمانی رنګه مارغه) ګڼل کېده، قادوس د خانغوښتنې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

مصبيت په معنا کارېده. شهرت يې داسې شوی و لکه له مالياتي اړخه چې دا د ناموزون او د عصري دور د نوري فايبر او ټکنالوجۍ بې ساري جوړښت و. دپاسه پرې دوه ځلي جوړ شوي وو، چې عامو خلکو به ډېوډ او نيسلن بلل.

زه په قلاره او نارامه روان وم، وېره غوندې مې په زړه کې وه، بې سدې مې احساسوله، فکر مې کاوه چې کومه پېښه کېږي، ددې حالت په لامل نه پوهېدم، خو ترې د خلاصون لپاره مې ګړندي ګامونه واخيستل. يو ځل بيا هغه دردوونکو کنډرونو او په ځمکه يوه لوی داغ ته ولاړ وم، په پېښه کې روغې پاتې شوې ودانۍ ته مې تکيه ووهله. فکر کې مې هغه خلک راوړل چې له ودانۍ يې د راوتلو هلې ځلې کولې، اور وژونکي مې تصور کړل چې اور يې مړ کاوه، د هغو نهيلو خلکو د تصور هڅه مې وکړه چې له لوړو پوړونو يې ځانونه راغورځول، خو بريالی نه شوم.

ددې په ځای مې ذهن کې اسامه بن لادن تصوير شو، هغه نغدې پېسې او د ميليونونو ډالرو وسله له يوه داسې کس نه اخيسته چې خپله د يوې مشورتي ادارې مشر و، خو دا اداره امريکا ته ژمنه وه. بيا مې په تصور کې ځان د يوه داسې کمپيوټر مخې ته ناست وليد چې سکرين يې مړ و.

ما له ګراونډ زيرو نه هاخوا ديخوا وکتل، د نيويارک سوځېدلې کوڅې مې وليدې، دا کوڅې بېرته معمول خواته رواني وې، زه حيران وم، چې په دې کوڅو کې روان خلک به ددې مسايلو په اړه څه فکر کوي؟ ددې ودانيو په اړه نه؛ د انارو د هغو باغونو په اړه او هغو چې هره ورځ له لوږې څلورويشت زره مري. نه پوهېږم چې دوی به ددې شيانو په اړه فکر هم کوي او که نه. کاشکې دوی يوه شېبه خپل کاروبارونه، په تېلو رواني موټرې او د سود پېسې پرېږدي او دې ته فکر وکړي، چې د خپلو راتلونکو اولادونو د نړۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

لپاره يې څه کړي؟ دوی افغانستان پېژني، هغه افغانستان نه چې له امريکايي پوځونو او ټانکونو ډک دی؛ هغه بوډا افغان افغانستان، خدای خبر هغه څلورويشت زره کسان به څه فکر کوي، چې هره ورځ له لوږې مري.

ما بيا ځان په تصور کې د هغه کمپيوټر مخې ته وليد، چې سکرين يې مړ و.

بيا مې خپل پام زيرو ګرونډ ته کړ، دې وخت کې يوازې په دې باوري شوم چې زما په هيواد يوه جذبه خپره ده او هغه هم د انتقام . . . . ددوی د پام وړ مرکز د افغانستان غوندې هيوادونه وو، دا وخت مې د هغو ټولو ځايونو په اړه فکر کاوه چې پکې زموږ شرکتونو، پوځ، پاليسيو او نړيوالې امپراتورۍ ته په کرکه کتل کيږي.

فکر مې کاوه چې پانامه، لاتينه امريکا، اندونيزيا، ايران، ګوېټې ماله او تر ډېره افريقا همدا کرکجن هيوادونه دي.

ما چې کوم ديوال ته تکيه وهلې وه، ځان مې ترې لېرې کړ او مخکې لاړم. يوه لنډ تور پوټکي سړي لاس کې ورځپاڼه خوځوله او په هسپانيايي ژبه يې څه ويل ، د موټرو او خلکو په ګڼه ګونه کې يې غږ راغی : (وينزويلا د انقلاب په لاره)

ما ورځپاڼه واخيسته او څو شېبې يې عنوان ته متوجه شوم، دا عنوان د جمهوريت له لارې د ټاکل شوي او امريکا ضد ولسمشر Hugo Chavez په اړه و. په لاتينه امريکا کې د امريکايي پاليسيو سره د کرکې يوه بله ښکاره څرګندونه.

او وينزويلا هم د کرکجنو هيوادونو په لېست کې ورزياته شوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

حوالې

د حورانیانو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره ولولئ:

"Savages" – Joe kane.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دري دېرشم فصل

وينز ويلا، صدام وژغورله

ما له خو کلونو وينزويلا په دقيقه توګه څارله. دا د يوه داسې هيواد ځانګړې بېلګه وه، چې د خاورو له دېرې يې پيل وکړ او د تېلو په برکت يې ښې پيسې وګټلې. دا د هغه تاوتريخوالي بېلګه هم وه چې د تېلو د شمتنۍ له امله راپورته شوی و. په دې کې د بېوزله او شتمن ترمنځ د توازن ختمبدل او د کارپوريتوکراسۍ استثمار هم شامل وو. دا يوه داسې سيمه وه، چې زما په څېر زوړ فکره اقتصادي جنايتکار ورته په نوې کاروباري بڼه هجوم ور ووړ.

ن چې ما ګراونډ زيرو کې څه پېښې ولوستې، ټولې د ۱۹۹۸ کال د ټاکنو مستقيمه اغېزه وه. دې ټاکنو کې محروم او بېوزله ولس هيوګوشاويز په لوی اکثريت خپل ولسمشر وټاکه. (۱) ده سمدستي انقلابي اقدامات وکړل، محکمې او نورې ادارې يې خپل لاس کې ونيوې او کانګرس يې منحل کړ. د امريکا شرميدلی استعمار يې وغنده، د نړيوالتوب پر ضد يې غږ پورته کړ او نوی هايډروکاربن قانون يې جوړ کړ، دا قانون هغه ته ورته وو، چې جيمي رولډوز د خپلې الوتکې نسکوريدو نه مخکې جوړ کړی و. ددې قانون له مخې بايد د تېلو بهرنيو شرکتونو د اوسنۍ دوه چنده بيه ورکړې وای. ددې ترڅنګ يې د تېلو دولتي شرکت Petroleos de Venezuela استقلاليت ختم کړ، لوړپوړي چارواکي يې ګوښه کړل او پر ځای يې خپل خلک وګومارل. (۲)

د وينزويلا تېل د نړۍ ټولو اقتصادونو ته د ساه حيثيت لري. ۲۰۰۲ ز کال کې دا د تېلو څلورم لوی توليدونکی هيواد و، په همدې کال دې هيواد

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

امریکا ته د تېلو صادرونکو هیوادونو په قطار کې دریم مقام درلود. (۳) د تېلو دولتي شرکت کې څلویښت زره کسان کار کوي او خرڅلاو یې په کال کې پنځوس بیلیونه ډالر دی. له تولیده د ترلاسه شوي عاید اتیا سلنه یې همدا جوړوي؛ نو له هره اړخه په ملي اقتصاد کې مهمه ونډه لري. (۴) ددې له خپلولو شاویز په نړیوال ستیج د یوه قوي رول لوبولو مسئولیت په غاړه واخیست.

د وینزویلا د خلکو له نظره یې دا حق و. دا د هغه کار تکمیل و چې د همدې کال په سر کې پیل شوی و. د ۱۹۲۲ د دسمبر په ۱۴مه نېټه په Maracaibo کې د تېلو یوه لویه فواره راخوټېدلې وه. تر درې ورځو سل زره بېرله (بېلره) خام تېل هوا ته الوتل او همدا هغه څمکنی پېښه وه چې د وینزویلا پانه یې واړوله. ۱۹۳۰ ز کال پورې دا د نړۍ په کچه تېلو تر ټولو لوی تولیدونکی هیواد شو او خلکو یې همدا تېل د خپلو ټولو رنځونو درمل وګڼل.

راتلونکو څلویښتو کلونو کې بېوزله وینزویلا د تېلو په برکت د لاتیني امریکا تر ټولو شتمن هیواد شو، ددې هیواد ټول ارقام جوړ شو، روغتیایي اسانتیاوې، زده کړې، کار او د نویو زیرېدلو ماشومانو خوندیتوب پلانونه جوړ او پلي شول.

۱۹۷۳ ز کال کې چې اوپیک په تېلو بندیز ولګاوه د تېلو بیې اسمان ته وختې او ورسره د وینزویلا ملي بودیجه څلور چنده لوړه شوه، اوس نو اقتصادي جنایتکار رامیدان ته شول. د نړیوالو بانکونو پورونه راپیل شول، له دې پورونو د بنسټیزو پروژو، صنعتي پلانونو او د لویې وچې تر ټولو لوړو ودانیو پیسې ورکول کېدې. په ۱۹۸۰ ز کال کې کاروبار دوله اقتصادي جنایتکار رامخته شول، دوی ته د خپل ازمېښت زرین فرصت په لاس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ورغی. له اقتصادي پلوه د وینزویلا منځنی طبقه ډېره پراخه شوې وه او د بېلابېلو توکو لپاره ښه بازار جوړ شوی و. ترځنګ یې د بېوزلو قشر هم و، چې په فابریکو کې یې مزدوري کړې وای.

بیا کیسه دا شوه، چې د تېلو بیې په یو دم راولوېدې او وینزویلا خپل پور نه شو پرې کولای. ۱۹۸۹ کال کې نړیوالو مالي ادارو سخت اقدامات وکړل او په وینزویلا یې فشار راوړ چې کارپوریټوکراسی سره له نورو لارو لا ډېره مرسته وشي. ولس توند غبرګون وښود او شخړې راپیل شوې، چې له دوو سوو زیات کسان پکې ووژل شول. دې سره د تېلو د بې سارې شتمنی خوب هم پوره نه شو. له ۱۹۷۹ تر ۲۰۰۳ کلونو کې د وینزویلا سړي سر عاید تر ۴۰ سلنې ډېر راټیټ شو. ۵

بېوزلی سره بې قراري (اضطراب) هم ډېره شوه او ولس کې واټونه پیدا شول. اوس منځنی طبقه او بېوزله خلک یو بل سره مخ شوي وو. داسې کار په ټولو هغو هیوادونو کې کیږي چې ملي عاید یې په یوه توکي پورې تړلی وي، د ولس په ترتیب کې بنسټیزه خوځښت راغی. د دوبېدونکي اقتصاد تر ټولو ډېر فشار د منځنی طبقې په خلکو راغی او ټیټې (بېوزلې) طبقې ته یې ورتېل وهل. نوي ترتیب شاویز ته میدان هوار کړی و، خو واشنګټن سره یې مخامخ هم کړ. واک ته په رسیدو سمدستي ولسمشر ځینې داسې کارونه وکړل چې د بوش اداري ته یې د ننګونو درجه لرله. د یوولسم سپتمبر له پېښې لږ مخکې واشنګټن په خپلولمړیتوبونو فکر کاوه، اقتصادي جنایتکار ناکام شوي وو، پوښتنه دا وه چې : آیا ګیدړان مېدان ته ښکته شي؟

بیا ۹/۱۱ هر څه ګډوډ کړل. د بوش او مشاورینو پام یې یوازې په افغانستان کې امریکایي فعالیتونو او پر عراق د برید لپاره د نړیوالو ملاتړ ته اوښتی و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پر دې سربېره د امریکاخپل اقتصاد هم له ځوړ سره مخ شوی و. د وینزویلا
ملاله له صحنې ووته، خو دومره ښکاریده چې بوش او شاویز به یوه ورځ د
یوه بل ګریوان ته لاسونه اچوي. که له عراق او منځني ختیځ هیوادونو نه د
تېلو په صادراتو کې څه خلل وي؛ نو امریکا تر ډېره له وینزویلا نه شي
بېغمه کېدای.

ګراوند زیرو کې ګرځېدو، بوډا افغان سره خبرو او د شاویز په اړه فکر هغه
پابلې ته ورسولم چې له کلونو مې خندوله. اوس دې ته اړ شوم چې په درې
لسیزو کې مې کوم کارونه کړي؛ د هغو پابلو ته خیر شم. ما پر خپل ترسره
کړي رول سترګې نه شوې پټولای او په دې هم پوهېدم چې د اقتصادي
جنایتکار په توګه به زما شخصیت زما په لور جیسیکا منفي اغېز وکړي. زه په
دې هم پوهېدم چې د خپلو ګناهونو کفاره مې نوره نه شوه ځنډولای. اوس
باید زه د خپل ژوند په اړه ځرګند اعتراف وکړم، په داسې توګه اعتراف چې د
کارپوریټوکراسۍ په اړه د خلکو سترګې خلاصې شی او خلک پوه شي چې
له نړۍ ولې له موږه کرکه کوي.

ما بیا لیکل پیل کړل خو خپله کیسه راته ډېره زړه ښکارېده، ددې لپاره چې
له نویو حالاتو سره مطابقت ورکړم، نو فکر مې وکړ چې افغانستان، عراق
او وینزویلا ته باید لاړ شم، چې روان حالات له نږدې وڅارم. دا درې واړه
هیوادونه په اوسنیو نړیوالو حالاتو کې د ستم ببلګې دي. دا درې واړه
هیوادونه له قوي سیاسي شخړو وروسته د داسې خلکو لاس ته ورغلل چې
د ګولو ډېر کارونه یې ونه کړل. ظالم او جابر طالبان، تریخ اروایي ناروغ
صدام او ناپوه شاویز او پر دې سربېره کارپوریټوکراسۍ نه غوښتل چې
ددې هیواد اساسي ستونزې حل کړ. حل خو په خپل ځای دوی د هغوی
رهبرانو ربښې په داخل کې وربیلې چې زموږ د تېلو د پالیسۍ مخالفت یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ګاوه. په زیاتره مسئلو کې د وینزویلا کیسه په زړه پورې وه. په افغانستان کې پوځي مداخله شوې وه او عراق کې کېدونکې وه. په دې حالاتو کې د شاویز پر وړاندې د امریکا غبرګون د یوې معما شکل خپل کړی و. زما موضوع دا نه وه چې شاویز ښه رهبر دی، موضوع دا وه چې امریکا به د داسې یوه رهبر پر وړاندې څه غبرګون ښيي چې زموږ د کارپوریتوکراسی په لاره کې خنډونه پیدا کوی.

ما لا د سفر تیاری نه و کړی چې حالاتو پکې خنډ راوړ. زه په ۲۰۰۲ کال کې د خپلو خیریه کارونو لپاره څو ځله سویلي امریکا ته لاړم. یوه وینزویلایي کورنۍ چې کاروبار يې د شاویز په وخت کې له سقوط سره مخ وه؛ ماسره د امازون په سفر کې مله وه، موږ ښه ملګري شو او د هغو کیسه مې هم واوریده. په لاتینه امریکا کې مې هغو خلکو سره هم ولیدل چې شاویز يې ژغورونکی باله. په کاراکاس (د وینزویلا پلازمینه) کې روانې چارو، دهغې نړۍ ښکارندویي کوله، چې موږ اقتصادي جنایتکارو پنځولې وه.

د ۲۰۰۲ کال تر دسمبر پورې د وینزویلا او عراق حالت بحراني شوي وو. دواړه هیوادونه د یو بل د چارو ردولو خواته روان وو. په عراق کې ټولې حیلې، چالاکۍ، اقتصادي جنایتکار او ګیدړان ټول د عراق په لاره کولو کې ناکام شوي وو او موږ ذهناً دې ته چمتو وو، چې وروستۍ لاره يې پوځي برید دی.

بل خوا په وینزویلا کې د بوش اداري غوښتل چې په ایران کې د کرمټ روز ویلیت کړنې تکرار کړي، د نیویارک ټایمز راپور و چې :

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(نن د وينزويلا سلګونه زره اوسېدونکي واټونو ته راوتي وو او د هغه اعتصاب ملاتړ يې کاوه، چې پرې اتلسمه ورځ واوښتله. ددوی يوازينی موخه دا وه چې ولسمشر هوګيو شاويز له دندې ليرې کړي.
په دغه اعتصاب کې د تېلو د صنعت نږدې شل زره کارکوونکي برخه لري او ددې ولس د بربادۍ خطر يې ځان سره مخکې کړی دی. په نړۍ کې د تېلو صادروونکی دا پنځم لوی هيواد به تر راتلونکي مياشت له دې ستونزو سره مخ وي.
ياد اعتصاب رواني چارې په ټپه درولي خو ولسمشر شاويز هڅه کوي په هغو کارکوونکو د تېلو د دولتي شرکت چارې پرمخ يوسي چې اوسني اعتصاب کې برخه نه لري. اعتصاب کوونکي چې سوداګره طبقه او د مزدوراتو مشران پکې شامل دي ادعا کوي چې په دې کار سره به يې د تېلو شرکت ټکان وخوري او ورسره به د شاويز د واک تخته هم په بله واوړي.)
(٦)

دا عيناً هماغه وسله ده چې CIA يې پرمټ د مصدق حکومت رنګ کړ او واک يې شاه ته وسپاره. حالت او پېښې ښځی سره ورته وې، فکر کېده چې پنځوس کاله پخوانی تاريخ بيا تکرارېږي خو پنځه لسيزې وروسته اوس هم د متحرک قوت يوازې تېل وو.
د شاويز ملاتړي له مخالفينو سره په ټکر کې وو. د معلوماتو له مخې ډېر خلک مړه او سلګونه ټپيان شول.° په سبا مې يو پخواني ملګري سره خبرې وشوې، هغه په ګېدړانو کې و. زما په خبر ده هم دولت ته کار نه و کړی خو په ډېرو هيوادونو کې يې استخباراتي عمليات رهبري کړي وو. هغه ويل يوه شخصي قراردادي راته زنګ وهلی و چې کولای شي په کاراکاس کې لاريونونو ته هوا ورکړي او خيني لوړ پوړي پوځي چارواکي هم ورسره د پيسو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په مقابل کې یو ځای کیږي، له دې پوځیانو یې زیاتره په امریکا کې روزل شوي وو. ده خو دا وړاندیز کړی و؛ البته چا چې منلی و هغه پوهېده چې ځنګه ګټه ترې واخلي. (۷)

د تېلو د شرکتونو لوړپوړي او وال سټریټ له دې خطر سره مخ و چې د تېلو بیې به لوړې شي. زه پوهېدم د منځني ختیځ حالت ته په کتو د بوش اداري خپل ټول قوت یوازې په دې مصرفاوه چې د شاویز حکومت څنګه ړنګ کړي . بیا خبر راغی چې دوی بریالی شول او شاویز له واکه لیرې شو. د حالاتو په بدلیدو نیویارک ټایمز یوه تاریخي تبصره وړاندې کړه او هغه کس په ګوته شو چې په وینزویلا کې یې د کرمټ روز ویلټ په څېر رول ولوباوه:

(امریکا د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره په سره جګړه او ورپسې موده کې د خپل دکتاتورانه حکومت ملاتړ کاوه.

ګوینټې مالا کې د ۱۹۵۴ کال کې جمهوري نظام رامنځته شو، خو CIA ړنګ کړ. تر څلورو لسیزو یې دکینې لاسو باغیانو پر وړاندې له بنې لاسو حکومتونو ملاتړ وکړ. په دې لړ کې تخمیناً دوه سوه زره کسان ووژل شول. چیلي کې چې د CIA په مرسته حکومتي بدلون راغی، په پایله کې یې Augusto Pinochet واک ته ورسید، دی له ۱۹۷۳ تر ۱۹۹۰ پورې واکمن پاتې شو. پیرو کې یو کمزوری حکومت اوس هم د CIA هغه کړنې افشاء کوي، چې تر یوې لسیزې یې د ولسمشر Alberto K. Fujemori او د هغه د بدنام جاسوس Vladimiro L.Montensinos ملاتړ کاوه. دا دواړه اوس له دندو ګوښه شوي دي.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د نشه يي توکو قاچاقبر او سوداګر مينول ای نوريګا د حکومت ړنګولو لپاره امريکا پر پانامه برید وکړ. دا نباغلی شل کاله د CIA جاسوس پاتې شوی و.

پردې سربېره ۱۹۸۰ لسيزه کې د نکاګوارا د کيڼ لاسو مخالفينو ملاتړ او په ايران د وسلې پلورلو په تور هم د ريګن د ادارې ځينې لوړپوړي چارواکي مجرمين ګڼل شوي دي. د ځينو خلکو څېړنې چې وشوې اوتو جی ريش Otto J. Reich هم پکې و.

دا سړی د لاتينې امريکا په شخړو کې ډېر مجرب ګڼل کېده او شخصاً پرې کوم تور نه و پورې شوی. وروسته بيا دا په وينزويلا کې د امريکا سفير شو او اوس د ولسمشر له لورې د امريکا په نړيوالو چارو کې استازی ټاکل شوی دی. د شاويز ځوړ د همده د هڅو پايله وه.) (۸)

ريش او د بوش ادارې که د شاويز د حکومت ړنګيدو خوښي نمانځله؛ نو نيمايي کې به يې پرېښې وي. حالت واوښتل او په ۷۲ ساعتونو کې دننه شاويز بېرته واک ترلاسه کړ. د ايران د مصدق برعکس شاويز وکولای شول چې د پوځ ملاتړ ترلاسه کړي، که څه هڅه شوې وه چې لوړپوړي چارواکي تول دده مخالف شي.

پر دې سربېره يې د تېلو دولتي شرکت هم قوي ملاتړ کاوه. د پيټروليوس دي وينزويلاس شرکت زرګونه خلکو په اعتصاب کوونکو کاريګرو سترګې پټې کړې او په خپل موقف خپلواک پاتې شول.

د شورش ګرد چې کېناست، شاويز د تېلو شرکت په کارکوونکو خپله ولکه سخته کړه، پوځ يې له هغو چارواکو پاک کړ چې دی يې تېرايستلی و. خپل لوی مخالفين يې هيواد پرېښودو ته اړ کړل. د مخالف ګوند دوه سرلاري رهبران يې په شل شل کاله بند محکوم کړل، دا هغه خلک وو چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

واشنګټن سره یې جوړجاړی کړی و او خلک یې اعتصابونو ته تحریکول.
(۹)ددې پېښو ترتیب د بوش ادارې ته له یوه آفته کم نه و، لاس انجلس ټایمز راپور ورکړ چې: (د بوش ادارې لوړپوړو چارواکو د دوشنبې په ورځ ومنله چې غوښتل یې د وینزویلا ولسمشر شاویز له دندې ګوښه کړي او ددې لپاره یې د هغه ځای له پوځي چارواکو او ملکي مشرانو سره په میاشتو میاشتو خبرې اترې کړي دي. دا چې ادارې ددې ناکام بغاوت چارې څنګه سمبال کړي دي په اړه به یې پوښتنې ګرویږنې وشي.) (۱۰)
دا خبره خو څرګنده ده، چې وینزویلا کې اقتصادي جنایتکار او ګیدړان.. دواړه ناکام شول. د ۱۹۵۳ له ایرانه د ۲۰۰۳ وینزویلا بېخي جلا وه. زه نه پوهېدم چې دا به ګني د یوه نوي توپان پیلامه وي یا به حالات د اټکل خلاف بې قابو کیږی، وبه ګورو چې د واشنګټن راتلونکی اقدام به څه وي. زه پوهېږم چې د یوه ستر بحران موقتی مخنیوی شوی دی. شاویز د صدام حسین له امله وژغورل شو. د بوش ادارې نه شول کولای چې افغانستان، عراق او وینزویلا یوه وخت کې په نښه کړي. نه یې دومره پوځي قوت درلود او نه سیاسي ملاتړ. زه پوهېدم چې دا حالات بدلیږي او ولسمشر شاویز به نږدې وخت کې له سختو مخالفتونو سره مخ شي. د وینزویلا قضیه یوه یادونه ده چې پنځوسو کلونو کې بې پایلې ده او هېڅ بدلون پکې نه دی راغلی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

څلوردېرشم فصل

یو څل بیا اکوادور

وینزویلا د خپل نوعیت له مخې یوه ځانګړې معامله (Case) وه. زه یې حالاتو ته ځیر وم. زه دې حېران کړم چې په یوخ بل هیواد کې د یادونې وړ جګړې چمتوالی کېده. دې جګړه کې ستونزه د ډېرو ډالرو یا مرګونو نه وه، اصلي خبره یې له دې مادي موخو ډېره مخکې وه، چې دا د زیاتره په امپراتوریو ځانګړنه وي. ددې جګړې کربښې له بانکدارانو، کاروباري مشرانو او سیاستوالو اوښتې وې او آن د عصري تمدن تر ریښو رسېدې. دا کربښې په داسې هیواد کې جوړېدې چې ما پېژانده او مینه مې ورسره لرله، دا هیواد اکوادور نومېده او ما پکې په لومړي ځل رضاکاري کړې وه.

زه چې په ۱۹٦۸ کال کې ورغلم په دې هیواد کې د کارپوریټوکراسۍ تازه تمرینونه کېدل. زما هم دوره او زموږ هم مرتبه نویو کاروباري ملګرو تیارۍ کړې و، چې دا هیواد به دیوالیه (ملفس) کوو. موږ میلیاردونه ډالر ورکړل چې زموږ ساختماني او انجینري شرکتونو ته لوی لوی قراردادونه ورکړي او لویو کورنیو ته د پېسو ګټلو فرصتونه په لاس ورشي.

درې لیسزو کې خبره ترې دې راغله چې د رسمي ارقامو له مخې د بېوزلۍ کچه له ۵۰ - ۷۰ او د بې روزګارۍ ښځي تېټه کچه ۱۵ ته پورته شوه. پور له ۲۴۰ میلیونه ډالرو ۱٦ بیلیونو ته وخاته او بېوزله خلکو ته ځانګړې شوې ملي وسیلې له ۲۰ نه ٦ سلنې ته راغلې. اوس حالت دا دی چې د رسمي اسنادو له مخې سختو بېوزلو خلکو سره نه یوازې دا چې مرسته نه کېږي؛ بلکې هر کال باید د پور پرې کولو لپاره خپله نیمه بودیجه ځانګړې کړي. ۱

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د اکوادور له حالته څرګندیږي چې دا حالت د کومې دسیسې پابله نه ده. دا د هغه کړنو پابله ده چې د جمهوري غوښتونکو او دیموکراتانو دوارو حکومتونو له خو پرلپسې رواني وې. په دې کې سترو نړیوالو بانکونو، شرکتونو او مرستندویه ادارو ګډون درلود. دې شک نشته چې دا ټول د امریکا تر مشرۍ لاندې کېدل، خو یوازې موږ هم نه وو.

درې لسیزو کې اکوادور دې حالت ته رسولو لپاره زرګونو ښځو او نارینه و په ګډه کار کړی دی. په دې ستر لښکر کې ځینې خلک ما غوندې هم وو، چې پوهېدل څه کوي خو اکثرو دا کار ددې لپاره کاوه چې په ښوونیزو ادارو کې همدا وزرده شوي وو. دوی زما په څېر د لوړو پوړو چارواکو په پلونو روان وو، موږ (لوړپوړو چارواکو) ددې نظام په رامنځته کولو کې خپله حریصانه ونده ښودلې وه. تر څنګ یې د مکافاتو او مجازاتو لوبه وه چې نظام ته یې دوام ورکاوه. د کار شریکانو به خپل کار د ښېګڼې په نیت کاوه. دوی په دې خوش باوره وو، چې له یوه وروسته پاتې ولس سره ګټې مرسته کوي.

دا لوبغاړي که څه هم بې خبره د مکر، ټګۍ او ځان تېرایستې ښکار شوي وو خو په هېڅ ډول جرمي دسیسه کې ښکېل نه وو. دا خلک په اصل کې د هغه نظام حاصل وو، چې استعماریت یې په نوي، پېچلي او ګټور ډول پر مخ وړ او نړۍ ترې خبره هم نه وه. هېڅوک اړ نه وو، چې ښځو او نارینه و پسې وګرځي، رشوت ورکړي یا یې وګواښي او د ځان ملګري یې کړي. شرکتونو، دولتي ادارو او بانکونو له مخکې داسې خلک ګومارلي وو. دوی ته رشوت د معاشونو، ډالیو، ترفیع، تقاعد او بیمې په شکل ورکول کېده. ټولنیز سمون لپاره د مېرمنو او ماشومانو ګواښ هم دوی ته پوښتنې راولاړولې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا نظام په ډېر شان او شوکت د بریا لوړو پوړیو ته روان و. نوې پېړۍ ته تر رانوتلو اکوادور ښه سم تړل شوی و. دوی اکوادور داسې نیولی و لکه د خښتو بټیو کې چې مزدورانو ته په مړې ژوندي کې پېښکې پېسې ورکوي او خشتمالان (مزدوران) بیا دوی سره ګانه وي.[۲] او یا دا چې د وړوکي کاروبار لپاره پور پېسې ورکوي. موږ خپل ښکار ته د مستۍ کولو ښه فرصت ورکړ، وخت ډېر و، صبر مو وکړ، ښه پوهېدو چې د اکوادور ځنګلونو لاندې د تېلو سیند بهېږي، خو بس د سم وخت په تمه وو.

هغه را ورسید، د ۲۰۰۳ ز کال په لومړیو کې زه په خپل موټر کې کېتو نه شیل خواته روان وم، شیل ښار په ځنګل کې اباد شوی او لار یې پیچومې لري. وینزویلا کې شاویز بیا واک ترلاسه کړی و. جورج ډبیلو بوش یې ننګولی و او بریا یې ترلاسه کړې وه. هلته صدام حسین هم میدان جوړ کړی و او جګړې ته په تمه و. په دریېیو لسیزو کې د تېلو عرضه بېخي راټیټه شوې وه او زموږ له اصلي زېرمې د لاډېرو تېلو ترلاسه کولو تمه پرې شوې وه. دې سره هغه پیسې هم ورځ تر بلې کمېدې چې کارپوریټوکراسی ورکولې، اوس نو د خپلو شېبه رارسېدلې وه، دا نو هغه وخت و چې د پور په بدل کې باید له اکوادوره دبدن غړی پرې شوی وی.

زه چې د په پستازه سیند له جوړ شوي بنده تېرېدم نو احساس مې کړه چې دلته شتمن او بېوزله استثمار شوي او د استثمارګرو تر منځ زوایتي جنګ نښته. په حقیقت کې د جګړې همدا کرښې ښیي چې موږ د تمدن له پلوه

---

[۲] د خښتو د بټیو ببلګه ما ورکړې ده، زموږ په ټولنه کې داسې ببلګې ډېرې دي چې کارمندان خان سره پکې اجاره کېږي، خو دا بېلګه راته ډېره مناسبه ښکاره شوه. اصل متن کې وایي : دوی اکوادور داسې نیولی و، لکه د مافیا یو مشر چې خپل ماتحت ته د هغه د لور په واده کې پیسې ورکوي او هغه د خپل لاس لاندې ساتي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

په کوم ځای کې ولاړ یو؟ موږ هغه لویدلي خلک وو، چې د خپلو تېلو لپاره مو دا ګلالی هیواد ځنګلو وهلو ته اړیسته او پاېله یې چې د کومې بربادۍ لامل شوه، هېڅ اټکل یې نه کیږي.

که په پور پرې کولو ټینګار وکړو نو اغېزې به یې دومره ډېرې وي چې په ذهن کې نه راځي. مسئله یوازې د ځایي انساني تمدن، ژوند، څارویو، خزندو، ماهیانو او هغو ونو بوټو نه وه، چې درمل ترې جوړېده. دا کیسه یوازې دومره نه وه چې دا ځنګلونه زموږ زهرجن صنعتي ګازات جذب کوي او زموږ د ژوند لپاره هوا ته اکسیجن ګاز ورکوي، بیا هغه فضا کې خپرېږي او هغو وریځو ته اوبه پمپ کوي چې تولې نړۍ ته په کافي اندازه د څښاک اوبه برابروي. که چاپېریال پوهان سل ځله ووايي چې دا کارونه د هغه ځای د خوندیتوب لپاره کیږي، خو د محاربې خطونه له دې دلایلو تېرېدل او نبغ په نبغه زموږ اروا ته ښکته کېدل.

که موږ همدا ستراتیژي وساتله نو د یوه استعماري نظام خواته به روان یو چې له رومي امپراتورۍ مخکې راپیل شوې وه. موږ غلامي غندو خو زموږ نړیوالې امپراتورۍ له رومیانو ډېر خلک غلامان کړل او یوازې د رومیانو خبره هم نه ده، په دې ډګر کې موږ ټول یرغلګر نظامونه شاته پرېښودل. زه په دې نه پوهېدم چې په اکوادور کې که موږ داسې موقته پالیسي اختیاروو نو خپل تولنیز وجدان به څنګه ژوندی ساتو؟

د موټر له کړکۍ مې بېرون وکتل چې د ANDES پخوانۍ شنې لوړې ژورې اوس خړې شوې وې. دې راکې یو عجیب احساس راوپاراوه، دا سوچه زما نظر و چې اکوادور دې مهمه جنګي کرښه شي. حقیقت خو دا دی ما چې په هر هیواد کې کار کړی او زېرمې یې نړیوالې امپراتورۍ ته مهمې وې هغه موږ لپاره د جګړې مهمې کرښې وې. دا هیواد ماته په زړه پورې و، د

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

۱۹۱۰ کال تر وروستيو پورې تر هغه وخته په زړه پورې و چې زه پاک او سپېڅلی وم. داسې فکر وکړئ چې دا زما له درونه يو غبرږ و يا مې شخصي تعصب و.

که څه هم د اکوادور طبيعي ځنګلونه، ځايي خلک او ټول ژوندي موجودات ډېر ارزښتمن دي، خو د ايران له دښتو او د يامين له ميراثه خو ډېر مهم نه دي. له دې اړخه که يې وګورو نو د جاوا غرونه، له فيليپين ساحله هاخوا بحر، د اسيا هوار ميدانونه، د افريقا دښتې، د شمالي امريکا ځنګلونه، د شمالي قطب واورين غرونه او داسې نور زرګونه شيان چې د کارپوريټوکراسۍ مخې ته خنډونه دي؛ په خپل ځای لوړ قيمت او ارزښت لري. دې ټولو ځايونو کې د جګړې کرښې شته، ټول راته چيغې وهي او موږ د خپل فردي او ټولنيز وجدان وژلو ته اړباسي.

ماته خينې ارقام راياد شول چې لنډيز يې دا دی : په نړۍ کې ٥ سلنه هيوادونه شتمن او ۹٥ يې بيوزله دي، ددوی تر منځ د عايد تناسب په (۱۹٦۰) کال کې ۳۰ او ۱ وو چې په ۱۹۹٥ کال کې ۷۴ ته ورسېد. نړيوال بانک، USAID، نړيوالې مالي ادارې، بانکونه ،شرکتونه او مرستندويه ادارو په اړه ټول حکومتونه پرلپسې تينګار کوي چې کارونه يې ښه روان دي او پرمختګ کوي.

اوس زه اکوادور کې وم، د نورو هيوادونو غوندې دلته هم د جګړې کرښې وې، خو دا هيواد ماته په زړه پورې و. اوس ۲۰۰۳ کال دی، پنځه دېرش کاله مخکې زه دلته، د داسې امريکايي ادارې د کارمند په توګه راغلی وم چې نوم سره يې PEACE (سوله) کليمه هم تړلې وه. زه اوس هغه کوم د هغې جګړې اور مې کړم چې د بلولو لپاره يې ما درې لسيزې کار کړی دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

داسې ښکاريده چې د افغانستان، عراق او وينزويلا پېښې به موږ له يو بل ټکره وژغوري خو اکوادور کې حالت بېخي بدل و. دلته به امريکايي پوځونه نه ښکيلېږي، دې جګره کې به يوې خواته څو زره ځايي اوسېدونکي وي چې په نېزو، تورو او يو دزي ټوپک به سنبال وي او پر وړاندې به يې د اکوادور عصري پوځ، ځانګړي ځواکونه،امريکايي مشاورين او د تېلو شرکتونو کې ګېډراتو روزلي کرايي مزدوران وي. دا به داسې جګړه وي چې ۱۹۹۵ کې د پيرو او اکوادور د شخړې غوندې به امريکايان ترې خبر هم نه شي. نوي پېښو ددې جګړې امکان لاپسې ډېر کړ.

د ۲۰۰۲ دسمبر مياشت کې د تېلو يوه شرکت پر يوې ځايي ډلې تور پورې کړ،چې ګواکې ددوی کارکوونک يې يرغمل کړي دي. دوی دا اوازه خپره کړه چې دا جنګي ډله له يوه ترهګر سازمان سره اړيکه لري او ښايي هغه القاعده وي. دا پېښنه په لوی لاس پېچلې شوه، ځکه دې شرکت ته لا حکومت د تېلو د استخراج جواز نه و ورکړی. بل خوا شرکت ويل دې کارکوونکو د ځمکې لومړنيو څېړنو اجازه لرله او دا کار په استخراج کې نه راځي. څو ورځې وروسته ځايي ډلو دا دعوه په کلکه وغندله او خپل دريځ يې روښانه کړ.

ځايي خلکو ټينګار کاوه چې د شرکت کارکوونکو بې ځايه مداخله کړې وه، جنګياليو سره وسلې نه وې، نه يې کارکوونکو سره څه تاوتريخوالی کړی او نه يې ګواښلي دي. دوی يې خپل کلي ته په خوندي ډول ځان سره بوولي دي او هلته يې د خواړو تر څنګ ځايي بيير (چيچا) هم ورکړي دي. ددوې مېلمنو چې دوډۍ خوړله؛ نو قبايلو يې لارښوودان (Guides) تللو ته راضي کړل. قبايلو دا دعوه کوله چې کارکوونک يې په زوره نه دي ايسار کړي او منوی په خپله خوښه هر ځای ته تلای شول. (۳)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د سفر په وخت راياد شول چې د IPS له خرځلاو وروسته مې دې خلکو ته د ځنګلونو د ساتنې وړانديز وکړ. دوی راته وويل: (نړۍ هماغسې ده ځنګه يې چې ته خوب وينې)، بيا يې وويل چې شمالي خلکو د لويو صنعتونو، بې شمېره موټرو او لوړو ودانيو خوب ليدلی، اوس معلومه شوه چې دا خوب ډېر وېروونکی دی او موږ ټول به تباه کړي.

دوی مشوره راکړه: (چې خپل خوبونه بدل کړئ)، يوه لسيزه وروسته هم حالت هماغسې و. د ډېرو خلکو او خيريه ادارو (زما په شمول) هڅو سره دا خوب بيا هم ډېر وحشتناک ښکارېده.

زما موټر چې د شيل په يوه ځنګلي کلي کې ودريد، زه سمدستي يوې ناستې ته ولېږدول شوم. په دې ناسته کې د کچوا، شوار، آچوار، شويار او زپارو قبايلو ښځې او سړي راټول شوي وو. ځينو يې دلته د راتګ لپاره په ځنګلونو کې څو شپې ورځې مزلونه کړي وو او ځينې نور بيا د خيريه ادارو کښتيو رانقل کړي وو. ځينو يې خپل قبايلي کالي (ګردې لمنې او د ښکو خولۍ) اغوستي وو او څېرې يې رنګ کړې وې. زياتره يې بيا د ښار د خلکو لباس (پطلون، يخن قاق ....) کې راغلي وو.

د خبرو پيل هغې دلې وکړ چې د يرغمل تور پرې پورې شوی و. دوی وويل د شرکت کارکوونکي چې بېرته خپل ځای ته ورسېدل څو شپې وروسته د اکوادور تر سلو ډېر پوځيان سيمې ته راغلل. دوی وويل په باراني ځنګلونو کې د يوه ځانګړي فصل پيل و چې (چونتا Chonta) ونو پکې بار نيوه. دلته دا ونه مقدسه ګڼل کېږي. دا په کال کې يو ځل مېوه کوي او دا په دې معنا ده چې ددې سيمې مارغان (چې نايابه نسلونه هم پکې وو) به هګۍ اچوي او بچې به وباسي. دا مارغان چې دې ونو ته راشي، بيا اسانه ښکار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کېږي، خنګه چې د سیمې خلکو دې فصل (موسم) کې په ښکار بندیز لګولی دی.

یوې مېرمنې وویل : (د پوځیانو راتګ ته تردې بد وخت نه و.) دوی موږ ته وویل چې پوځیانو یې خنګه ددې فصل او عقایدو سپکاوی وکړ، له خبرې یې غوسه او خفګان څڅېده. (د ښکار او خوراک لپاره یې مارغان وویشتل، فصلونه یې تر پښنو لاندې کړل. سیندونو کې یې د کبانو رانیولو لپاره بمونه واچول او د خلکو څاروي یې حلال کړ. دخایي ښکاریانو وسلې یې ترې واخیستې. خای خای یې د حاجت رفع کولو لپاره کندې وکیندلې. د سیند اوبه یې چټلې کړې. ښځې یې بې ستره کړې او دېرانونه یې جوړ کړل. په دې دېرانونو ماشي او مچان بنګېدل.)

یو کس وویل: (موږ دوه لارې لرلې، چې یا چوپ پاتې شوی وی او د خپل زیان د راډکولو هڅې مو کړی وی او یا مو وسلې ته لاس کړی وی. موږ وویل چې د جنګ وخت لا نه دی راغلی.) دوی وویل د پوځیانو د ظلم په مقابل کې یې خلکو ته وویل چې په نیمه ګېډه خوراک خواړه وخوري. خپل صبر یې له خوارو پرهېز ونوماوه، خو زه فکر کوم (خیریه لوږه) یې ښه نوم دی. خلکو ته سم خواړه ونه رسېدل او ناروغه شول.

د رشوت او ګواښونو خبره یې هم وکړه، ویې ویل : (زما زوی ته انګلیسي، هسپانایي او نورې سیمه ایزې ژبې ورځي. یوه سیاحتي شرکت سره یې د لارښود او ژباړن په توګه کار کاوه. ښه معاش یې اخیسته او د تېلو شرکت ورته لس چنده معاش وړاندیز کړی و. ده هغه وړاندیز ومانه، اوس چې دده پخوانی شرکت زموږ مرستې ته راځي دا یې په ابکنو کې غندي) بیا داسې ولړزېد لکه سپي چې خان له اوبه څندي چیغه یې کړه (اه زما زوی، هغه اوس له موږه نه دی.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

د شامان قبیلې مشر د ښکو خولۍ په سر کړې وه ویې ویل : (ته هغه درې کسه پېژنې؟ چې د تېلو شرکت لپاره موږ خپل استازي ټاکلي وو او په هوايي پېښنه کې مړه شول. زه تفصیل ته نه ځم، خلک وايي دا کار د تېلو شرکتونو کړی و، خو دا درته وایم چې ددوی مرګ زموږ په ډله کې درز وکړ او د تېلو شرکت ددې درز ډکولو لپاره خلک رانویتسل.)

یو بل کس یو تړون راوویست او ویې لوست، د تړون له مخې یوه پراخه ټوټه ځمکه د درې سوه زره امریکایي ډالرو په بیه د لرګیو شرکت ته ورکړل شوې وه. د درې قبایلو مشرانو لاسلیک هم پرې شوی و.

هغه وویل : (دا لاسلیکونه جعلي دي، په دې کې یو زما ورور دی، دا زموږ د مشرانو شخصیت وژنه ده.)

دې جبر ته ګوره، دا هر څه د اکوادور په هغه سیمه کې روان وو چې د تېلو کوهیانو کېندلو اجازه هم لا نه وه ورکړل شوې، خو هغوی له ځانه په خپنو ځایونو کې کیندنې پیل کړې وې او پابله یې ځایي خلکو هم لیدلې وه. دوی د خپلو ګاونډیانو د بربادۍ عیني شاهدان وو. ددوی خبرې مې چې واورېدې فکر مې وکړ که دا هر څه په CNN او Evening news چېنلونو وښودل شي؛ نو زما د هیوادوالو غبرګون به څه وي.

دا ټولنې ژوندۍ او خبرې یې اندېښمنې وې. په رسمي غونډو سربېره نور ډېر شیان هم وشول. ډېر څه وشول ... د دوډۍ پر وخت او نورو شخصي ناستو کې ډېرو خلکو پوښتلم چې امریکا ولې عراق ته ګواښونه کوي؟ د اکوادور د ورځپاڼو په لومړیو مخونو کې دغه موضوعات راتلل او له هغه ځای دې ځنګل ته راسبدلي وو. د امریکا چاپي رسنیو بیا بل څه ویل. دلته ورځپاڼو د بوش د شخصي نفتي شرکتونو د ځای پر ځای کېدو حوالې ورکړې وې. تر

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ځنګ یې د ولسمشر د معاون په کړنو هم تبصرې شوې وې. چیني هغه وخت د هالي برټن اجرایه رئیس و.

دا لیکنې هغو خلکو ته لوستل شوې وې چې ښوونځي ته نه وو تللي. هر څه ته په زړه پورې وه. زه دلته باراني ځنګلونو د هغو خلکو په منځ کې ناست وم چې شمالي امریکایانو به جاهل او وحشیان بلل، خو دې خلکو داسې پوښتنې کولې چې د امپراتورۍ په زړه مخامخ ګوزارونه وو.

د شیل له مرکزه په راوتلو وم، د لوی بند (ډېم) له ځنګه تېر او د وینډیز لوړو ته په ننوتلو وم چې فکر مې وکړ، د اکوادور په دې سفر کې مې چې څه ولیدل او واورېدل او څه چې په امریکا کې اورم؛ دواړو کې ډېر توپیر دی. داسې ښکاریده لکه موږ چې له امازون قبایلو ډېر څه زده کولای شو. زموږ له ټول تعلیم او چاپي او تصویري رسنیو سره بیا هم په دې خبرو نه پوهېدو چې دوی خدای خبره له کوم ځای خبر شوي وو. دې خبرو سره زما فکر د لاتینې امریکا یو وړاندوینې ته واوښت، داسې وړاندوینې ما په ډېرو هیوادونو کې اورېدلي دي. له ځینو کلتورونو چې زه خبر یم داسې وړاندوینه کیږي چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې موږ یوه بې ساري انتقالي پړاو ته ننوتو. د همالیا په خانقاګانو، د اندونیزیا په مراسمو، د شمالي امریکا په مرکزي سیمو، د امازون له ژورو د انډیز تر لوړواو د منځنۍ امریکا لرغونو ښارونو پورې هر ځای کې همدا ویل کېدل چې په انساني تاریخ کې دا زموږ یو ځانګړی مقام دی او موږ هر یو ددې لپاره پیدا شوي یو چې دا ماموریت پای ته ورسوو.

ددې وړاندوینو په وینا او عمل کې یو څه توپیر و، خو ټولو په بېلابېلو ډولونو همدا یوه خبره کوله چې : د نوې دورې پیل، درېیمه زریزه، د کوارئیس زمانه، د پنځم لمر پیل، د پخوانۍ جنترۍ پای او د نوې پیل. له مخالفتونو

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

سره بیا هم په دې کې ډېر څه مشترک دي او دا وړاندوینه ځانګړی ځای لري. ددې له مخې پخوا انساني ټولنه وېشل شوې او په دوو لارو روانه شوې ده. یوه د زړه، وجدان او روحانیت لاره اوه او بله د فکر او ماغزو لار وه. ددې وړاندوینې له مخې په ۱۴۹۰ کال کې به دا دواړه لارې یو ځای شي. بیا به پنځه سوه کاله وروسته یعنې په ۱۹۹۰ کې بیا ځلي پیدا کیږي چې دا دواړه قوتونه به بیا یو ځای کیږي او په یوه لاره به پرواز کوي. که دا دواړه له دې لارې ګټه واخلي نو یوه نوې دوره راپیل کیږي، داسې دوره چې تر ننه یې ساری نه دی لیدل شوی.

دا وړاندوینه په بېلابېلو کچو تعبیر شوه. عام تعبیر یې دا وه چې ځایي پوهه او ساینسي علوم او ټکنالوجي به یو بل سره مرسته وکړي. ددې وینا له مخې که د امازون خلک لوړی ډله (د زړه او احساس) خلک شي، نو څرګندونه یې اسانه کیږي؛ مثلاً که موږ پوښتنه وکړه چې دې زریزه کې به انسانیت څنګه وي او راتلونکي څو پېړۍ مو اراده څه ده؟نو په کار ده چې سترګې پرانیزو او د خپلوکړنو پایلې په غور وګور، یعنې د فکري خلکو (امریکا) جاج واخلو چې افغانستان، عراق او اکوادور کې یې څه وکړل. اوس باید له خواره خوبه راویښ شو، موږ د انساني تاریخ قوي ولس یو، موږ باید اوس د ټلویزوني سریالونو، فوټبال او موسیقۍ فکر پرېږدو او له سره باید جاج واخلو چې موږ څوک او څه یو؟ او خپل اولادونه کوم ځای ته رسوو؟ که موږ اوس هم راویښ نه شو؛ نو پایله به یې ډېره وېرونکې وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځه دېرشم فصل

څېړې رسوا شوې

۲۰۰۳ کال کې چې زه له اکوادوره راستون شوم، څو ورځې وروسته امریکا په عراق برید وکړ. څه باندې یوه لسیزه کې دا په عراق د امریکا دویم برید و. اقتصادي جنایتکار او ګیدړان دواړه ناکام شوي وو اوس نو پرېکړه شوې وه چې ښځې او نر شګلنو دښتو ته د وژلو لپاره روان شي. له دې بریده دا یو فکر پیدا کیږي چې د عربستان شاهي کورنۍ ته یې څه معنا درلوده. د ځینو تخمینونو له مخې عراق کې د عربستان په پرتله تېل ډېر دي او که امریکا په عراق برید وکړي؛ نو عربسان سره زموږ د ۱۹۷۰ کال تړون بې ګټې کیږي.

پانامه کې د نوریګا د مرګ په څېر په عراق کې د صدام په مرګ فورمول بدل شي. پانامه کې چې موږ خپل لاسپوځي واک ته ورساوه؛ نو کانال مو ترې بېرته ونیو، هغه تړون ته مو هم ونه لیدل چې کارټر او طوریجو سره کړی و. عراق چې ونیسو نو اوپیک به مات کړو؟ او د نفتو په نړیوال سیاست کې به عربستان منتظر غړی پاتې شي؟ ځینو پوهانو خو ویل چې بوش افغانستان کې ولې خپل ټول قوت ونه کاراوه چې په عراق یې برید وکړ؟ آیا دې د نفتو سوداګرې کورنۍ ته خو به د نړیوالې ترهګرۍ په پرتله خپلې د تېلو زېرمې مهمې نه وې؟

خو یو بل امکان و، چې اوپیک د ځان منلو هڅه وکړي. په دې صورت کې که امریکا په عراق برید وکړی، د تېلو په شتمنۍ مست هیوادونه که د تېلو بیه لوړه او عرضه کمه کړي هم کوم زیان به ونه وینې. دا امکان له یوې بلې زاویې هم باید وکتل شي. دې قضیه کې چې کوم څه راځي هغه دا دي

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ډېر له سترو نړيوالو مالياتو بيرون به يې اغېز ډېر لږ محسوس شي، خو دا مرافيانو سياسي توازن په دننه کې ګډوډولای شي، داسې چې د کاربوريتوکراسي په هڅو رامنځته کړی نظام خاورو سره خاورې کولای شي.

خنثي شننه دا ده، نړيواله امپراتوري هڅه کوي چې ډالر د نړيوالې کرنسۍ په توګه، قوي پاتې شي او امريکا يې د خپلې خوښې اوارتيا له مخې چاپولای شي. موږ اکوادور غوندې هيوادونو ته پور يوازې په دې خاطر ورکوو چې بېرته يې نه شي پرې کولای. که رښتيا ووايو موږ خپله نه غواړو چې دا پور بېرته خلاص شي، ځکه هغه که زموږ پوروړی وي نو زموږ د فشار کړی پرې راتنګيږي او بلاخره ترې د بدن غوښه پرې کولای شو. عامو حالاتو کې راسره د خپلې بوديجې (فنډ) د کمي وېره وي. ځکه د بېرته نه پرې کوونکو په ليست هېڅوک ډاډه نه وي. خو زموږ حالت له معمول سره سم کله وو؟ امريکا چې کوم ډالر چاپ کوي تر شايې سره زر نشته، په اصل کې هېڅ هم نشته، ټولې دنيا په پټو سترګو زموږ په اقتصاد باور کړی او موږ دا وړتيا لرو چې کومه امپراتوري مو رامنځته کړې د هغوی وسايل، زېرمې او انرژي په خپله ګټه وکاروو. په دې بنسټ پېسې چاپ کول زموږ د بې ساري قوت راز دی. يعنې د نورو لاملونو تر څنګ يو يې دا دی چې موږ خلکو ته پورونه ورکوو او پوهېږو چې بېرته يې نشي راکولای.

په دې سربېره موږ خپله هم لوی پورونه اخيستی شو، په ۲۰۰۳ کال کې د امريکا ملي پور له شپږ ټريليونه ډالرو زيات و او د کال تر پايه ۶۰ ته د رسيدو امکان ايدل کېده، يعنې هر امريکايي به نږدې ۲۴۰۰۰ ډالره پوروړی وي. د دې پورونو ډېره برخه يې له اسيايي هيوادونو اخيستل شوې وه، په ځانګړې ډول له جاپان او چين نه چې د امريکايي خزانې سيکورټي (

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

تضمین لیکونه) به یې اخیستل. دا سیکوریټي یا تضمین لیکونه هغوی د وسایلو د پلور په پېسو اخیستل؛ مثلاً موټرې، کمپیوټرې، برښنایي وسایل، ټوکر او نور ... . چې په آسیا، امریکا او نورو نړیوالو بازارونو کې پلورل کېدل.[۳]

تر څو چې نړۍ ډالر معیار ګڼي؛ نو دا اضافي پورونه کارپوریټوکراسی ته کوم خطر نه دی خو که په بله کرنسۍ تکیه وشي او هیوادونه له امریکا خپل پور وغواړي، نو حالات ښځي بدلیږي. په دې صورت کې به د امریکا حالت ډېر ترینګلی شی.

په اوسني دور کې د داسې کرنسۍ وجود یوازې یو فکر نه دی. نړیوال اقتصادي ډګر ته یورو د ۲۰۰۲ کال د جنوري په لومړۍ نېټه راغلل او د هرې میاشت په تېرېدو یې قوت او درنښت زیاتېږي. که اوپیک غړي هیوادونه په عراق د برید یا بل لامل له امله امریکا ته سترګې برګوي؛ نو د یورو په شکل بې سارې فرصت ورسره شته دی. که یوازې اوپیک سازمان د ډالر پر ځای یورو خپل معیار وټاکي؛ نو ددې امپراتورۍ بنسټونه به هم ولړزیږي. که داسې وشي او یوازې یو یا دوه پور راوړي خپل پورونه په یورو رانه ببرته وغواړي؛ نو اغېز به یې تُند او اوږدمهالی وي.

په همدې مسایلو مې فکر کاوه، د ۲۰۰۲ کال د اپریل په اتلسمه نېټه له کوره راووتم او دفتر ته راغلم، دا دفتر مې په یوه وړوکي ګراج کې و. ما کمپیوټر روښانه کړ او د نیویارک ټایمز ویب پاڼې ته لاړم. عنوان یې حېران کړم. زه د نړیوالو مالیاتو له نوي حقیقتونو، پورونو او یورو له نړۍ راووتم او د

---

[۳] د لا ډېرو معلوماتو لپاره ولولئ:
د ډالرو مرګ، ژباړه یاد میراحمد، مومند خپرندویه ټولنه چاپ، ۲۰۱۴

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

خپل مسلک نړی ته رانتوتم. عنوان داسې وو : (د عراق د بیا رغونې لپاره امریکا بېشتل شرکت ته لوی قرارداد ورکړی.)

لیکنه کې راغلي وو : (د بوش ادارې نن په سان فرانسیسکو کې بېشتل شرکت ته د عراق د بیا رغونې پروژه ورکړه.) وروسته لیکوال خبرداری ورکړی و چې : (اوس به عراقیان، نړیوال بانک او نړیوالې مالي ادارې په ګډه د عراق بیا رغولول لپاره کار کوي، د یادونې وړ ده چې په دې دواړو ادارو کې امریکا پراخه رسوخ لري.) (۱)

(پراخه رسوخ) دې کې ستر حقیقت روښانه شوی دی. ما یوه بله لیکنه راخلاصه کړه، لیکلي و : (دا شرکت عراق او واشنګټن کې ژورې اړیکې لري.) ما یو څو تکراري کرښې پرېښودې او دې برخې ته راغلم :

(بېشتل له (نیشنل سیکوریتي اشتبلشمنټ) سره پخوانۍ اړیکه لري. ددې ادارې مشر جورج پي شلتز دی، دا بناغلی د ریګن په دوره کې د بهرنیو چارو وزیر و او اوس ددې شرکت ارشد مشاور دی. د ریګن په اداره کې له دندې مخکې دی دلته رئیس و. همدې وخت کې کیسپر وین برګر هم ددې کمپنۍ اجرایه رئیس پاتې شوی دی، چې وروسته د دفاع وزیر شو. سږ کال بوش ددې شرکت اجرایه رئیس ریلي بي بېشتل د خپلو صادراتو کونسل ګومارلی دی.

لنډه دا، په دې لیکنو کې د عصري دور تاریخ بیان شوی و چې څنګه نړیوالې امپراتورۍ خواته پرمختګ کوي. په عراق کې د روانو چارو توضیحات سبا په ورځپانو کې راغلل، دا ټول د هغې روزنې پاېله وه چې کلاډین ماته پنځه دېرش کاله مخکې راکړې وه. د هغو خلکو برخه هم پکې وه چې زما د ځانغوښتنې له احساساتو اغېزمن شوي وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

کارپوریتوکراسۍ د نړۍ هر وګړی له همدې لارې خپلې کړۍ ته راونیوېست.

دا لیکنې ۲۰۰۳ کال کې پر عراق زموږ د پوځیانو د برید او په لویدیځ معیار د هغه هیواد د بیارغونې په اړه وې. د ۲۰۰۳ کال د اپریل ۱۸ خبر موږ په ناڅرګند ډول بیا ۱۹۷۰ ز کال کې عربستان سره د پیسو مینځلو مسئلې ته بوتلو. Saudi Arabian Money Lauandering Affairs/ Saudi (SAMA Arabian monetary Agency) ادارې او له دې راوتلیو پروژو بیا یوځه نظریات رامنځته کړل. ددې نظریاتو له مخې په غیر شفاف ډول امریکایي انجینري، ساختماني او نفتي صنعت په دې صحرایي هیواد په رغونه کې رول ولوباوه. ددې یوې څپونې له امله SAMA د نفتو په نړیوال سیستم او جنرافیایي سیاست کې نوي قواعد وضع کړل. تر څنګ یې په همدې تناظر کې سعود کورنۍ سره یو تړون وشو چې له مخې به یې ددې کورنۍ امتیاز او لوړاوی په خپل ځای پاتې وي؛ په دې شرط چې لوبه به زموږ د قوانینو په رڼا کې کوي.

ددې لیکنو په لوستو مې فکر کاوه، چې نړۍ کې به زما په څېر څومره خلک وي؟ هغه خلک چې پوهېږي که صدام دا د عربانو لوبه کړې وای؛ نو نن به یې هم حکومت کاوه. د توغندیو او کیمیاوي موادو فابریکې به یې فعالې وای؛ بلکې موږ به ورته خپله جوړول او زموږ خلکو به یې د کیفیت د لوړوالي او ډېر پاښت لپاره کار کاوه، دې ته په کتو خو دا سودا ډېره ګټوره وه.

تراوسه عامو رسنیو ډېر احتیاط کاوه چې دا موضوعات څپاره نه کړي، خو اوس دا کیسه د رسنیو سینګار ګرځېدلې وه. په دې کیسه کې یو لوی حقیقت په ډېره نرمه توګه رانغاړل شوی و خو اصل کیسه اوس پیل کېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

فکر مې وکړ چې نیویارک ټایمز به خپلسري کړي وي، د CNN ویب پاڼې ته لاړم، هلته لیکلي وو : (بېښټل د عراق پروژه واخیسته.) د سي ان ان کیسه نیویارک ټایمز ته ورته وه، خو یو څه مواد پکې زیات وو:

(بېلابېلو وختونو کې څو نورو شرکتونو هم ددې کار لپاره سیالي کوله. په دې کې ځینې د لومړنیو بولیو او ګډ کار کولو شرکتونه هم وو، چې KBR له هغې جملې یو و. معاون ولسمشر ډېګ چیني یو وخت ددې شرکت اجرایه رئیس پاتې شوی و.... هالي برټن ۷ دمخه د اوو بیلیونو ډالرو قرارداد اخیستی و، چې تر دوو کالو یې دوام کاوه. په دې کې د عراق د تېلو د زیربناوو عاجله بیا رغونه هم شامله وه.(۴)

داسې ښکاري چې نړیوالې امپراتورۍ خواته د حرکت کیسه نوره رسوا شوې ده. ډېر جزیات نشته خو حقیقت دا دی چې دا کیسه له ډېرو مکرونو، ټګیو، ظلمونو، پورونو، استمثار او نورو بدیو ډکه ده، دا د خلکو په زړونو، ذهنونو، ارواوو، وسایلو او سرچینو د واکمنېدو کیسه وه. دې لیکنو کې دا یادونه نه وه شوې چې په عراق کې، د ۲۰۰۳ز کال کیسه کومه نوې خبره نه؛ بلکې د یوې شرمېدلې کیسې ادامه وه. لیکنو دا راز هم نه و افشاء کړی چې دا کیسې ګني پخوانۍ دي، خو یوازې حجم یې تر وړرونکي حده لوړ شوی دی. یو لامل خو یې دا دی چې نړیوالتوب یې ارزښت لوړ کوی دی او بله دا ده چې په دې پروژو ډېر زور او په ځیرکتیا کار کیږي. پرده که څه هم له ټولو رازونو نه ده پورته شوې خو دا ښه ده چې ځینې رازونه خلکو ته څرګند شول.

دې کیسې لکه چې زه تر ټولو ډېر په ننبه کړی وم. ماته یې د خپلې کیسې تر څنګ دا هم رایاد کړل چې څومره کلونه مې له خلکو پټه ساتله. له یوې مودې مې فکر کاوه چې خپل جرمونه باید ومنم، خو زړه نا زړه وم. ماضي ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې ګورم نو فکر کوم چې په خپل شخصیت شک او د جرم احساس مې له پخوا درلود. پیل یې د کلاډین له اپارتمانه شوی و او اندونیزیا ته له تلو مخکې مې دا احساس مل و. که رښتیا ووایم دا څو کله زه همدې احساس خوړلم.

زه پوهېدم ، که دې احساس، شکونو، درد او د جرم احساس نه وای خوړولای؛ نو زه له د سیستمه نه شوم راوتلی او د نورو په خبر به پکې بندي وی. دا خو ببخي ممکنه نه وه چې په ورجن جزیره کې مې د MAIN پرېښودلو پرېکړه کړې وی. دې سره مې هم د نن کار سبا ته پرېښوده او همداسې زړه نا زړه کېدم.

دې عنوانونو ښودله چې د لویو ادارو، نړیوالو بانکونو او حکومتونو تر منځ جوړجاړی روان دی خو دا هر څه داسې وو لکه په MAIN کې چې زما CV په دروغو جوړه شوې وه. لوی شرکتونه به میلیاردونه یوازې په دې خاطر راټول کړي چې هیواد زموږ په جوړ کړي قالب کې واچوي. دا بدلون به هغو خلکو کې راځي چې په دې قالب کې د راتلو هېڅ تمه به نه لري. په ټولنه کې د لوړې طبقې د ګوتو په شمېر خلک به له خپلو رسمي موقفه ناوړه ګټه واخلي او په دې فساد کې به شریک شي.

پورته څرګند شوی حقیقت ډېر کوچنی او ظاهراً ساده ښکاري خو پایله ترې دا رواځي، که موږ غواړو چې د سیستم نیمګړتیاوې ختمې کړو؛ نو یوازې مسئول خلک باید ترې وباسو. دا فکر په توطیه کې ښه ځای په ځای کیږي او موږ ته اسانه جواز راکوي، چې ټلویزون روښان کړو، دا هر څه هېر کړو او د خپلې خوښې خپرونې ووینو. د تاریخ نیمګړي علم موږ ته همدا راښودلې چې (دې) به هر څه سم کړي. د هیواد کښتۍ لامبو وهلی

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

شي او زر به خپل اصل خواته مخه کړي. ښايي موږ تر راتلونکو ټاکنو صبر وکړو، خو بلاخره به هر څه سم شي.

د معاصرې امپراتورۍ يا کارپوريټوکراسۍ کيسه په ګډه ديبوزلو خلکو استثمار دی. د کار بڼه يې ځانغوښتونکې ده. دوی د نورو د زېرمو په لوټلو بوخت دي او يوه ورځ به يې همدا خپل کار ډوبوي. په رښتيو کې ننني څرګند شوي حقايق کارپوريټوکراسۍ ته هېڅ هم نه دي او نه يې په کيسه کې دي. ددې مخاطبين (موږ) او (موږ ته) دي. همدا لامل دی چې موږ په رښتيا اورېدو کې دومره تکليف وينو. موږ په دې دروغجن فکر باور لرو چې انساني ټولنې پېړۍ مزل کړی او نن يې يو مثالي اقتصادي نظام رامنځته کړی دی. دا حقيقت نه منو، چې موږ په يوه سراب پسې منډې وهو او له بده مرغه اسماني صحيفه مو ګڼلې ده. موږ هسې په دې باور يو چې هره اقتصادي وده د انسان په ګټه ده او څومره چې ډېره وي هومره به ګټه هم پراخه وي، پر دې سربېره نورو ته هم دا ډاډ ورکوو چې ددې اند (تصور) منطقي پايله ښځې سمه او په اخلاقوبرابره ده.

کوم خلک چې د اقتصادي پرمختګ بټۍ (تنور) توده ساتلای شي هغوی بايد تر نورو لوړ موقف او امتيازات ولري، برعکس کوم خلک چې په ليرې څنډو کې پيدا کيږي، د هغوی پيدابښت د استثمار لپاره دی.

دې فکر او جبري پايلې يې هر ډول غلچکي بريدونو (قزاقۍ) ته لاره هواروله. همدا په افغانستان، عراق، ايران، پانامې، کولمبيا او بې شمېره نورو سيمو کې د خلکو د وژلو او شتمنيو لوټلو اجازه شوه. اقتصادي جنايتکار، ګيدړان او پوځيان تر هغه اخته وي چې له کارونو يې اقتصادي وده ښکاره شي. دوی هغه کارونه کوي چې اقتصادي وده ترې څرګندېږي. اقتصادي وړاندوينه، د ارقامو شننه او سروې هغه علوم دي چې، که تاسو يو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هیواد بمبار کړئ، وران یې کړئ او بېرته یې رغوئ، نو دا علوم به د رټه نښيي چې اقتصادي وده یې اسمان سره خبرې کوي.
اصل کې موږ دروغ پالو لګیا یو. په MAIN کې زما د سوانحو غوندې موږ د دروغو یوه وربښمینه پرده جوړه کړې تر لاندې مو د سرطان ناروغي پټه کړې. که زموږ د ورکړل شویو ارقامو ایکسرې وویستل شي، نو زموږ بدن کې خپربدونکی سرطان ترې اسانه معلومیدای شي. له دې دا حقیقت هم ښکاریږي چې د تاریخ تر ټولو قوي او شتمنه امپراتورۍ کې د مخدره توکو، طلاق، تښتوونو، جنسي تېریو او وژنو د پېښو کچه څومره لوړه ده. له بده مرغه سرطان ورځ تر بلې خپلې ریښې لاپسې ژوروي او موږ ټول یې په خپلو زړونو کې درد احساسوو. موږ د بدلون چیغې وهو خپل فریاد ستوني کې وژنو، زموږ فریاد او سلګۍ به څوک واوري؟
دا ډېره اسانه ده چې یو څوک ټول تور په توطیې پورې کړي، خو موږ داسې نه شو کولای. د امپراتورۍ ټوله تکیه د لویو بانکونو، شرکتونو او حکومتونو په رسوخ ده. ددې ټولو له جوړجاړي کارپوریټوکراسي رامنځته کیږي خو زموږ د سپکاوي لامل توطیې نه دي. او دا کارپوریټوکراسي څه شی دی؟ دا خپله موږ یو. ځکه یې زیاتره وخت په مخ کې مات یو. زموږ کار دا دی چې په تیاره کې د همدې توطیې او دسیسو طراحانو ته خدمت وکړو. موږ دا نه شو ننګولای، ځکه له موږ زیاتره په بانک، دولتي ادارو او شرکتونو کې کار کوي یا په یوه نه یوه ډول ددوی په وسایلو او خدمتونو تکیه یو. دا نو څنګه ممکنه ده چې کوم بادار موږ ته په خپلو لاسو مړی راکوي موږ یې ګوتې وچیچوو؟
کمپیوټر ته مې کتل، په دې حالت مې فکر کاوه او بې شمېره پوښتنې راته ولاړې وې. ته یا بل څوک د داسې نظام په ضد څنګه ودریدی شې چې په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ظاهره خلکو ته کور، کالي، خواړه، برښنا، روغتیا او نورې اسانتیاوې ورکوي؟ ستا پوهېدل څه توپیر کوي؟ څه ته یې پوه چې دا نړۍ د یوه داسې سیستم حاصل دی چې د هره ورځ پکې څلورویشت زره خلک له لوږې مري او زرګونه خلک له هغو پالیسیو کرکه کوي چې زموږ منتخب استازي یې جوړوي. تا کې به دومره قوت له کومه راشي چې له خپل قطاره ووځې او پر وړاندې یې ودرېږې؟ بیا د هغو نظریاتو پر ضد د مبارزې دعوت پیل کړې چې ته او ستا د ګاونډ خلک یې اسماني صحیفه ګڼي؟ ستا په زړه کې دا شک هم هیڅ توپیر نه کوي، چې که دا سیستم لګیا دی په خپله ځان ته د خپلې بربادۍ وسایل برابروي. زه راولاړ شوم او په سترو قدمونو خپل کور خواته روان شوم چې یوه پیاله قهوه پخه کړم.

لنډ چکر مې وواهه، خپل کور ته ننوتم، د لیکونو بکس سره لیک پروت و. د نیویارک ټایمز په حواله پکې د عراق - بېشتیل لیکنه رانقل شوې وه. د ورځپاڼې له نوم سره مې نښې ته وکتل (۱۸ اپریل) نیوانګلینډ کې خو دا مشهوره نښه ده. زما انقلابي او جنګ خوښو والدینو او د لانیګ فیلو نظم دا نښه زما په ذهن کې پخه کړې وه:

(واورئ بچو ! او زه پوهېږم چې تاسو به یې حتمن په غور اورئ، د پال ریوېرې د هغه سفر په اړه چې د ۵۷ کال د اپریل په اتلسمه یې نیمه شپه پیل کړی و، اوس به په سختۍ داسې کس پیدا شي چې هغه ورځ او نښه یې به یاد وي.)

په دې کال اتفاقاً ګډ فراي ډی (له Easter دمخه لومړی جمعه، چې عیسویان وايي په دې ورځ عیسی علیه سلام په دار شوی دی.) د پال ریوېرې د سفر کلیزه هم راغله. په پوسټ مې چې دا نښه ولیده، نو ذهن ته مې هغه صحنه راغله چې د استعمار نیو انګلینډ په تیاره کوڅو کې پر آس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

سپور یو کس ګرځندی روان دی، خپله خولۍ په هوا کې خوځوي او چیغې وهي (انګریزان را روان دي) بیا به ریوبیري د سر په خطر دا پیغام هر ځای ته رسولای وي او وفادارو امریکایانو به ورته لبیک ویلای وي، دې سره به یې د امپراتورۍ مخه ډب کړې وي.

زه حیران وم چې دوی څه شي متحرک کړل؟ د استعماري دور هغه امریکایان څنګه له قطاره راووتل؟ له دوی زیاتره یې خوبن وو. وجه څه وه چې دوی خپل کاروبار په خطر کې واچاوه؟ د هغه لاس د چیچلو جرأت یې ورکړ چې ډوډۍ یې ورکوله او ځانونه یې په خطر کې واچول؟ په دوی کې به هر شخص بنایي ځانګړي عوامل هم لرل خو یو داسې قوت هم حتمي و چې دوی یې سره یو کړل، کومه مرسته یا انرژي، یا سپرغۍ چې دتاریخ په دې ځانګړې شبېه کې یې په دې خلکو کې اور بل کړ.

بیا زه په حقیقت پوه شوم، یعنې هغه الفاظ چې په مرسته یې دا حقیقت بیانېدی شو. که د انګلیس امپراتورۍ کیسې ته ځیر شو، نو څرګنده ده چې ددوی ځانخوښې او بربادونکې سوداګریزې پالیسۍ په خلکو کې اور او قوت پیدا کړ. ټام پین او توماس جیفیرسن غوندې خلکو له پټو موخو د او د سوداګرۍ په نوم له لوټه پرده پورته کړه او د خلکو ذهن یې روښانه کړ. پوښتنې چې وشوې هغه حقایق په راڅرګندېدو شول چې د تګې جړې یې خوځولې. دوی د پردې تر شا اصلیت راڅرګند کړ او تل ته یې ورسېدل، پوه شول چې انګلیسانو ورسره څنګه تګي وکړه او دوی یې خپل غلامان کړل.

ویې لیدل چې انګلیس بادارانو یو نظام رامنځته کړ او په خلکو یې یو دروغ ومنل. کوم دروغ؟ دا چې انسان لپاره تر دې ښه نظام نشته، دنیا لپاره د خوښې او هوساینې لار دغه ده چې خپل وسایل او سرچینې د انګلیسي تاج

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پر مټ وکاروي او دا چې د خلکو د ښه والي لپاره د انګليسي استعمار رامنځته کړې پاليسي په ګټه او انسان پاله دي. برعکس حقيقت دا و چې دې نظام کې ولس په داو شوی او ګټه يې يوازې د ګوتو شمېر کسانو ته رسېدله. دا دروغ او له امله يې رامنځته شوی استثمار تر کلونو روان و او پراختيا يې موندله. بيا يو څو سرتېرو فېلسوفانو، سوداګرو، بزګرو، د پولې اوسېدونکو، ليکوالو او ويناوالو حقيقت راښکاره او څرګند کړ.

همدا توري وو، ما د تورو په قوت فکر کاوه، يوه بله پياله قهوه مې وڅښله، دفتر ته ستون شوم او کمپيوټر ته کېناستم.

د CNN ويب پاڼه مې بنده کړه او په کومه دوسيه مې چې تېره شپه کار کاوه، مخې ته مې کېښوده، وروستی پاراګراف داسې وو:

(زما دا کيسه بايد ولس ته ورسيږي. موږ له بحراني حالته تېرېږو، خو مخکې ډېر فرصتونه هم شته. د اقتصادي جنايتکار دا کيسه تاسو ته وايي چې موږ نن په کوم حالت کې يو، دلته څنګه را ورسېدو؟ او له کوم سخت بحران سره چې مخ يو، دې کې څنګه ښکېل شو؟ ددې حقايقو بربنډول ددې لپاره هم اړين دی چې که موږ د خپل تېرو تېروتنو نه خبر شو؛نو له راتلونکو فرصتونو ګټه اخيستی شو .... او بله مهمه خبره ده، دا تاريخ کې لومړی ځل دی چې يو ولس هغه وړتيا، وسايل او سرچينې لري چې دا هر څه بدلولای شي. دا هغه ولس دی چې زه پکې زېږېدلی يم، بيا په کې اقتصادي جنايتکار شوم او نوم يې دی (د امريکا متحده ايالات.)

دا ځل چپ نشم پاتې کېدای. زما د ژوند پېښې او پکې زما خپله ټاکنه او پرېکړه هغه څه دي چې زه يې دې ځای ته راوستی يم، اوس بايد په هر حالت کې وړاندې لاړ شم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په ذهن کې مې يو ځل بيا هغه نقشه راغله چې يو سړی په آس سپور دی، ټيارو کوڅو کې ګرځي او خلک له خطره خبروي. هغه پوهېده چې له تو ماس پېين مخکې هم ليکوالو ليکل کول، خلکو يې ليکنې لوستې او په ټيلو ناستو کې يې پرې بحثونه هم کړي دي. پېين د انګليسي امپراتورۍ له ظلمونو پرده پورته کړه. جيفرسن اعلان وکړ چې زموږ ولس د ژوند، خپلواکۍ او خوښۍ ترلاسه کولو ته وقف دی. ريوېري چې په آس سپور و او کوڅو کې ګرځېده په دې ښه پوهېده چې په متسعمره سيمه کې توري (الفاظ) خلکو ته قوت ورکولای شي او په حقيقت کې د يوه ښه ژوند ترلاسه کولو لپاره راپاځېدی شي.

توري (الفاظ) رښتيا هم ستر قوت دی.

ما قوي هوډ وکړ چې د جوړجاړي پاليسي به پرېږدم او دا کار به سر ته رسوم، دا کار مې کلونه مخکې پيل کړی او بيا نيمګړی پرېښي و. اوس به زه رښتيا وايم، ځکه زه خپل جرمونه منم، زه هغه توري لرم چې دا موخه ترې ترلاسه کېږي، همدا توري په دې کتاب کې کاروم.

حوالې :

۱- "A Nation at War: Reconstuction. U.S. Gives Bechtel a major rebuilding in Iraq", Newyork times, April ۱۸ ۲۰۰۳.

۲- "A Nation at War: The Contractor Company hads ties in Washington, and Iraq, " Newyork times, April ۱۸, ۲۰۰۳.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شپږدېرشم فصل

څه باید وشي؟

درنو لوستونکو ! اوس موږ د کتاب پای ته رسېږو او حقیقت خو دا دی چې همدا یې پیل هم دی. تاسو به حېران یئ چې راتلونکی ګام باید څه وي، د کارپوریتوکراسۍ مخه باید څنګه ډب شي؟ نړیوالې امپراتورۍ ته د روان لښکر مخه څنګه ونیول شي؟ ددې کتاب په بندولو به تاسو په نړۍ د برید لپاره چمتو اوسئ.

ستاسو نظریات پکار دی او هغه زه درکولای شو.

ما چې لږ مخکې کومه خبره ختمه کړه په هغه کې د بیشتل او هالي برټن شرکتونو د عراقي پروژو خبره شوې وه، دا خبر اوس زوړ شوی دی، تاسو یې چې تر څه وخته لولئ تر هغه وخته خو به هسې هم زوړ شوی وي. ددې لیکنو ارزښت یې وخت نه دی. ددې لیکنو مفهوم او معنا تر وخت زیاته ده. زه په دې هیله یم چې د تېرې برخې خبرونه به ستاسو نظر بدل کړي. اصل ارزښت دا دی چې تاسو شیان له کومې زاویې اورئ. دې سره به په دې پوه شئ چې د لیکنو مطلب څه دی؟ تر څنګ به یې په دې هم پوه شوه چې په رسنیو کې د راپورونو تل ته څنګه ښکته شئ؟

زیاتره شیان چې څنګه ښکاري هغسې نه وي. تاسو پوهېږئ چې MBC د جنرل الکترانیک ملکیت دی او د ABC خاوند ډزني دی، د CBS خاوند ویاکام دی او CNN د دوو سترکو شرکتونو AOL او ټایمز وارنر د شراکت یوه لویه برخه ده؟ زموږ زیاتره رسنۍ د سترو شرکتونو ملیکتونه دي او د هماغو په جوړجاړي چلیږي. د یادونې وړ ده چې ټولې رسنۍ د کارپوریتوکراسۍ یوه برخه ده. زموږ په اطلاعاتي سیستم واکمن خلک خپل موقف ښه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پېژني. په دوی تینګار کیږي چې په میراث کې ورته پاتې شوي سیستم ته باید دوام ورکړي، قوي یې کړي او نور هم باید پراخه شي. دوی په دې کار کې ډېر مستعد دي او که مخالفت یې وشي ډېر سخت زړي ثابتیدای شي. اوس ټول مسئولیت ستاسو دی چې د پردې تر شا حقیقت باندې پوه شئ او ښکاره یې کړئ، خپلې کورنۍ او ملګرو ته یې ورسوئ او ځلور کونجه دنیا ته یې رسواء کړئ.

په عملي توګه، تاسو باید یو لړلیک جوړ کړئ؛ مثلاً دا چې د تېلو مصرف کم کړئ. په عراق له بریده مخکې ۱۹۹۰ کال کې موږ اته میلیونه بېرله تېل واردول خو تر دویم برید (۲۰۰۳) پورې یې حجم له پنځوس سلنه زیات یعنې دولس میلیونه بېرلو ته رسیدلی دی. (۱) که کله مو زړه غواړي چې بازار ته لاړ شئ، ددې پرځای کتاب ولولئ، ورزش وکړئ یا عبادت کې بوخت شئ. د کور، کالیو، دفتر او ژوند توکیو حجم راکم کړئ. د ازادې سوداګرۍ تړونونو او شرکتونو پر ضد احتجاج وکړئ ، دوی ولس استثماروي او چاپېریال له منځه وړي.

زه دا ویلای شم چې په اوسني نظام کې د هیلو ځرکونه شته. د بانکونو، شرکتونو او حکومتونو کارکوونکي فطرتاً بد نه دي او نه حتمن د همدوی له راټولیدو کارپوریټوکراسي جوړیږي. زه په دې اړه خبرې کول شم چې موږ ته راپېښې ستونزې د فاسدې (ناوړه) ادارې د کړنو پایله نه ده. د فساد اصلي لامل دا دی چې د اقتصادي ودې په اړه زموږ اند په ناسمو نظریاتو ولاړ دی. ستونزه په ادارو کې نه ده، ستونزه زموږ په هغو فکر کې ده چې د ادارو او ددوی د کړنو په اړه یې لرو. ددوی د مدیرانو د وندې په اړه هم زموږ ذهن روښانه نه دی. مثبت اړخ یې دا دی چې د نړیوالو اړیکو اغېزناک سیستم او شبکې د ودې او انسان دوسته بدلونونو راوړلو لپاره کارول کیږي.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

تاسو لږ فکر وکړئ هغه به کومه شبیه وي چې نایک، میکډونلډ او کوکا کولا امتیازي نښان لرونکې شرکتونه وګورئ او د داسې شرکتونو ګومان پرې وکړئ چې اصلي موخه یې بیوزله خلکو ته په ښه چاپېریال کې خواړه او کالي ورکول وي. دا خبره دومره ناممکنه نه ده، انسان سپوږمۍ ته وخاته، د شوروي اتحاد مات شو او داسې وسیله رامنځته شوه چې همدا شرکتونه یې په مرسته د نړۍ هر ګوټ ته ورسېدل،آیا بیوزلو ته خواړه ورکول دومره ناشونی کار دی؟ د زده کړو په اړه زموږ نظر کې انقلابي بدلون پکار دی. موږ دې په خپلو شته وړتیاوو باوري شو. بچي سره دې د فکر په لرلو کې مرسته وکړو. دومره زغم دې ولري چې پوښتنې وکړي او عمل ته چمتو وي. تاسو بېلګه کېدای شئ. تاسو ښوونکی هم شئ او زده کړې هم کوئ. تاسو که یوه ښه بېلګه شئ په ځان راتاو خلک مو تشویقولای شئ. زه درته په څو ګامونو پورته کولو کې لارښوونه کولای شم، تاسو په هغو ادارو اغېز ښندلای شئ چې هره ورځ ورسره مخ کیږئ. که فرصت په لاس درغی خپل نظریات بې له کومې اندېښنې ووایئ. اړوندو خلکو سره په لیک او بریښنالیک اړیکه ونیسئ. اهل نظرو خلکو ته زنګ ووهئ او خپله اندېښنه ورسره شریکه کړئ. د ښوونځي اداري او ویاندویۍ لپاره مناسب خلک غوره کړئ. پېر او پلور په غوره او مینې وکړئ. ۱۱۹۰ کال کې راته شوار قبایلو ویل نړۍ هغسې ده څنګه چې ته فکر کوې. تاسو موږ ته د چټل چاپېریال، ګنو لویو لارو او ښارونو په ځای د خپل منځي درناوي، مساوات، خواخوږۍ او مسئول ټولنیز چلند فکر هم کولای شئ. دا خو زموږ له وسه ده چې ځان بدل کړو او بل قالب کې یې واچوو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوښتنې او ځوابونه

د ابلاغ په ټولو وسايلو (برښناليک، ليکونه، ناستې ...) کې مانه ځينې ځوروونکې پوښتنې وشوې. زه پوهېږم چې د زياتره لوستونکو په ذهن کې به هم داسې پوښتنې راپيدا کيږي؛ نو د زه د بېلګې په توګه ځينې هغه پوښتنې رانقل کوم چې خلکو کړي او ما ځواب کړي دي.

پوښتنه : ته تراوسه ژوندی يې؟ هېڅ انديښنه نه لرې چې کوم ګيدړ به دې ووژني؟

ځواب : دا ځواب په خير واوره. دې کتاب کې بغاوت ته د تبليغ يوه خبره هم نشته. زه وفادار وګړی يم. پلارنيکه مې په لويو جګړو کې برخه اخيستې، د خپلواکۍ جګړې ته هم تللي. ما دا کتاب په دې باور ليکلی چې موږ يو ستر ولس يو او د کرکجنې امپراتورۍ پر ځای د ښېګڼې ډېر کارونه کولای شو. زه په دې هيله يم چې له دې لارې به موږ د خپلې او هغې نړۍ لپاره د اصلاح زغم زيات کړو، چې اولادونو ته مو په ميراث کې پاتې کيږي. آيا ددې لاملونو پر بنسټ کوم ګيدړ ما ځارلای شي؟ که تاسو داسې فکر کوئ نو ستاسو په اوږو هم يو مسئوليت کېښودل شو، تاسو يو ګام پورته کړئ، ماته يو څو غوسه ناک ليکونه راغلي دي، خو زه هڅه کوم دګيدړانو له انتقامي چلنده ځان بې پروا وښيېم. زه يوازې دومره پوهېږم چې خپلې لور او نړۍ کې ددې خويندو او ورونو ته د يوې ښايسته نړۍ رامنځته کولو هڅو کې اخته يم. ځينې وخت راته ويل کيږي چې د انتقامي کړنو له وېرې غلی شم، خو له دې وېرې د هغه انديښنې وېرې لويه ده چې موږ به ګنې يوه ښکلې نړۍ رامنځته نه کړای شو. زه پوهېږم چې ګيدړان ډېر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

هوښیار دی، پوهېږي چې دا کتاب چاپ او خپور شوی، اوس که دوی ما ووژني ددې کتاب سلګونه زرې نورې نسخې به وپلورل شي.

پوښتنه: ایا ځینې نور اقتصادي جنایتکار هم راڅرګند شوي؟

ځواب: هو! ددې کتاب له چاپ وروسته راسره ډېرو اقتصاد جنایتکارو او ګیدړانو اړیکې ونیوې. دوی راته په منځني ختیځ، لاتینې امریکا او افریقا کې د پېښنو په اړه خپلې بې سارې کیسې وکړې. زیاتره یې اوس هم همدا کار کوي. بنې یې ډېرې دي؛ مثلاً ځینې یې مستقیماً خدمت کوي، ځینو ته بیا د تقاعد، بیمې او مشاورت زنځیرونه ور اچول کیږي. دوی کې یو هم خپل نوم څرګندول نه غواړي خو یوداسې شته چې غواړي نوم یې په دې کتاب کې راشي.

پوښتنه: MAIN کې د خپلو پخوانیو همکارانو له لورې کوم غبرګون سره مخ شوې؟

ځواب: یو څو سره یې اړیکې لرم، زیاتره یې زما مامورین یا داسې خلک دي چې په ۹ او ۲۳ برخو کې یې یادونه شوې ده. دوی زموږ په اقتصاد جنایت نه وو خبر. ماته یې وویل: ستا له کیسې لوستو وروسته MAIN کې په هغو خبرو ښه پوه شو چې مخکې راته عجیبې او نه توجیه کې کېدونکې ښکارېدې. ما چې په کتاب کې د کومو یادونه کړې هغوی داسې پوستونو باندې کار کاوه چې دننی کیسې نه خبر وو اوس زما له تمه سرې سم ځینې ژورنالیستان ورغلي، پوښتنې یې ترې کړي خو هغوی ورسره خبرې نه دي کړي. په دوی کې یوازینی استثناء انیار ګریو دی، ده زه په MAIN کې ګومارلی وم. دی وروسته د تکسن بربښنا او انرژی شرکت رئیس شو او اوس تقاعد شوی دی. څه وخت مخکې یې تکسن سیتزین سره په مرکه کې ویلي :

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

(کیسه رښتیا ده، د جان پرکنز په کتاب کې ویل شوي چې په دې تولو هیوادونو د یوې دسیسې په مرسته مُنګل خښه شوې او ښکیل شوي دي. په دوی کې زیاتره هیوادونه اوس هم له دې جاله نه دي خلاص شوي او پوروته یې نه شي پرې کولای.)

دا یې هم ویلي چې په دې موضوع خپله هم د یوه کتاب لیکلو فکر کوي، ځینو خبریالانو راته وویل چې وروسته یې په ځینو مرکو کې بیا ددې برعکس خبرې کړې دي. دې سره پوښتنه پیدا کیږي چې د انیار مرکې خپرې شوې؛ نو هغه څه شی شو؟

پوښتنه: د نورو لوړپوړکو چارواکو چلند څنګه دی؟ هغوی هم د اقتصاد جنایتونو په اړه خبرې کوي؟

ځواب: هو ما چې په خپل کتاب کې کوم موضوعات راخیستي نورو خلکو هم پرې لیکنې کړي. زما د کتاب ځینې لوی موضوعات نورو سرچینو هم تصدیق کړي دي. د طوریجو له وژنې تر د سعودي عربستان د پیسو مینځلو پروسه ... دا ټول پکې دي. توپیر دا دی چې نور لیکوال هغه چارواکي وو چې د خپلو ادارو مشري یې کوله. دوی د عنوانونو عملي او نظري تجزیه کړې ده او زه خپله د میدان جنګیالی وم. زمالیکنې د یوه عیني شاهد کیسه ده، له ۹/۱۱ نه وروسته چې د کومو چارواکو اعترافونه چاپ شوي یو څو بېلګې ترې را اخلم.

- جوزوف ستیګلیتیز Joseph Stiglitz د نړیوال بانک پخوانی ستر اقتصاد پوه ، په اقتصاد کې یې نوبل جایزه ګټلې دی وایي :

(معاصر نړیوالتوب چې څنګه ښودل کیږي، په اصل کې د پخواني ولسي اشراف د امریت پر ځای د نړیوالو مالي ادارو امریت دی. ددې د پلانونو عملي ښودلو لپاره اقتصادي وړاندوینې ښکته پورته کیږي. د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

GDP د ودې وړاندېونه په ارقامو او علمي ماډل نه کېږي. تر دې چې کوم خلک په اقتصاد ښه پوهېږي د هغوی هم تر د ښو تخمینونو هومره نه وي. دا یوازې ارقام دي چې د نړیوال مالیاتي فنډ په پروګرام کې د خبرو اترو په مرسته ټاکل کېږي. (۱)

- جیمز هنري، د میکنزی اینډ کمپني پخوانی اقتصاد پوه او د ای بي ایم لوټس معاون وایي:

(د اقتصادي پرمختګ سترو پروژو ته ۱۹۷۰ کلیزه یوه بېلګه وه. نړیوال بانک، بین الامرایکایي پرمختیایي بانک، اسیایي پرمختیایي بانک او USAID کارکوونک په ټوله نړۍ کې خپاره وو، دوی د لویو پروژو لپاره پورونه په جېب کې ګرځول.

دوی د پرمختیایي پروژو په صفتونو کې ښه ماهره وو. ۱۹۹۰ پورې د مخ پروده هیوادونو بهرني پورونه له ۱،۳ ټریلیونه ډالرو اوښتي وو. ۲۰۰۰ کال کې د امریکا EXIM د نویو بهرني ترلاسه شوي پورونو او تضمین لیکونو ۷،۷ بیلیونه ډالر یوازې د سیاسي رسوخ لرونکو شرکتونو ته ورکړل. په دې کې اینرن، هالي برټن، جی ای، بوینګ بیشټل، یونایټیډ ټکنالوجیز، شلمبرجر او ریتهیان شامل وو. (۲)

- جیفیري ډی ساش، د کولمبیا پوهنتون د ارت انسټیټوټ مشر او د کوفي خانګړی مشاور و، دی لیکي :

(هر کال له اته سوه زرو زیات کسان د بیوزلۍ له امله مري... سږ کال چې امریکا په پوځ ۴۵۰ ډالره لګوي په دې امن نه راځي. د بیوزله خلکو د ژوند ښه کولو لپاره دوی ددې لګښت دربیمه برخه یعنې ۱۵۰ بیلیونه ډالره ولګوي. ددې له امله ټولته بد امنه کېږي او د اندېښنو، تاوتریخوالي او ترهګریزو فعالیتونو په مرکزونو اوړي.) (۳)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوښتنه: ستا په کتاب کې د کلنټن اداره نه ده یاده شوې؟

ځواب: په ۱۹۹۰ لسیزه کې ما یوه غیر انتفاعي اداره چلوله، ما به د خلکو ډلې امازون ته لیږلې. دې کار لپاره یې د مشاور په حېث معاش راکاوه. دا کار مې د ۱۹۸۰ لسیزې له هغه بدل و. هغه وخت زه د انرژۍ د یو شرکت مشر وم او پوهیدم چې لومړۍ د بوش او بیا جورج ډبلیو د ټبلو په ګټه کې څه کېدل. ما کلنټن سره کار نه درلود. خو په ډېر شوق مې لیدل چې په پخوانیو دوو دورو کې کارپوریټوکراسي ده او هیلري پسې څنګه منډې وهي. د کارپوریټوکراسۍ اقدامات غالباً د خبردارۍ اخطارونه وو. د کلنټن ډېر هغه کارونه ودرول شول چې ژمنه یې کړې وه. بیا خدای خبر کلنټن څه وکړل چې مونیکا یې د خلکو مخې ته راوړله. خو دا چې زه له ټولې کیسې بهر وم نو دننني معلومات راسره نه وو. د نورو غونډې ما هم یوازې اندونه کولای شول. د کلنټن په اړه نه د جرم اعتراف لرم نه نورو ته څه ویل.

پوښتنه: داسې اشارې کیږي چې د دریمې نړۍ پورونه به وبښل شي، آیا په دې معنا یې ګڼلای شو چې اقتصادي جنایتکار ضعیفه شول؟

ځواب: له بده مرغه باید ووایم چې حقیقت ددې برعکس دی. د اقتصادي جنایتکارو ونډه لا قوي شوې، لا ډېره پېچلې شوې او په شدت پر کار کیږي چې څوک حقایقو ته ونه رسیږي. که دا پورونه وبښل شي نو زه یې ملاتړ کوم. دا پورونه د هغه هیوادونو د ولسونو له خوښې پرته اخیستل شوي. موخه یې د کارپوریټوکراسۍ او د دریمې نړۍ څو شتمنې لا شتمني وه. په دې پوه شئ چې دا هر څه د ښښلو لپاره نه کیږي. ۸۹ هیوادونه (امریکا، انګلستان، کانادا، فرانسه، المان، ایټالیا، جاپان او روسیه)، نړیوال بانک او نړیوال مالیاتي فند یو ځل بیا هغه هیوادونه استثماروي او دا کار یې د (پورونه ښښل) نومولی. دوی په ځینو مسایلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ټينګار کوي چې هيوادونه پکې ښکيل کړي مثلاً (ښه حکومتول، دازمن اقتصاد او ازاده سوداګري.) په ياد مو وي چې دا ټول اصطلاحات خواږه خو تګ دي. دا مسايل به هله ښه شي چې بې د کارپوريټوکراسي له عينکو هم ښه وليدل شي. هغه هيوادونه چې دا شرايط مني ورته ويل کيږي چې روغتيا، زده کړې، برښنا اوبه او نورې عام المنفعه ادارې دې شخصي شي، په که سپينه وواييو دا چې به کارپوريټوکراسي دې وپلورل شي. بيا يې مجبوروي چې سب سډي دې لېرې کړي. هغه سوداګريزې پاليسي ختموي چې د سيمه ايزې سوداګرۍ د ودې لپاره وضع شوې وي. ددې برعکس به ۹۸ هيوادونو دا حق هم منل کيږي چې خپل کاروبار ته اړتيا ور سب سډي ورکولای شي او پر عايداتو به داسې پاليسي وضع کوي چې ددې هيوادونو د صنعت په ګټه وي.

بولويا چې د ښې حکومتولۍ شرط ومانه نو د اوبو سيستم خصوصي کولو لپاره يې نړيوالو شرکوتونو ته لاره پرانسته. اوس نو د اوبو نرخ اسمان ته وخاته او وګړو يې ويل چې په زرګونو خلکو اوبه بندې شوې. (۴) Cote d'Ivoire کې د ټيليفوني خدماتو شرکت فرانسوي کمپنۍ واخيست او بيې دومره لوړې کړې چې خلکو لاينونه پرې کړل. په دې کې د پوهنتونونو محصلين هم وو چې د لوړې بيې له امله يې انټرنټ ته لاسرسی نه درلود او دا مهمه اړتيا ده. (۵) تنزانيا کې حالت ښخي خراب شو، هلته ماشومان ښوونځي ته د تللو کرايه ورکوي او ځينې يې دومره بيوسه دي چې دا يې له وسه نه پوره کيږي. (٦) کومو هيوادونو چې د پورونو د ښښلو په نوم دا لومړني شرايط منلي له همداسې حالت سره مخ شوي دی.

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

ددې نوې غمېزې ستونزه دا ده چې خلک يې بې فکره او بې لوسته ورسره مني. اوس به تاسو پوه شوي يئ چې دا کارونه هم د اقتصاد ځپوونې يوه بله بڼه ده او په خپل نوعيت کې نړيوالې امپراتورۍ خواته مزل دی.

خو دريمه نړۍ پوهه شوې ده چې لوبه ورسره کېږي څکه مروره ده. ۲۰۰۵ کال کې په سکاټلينډ کې د ۸-۷ناستې پر ضد يو مقاومت وشو چې هغه هم د همدې تګۍ پر احساسات وو. ډېر خلک په دې باور وو چې بوش او بلېئر به ګډه بله لوبه پيل کوي. دوی د يوه داسې استثماري نظام رامنځته کولو هڅه کوله چې د کارپوريټوکراسۍ پلوې يې کوله او زور يې په ټوله نړۍ کې له پرتو وړو او بېوزلو خلکو واته.

امريکا د ۸-۷ کارپوريټوکراسۍ ډلې مشري او روزنه کوي. موږ امريکايان به تر کومه له خپلو مشرانو غواړي چې خپله تګي برګي دې مني؟ هغه وخت به کله راځي چې موږ د ۹/۱۱، مادريډ او لندن پېښنو تر شا شته حقيقت ومنو؟ دا هم ويل کيږي چې دا پېښې د څو جنوني قاتلانو کار دی، خو دا حقيقت به څنګه رد شي چې داسې پېښې پرلپسې کيږي او ددې لپاره کيږي چې سلګونه زره نهيلي خلک يې ترې په خاموشه خوند اخلي او ملاتړ يې کوي. اخر به څوک راپاڅيږي او دا جرات به وکړي چې ووايي (وګوره شاه خو هېڅ هم نه دي اغوستي، لوڅ لغړ دی!)

پوښتنه: پاول وولف وتز د نړيوال بانک مشر ټاکل شوی دی، ته پرې کومه تبصره لرې؟

ځواب: که مځکې کوم چا شک کاوه له دې ټاکنې وروسته دې يې له ذهنه وباسي چې دا نړيوال بانک نه دی. د يوازې د امريکا بانک دی. د امريکا ولسمشر ددې بانک مشر ټاکي. هماغه يې لويې پرېکړې کوي. دا خبره بې معنا ده چې ددې رئيس د شخصيت په اړه زما نظر څه دی. اصلي پوښتنه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا ده چې د برازیل، نایجیریا، اندونیزیا او نورو هیوادونو خلک یې په اړه څه نظر لري؟ که دا ربنتیا نړیوال بانک وای پربکړې به یې داسې یوه بورډ کولای چې ذ ټولو هیوادونو په ګډه ټاکلی وي.

پوښتنه: ماته څه مشوره راکوئ؟ چې ددې حالت د بدلولو لپاره څه کولای شم؟

ځواب: د کتاب په وروستۍ برخه کې مې ځینې مشورې ورکړې دي، که له دې زیات څه کول غواړې نو یوازې یو ځواب بس نه دی.

موږ هر یو ځانګړې ګټې، وړتیاوې او هنرونه لرو. زه لیکل کوم. نو زه ډېر څه کولای شم. خو زما کار د ښوونکي، مستري، نایي او وکیل له کار سره توپیر لري. تاسو خپل ځان وپوښتئ: چې کوم کار مو خوښیږي؟ ضعف او قوت مو څه شی دی؟ زړه مو څه مني؟

د امریکا د انقلاب یو ستر لامل دا و چې د هرې برخې وړتیا لرونکي خپله وړتیا وکاروله. توماس پین لیکل کولای شول؛ نو د پوځ رهبري یې ونه کړه. جورج واشنګټن پوځي وو، د لیکنې هڅه یې ونه کړه. بنجمن فرنکلن فرانسوي ویله او زموږ په متحدینو کې ښه بریالی سفیر شو. ښکاري ښه نښان ویشتونکی شو. ماڼوګانو داسې کښتۍ وچلولې چې د انګلیس کښتۍ یې ودرولې. ښځو د جګړې ډګر ته کالي او خواړه ورسول او ماشومانو د پوځیانو ټوپکو ته مرمۍ چمتو کړې.

که ته ښوونکی یې؛ نو زده کوونکي دې پوه کړه چې تاریخ او نني ورځپاڼې ولولي. که وکیل یې موکلین دې پوه کړه چې په ټولنیز لحاظ مسئول چلند وکړي. که نایي یا مستري یې خپل مشتریان وپوښته چې د خبرونو ښایست جوړېدونکو توقعاتو په اړه څه احساس لري؟ خبرې اترې کول، بدلون راوستو ته د زمینه سازۍ ښه لاره ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

يو کار چې موږ يې کولای شو او بايد ويې وکړو دا دی چې له ځان راتاو خلک خبر وساتو. دجمهوريت بنسټ په باسواده ولس دی. سواد يوازې ليک او لوست نه دی، بلکې دا هغه ذهني روزنه ده چې مهمې او بنسټيزې پوښتنې پرې وکړای شئ. موږ بايد يوازې د خپلو مشرانو، شرکتونو او رسنيو په خبرو باور ونه کړو؛ بلکې سختې پوښتنې ترې بايد وشي. موږ بايد ليکنې ولولو.

دې پوښتنو، بېلابېلو سرچينو سره زما اړيکو او ناستو پاستو زه باوري کړم چې سلګونه زره امريکايان زموږ د کار په اړه اندېښنه لري ،پوښتنه کوي چې موږ څه کوو او غواړي پوه شي چې زموږ د ژوند بڼه په نړۍ څه اغېز ښندي. ددوی اندېښنه پر ځای ده او د ځمکې په سر د ميليونونو خلکو غوندې دوی هم مرور دي.

(پای)

Scanned by CamScanner

Do... By: Afghan Salar Library

Confessions of an economic hitman

The shocking inside story of how America REALLY took over the world

John Perknis

Translator:

Merahmad Yaad

چاپ چارې:

مومند خپرندویه ټولنه - ننګرهار افغانستان /۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

www.momandbooks.com - momand.books@gmail.com

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Scanned by CamScanner